# سلفي شم

# که مذهبي پاته شم؟

## لومړی جلد


## حکمتیار

## د حزب اسلامي افغانستان امیر

بسم الله الرحمٰن الرحيم

## د ناشر مختصر عرائض

د (سلفي شم که مذهبي پاته شم) کتاب؛ دا څلورم ځل دئ چي چاپېږي؛ دا ځل په دوو جلدونو کې او تر مخکينيو دوه ځله زياتو مطالبو سره؛ محترم ورور حکمتيار د دې عنوان او کتاب په ارتباط ۴۲ درسونه درلودل؛ هره اونۍ دوه ځلي؛ هره درسي حلقه يو نيم ساعت؛ ګڼ شمېر مينه والو په کې شرکت کړی او سوالونو ته ئې ځوابونه ويل شوي؛ د بريا تلويزيون دا او دې ته ورته نور درسونه په منظمه توګه نشر کړي او د هېواد دننه او بهر ډېرو مينه والو ليدلي او اورېدلي.

هيله ده دا اغېزمن درسونه او علمي څېړني؛ د اسلام په ښه او واقعي بڼه پېژندو کې مرسته وکړي او هغه اختلافي مسائل چي ناسم پوهاوي، متعارضو رواياتو او د غرضي کړيو غلطو تعبيرونو رامنځته کړي؛ زموږ ملت او اسلامي امت ئې له کرکجنو شخړو، بېهوده منازعاتو او خونړيو نښتو سره مخ کړي؛ په ښه توګه حل شي او د بشپړ يووالي او وحدت په وړاندي ټول موانع ژر او د تل لپاره پای ته ورسېږي. په دې ارزښناك كتاب كې؛ اكثر هغه اختلافي مسائل په ډېر دقت او د قرآن او صحيح احاديثو په رڼا کې څېړل شوي او ابهاماتو ته څرګند او مقنع دلائل ويل شوي چي ځيني تکفيري ډلي؛ د فتنو راولاړولو لپاره پرې ترکيز کوي؛ د هغي ورځي رارسېدو په هيله چي ټول اسلامي امت له دې فتنې ژغورل شوی وي او د صحيح احاديثو واحد او ټول امت ته د منلو وړ معتبر کتاب ولرو .

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

## سریزه

د اسلامي امت یوه ستره ستونزه هغه اختلاف دئ چي مذهبي رنګ ورکړی شوی او سبب ئې ضعیف، متعارض او متضاد روایات دي؛ دا د هر صادق او مخلص داعي او اسلام ته ژمن مبارز دیني وجیبه ده چي د دې فتني ختمولو لپاره ملا وتړي، د اختلافاتو د کمولو او ختمولو هڅه وکړي او د تشدید مخه ئې ونیسي، شعار ئې دا وي چي د مسلمانانو یووالی غواړو نه تفرق او دښمني، غواړو مسلمانان د فروعي اختلافاتو له کبله سره بېل نه شي، یو بل ته د دښمن په سترګه ونه ګوري او یو بل تکفیر نه کړي.

موږ د اسلامي امت پر هغو ژورو ژورو پرهرونو ویر کوو او اوښکي تویوو چي ستر عامل ئې قومي او مذهبي اختلافات ول، د همدغو کرغېړنو اختلافاتو له کبله ټوټې ټوټې او له ذلت او سپکاوي سره مخ شو، هیله مو دا ده چي اسلامي امت د الله تعالی پر مضبوطي رسۍ منګولي ولګوي، متحد شي، خپل تېر برم او عظمت تر لاسه کړي، د ټولو حقه مذاهبو صادق او مؤمن پلویان یو ځل بیا د متحد او تفرق نه منونکي امت په توګه راڅرګند شي؛ د وروڼو په څېر یو د بل خوا ته په ډاډ او اطمئنان سره او له کرکي او دښمنۍ پرته ژوند وکړي، په فروعي مسائلو کي اختلاف د دوی تر منځ په دښمنۍ منتج نه شي، په وړو او فروعي مسائلو پوري داسي ونه نښلي چي اصلي مسائل ترې هېر شي، ستر ستر خطرناک بهرني او کورني دښمنان له پامه وغورځوي او هغوی ته شا کړي او په داسي شخړو کي ځان مصروف کړي چي د مسلمانانو تر منځ له فروعي اختلافاتو راولاړېږي. موږ غوښتل او غواړو چي افغان ولس په یوه

ډاډمن او متحد اسلامي صف کې راغونډ کړو، پرېنږدو چې افغانان؛ مخصوصاً هغه چې خپلواك، آزاد او سرلوړی اسلامي افغانستان غواړي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو لپاره هري قرباني ته چمتو دي؛ په بېلو بېلو ډلو ووېشل شي، غواړو د دوی سنگر يو وي، د اسلام دوست ئې دوست او دښمن ئې دښمن وي، په گډه د کورنيو او بهرنيو دښمنانو مقابله وکړي، توره ئې د دښمن پر سر راپرېوځي، ژبه ئې د دښمن په ضد وخوځي، قلم ئې د دښمن په ضد وليکي، خو متأسفانه ځيني کم عقل او غرضي کړي د داسي هيلو په وړاندي خنډونه راولاړوي، په داسي حال کې چې موږ له لوی دښمن سره په ساړه او تاوده جنگ کې مصروف يو، په داسي حال کې چې نن د تاريخ تر ټولو لوی او اوږد سوړ او تود جنگ د اسلام او اسلامي امت په ضد روان دئ، د مسلمانانو په ضد د نړۍ ټول کفري ځواکونه متحد شوي او د اسلامي هېوادو منافق او مفسد غلام صفته حکام هم ورسره ملگري شوي، د کابل او بغداد په څېر د اسلام ستري کلاگاني د دښمن په لاس کې پرېوتې، په همدې ويرجن او دردناك حالت کې ځيني وايي: موږ په مقلدو مذهبيانو پسي ورروان يو او سنگرونه ئې ترې نيسو!! ځيني وايي: د مذهب تقليد شرك دئ، ځيني وايي: د احنافو په طريقه لمونځ کول لمونځ نه دئ، د دوی لمونځ د سنت خلاف دئ او الله تعالی ئې نه قبلوي!! ځيني وايي: له سنتو وروسته دعاء څنگه ده؟ او دې ته ورته نور مسائل. دښمن خوښ دئ او دا غواړي چې مسلمانان په دغسي مسائلو کې مشغول وساتي، يقيناً چې د دغه بهير تر شا يا د ځيرک دښمن ناولي لاسونه د فتنو راولاړولو په موخه بوخت دي او يا هغه کم عقل او په غرض او مرض ککړ خلك چې نه د دين په حقيقت پوهېږي او نه د دنيا له حالت خبر دي، نه دوست پېژني او نه دښمن، نه د اسلام غم ورسره دئ او نه د اسلامي امت درد.

دا کتاب چې د ٤٢ درسي حلقو خلاصه ده؛ هغه مسائل په کې څېړل شوي چې موخه ئې د اسلام د دښمنانو د دغي خطرناکې توطئې شنډول دي؛ غواړو

د دغو مرموزو کړيو د تبليغاتو مخه ونيسو، ټولو ته جوته کړو چې موږ غواړو عقيده، مذهب، مسلك، لمونځ او ټول عبادات او معاملات مو سل په سلو کې د قرآن او سنت مطابق وي، همدا مو مذهب دئ؛ د دلائلو له مخي مو غوره کړی؛ نه له دې کبله چې له پلار مور را ته په ميراث پاته دئ؛ حنفي مذهب مو تر نورو غوره او د قرآن او سنت مطابق موندلی؛ يوازې هغه څه منو او عمل پرې کوو چې د الله تعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لارښوونو سره مطابقت ولري. هر مسلمان خپل ورور گڼو، د ټولو حقه مذاهبو پلويانو ته درناوی لرو، شافعي، مالکي، حنبلي، سلفي او هر هغه څوك زموږ ديني ورور دئ چې د الله کتاب قرآن ئې لارښود دئ او د رسول الله صلی الله عليه و سلم سنت ئې تگلاره ده، خپلو وروڼو ته وايو: په فروعي مسائلو کې اختلاف بايد تاسو د هغو خلکو په اړه دښمنۍ، حساسيت او ضديت ته اړ نه کړي چې په اصلي مسائلو کې له تاسو سره متحد دي؛ خدای، قرآن، پيغمبران، آخرت، ملائکي، قضا او قدر مني، د قرآن او سنت په رڼا کي د حلال او حرام پولې پيژني، په ټولو اساسي مسائلو کي له تاسو سره متفق دي، خپل وخت له هغو خلکو سره په شخړو، مشاجرو او مجادلو کې مه ضائع کوئ چې اصلي دښمن ئې هېر کړی، اصلي کار ئې پرېښی، د دښمن په ضد د جهاد سنگر ترې پاته دئ، د مسلمانانو په ضد ئې د جدل سنگر پرانيستی او د دوی په ضد د خولې ډزې کوي. پر دوی زړه سوی ولرئ او ورته ووايئ: که گمان کوې چې پر فرعي مسائلو د ترکيز له لارې به د الله تعالی رضاء تر لاسه کړې او جنة الفردوس به دې په برخه شي، نو خپل شوق پوره کړه، خو په دې پوه شه چې نه د الله تعالی رضاء په دومره آسانۍ تر لاسه کېدی شي او نه جنت دومره ارزانه متاع ده چې په څو وړو او سپکو خبرو واخيستی شي، د قرآن دغه آيت ئې مخي ته کښېږدئ:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمْ وَيَعْلَمَ

ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٢﴾ آل عمران:١٤٢

آيا داسي مو انګېرلې چي جنت ته به تر هغه وړاندي داخل شئ چي لا الله نه ستاسو مجاهدين معلوم کړي او نه صابران معلوم کړي؟!!

يعني دا هسي يوه خوشې هيله او بې بنسټه انګېرنه ده چي تاسو به يوازي د ايمان په دعوی سره جنت ته ورومئ او د جنت دروازې به په خپلي مخي کي پرانيستې مومئ؛ مخکي له دې چي له آزموينو تېر شئ، په امتحانونو کي بريالي شئ او د آزموينو په ترڅ کي جنت ته د ننوتو وړتيا ثابته کړئ!! دا هيله د الله له سننو سره اړخ نه لګوي، الله جنت د هغو لپاره جوړ کړی چي په آزموينو کي بريالي شي، جنت د مجاهدينو او صابرانو ځای دئ، په آزموينو کي الله تعالی دا عملاً څرګندوي چي څوک مجاهد او صابر دئ او د جنت مستحق. د چا دوستي او دښمني د خدای لپاره وه، د خدای دوست ئې دوست ګڼلی او د خدای دښمن ئې دښمن، دا بايد عملاً ثابت شي، ته چي د خدای له دښمن سره دښمني ونکړې او د هغه له دوست سره دوستي؛ او دا عملاً ونه ښيې؛ دا هيله مه کوه چي الله به تا په خپل فضل او رحمت کي شامل کړي او جنت ته به درومې، له دې آيت داسي معلومېږي چي له (مجاهد) او (صابر) پرته بل څوک جنت ته نشي ننوتی. او له دې دا خبره معلومېږي چي د (جهاد) او (صبر) لمن ډېره پراخه ده او د انسان ټول ژوند احتواء کوي.

اسلامي امت هغه مهال ستر نړۍ وال ځواک وو؛ چي متحد وو؛ د نړۍ پر لويي پراخي برخي ئې حکومت کاوو، د آسيا، افريقا او اروپا پراخي برخي ئې تر واک لاندي وې، د اوسنۍ اروپا پر دغو هېوادونو ئې له درې تر پنځو پېړيو حکومت کړی: بلغاريا ٥٤٥ کاله، سربستان ٤٠٠ کاله، يونان ٤٠٠ کاله، مونتينيګرو جمهوريت ٥٣٩ کاله، بوسنيا ٥٣٩ کاله، کرواسی ٥٣٩ کاله، مقدونيه ٤٩٠ کاله، سلوانيا ٢٥٠ کاله، رومانيه ٤٩٠ کاله، سلواکيا ٢٠ کاله، مجارستان ١٦٠ کاله، مالديپ ٤٩٠ کاله، أوکراين ٣٠٨ کاله، آذربايجان ٢٥ کاله، ګرجستان ٤٠٠ کاله، ارمنستان ٢٠ کاله، جنوبي قبرص ٢٩٣ شمالي قبرص ٢٩٣

کاله، د روسیې جنوبي برخي ۲۹۱ کاله، کوسوو ۵۳۹ کاله، دا ټول یوازي په اروپا کي د مسلمانانو لاس کي وو، څلور پنځه پیړۍ ئې ورباندي حکومت وکړو، راشئ خپل نننی وضعیت د اسلامي امت له مخکیني وضعیت سره مقایسه کړو، هغه لوی هیواد او ستر امت ټوټې ټوټې شوی، د کلي په اندازه هیوادونو وېشل شوی، لویو کلیو ته ورته هیوادونه، عربي هیوادونه په ګڼ شمیر وړو وړو هیوادونو بدل شوي؛ او ټول هم داسي چي د بهرنیو مستعمرې دي، له اقتصادي لحاظه د هغوی مارکیټونه، په ډیرو کي هم د بهرنیو اډې، په ډیرو باندي هم کلونه کلونه بهرنیانو حکومت کړی؛ او که ترې وتلي؛ بیا هم پرې حکومت کوي، الجزایر ئې یو مثال دئ، فرانسویانو نیولی وو؛ تر یو میلیون زیات الجزائریان ئې ووژل، ترې وتلي؛ بیا هم پرې حکومت کوي؛ د ډیرو اسلامي هیوادونو حالت همداسي دئ، په ځینو کي ئې لا اوس هم لویي لویي اډې دي چي ټوله سیمه له همدغو اډو اداره کوي، نن د نړۍ ټول جنګونه په اسلامي هیوادونو کي دي، هیوادونه یو د بل په خلاف جنګوي لکه د عراق او ایران جنګ، د عراق او کویټ جنګ، دا اوس د نړۍ ټول جنګونه په اسلامي هیوادونو کي دي، د نړۍ ټول مهاجرین مسلمانان دي په سلو کي تر نوي زیات ئې.

خو له یوې خوا قومي او نژادي اختلافات او له بلي خوا مذهبي تفرقه او اختلاف د دې باعث شو چي دا ستر عالمي ځواك په وړو وړو هېوادو تجزیه شي، دښمنان ئې په خپلو منځونو کې سره ووېشي او هره برخه ئې د یوه اروپایي هېواد په مستعمرې بدله شي؛ په ډېرو مواردو کې قومي او نژادي اختلاف ته مذهبي رنګ هم ورکړی شو؛ که عربانو له اروپایانو سره د عثماني خلافت په ضد لاس یو کړی او که ایرانیانو؛ دواړه د دښمن په ګټه جنګېدلي خو خپل اختلاف ته ئې نژادي – مذهبي بڼه ورکړې.

د مذهبي اختلافاتو په پارولو کې د جعلي، متعارض او متضاد روایاتو لویه ونډه وه؛ دا د اسلام او د هر دین لپاره لویه فتنه وه او ده. د امت ډېري

ستونزې له همدې روایاتو راولاړې شوې؛ که تاسو د یهودانو او مسیحیانو مذهبي اختلافاتو ته ځیر شئ وبه ګورئ چې منشأ ئې همدا روایات دي، که بایبل د مسیحیانو هغه سپېڅلی کتاب ولولئ چې دوی ئې د تورات، انجیل او زبور مجموعه ګڼي؛ نو وبه ګورئ چې په دې بایبل کې نه تورات شته، نه انجیل او زبور او نه کوم بل الهي کتاب؛ بلکې ټول بایبل د جعلي روایاتو او بې بنسټه مسخره قصو مجموعه ده، د قصو محور ئې د بني اسرائیلو د مختلفو قبیلو شجرې او په دوی پورې تړلي قضایا دي!!

د مسلمانانو تر منځ اختلافات هم له جعلي او متضادو روایاتو څرګوبه کېږي. متأسفانه موږ د حدیث او سنت په اړه له دوو ډلو سره مخامخ یو: یوه ئې انکار کوونکې او بله ئې انکاروونکې؛ یوه ئې په خپله له حدیث او سنت انکار کوي، بله ئې نور انکار ته اړ باسي؛ اسلام ته د دوهمې ډلې خطر تر لومړۍ زیات دئ؛ هغه چې ډېر وچ او لانده د حدیث په نامه وړاندي کوي، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته متضاد او متعارض اقوال او افعال منسوبوي، داسي څه ورته منسوبوي چې هم د قرآن خلاف وي او هم د عقل، رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي صفاتو یادوي چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی، دوی له سنت او اسلام سره تر هر چا زیاته دښمني کوي، له سنت انکار نه بازار لري او نه په امت کې د نفوذ مجال، خو متضاد او متعارض روایات هم بازار لري، هم په امت کې د خورېدو مجال او هم د اختلافاتو راولاړولو توان، ډېر کم عقل دښمن به دا هڅه کوي چې له حدیث او سنت د انکار لار غوره کړي او له دې لاري اسلام ته کوم تاوان ورسوي، دښمن هغه ډلې خوښوي، جوړوي او پالي چې د دین او مذهب په نامه د دین جرړې پرې کړي، له دین او مذهب داسي تعبیر وړاندي کړي چې د هر چا کرکه راپاروي. موږ ټول امت او د امت مجاهد علماء، هدفمن دعوتګران او د اسلام هر دردمن خواخوږی دې ته رابلو چې راوړاندي شي او د دغو فتنو د مقابلې لپاره ملا وتړي. موږ له هیڅ واقعي مسلمان سره، که د کوم مذهب پلوي وي او یا

سلفي او غیر مقلد وي هيڅ ستونزه نه لرو، غواړو ټول په يوه صف کې راغونډ شي، ستونزه مو له هغو کړيو سره ده چې د مرموزو شبکو له لوري استخدامېږي او غواړي د مذهب تر نامه لاندي په مسلمانانو کې اختلافات راولاړ کړي او له اصلي دښمن او اصلي کار ئې مخ بل لوري ته واړوي.

په مسلمانانو کې اختلافات يا مفسدو زعماءو راولاړ کړي او يا درباري مفتيانو او دين پلورو تش په نامه علماءو. تر لومړۍ ډلي دوهمه ډېره خطرناکه ده؛ لومړۍ ډله د دوهمې ډلي په مرسته د اختلافاتو رامنځته کولو مجال او امکان تر لاسه کوي. د دښمن له لوري توظيف شوي مبلغين او مفتيان په جعلي رواياتو سره کولی شي په مسلمانانو کې مذهبي اختلافات راولاړ کړي؛ که تاسو په دينپالو کې د اختلافاتو عوامل ولټوئ نو درته جوته به شي چې جرړي ئې په متعارض، متضاد او جعلي رواياتو کې دي. او د دې رواياتو شمېر دومره زيات دئ چې هر محدث، فقيه او امام له سل گونو زرو رواياتو دوه درې زره د استناد وړ مونډلي.

موږ دغه لار غوره کړې، د امت د راويښولو، په يوه صف کې د ټولو مسلمانانو د راغونډولو او په گډه د ټولو کورنيو او بهرنيو دښمنانو د مقابلې لپاره ئې د چمتو کولو لار، د دغي تگلاري له امله وو چې نه يوازي د افغان ولس اکثر صالح او هوښيار مجاهدين او د اسلام دردمن او هدفمن خواخوږي د حزب اسلامي په ليکو کې تنظيم شول، په لنډه موده کي يو لوی حزب ترې جوړ شو، له دوو سترو ځواکونو سره ئې اوږد او سخت تصادم درلود، دواړو د لومړي دښمن په فهرست کي نيولی او د خطرناک او ستر دښمن په توگه منلی؛ د دواړو  خلاف جهاد کي  د مقاومت او جهاد د ملا تير وو، د ولس تر ټولو صالح او اسلام ته ژمن خلک د هغه په محور را  ټول شوي وو او الله تعالی د سترو سترو کارونو توفيق او سعادت ور په برخه کړ، دا څه وړه خبره نه وه؛ د شوروی اتحاد په خلاف د ولس را پاځول، منظمول او مبارزي او قربانۍ ته چمتو کول، په داسي حال کې چې نه ئې وسايل په لاس کي ول او

نه بهرني حاميان، بس د الله په توکل او مرسته ئې دا مبارزه پيل کړه او ټول ملت ئې تر څنګ ودريد، پنځه ميليون په هغه جهاد کي د همدي هدف او آرمان لپاره هجرت ته چمتو شول چي حزب اسلامي ئې بيرغ اوچت کړی وو او شپږ ميليون وروسته د ناټو په خلاف جهاد په دوران کي، عملاً ئې وښودله چي آزادۍ ته د رسېدو رغنده او سمه لار همدا ده، د مسلمانانو د يووالي لار، پر اساسي مسائلو ترکيز کول، لوی لوی اهداف ځان ته ټاکل، ستر ستر دښمنان پېژندل او مقابلې ته ئې ملا تړل، په وړو وړو خبرو کي نه مصروفېدل، وړې وړې جبهي نه پرانيستل، په داخلي شخړو او منازعاتو کي نه مصروفېدل؛ همدا باعث شول چي موږ په دی دوه سترو جهادونو کي الحمدلله برياوي تر لاسه کړو او خپلو لويو لويو آرمانونو ته ورسيږو، موږ ندي غوښتي چي له هيڅ اسلامي ډلي سره په جګړو کي ښکيل شو، دا نن چي موږ کوم موقف غوره کړی ده؛ تل مو همدا موقف وو، د مبارزي په اوږدو کي د حزب اسلامي موقف همدا وو، دلته يوه مستقله ډله راغلې قدرت ئې تر لاسه کړی حزب اسلامي بلا قيد و شرط د هغه مرسته کړې؛ سره له هغه اختلافاتو چي ورسره لرو او سوابق هم تاسو ته معلوم دي چي څنګه وو؛ د حزب سوابق هم او د همدي ډلي سوابق هم، اما موږ لويو لويو اهدافو او آرمانونو ته په پام سره د اوسني وضعيت حمايت کړی؛ بلا قيد و شرط له کومي طمعي او غوښتني پرته، مخکي مو هم ويلي چي څوک اسلامي نظام قائم کړي؛ موږ خپل هدف او آرمان ته رسيدلي يو، که څوک اهل او صالح کسانو ته قدرت وسپاري او د خير کوم ګام واخلي موږ به ئې ملګري وو، هره سمه خبره چي د هغه له خولې را ووځي موږ به ئې حمايت او  تأييد کوو، نه يوازي د افغان ولس تر ټولو صالح او اسلام ته ژمن شخصيتونه د حزب په ليکو او صفوفو کي منظم شول؛ بلکي د شوروی اتحاد خلاف د جهاد په دوران کي د دنيا له ګوټ ګوټ ډير مخلص او نخبه مجاهدين، اسلام ته ژمن، خدای پال او صادق چي په جهاد کي د شرکت په موخه راغلي، د مجاهدينو په سنګرونو کي جنګيدلي، د

ډېرو ويني دلته توی شوې دي، ډېر ئې دلته په شهادت رسيدلي دي او همدلته دفن شوي دي، د هغوی هم غوڅ اکثريت د حزب اسلامي په ليکو کي تنظيم شول او دې ته ئې ترجيح ورکوله چي د حزب په سنگر کي واوسي که کله د بل تنظيم صف ته تللي دي؛ ژر متوجه شوي او د حزب ليکو ته راغلي دي، لويه وجه ئې همدا وه، دعاء مو تل دا وه او ده چي الله تعالی موږ ته د حق لاره وښيي او په دې لار د تلو توفيق راکړي، له باطلو افکارو او تگلارو مو خوندي وساتي، باطل را وپيژني او د باطل له ملگرتيا د اجتناب توفيق زموږ په برخه کړي؛ د دوست او دښمن د تفکيک توفيق راکړي؛ داسي چي ستا د دوست صادق ملگري او ستا د دښمنانو کلک او نه پخلا کېدونکي دښمنان وو. إِنْ أُرِيدُ إِلا الإِصْلاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ.

اللَّهُمَّ أَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَأَلْهِمْنَا اتِّبَاعَهُ

وَأَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَأَلْهِمْنَا اجْتِنَابَهُ

حکمتيار

## سلفي شم که مذهبي پاته شم؟

مخکې له دې چې پورتنۍ پوښتني ته ځواب ووايو او دا مطلب روښانه کړو چې آيا موږ ته له مذهب استغناء او د احاديثو په موجود کتابونو کې په کوم يوه عمل کول ممکن او صحيح دي که نه؟ دا راته غوره ده چې د کوم مذهب تقليد وکړو او که ټولو مذهبونو ته شا کړو، په اصطلاح غير مقلد او سلفي شو او پر حديث عمل وکړو؟ لنډ او مجمل ځواب ئې دا دئ چې نه؛ اوس په ټولې اسلامي نړۍ کې نه د امام حنبل، امام شافعي، امام مالك او امام ابوحنيفه په څېر په قرآن او حديث پوه او د درايت خاوند عالم مومو؛ نه په مقلدينو کې نه په غير مقلدينو کې؛ نه د حديث داسي کتاب مومو چې ټول امت پرې متفق وي؛ ما د اهل حديث دوه ستر مشران؛ مرحوم عبد الله بن باز د سعودي ستر مفتي هم له نږدې ليدلی او مرحوم الباني هم؛ چې صحاح سته ئې څېړلي او په اهل حديث کې تر ټولو ستر او منلی شخصيت دئ؛ د ده او ابن باز تر منځ د ښځو د حجاب په شمول په ډېرو قضاياوو کې جدي اختلاف شته؛ نه دوی او نه ئې پلويان وتوانېدل چې دا اختلاف حل کړي.

دا چې مذاهب څنگه رامنځته شول، د اختلاف باعث شول که د اختلاف له منځه وړلو او تخفيف باعث؛ دا نه نوې پوښتنه ده او نه نوې قضيه؛ اصلاً دا گڼ شمېر مذاهب د همدې په ځواب کې رامنځته شوي؛ ائمه وو د هغه اختلاف ختمولو لپاره ملا تړلې وه چې د متعارضو رواياتو له کبله رامنځته شوی وو؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم په حيات کې قرآن او په خپله رسول الله صلی الله عليه و سلم د خلکو هرې پوښتني ته ځواب وايو؛ نه د

حديث کتابونه وو او نه بېل بېل مذاهب؛ نه سني وو، نه شيعه، نه سلفي، شافعي، مالکي او حنبلي. د اهل سنت و جماعت اړوند مذاهبو لړۍ د تابعينو له دور پيل شوې، د شيعه وو مذهب نږدې څلور پېړۍ وروسته رامنځته شوی، تر ټولو وروستی مذهب هغه دئ چي ځان ته اهل حديث او سلفي وايي؛ دوی په ظاهر کي داسي ښيي چي غواړي د مذاهبو تر رامنځته کېدو وړاندي حالت ته ستانه شي، خو متوجه نه دي چي دا غير عملي توقع ده؛ امکان ئې په بشپړه توګه منتفي شوی؛ د مذاهبو راټوکېدو او د فقهاءو راپيدا کېدو ضرورت هغه مهال مطرح شو چي په اسلامي امت کي په لکونو جعلي، موضوعي، ضعيف او متعارض روايات جوړ او خواره شول، داسي روايات چي نه په قرآن کي ورته شاهد موندل کېدو، نه ئې له عقل سره اړخ لګولو، نه له موثق او معتمدو راويانو تر لاسه شوي وو، نه ئې په صحابه وو کي موثق او منلي راويان او شاهدان درلودل؛ ډېری ئې د دښمنانو له لوري جعل شوي وو؛ په دې موخه چي په مسلمانانو کي فتنې او اختلافات راولاړ کړي، دې خطرناک وضعيت ايجابوله چي د احاديثو او رواياتو د تنقيح کار پيل شي؛ صحيح او ضعيف روايات سره بېل شي او د اعتماد وړ راويان له غير معتمدو تفکيك شي، داسي چي د راويانو د تنقيح په ارتباط ستر ستر کتابونه وليکل شول، چا لس جلده، چا شل او دېرش جلده ضخيم کتابونه وليکل، محدثينو د رواياتو إسنادو او متن ته په پام سره د احاديثو ستر او ضخيم کتابونه وليکل، د ځينو د حديث کتاب تر دېرش جلدونو پوري ورسېد؛ ځينو خداپيالو او د اسلام او اسلامي امت په درد دردمنو علماءو دې ته ملا وتړله چي د قرآن او صحيح حديث په رڼا کي فقهي احکام استنباط کړي او د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ووايي؛ په همدې وخت کي د فقهي د تدوين لړۍ پيل شوه او په نتيجه کي ستر ستر فقهاء راڅرګند شول چي اوس ئې د مختلفو مذاهبو د ائمه وو په نامه پيژنو، د ټولو ستر استاد امام ابو حنيفه چي مخکنيو فقهاءو او د ده د دور فقهاءو هغه ته د استاد په سترګه کتل. د دې معنی دا ده چي د احاديثو ليکل

او په ضخيمو کتابونو کې ئې راغونډول هم د يوه ضرورت له مخي رامنځته شوي او د فقهي تدوين او فقهاءو راڅرګندېدل هم د وخت تقاضا او د يوه حاد ضرورت له مخي وو. رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل حيات کې چا ته اجازه نه ورکوله چي د ده احاديث وليکي، که څه هم ځيني ادعاء کوي چي د خپل ژوند په وروستيو کې ئې دا اجازه ورکړه؛ خو دا ادعاء په هغه صورت کې د منلو وه چي دوى د يوه داسي صحابي نوم اخيستى وي چي څو حديثونه ئې په ليکلې بڼه وروستيو ته انتقال کړي وي!! د علي رضى الله عنه په ارتباط وايي چي هغه هم يو کتاب درلود، ما دې موضوع کي تحقيق وکړ چي د على رضى الله عنه کتاب به څېري وي او څومره احاديث به ئې راغونډ کړي وي، بلآخره ومي موندل چي هغه فقط يو حديث ليکلى خو دومره چي په يوې دومره څرمني کي ئې ليکلى وو چې د خپلي توري په لاستي کي ئې ايښې وه؛ او همدې ته چا د کتاب نوم ورکړى! دا هسي د هغو کسانو هڅه ده چي غوښتل ئې وښيي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په حيات کي هم احاديث ليکل شوي. د ابوبکر رضى الله عنه په ارتباط ويل شوي چي څه احاديث ئې ليکلي وو، تر وفات لږ وړاندي ئې عائشې رضى الله عنها ته غږ کړ چي لورې هلته مي په تاخچه کي ځيني کاغذونه ايښي هغه راوړه، هغه ئې راوړل؛ پوښتنه ئې ترې وکړه چي پلار جانه دا څه دي؟ وئې ويل دا پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته منسوب ځيني روايات دي چي له يوه بل مي اورېدلي، دا يوسه وئې سوځوه، وېرېږم په دي کي مي داسي څه نه وي ليکلي چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه دي ويلي، هغه ئې وسوځول؛ هغوى دومره محتاط ول چي له دې ئې ځان ساتلو چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته په نافهمي کي يو څه منسوب کړي، اورېدلي ئې وو چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چي ما ته هغه څه منسوب کړي چي ما نه دي ويلي خپل ځاى دي په دوزخ کي ولټوي؛ يعني بايد احتياط وکړئ چي ما ته داسي څه منسوب نه کړي چي ما نه دي ويلي. د احاديثو ټول کتابونه داسي دي چي روايات ئې

قولي او شفوي دي نه کتبي، په حدثني، حدثنا، قال لي قال لنا، سمعت و سمعنا پيل شوي؛ داسي روايت نه مومو چي په هغه کي ويل شوي وي: د فلان صحابي په کتاب کي مي دا روايت ولوستو. عام ولس ته گرانه او حتیٰ محال وه او ده چي په لکونو رواياتو کي صحيح له ضعيف او سم له ناسم تفکيك کړی شي او بيا دا روايات د قرآن په تله کي وتلي؛ او د دواړو په رڼا کي د خپلو فردي او اجتماعي قضاياوو لپاره فقهي احکام او خپلو فکري او اعتقادي پوښتنو ته صحيح ځوابونه ومومي.

راځو دې ته چي آيا په افغانستان کي د يوه نوي مذهب لوري ته بلنه يو ضرورت وو او کومه ستونزه پرې حل کېده؟ هغه هم په داسي وخت کي چي افغانان له يوه ستر الحادي ځواك سره جنگېدل، هېواد ئې شوروي ځواکونو اشغال کړی وو؛ واك ئې خپلو هغو غلامانو ته سپارلی چي شعار ئې له خدای او دين انکار دئ، دنده او مأموريت ئې د دين جرړي ايستل، د خدای پالو وژل، له ټولو ديني او معنوي ارزښتونو سره مقابله او جنگ، په افغانستان کي په الحاد ولاړ کمونستي نظام قائمول او د شوروي اتحاد په دائمي اډې ئې بدلول وو!! د دې موضوع اصلي برخي ته له ننوتلو وړاندي څو خبري د ورونو او خوېندو مخي ته ږدم:

د شهيد عبدالله عزام هغه تاريخي وينا مي مخي ته ځلېږي چي ويل ئې: څوك چي افغانستان ته نوی مذهب راوړي له اسلام او جهاد سره خيانت کوي!! دا وينا بايد په سرو زرو وليکل شي او هر څوك ئې خپلي مخي ته پر دېوال وځړوي. شهيد عبدالله عزام به کله چي له افغانانو سره يو ځای لمونځ کولو نو په جهر سره به ئې آمين نه ويلو، رفع اليدين به ئې نه کولو، پښې به ئې آزادي نه ايښودې، دې ته به ئې ترجيح ورکوله چي په لمانځه کي کوم افغان امامت وکړي، په څو اوږدو او لنډو جهادي سفرونو کي ئې زما ملگرتيا کړې، تل ئې له ما غوښتل چي په لمانځه کي ئې امامت وکړم، د ده اخلاص، قوي ايمان، هوښيارتيا او په جهاد کي د ده لويي ونډې ته په پام سره دښمنانو ونه

زغملو او د داسي چا په لاس ئې شهيد کړ چي د مسلمانۍ ادعاء ئې کوله!!

دښمن پرون هم دا هڅه کوله چي په اسلامي امت کي د مذهب په نامه اختلافات راولاړ کړي او نن هم، له بلي لاري اختلافات نه شي راولاړولی، له بلي لاري د اسلام سنگرونه نه شي فتح کولی، د اسلام تر پوښښ لاندي له داخله کولای شي سنگرونه فتح کړي، نن غرب د اسلامي ډلو او د اسلام د ځپلو په ارتباط همدا تگلاره خپله کړې، څوک د مسلمانانو له منځه انتخاب کړي او د چا په خلاف ئې وکاروي؛ د سنتي مسلمان په واسطه بايد راديکال مسلمان وځپي، راديکال يعني هغه چي آزادي او اسلامي نظام غواړي او د اسلام په رڼا کي سياسي مبارزه يوه ديني وجيبه گڼي؛ دا بايد وځپي خو د هغه چا په لاس چي اسلامي توره ئې په لاس کي وي او د مسلمان د وژلو په وخت کي الله اکبر وايي!! د دوی لپاره اصلي دښمن او د خپلو موخو په وړاندي اصلي مانع هغه ډلي دي چي آزادي او د اسلام حاکمول غواړي، د هغوی خلاف کله تصوف ته ودهورکوي، کله هغه ته چي اسلام او سياست سره بېلوي او اسلام په اورادو، اذکارو او ورځني عباداتو کي خلاصه کوي؛ همدا حمايه کوي، ملا او مکتبي سره جنگوي، مدرسه او مکتب سره جنگوي، مذهب د مذهب په خلاف جنگول، دين د دين په خلاف جنگول، د دين تر نامه لاندي د دين جرړي قطع کول؛ دا د اسلام خلاف د دوی سياست او تگلاره ده. اسلامي امت ئې هغه مهال ټوټې ټوټې کړ چي د مذهب په نامه ئې د دوی تر منځ د دښمنيو اور بل کړ، په افغانستان کي د نويو سياسي او مذهبي ډلو د جوړولو لړۍ د جهاد په کلونو کي پيل شوه او د هغو ځواکونو له لوري او د ډالر او ريال په زور چي په افغانستان کي د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت له جوړېدو سخت وېرېدل. په دغو ډلو کي ځيني ئې سياسي وې او ځيني ئې مذهبي، ځينو د وحدت تر نامه لاندي اختلافات راولاړول او ځينو له افغانانو غوښتل چي خپل مخکينی مذهب پرېږدي او نوی مذهب غوره کړي.

کومو ډلو چي د نوي مذهب خورولو ته ملا وتړله پر څو ډېرو بسيطو او

فرعي مسائلو ئې ترکيز کاوو او له همدې ئې د اختلاف راولاړولو وسيله جوړوله، د پام وړ اساسي او مهم مسائل ئې دا وو: د الله تعالی لپاره د خدای نوم مه کاروئ، الله تعالی هر ځای او له هر چا سره نږدې نه دئ بلکي د عرش له پاسه دئ او پر عرش ئې استواء کړې، په لمانځه کې د قيام په وخت کې پښې آزادي پردئ، د تکبيرونو په وخت کې لاسونه لوړوئ، آمين په لوړ ږغ وايئ، د مذهب تقليد حرام دئ، هر څوك بايد مخامخ احاديثو ته رجوع وکړي او پر حديث عمل وکړي؛ نه د کوم امام پر قول!!... راشئ تر هر څه وړاندي دغه وروستۍ وينا او ادعاء وڅېړو او ماهيت ئې روښانه کړو.

درنو محدثينو ته دي الله تعالی ډېر ډېر اجرونه ورکړي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم احاديث ئې په ډېر دقت او احتياط سره او د ډېرو ستونزو په ګاللو سره راغونډ کړل، روايات ئې وچڼل، د راويانو په اړه ئې ژور تحقيقونه وکړل، صحيح روايات ئې بېل کړل، د اعتماد وړ راويان ئې له کمزورو جلا کړل او د احاديثو ګڼ شمېر مجموعې ئې راتلونکو نسلونو ته په مېراث پرېښودې. په دې اړه د درنو فقهاءو له لوري راغونډ شوي احاديث او د هغوی په رڼا کي فقهي احکام تدوينول او د صحاح سته امامانو خدمات د ډېري ستايني وړ دي، خو ای کاش په اسلامي امت کي داسي مدبر او د بصيرت خاوند زعيم راپيدا شوی وی چي د رواياتو په اړه ئې همغه کار کړی وی چي عثمان رضي الله عنه د قرآن په اړه وکړ. قرآن په مختلفو نسخو کي ليکل شوی وو، د هري قبيلې ځانته ځانته ليک دود وو، د وحي کاتبانو؛ هر چا د خپلي قبيلې د ليک دود مطابق ليکلی وو او همدغه مصاحف تکثير او ډېرو ته رسېدلي وو؛ داسي حالت راورسيدو چي نږدي له دې يوه ستره فتنه جوړه شي، د قرآن په ارتباط په امت کي دا اختلافات را ولاړ شي چي کوم متن صحيح دئ او کوم ليک دود سم دئ، عثمان رضی الله عنه ډېر ستر کار وکړ؛ الله تعالی دي اجر ورکړي؛ ټول اسلامي امت ئې پوروړی دئ. د نسخو د توحيد لپاره ئې اړوند شخصيتونه راغونډ کړل؛ کاتبان، حافظان، علماء او مشران؛ ټولي نسخې

ئې د دوی مخې ته کښېښودلې؛ ټولو په بشپړ اتفاق سره د مصحف یوه نسخه جوړه کړه او همدا ئې تکثیر کړه او نورې نسخې ئې له منځه یوووړې. نن چې ټول اسلامي امت د مصحف کومه واحده او منلې نسخه په واک کې لري؛ دا همغه ده چې صحابه وو پرې اجماع کړې او په بشپړ امانت او تواتر سره تر موږ رسېدلې. په دې ترتیب ئې د یوه ستر احتمالي خطر، فتنې او تفرقې مخه ونیوله، نن اسلامي امت د روایاتو په ارتباط؛ دغسې کار ته ضرورت لري، کاش دا ټول روایات راغونډ کړی شوي وی؛ او د داسې شخصیتونو په لاس چې په قرآن او حدیث پوه وي، د درایت خاوندان، امین، مخلص، صادق، خدای پال او د اسلام په درد درمن؛ را غونډ شوي وی او د روایاتو له ټولو کتابونو ئې یو کتاب جوړ کړی وی، د روایاتو دا نږدې څلور سوه کتابونه ئې په یوه کتاب کې خلاصه کړي وی؛ او بیا همدا په پراخه پیمانه تکثیر او ټول امت ته رسېدلی وی، په دې واحد معتبر کتاب کې به یوازې هغه روایات راغلي وو چې نه له قرآن سره تعارض لري، نه له بل صحیح حدیث سره، په قرآن کې شاهد ولري، له عقل سره ئې موافقت وي، د الله تعالی له سننو سره مخالفت نه لري؛ او ټول هغه لازمي شرائط چې د روایت د صحت لپاره ضروري دي؛ په کې مراعات شوي وی. دا ستر او سپېڅلی آرمان هغه مهال تر سره کېدی شي چې ټول اسلامي امت یو مؤمن زعیم او د قیادت او هدایت یو معتبر او ځواکمن مرکزیت ولري؛ دعاء کوو چې الله تعالی دغسې یو وخت راولي چې موږ اسلامي خلافت ولرو او په رأس کې ئې یو امین، مخلص، مجاهد او په اسلام پوه زعیم او مشر ولرو؛ هغه دې کار ته ملا وتړي او همغه څه وکړي چې عثمان رضی الله عنه وکړ؛ موږ د متعارضو روایاتو له سترې ستونزې سره مخامخ یو؛ په امت کې د اختلافاتو ستر عامل همدا متعارض روایات دي؛ د روایاتو سلګونه کتابونه لرو او تر منځ ئې ژور توپیرونه؛ دا ستونزه عاجل او جدي توجه ایجابوي او له موږ ډېر کار غواړي؛ د روایاتو په هر کتاب کې داسې تکراري روایات مومو چې تر منځ ئې هم په الفاظو کې توپیرونه او

تعارضات شته او هم ئې په محتوی کې؛ او له بل کتاب سره ئې د رواياتو په محتوی کې ژور تناقضات؛ ټول مذهبي اختلافات مو له همدغو تعارضاتو او تناقضاتو راولاړ شوي. که موږ د احاديثو او رواياتو يوه معتبره او ټول امت ته د منلو وړ مجموعه درلودی او د احاديثو موجود کتابونه د قرآن په رڼا کې له تنقيح وروسته په يوې مجموعې کې راغونډ شوي وی نو له سترو فتنو او اختلافاتو به ژغورل شوي وو. اوس خو متأسفانه د رواياتو په بېلو بېلو کتابونو کې د مختلفو مذاهبو پلويانو ته د اعتبار وړ رواياتو کې شديد تناقضات او اختلاف خو پرېږده د احاديثو په يوه کتاب کې به ګڼ شمېر متعارض روايات ومومئ، داسي چي له دوو به ناچار يو منو او بل به پرېږدو، دا هم نه دي په ګوته شوي چي په دغو متعارضو رواياتو کې کوم يو په کوم دليل د منلو وړ دئ او پر بل ترجيح لري.

زموږ ګران ائمه هم له دغي ستونزي او مشکل سره مخامخ ول، ليدل ئې چي د متعارضو رواياتو له کبله په امت کې شديد اختلافات راولاړ شوي، هر څوك په ځانګړيو رواياتو استناد او عمل کوي، کم علمه خلکو ته څو روايات په لاس ورغلي، له تحقيق پرته ئې منلي، همدا ئې ځان ته مذهب ګرځولی، خپله لار ئې له نورو بېله کړې، له هغه چا سره مخالفت کوي چي د دې رواياتو پر ځای نور او د ده تر رواياتو ډېر صحيح او مستند په لاس ورغلي، دا اختلاف ورځ په ورځ زياتېدو، خبره رړوند تعصب ته رسېدلې، يوه بل له دې کبله تکفير کړی چي د ده روايات ئې ورسره نه دي منلي، درنو ائمه وو تر ډېره حده د دې فتنې مقابله وکړه، که د دوی مبارکي هڅي نه وی نو امت به داسي ټوټې ټوټې شوی وو چي راغونډول به ئې ممکن نه وو. تر ډېري مودې دا فتنه غلې وه، خو ورو ورو ئې بيا سر رااوچت کړ، بيا په امت کې داسي خلك راپيدا شول چي نه يوازي مخکينۍ فتنه ئې راژوندۍ کړه او ويل ئې چي هر څوك بايد په حديث عمل وکړي او د خاص مذهب له متابعت ډډه وکړي، بلکي د ائمه وو د متابعت په اړه ئې ويل چي دا متابعت ناروا تقليد او شرك دئ!! دا

په داسي حال کي چي ائمه وو له دې پرته بل کار نه دئ کړی چي احاديث او روايات وچڼي، صحيح له ضعيف تفکيك کړي او خلکو ته وښيي چي په کوم روايت عمل وکړي او په کوم نه، هر څوك چي د حديث متابعت ته خلك رابلي نو هرو مرو به د رواياتو يوه خاصه لړۍ د هغوی مخي ته ږدي.

په ځانګړيو کتابونو کي د احاديثو د راغونډولو لړۍ دغه ضرورت ته په پام سره پيل شوې، نن هم که څوك يوازي په حديث د عمل کولو خبره کوي نو ناچار به خلکـو ته وايي چي د احاديثو کوم کتاب ته به اعتبار ورکوي او د رواياتو کومه لړۍ به معتبره ګڼي، دا له دې پرته بل کار نه دئ چي نوی مذهب ته به خلك رابلي، ځيني بې علمه او بې خبر خلك داسي فکر کوي چي مذاهبو امت وېشلی او په احاديثو عمل کول دا اختلاف له منځه وړي، حال دا چي خبره په بشپړه توګه د دې عکس ده؛ يوازي يو ناپوه او متعصب انسان دا غلطه خبره کولی او منلی شي. د احاديثو کتابونه دومره ډېر دي چي يو ستر کتابتون پرې ډکېږي او د رواياتو شمېر دومره دئ چي لکونو ته رسېږي، عادي خلك خو پر ځای پرېږدئ متخصصين هم له هغوی د احکامو په راايستو کي له سترو ستونزو سره مخامخ کېږي. کاش موږ د رواياتو داسي متفق عليه کتاب او مجموعه درلودی چي ټول امت پرې متفق وی او په هغه کي داسي روايت نه وی چي له قرآن سره تعارض لري او يا يو ئې له بل سره، که تاسو د رواياتو اوسنيو کتابونو ته په دقت او له تعصب پرته رجوع وکړئ نو نه يوازي په سلګونو داسي روايات به ومومئ چي په بشپړه توګه له قرآن سره تعارض لري بلکي په خپلو منځو کي هم دومره ژور تعارض لري چي هيڅوك ئې په تلفيق نشي توانېدی. دا تعارض به نه يوازي په هغو رواياتو کي وګورئ چي د بېلو بېلو مذاهبو پلويانو ته د اعتبار وړ دي بلکي په هغو کي به ئې هم ومومئ چي د يوه خاص مذهب پلويان ئې د ځان ګڼي.

د مثال په توګه د شيعه وو له نظره د معتبر کتاب اصول کافي په اړه د دوی يو مشهور عالم علامه برقعي ليکي: د دې کتاب اکثر روايات جعلي، له

قرآن سره متصادم او د عقل خلاف دي او راویان ئې مجهول الهویه، کاذب او فاسق دي، علامه برقعي د آیت الله خمیني هم دوره او همدرس وو؛ ما د ایران له انقلاب وروسته ورسره لیدلي، پر اصول کافي ئې د نقد یو ضخیم کتاب لیکلی چې په یوې برخې کې ئې لیکلي: که دښمنان خبر شول چې زموږ د روایاتو په کتابونو کې داسې روایات هم راغلي چې راویان ئې خر او چنګښه دي؛ نو څه به کوو؟!

ځینې داسې دي چې ځان ته اهل حدیث او سلفي وايي او د مذاهبو پلویان مشرك ګڼي، دا په داسې حال کې چې دوی په خپله د یوه خاص امام او مذهب متابعت کوي، د ډېرو ئې امام بخاري رحمه الله امام دئ او بخاري ئې مذهبي کتاب؛ او دا په داسې حال کې چې د ائمه وو په وړاندې امام بخاري داسې دئ لکه د شاګرد شاګرد، هم د احادیثو د ذخیرې له پلوه او هم د صحابه وو دور ته د نږدې والي له پلوه، د څلورو مذاهبو امامانو هر یوه ئې په دومره احادیثو استناد کړی چې بخاري ئې نیمايي ته هم نه رسېږي، په ائمه وو کې امام ابو حنیفه داسې احادیث هم روایت کړي چې له صحابه وو ئې مخامخ اورېدلي!! آیا هغه به ډېر سلفي وي چې د صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو متابعت کوي او له دوی ئې مخامخ روایات تر لاسه کړي او که هغه چې د احادیثو کتابونه ئې له دغو دریو ادوارو وروسته لیکلي؟!! امام ابو حنیفه وايي: که کوم حدیث صحیح ثابت شي نو همدا زما مذهب دئ، یعني د هرې قضیې په اړه زما وروستۍ رأيه همغه رأيه ده چې صحیح حدیث ئې وړاندې کوي!! د دې معنی دا ده چې د امام ابو حنیفه مذهب د صحیح احادیثو مجموعه ده، هغه هر صحیح حدیث د خپلې فتوی بنسټ ګرځولی، روایت ئې په هغه صورت کې نه دئ منلی چې اسناد ئې ضعیف او متن ئې د قرآن او درایت خلاف موندلی. او دا کار هر امام کړی او هر هغه څوك به ئې کوي چې مسلمان وي، پر قرآن ایمان ولري او د خاص مسلك او مذهب په اړه ړوند تعصب ونه لري. روایت خو یوازې په هغه صورت کې د منلو دئ چې منشأ ئې قرآن وي یا لږ

تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل خلاف نه وي، څوك چې پر قرآن ایمان لري نو نه د قرآن یو آیت داسي تعبیروي چې له ګڼ شمېر نورو آیتونو سره په تعارض کې راشي او نه داسي روایت مني چې له قرآن سره تعارض لري.

په روایاتو کې د اختلاف یوه بېلګه د لمانځه څرنګوالی دئ، ګورو چې په دې اړه د مذاهبو تر منځ اختلاف دئ چې د تکبیرونو په دوران کې رفع الیدین وشي که نه، د فاتحې په پای کې آمین په جهر او لوړ ږغ وویل شي که په ټیټ ږغ، د قرائت په وخت لاس چېري؛ پر سینه یا پر نامه کښېښودی شي او یا ځوړوند پرېښودل شي، د قیام په وخت کې پښې څنګه او څومره یوه له بلې لري کښېښودی شي... دا په داسي حال کې چې په زرګونو صحابه وو د پیغمبر علیه السلام لمونځ په خپلو سترګو لیدلی، په جمع ئې لمونځ ورپسي کړی، ټول حرکات ئې لیدلي، خو سره له دې د همدې لمانځه د څرنګوالي په اړه مختلف روایات د دې باعث شوي چې بېلو بېلو مذهبي ډلو بېل بېل صورتونه غوره کړي!!

کاش زموږ درنو فقهاءو لږ تر لږه د لمانځه د هیئت په څېر مسائلو کې اختلاف نه درلودی، ټولو د مدینې منورې د خلکو لمونځ او څرنګوالی ئې معیار ګڼلی وی او نن د ټولي نړۍ د مسلمانانو لمونځ یو شان وی، یا لږ تر لږه دا معمولي اختلاف مو زغملی او خبره مو دې ځای ته نه رسولې چې یو بل د اسلام له دائرې پرې وباسي. د پیغمبر علیه السلام نږدې اتلس زره لمونځونه د مدینې خلکو په خپلو سترګو لیدلي او په خپلو غوږونو ئې اورېدلي او خبر ئې نسل په نسل له یوه بل ته انتقال شوی، خو متأسفانه موږ په دې کې هم د امت تر منځ د اختلاف شاهد یو، د شیعه وو لمونځ یو قسم دئ، د حنبلیانو بل ډول دئ، د شافعیانو بېل، د احنافو بېل او د سلفیانو هم بیا بېل، تر منځ ئې اختلاف دئ؛ کله کله دا اختلاف تر دښمني پوري رسېږي، د کوفې، مدینې او شام د فقهاءو تر منځ اختلاف دئ، دا درې مراکز په هغه وخت کې درې ستر ستر سیاسي مراکز وو، د سیاسي مراکزو اختلاف په فقهي مسائلو کې له اختلاف سره

يو ځای شو او دا دئ تر نن پوري د دې لړۍ روانه ده، هر څومره چي دا سياسي مراکز زيات شوي همدومره اختلاف ورسره پراخ ابعاد موندلي؛ مصر، استانبول، مرو او خراسان هم د کوفې او شام په څېر په سترو سترو سياسي مرکزونو بدل شول او مزيد مذهبي اختلافات ئې وزېږول.

دا مشکل به هغه وخت حل کېږي چي ټول اسلامي امت واحد ستر سياسي مرکز ولري او همدا مرکز د مذهبي اختلافاتو د ختمولو لپاره داسي کار وکړي لکه عثمان رضي الله عنه چي د قرآن د مختلفو نسخو د توحيد په اړه وکړ او د يوه ستر اختلاف مخه ئې ونيوله.

په تېر درس کي مو وويل چي د درنو فقهاءو او محدثينو مخلصانه هڅو د هغي فتنې د پراخېدو مخه ونيوله چي د اسلام دښمنانو، غرضي او مرضي کړيو او ناپوه مسلمانانو راولاړه کړې وه: له ځانه احاديث جوړول، غلطي، کمزوري، نيمګړي او د قرآن خلاف ويناوي پيغمبر عليه السلام ته منسوبول او له دې لاري په مسلمانانو کي اختلافات راولاړول، د سياسي اغراضو لپاره د قرآن آيتونه او د پيغمبر عليه السلام احاديث په داسي بڼې کي تعبيرول چي غرضي کړۍ خپلي موخي پرې تر لاسه کړي؛ دا هغه لويه فتنه وه چي په امت کي د تفرق او د سياسي اختلافاتو او شخړو پر مهال رامنځته شوه، هر څومره چي د اقتدار مراکز زياتېدل او د اقتدار د خاوندانو تر منځ اختلافات تشديد کېدل؛ نو د جعلي رواياتو او موضوعي احاديثو لړۍ تقويه کېده. تر هغي ورځي چي د اسلامي امت د اقتدار سياسي مرکز يو وو، ستر اسلامي خلافت له يوه دارالخلافه اداره کېدو، مدينه له سياسي لحاظه دارالخلافه وه او له علمي پلوه د ارشاد او دعوت مرکز، ټول اسلامي امت له دغه واحد مرکز ديني او علمي لارښووني او سياسي پرېکړي تر لاسه کولې؛ نو امت متحد وو او د اتحاد له برکته د مجد او عظمت خاوندان ول؛ خو کله چي سياسي مرکز له مدينې کوفې بيا شام او مصر ته انتقال شو؛ او د مدينې په خوا کي درې نور علمي او ديني مراکز جوړ شول، دغه مهال وو چي سياسي اختلاف مذهبي رنګ غوره کړ،

بېل بېل مسالك او مذاهب رامنځته شول او د رواياتو بېلي بېلي مجموعې جوړې شوې. د عباسيانو د اقتدار په مهال دا اختلافات خپلې لوړې کچې ته ورسېدل، شيعه مذهب هم په دغه دوران کې رامنځته شو، که څه هم د دې مذهب بنسټ د هغو له لوري ايښودل شوی او دوی د هغې فتنې محرك ول چې په ترڅ کې ئې لومړی عثمان رضي الله عنه او بيا علي رضي الله عنه په شهادت ورسېدل، خو دا تحريك هغه مهال د يوه بېل مذهب بڼه غوره کړه چې اقتدار له امويانو عباسيانو ته انتقال شو او عباسي واکمنانو غوښتل چې د امويانو په ضد د هغو خلکو مرسته او ملاتړ هم تر لاسه کړي چې د علي رضي الله عنه ملاتړي او پلويان ول، د امويانو د اقتدار پر مهال د علي رضي الله عنه له اولاد ځيني د ايران او خراسان په لوري هجرت ته اړ شول، د زوړ ايران سياسي او مذهبي مشرانو د مسلمانانو له هغو مشرانو سره ژوره کينه درلوده چې ايران د دوی د واکمنۍ په دوران کې فتح شوی وو، دوی ته دا موقع په لاس ورغله چې د علي رضي الله عنه د خواخوږو په توګه راوړاندې او د علي رضي الله عنه د اولاد ملاتړ وکړي او د علي رضي الله عنه حب او ملاتړ ته د يوه مذهب بڼه ورکړي. دوی د رواياتو داسې لړۍ ځان ته جوړه کړه چې يوازې د علي رضي الله عنه اولاد ته منسوب شوې، نهج البلاغه او اصول کافي د دوی د رواياتو او معتبرو کتابونو دوې مجموعې دي چې د علي رضي الله عنه له شهادت نږدې څلور سوه کاله وروسته رامنځته شوې.

دوی د قرآن د آيتونو په اړه په داسې رواياتو باور لري چې شپي د قرآن نږدې درې سوه آيتونه د علي رضي الله عنه او د ده د اولاد په اړه نازل شوي!! دا په داسې حال کې چې د ټول قرآن په يوه آيت کې هم نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې څه تر سترګو کېږي چې د علي رضي الله عنه او د ده د اولاد په اړه وي، خو دوی د دغو آيتونو لپاره داسې شأن نزولونه له ځانه جوړ کړي چې خپله ادعاء پرې ثابتوي، په دې کې داسې مسخره او خندوونکې روايات هم شته چې وايي: والشمس ای علي، والقمر ای فاطمه، والتين ای علي، والزيتون ای فاطمه!!

يعني په قرآن کي چي الله تعالی پر ګمر لوړه کړې له دې مراد علي دئ او پر سپوږمۍ او زيتون له لوړي مراد د فاطمې پر سر لوړه ده!! که څوك ورته ووايي: چي الله تعالی ولي دوی په خپلو اصلي نومونو نه دي ياد کړي؟ الله تعالی د ابولهب نوم اخلي او د دوی نه، د هارون عليه السلام نوم يادوي او د دوی نه، ولي به ئې داسي الفاظ کارولي وي چي هر څوك بله معنی ترې اخلي؟ آيا الله تعالی غواړي چي خلك په شك کي واچوي؟ الله تعالی خو فرمايي چي د ده په کتاب؛ قرآن کي د شك ځای نشته، داسي آيت په کي نشته چي څوك ئې د معنی په پوهېدو کي شك وکړي! الله تعالی خو فرمايي چي قرآن آسان دئ، څرګند او مبين دئ، د ټولو اختلافاتو د حلولو وروستۍ مرجع ده، خو دا څنګه تاسو په قرآن کي اختلاف راولاړوئ او دا اختلاف په رواياتو حل کوئ؟! هيڅ ځواب نه لري. په اهل سنت و جماعت کي هم داسي خلك راپيدا شول چي د قرآن په ځای روايات وروستۍ مرجع ګڼي، د آيت صراحت ته هيڅ اعتناء نه کوي، دې ته نه ګوري چي د هر آيت معنی بايد تر هر څه مخکي په خپله په قرآن کي ولټوو او که په قرآن کي مو ونه موندله نو رواياتو ته رجوع وکړو، روايت يوازي په هغه صورت کي ومنو چي د قرآن له کوم څرګند آيت سره تعارض او اختلاف ونه لري، پر قرآن د ايمان تقاضا دا ده چي د هر څه په اړه د لارښوونو وروستۍ مرجع او د اختلافاتو د حل وروستۍ پرېکړه ئې وګڼو. دا ښاغلي کله کله د قرآن په ځينو آيتونو د خپل مسلك د اثبات لپاره استناد کوي او وايي: قرآن موږ د الله تعالی او د هغه د پيغمبر په اطاعت مکلف کړي يو، نو په حديث عمل خو د دغه حکم تقاضا ده!! دوی ته وايو: هو؛ په حديث عمل د دغي لارښووني او هدايت مقتضی ده چي قرآن فرمايي: د الله تعالی اطاعت وکړئ او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړئ؛ موږ د پيغمبر په اطاعت مکلف يو؛ خو په قرآن عمل يعنی د پيغمبر اطاعت؛ موږ ته له رسول الله صلی الله عليه وسلم چي څه په تواتر، د صحابه وو په اجماع او اتفاق سره؛ پرته له دې چي يوه فرد ورسره اختلاف کړی وي؛ او په کامل امانت سره تر

موږ را رسیدلی؛ نو هغه قرآن دئ. او رسول الله صلی الله علیه و سلم چې څه کړي او ویلي نو هغه د همدې قرآن قولي او عملي شرح او تفسیر دئ؛ خو دا قولي او عملي شرح او تفسیر داسې دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د لیکلو اجازه نه ورکوله؛ د صحابه وو له دور لږ لیکلی روایات لرو؛ نږدې ټول روایات قولي دي؛ که چا څه لیدلي یا اورېدلي نو د حفظولو او نورو ته د رسولو هڅه ئې کړې؛ ستونزه هغه مهال رامنځته شوه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت وروسته داسې روایات هغه ته منسوب شول چې یا ئې راوي یو کس وو، یا یو دوه نور ورسره وو، خو نورو صحابه وو دې روایت ته ورته څه نه وو ویلي؛ یا ئې راوي د حافظې او نورو اړخونو له پلوه ضعف درلود؛ په زرګونو جعلي او له ځانه جوړ شوي روایات رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب شول؛ د فتنو او شخړو په دوران کې د جعلي روایاتو لمن لا پراخه شوه؛ دغې ستونزې ته په پام سره؛ زړه سواندي محدثین راوړاندې شول، د روایاتو د تنقیح او چڼلو لړۍ ئې پیل کړه او امت ته ئې وویل: پام کوئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هره منسوب شوې خبره له تحقیق او غور پرته ونه منئ؛ یوازې هغه روایات ومنئ چې راویان ئې ثقه وي او متن ئې د قرآن، صحیح حدیث او عقل خلاف نه وي؛ که موږ ته داسې روایت په لاس راغی چې راویان ئې ثقه او د اعتماد وړ وي، په قرآن کې مو د هغه لپاره شاهد وموندو، لږ تر لږه له قرآن سره ئې تعارض نه درلود، نو موږ مکلف یو چې دا روایت ومنو او عمل پرې وکړو. که څه هم دا خبره په خپل ذات کې صحیح او د قرآن د لارښوونو مطابق ده چې مسلمان د پیغمبر په بشپړ اطاعت مکلف دئ؛ خو ځیني ئې په غلطه توګه تعبیروي او دا معنی ترې راباسي چې د هر هغه روایت متابعت پر موږ فرض دئ چې دوی ئې صحیح ګڼي که څه هم له قرآن سره تعارض لري! دې ته ئې پام نه دئ چې د پیغمبر اطاعت یعني د قرآن اطاعت، که څوك غواړي د پیغمبر علیه السلام اطاعت وکړي نو په دې قرآن دې عمل وکړي، کوم څه چې له پیغمبر علیه

السلام موږ ته په بشپړ امانت او د ټولو صحابه وو په اجماع سره رارسېدلی دغه قرآن دئ، الله تعالی خپل پیغمبر د دغه قرآن د تبلیغ، بیان او عملي کولو لپاره غوره کړی، د پیغمبر علیه السلام اصلي مأموریت دا وو چي دغه قرآن تر خلکو ورسوي، هیڅ څه تری پاتي نشي؛ که یو معمولي شی ترې پاته شوی وی؛ نو الله تعالی ورته فرمایلي: تا خپل رسالت نه دئ ترسره کړی، کله به چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وحی راغله؛ له هر څه به ئې په څرګنده توګه معلومیده چي غوښتل به ئې ژر او ښه ئې حفظ کړي، دا نوی پیغام ژر او له ځنډ پرته تر خلکو ورسوي؛ فوراً به ئې د وحي کاتبان راغوښتل چي ټول په دقت سره ولیکي او تر خلکو ئې ورسوي. پیغمبر علیه السلام په قرآن دومره ترکیز کولو چي د یوه روایت له مخي ئې د عمر تر پایه چا ته د احادیثو د لیکلو اجازه نه ورکوله او د بل روایت له مخي د مدینې تر وروستیو کلونو پوري. کوم روایت چي وایي پیغمبر علیه السلام د مدیني په وروستیو کلونو کي اجازه ورکړه چي اوس ئې لیکلی شي، تر کومه ځایه چي ما تحقیق کړی دا راته نده ثابته شوې چي وروسته ئې خلکو ته د حدیث د لیکلو اجازه ورکړې وه او که چا د ده احادیث لیکلي وی نو اوس به موږ د محدثینو په کتابونو کې داسي روایات موندلي وو چي کوم صحابي لیکلي او کوم محدث ته په لیکلي بڼې کې رسېدلي. ما د تحقیق په دوران کې یوازي د یوه روایت په اړه لوستلي چي له راوي ئې په لیکلي بڼه تر لاسه شوی؛ دا روایت علي رضي الله عنه ته منسوب شوی؛ او هغه هم داسي چي فقط یو لنډ روایت وو، په څرمني کي ئې لیکلی وو او د خپلي توري په تېکي کي ئې ایښی وو، له دې پرته له صحابه وو بل لیکل شوی او تر محدثینو رسیدلی روایت مي نه دئ لیدلی.

د احادیثو له لیکلو د ممانعت په سبب ګورو چي له احادیثو د ګوتو په شمېر داسي دي چي په تواتر سره تر موږ رسېدلي، داسي احادیث ډېر لږ دي چي ټولو صحابه وو پرې اتفاق کړی وي او ګڼ شمیر صحابه وو روایت کړی وي، د بخاري ډېری احادیث داسي دي چي په صحابه وو کي یو راوي لري،

ډېر لږ ئې دوه او بيخي لږ ئې درې، د بخاري اکثر روايات په صحابه وو کې يو يو راوي لري.

د رواياتو د يوې خاصي لړۍ په اړه ړوند تعصب د دې باعث شو چې شيعه له ټول امت بېله لار غوره او په امت کې د اختلاف باعث شي، دوی د زرګونو صحابه وو له لوري وړاندي شوو رواياتو ته شا کړه او يوازي هغه ئې ومنل چې د علي رضي الله عنه اولاد ته منسوب وو، همدغه غلطه تګلاره په دې منتج شوه چې دوی په ټولو صحابه وو د نفاق او ارتداد حکم وکړي، له پيغمبر عليه السلام وروسته علي رضي الله عنه او زامن ئې د هغه ځای ناستي او د خلافت اصلي او يوازيني وارثين وبولي او ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم او ټولو هغو صحابه وو ته د غاصب په سترګه وګوري چې له علي رضي الله عنه پرته ئې له بل چا سره بيعت کړی او د بل په خلافت راضي شوي، حال دا چې علي رضي الله عنه په خپله له مخکينيو خلفاءو سره بيعت کړی او نه يوازي دا چې تل ئې په لمانځه کې په هغوی پسي اقتداء کړې بلکې خپله لور ئې عمر رضي الله عنه ته په نکاح ورکړې!! د امام حسين رضي الله عنه لپاره به د محرم په ورځو کې توره جامه اغوندي او د محرم په لسمه به د هغه د شهادت وير کوي، په مسخره، کرکجنو، خرافي او اسلام ضد حرکاتو او ناولو بدعتونو سره به دا ورځ لمانځي؛ خو په عمل کې به پر کربلا او نجف د صليبي ځواکونو د بريد په وخت کې د يرغلګرو مرسته کوي او د دوی په لاس د زرګونو هغو مسلمانانو د وژلو به هيڅ پروا نه کوي چې د امام حسين په څېر د ظلم او تېري مقابله کوي!! پر يزيد به لعنت وايي خو په عمل کې به تر يزيد د لازيات ظالمو واکمنانو ملګرتيا او له بې دينه، منافق، ظالم او مفسدو واکدارانو سره بيعت کوي!! که د پيغمبر عليه السلام په ژوند کې دومره مسلمانان په عراق او افغانستان کې وژل شوي وی؛ مګر هغه مبارك به د کربلا تر شهيدانو په دغو شهيدانو زيات نه وو خواشينی شوی؟!! دغه شيعه چې نن په عراق او افغانستان کې د عاشوراء په لسمه ځانونه وهي؛ د افغانستان او عراق په

نیولو کې ئې له امریکایانو سره لاس یو کړ، د اهل تشیع یوه سیاسي ډله نه وینو چې په عراق او افغانستان کې ئې د امریکایانو مخالفت کړی وي، دا خو څه عادي خبره نده؛ امریکا دا هېوادونه اشغال کړي، عراقیان او افغانان وژني، د خدای، اسلام، پیغمبر، دین او قرآن دښمني کوي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم د اهل بیت او اولاد دښمنان دي، آیا ستاسو مذهب د هغوی د ملګرتیا اجازه درکوي؟ په کوم الهي دین کې به دا ومومو چې خپلو پلویانو ته ئې ویلي وي: د اشغالګرانو په څنګ کې ودرېږئ او د خپلو وطنوالو په خلاف وجنګېږئ؟!

دا ټول د څه لپاره او وجه ئې څه ده؟ یقیناً چې پر غلطو روایاتو باور په دې ډنډ کې پرې ایستل. په اهل سنت و جماعت کې هم دوی ته ورته یوه ډله جوړه شوه، په هر هغه چا ئې د کفر ټاپه لګوله چې د دوی د روایاتو لړۍ ئې نه منله. متأسفانه موږ په اهل سنت و جماعت کي هم داسي ډلي لرو چې دوی ته ورته دي، په مصر او افغانستان کي ئې لرو، چا به چې له سنتو وروسته دعاء کوله هغه به ئې تکفیرول، خو همدا له صلیبیانو سره ملګري شول، چا به چې آمین بالجهر نه ویلو؛ هغه ته به ئې د صحیح حدیث منکر خطاب کولو؛ خو دلته صلیبیانو یو میلیون افغانان ووژل؛ دوی ئې نه یوازې هیڅ مخالفت ونه کړ بلکي خواږه ملګري ئې ول او په څنګ کي ئې ودرېدل.

په دې کې هیڅ شك نشته چې له اهل بیت او حسین رضي الله عنه سره د دوی د محبت ادعاء هسې یوه سیاسي لوبه ده، دا د دوی پلرونه ول چې له حسین رضي الله عنه سره ئې خیانت وکړ، کوفې ته ئې وروبللو خو خپلې ژمنې ئې تر پښو لاندې کړې او د یزید په هغه لښکر کې شامل شول چې حسین رضي الله عنه او د ده ملګري ئې شهیدان کړل، ښایي الله تعالی د همغه منافقت سزا نن د دوی اولادونو ته ورکوي، داسې چې د هغه د شهادت په ورځ به ځانونه په خپله په زنځیرونو وهي!! دا هم په بشپړه توګه سیاسي وجوهات لري چې د اهل بیت په نامه ئې روایات راایستلي او هغه ئې د خپل مذهب لپاره مستمسك جوړ کړي. متأسفانه په اهل سنت و جماعت کي هم دې ته

ورته فتنې راولاړي شوې دي؛ ډېر ځله داسي ډلي رامنځته شوې چي له اصلي دښمن سره يو ځای شوې او د مسلمانانو خلاف جنګېدلې دي، مذهبي اختلافات او اړوند فتنې ئې له هغو جعلي، له قرآن سره متعارض او د عقل او درايت خلاف رواياتو راولاړي شوې چي ځينو ترې سياسي مذهب جوړ کړی؛ د الله تعالی دين او د پيغمبر سنت؛ مؤمنان وحدت او يووالي ته بلي خو دوی له رواياتو د تفرقې وسيله جوړوي او د مؤمنانو د وژلو او ترور فتوی ګانی ترې راباسي!!

د دې لپاره چي روښانه شي پر رواياتو مخامخ عمل کول څومره ګران کار دئ، د بخاري څو لومړني روايات ستاسو مخي ته ږدم چي وګورئ د هغوی له منځه د يوه انتخاب څومره دروند او ستونزمن کار دئ؛ دا هم بايد واضح کړو چي له درسونو او بحثونو مو هدف د امت يووالی دئ نه د اختلاف تشديد؛ د اختلاف ختمولو دوه لاري دي: ۱- يوه دا چي دواړه لوري تعهد وکړي چي پر کلياتو او اساساتو اکتفاء کوو؛ په فروعاتو کې يو بل معذور ګڼو او د اختلاف وسيله نه ترې جوړوو، همدا چي قبله مو يوه ده، خدای مو يو دئ، قرآن مو يو دئ، پيغمبر مو يو دئ، د حلالو او حرامو پولی مو شريکي دي، پر آخرت باور لرو، پر قيامت، فرشتو، قضاء او قدر باور لرو، دا مهم او اساسي مسائل کافي دي چي موږ يو بل ته د ورورۍ لاس ورکړو، په فروعي مسائلو کي يو بل معذور وګڼو او تعهد وکړو چي په فروعي قضاياوو کي اختلاف به نه پرېږدو موږ سره بېل کړي؛ ۲- بله لاره ئې د متعارض او متهاجم لوري غرور ماتول او د خپلي تګلاري ضعف او نقص ته متوجه کول دي. موږ د دغي دوهمي تګلاري انتخاب ته اړ شوي يو؛ هدف مو وحدت او يووالی دئ نه د اختلاف تشديد؛ مجبور شوي يو تفرقه اچوونکو او تکفيري ډلو ته ووايو: په کوم روايت چي استناد کوئ او د هغه له مخي مسلمانان تکفيروئ؛ روايت مو ضعيف دئ او استناد مو ناسم؛ اشتباه کوئ، تعبير او استناد مو کمزوري دي؛ هغه چي د تعرض او تهاجم حالت ئې غوره کړی، پر نورو بې موجبه بريدونه کوي او

ورته وايي: ستا لمونځ هغه لمونځ نه دئ چي پيغمبر صلی الله علیه وسلم کولو، ستا د لمونځ حرکات هغسي نه دي چي پيغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه وو درلودل، اعتراضونه ئې هم پر فروعاتو وي نه پر اصولو او فرائضو؛ مجبور شوو هغوی پوه کړو چي تاسو اشتباه کړې ده، په کومو رواياتو چي استناد کوئ د استناد وړ نه دي، هغه روايات مو له پامه غورځولي چي هم ئې راويان ستا تر راويانو ثقه دي او هم ئې متن ستا د رواياتو تر متن معتبر او د قرآن مطابق. موږ په همدې هيله او موخه د درسونو دا حلقه او بحثونه پيل کړي.

بخاري په دې حديث پيل شوی:

**حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ يَقُولُ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضى الله عنه عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ (إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ).**

عبدالله بن زبير حميدي له سفيان، هغه له يحيى بن سعيد الانصاري، هغه له محمد بن ابراهيم التيمي روايت کوي چي له علقمه بن وقاص ئې اورېدلي چي ويل ئې: وامي ورېدل چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه د منبر پر سر وويل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: يقيناً چي عملونه په نيتونو پوري تړلي دي؛ او يقيناً چي هر چا ته هغه څه دي چي نيت ئې کړی؛ نو د چا چي هجرت د دنيا لپاره وي چي په برخه ئې شي يا د کومي ښځي لپاره چي په نکاح ئې کړي؛ نو هجرت ئې د همغه څه لپاره دئ چي هجرت ئې ورته کړی.

بخاري دا حديث دولس ځلي راوړی، په دغو شمېرو: ۱، ۵۲، ۲۵۲۹، ۲۳۴٤،

۳۸۹۸، ۳٦۰۹، ٤٦۸۲، ۵۰۷۰، ٦۱۹۵، ٦٤۳۹، ٦٦۸۹، ٦۹۵۳. په ټولو کې يَحْيَى بْنِ سَعِيد تابعي له محمد بن ابراهيم تابعي هغه له عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ تابعي او هغه له عمر رضي الله عنه روايت کړی، له يحيی وروسته راويان بېل بېل دي، د بخاري په نورو رواياتو کې هم دا تکرار تر سترګو کېږي. کاش بخاري د روايت متن يو ځل راوړلی او په خوا کې ئې د راويانو مختلفې سلسلې بيانولی، په دې سره به هم لوستونکو ته کار آسان شوی وو او هم به د بخاري حجم راکم شوی وو، په دې صورت کې به د بخاري اوسنی ضخامت نږدې پنځمې برخې ته راکوز شوی وو.

که دغو دولسو رواياتو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې په الفاظو کې ئې توپيرونه شته، ځينې ئې لنډ او ځينې ئې اوږده دي، ځيني الفاظ په يوه کې راغلي او په بل کې نه، په يوه کې (الاعمال) او په بل کې (العمل)؛ په يوه کې (النية) او په بل کې (النيات)، په يوه کې (لامرئٍ) او په بل کې (لِکُل امرئٍ) او همداسې نور توپيرونه. بخاري دغو توپيرونو ته په پام سره اړ شوی چې ټول روايات راوړي او قضاوت ئې لوستونکو ته پرېښی چې کوم ترې غوره کوي، دا حکم ئې نه دئ کړی چې کوم روايت له کومو الفاظو او ترکيب سره ارجح ورته برېښي، حال دا چې دا ډېره مهمه او ضروري مسئله ده، که نه نو لوستونکی په شك کې لوېږي چې د يوې موضوع اړوند رواياتو کې کوم يو ومني، په کوم يوه عمل وکړي، په يوې جملې کې د يوه لفظ تغيير په معنی کې ډېر بدلون راولي، لکه په دغه لومړني روايت کې لوستونکي ته دا پوښتنه راولاړېږي: ټول اعمال په نيت پوري تړلي دي او که کوم خاص عمل (ځکه په يوه کې العمل او په بل کې الاعمال) راغلي، پيغمبر عليه السلام د (نية) صيغه کارولې که د (نيات)؟، د (لامرئٍ) صيغه ئې ويلې که د (لِکُل امرئٍ)؟؛ د وينا اصلي بڼه کوم روايت منعکس کړې؟

راشئ دا دولس روايات يو ځايي له نظره تېر کړو:

١ - حَدَّثَنَا الحُمَيْدِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيُّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى المِنْبَرِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا، أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

٥٢ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ عَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ

٢٥٢٩ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَلِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

٢٣٤٤ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَلِامْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ

٣٨٩٨ - حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ»

٣٦٠٩ - حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ زَيْدٍ عَنْ يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ

٤٦٨٢ - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَمَلُ بِالنِّيَّةِ وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ

٥٠٧٠ - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «العَمَلُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا، أَوِ امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

٦١٩٥ - حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ يَقُولُ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ يَقُولُ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ.

٦٤٣٩ - حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَخْطُبُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ هَاجَرَ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ.

٦٦٨٩ - حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الوَهَّابِ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ

سَعِيدٍ، يَقُولُ: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

٦٩٥٣ - حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَخْطُبُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ هَاجَرَ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ» البخارى

دا روايت د حديث په ټولو کتابونو کې جمعاً نږدې ۲٦۷ ځايونو کې راغلی. که څوك د دغو ټولو له منځه يو روايت انتخابوي؛ د روايت محتوی، الفاظو او ترکيب ته ئې په پام سره او دا چې د کوم روايت راويان تر نورو زيات ثقه او د اعتماد وړ دي؛ څومره گران کار دئ؟ آيا د بخاري عادي لوستونکی او ابتدائي طالب العلم دا کار کولی شي او د دې تحقيق له عهدې وتلی شي؟ ما ته د حکمة البارئ د ليکلو په دوران کې ثابته شوه چې دا درونډ کار د کمپيوټر له مرستي پرته ډېر گران دئ؛ د حکمة البارئ د ليکلو په دوران کې مي د هر روايت په ارتباط د بخاري ټول روايات لټولي؛ کاپي کړي، څنگ په څنگ مي سره ايښي، هم مې متن او هم مې راويان له نظره تېر کړي، ټول مي څېړلي، په متن او الفاظو کي مي غور کړی، دا مي معلومه کړې چې په تکراري رواياتو

کې د محتوی، الفاظو او ترکیب له پلوه توپیرونه شته که نه، لږ دي که ډېر، سره نږدې او هممفهومه دي که توپیرونه او تعارضات لري؛ راویانو ته ئې ځیر شوی یم چې په اوله طبقه کې څو دي او په دوهمه، درېیمه او څلورمه طبقه کې څو څو، تر امام بخاري رحمه الله پوري د راویانو لړۍ څنګه ده، خلاصه مې د هر روایت په پای کې او په ژباړې پسې متصل راوړې؛ لکه دا لومړی روایت چې ګورئ؛ بخاري دا لومړي روایت چې ډېر معروف او مشهور هم دئ؛ دولس ځله راوړی؛ د راویانو لړۍ ئې یوه ده؛ اما په الفاظو کې جدي او ژور توپیرونه لري؛ یو عادي او مبتدي لوستونکی او اورېدونکی به څنګه قضاوت وکړي؛ او له منځه به ئې یو څنګه غوره کوي؟ په داسي حال کې چې په بخاري کې دولس ځله او د احادیثو په نورو کتابونو کې نږدې ٢٦٧ ځله راغلی!!

د بخاري د دې روایاتو په اړه څو پوښتني له هر چا سره راولاړېږي:

- کوم روایت د رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل الفاظ په پوره دقت او امانت سره او له هر راز تغییر پرته رانقل کړي؟ امام بخاري دې ته ځواب نه دئ ویلی او وجه ئې هم نه ده ښودلې؛ ښایي وجه ئې دا وي چې هغه ته له یوه راوي په یوه صیغه او له بل په بله صیغه رسېدلی؛ نو مجبور شوی چې له توپیرونو سره سره ئې راوړي.

- د ټولو روایاتو لومړی راوي عمر رضي الله عنه دئ، دوهم ئې علقمه بن وقاص، درېیم ئې محمد بن ابراهیم، څلورم ئې یحیی بن سعید دئ؛ یعني دا روایت په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري؛ د محدثینو له نظره داسي روایت تر غریب اوښتی أغرب (ډېر غریب او ناآشنا) دئ؛ د اسلام له نظره د یوې عادي ادعاء لکه پور؛ د اثبات لپاره لږ تر لږه دوه شاهدان ضروري دي؛ د زنا د اثبات لپاره څلور شاهدان؛ یقیناً چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د یوې وینا منسوبول تر دې ډېر زیات احتیاط ایجابوي؛ آیا کولی شو په دې مهم

ديني مورد کې د يوه کس گواهي قبوله کړو؟ محدثين وايي: د داسي رواياتو په منلو کې احتياط وکړئ، که چا ونه منلو نو نه يوازي کومه گناه ئې نه ده کړې بلکې په دې سره به د ثواب مستحق شي؛ مخصوصاً که نه منل ئې له دې کبله وي چي نه غواړي خپل پيغمبر ته داسي څه منسوب کړي چي هغه نه دي ويلي. عمر رضی الله عنه داسي وو چي چا به وويل: له پيغمبر صلی الله عليه وسلم مي اورېدلي چي داسي څه ئې وويل؛ نو ورته ويل به ئې: هله شاهد وړاندي کړه که نه نو درې ته چمتو شه؛ دا معامله ئې له هغو صحابه وو سره کوله چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم ئې په خپلو سترگو ليدلی وو.

- ولې په ټولو صحابه وو کې له عمر رضي الله عنه پرته او په ټولو تابعينو کې له علقمه بن وقاص پرته بل چا دا روايت نه دئ نقل کړی؟ که عمر رضي الله عنه د منبر پر سر د خطبې په دوران کې دا خبره کړې وي؛ نو په جومات کې ناستو ډېرو نورو بايد دا خبره اورېدلې او نورو ته انتقال کړې وی؛ ولې بل داسي څوك نه مومو؟

- د بخاري د لوستلو په دوران کې به تاسو ته يوه بله مسئله هم مخي ته راشي؛ هغه دا چي وبه گورئ د روايت سياق او سباق ته له اشارې پرته د کلام يوه برخه رااخيستل شوې؛ لوستونکی په دې نه پوهېږي چي دا حديث کله ويل شوی؟ په څنگه حالت کې ويل شوی؟ تر دې مخکې څه ويل شوي؟ دا د يوې بشپړې وينا کومه برخه ده که يوه مستقله وينا؟ د قرآن او حديث يو ژور توپير په دې کې دئ چي د قرآن هره سوره يوه مستقله موضوع ده، د سورې آيتونه يو له بل سره تړلي دي او په گډه ئې يو مشخص مضمون جوړ کړی، هر آيت په خپله په ځانگړې توگه هم يو مطلب افاده کوي او له مخکې او وروسته آيت سره په گډه هم، د آيت سياق او سباق ته په پام سره د هغه مطلب په واضح او بشپړه توگه د لوستونکي مخي ته راځي، خو د احاديثو کتابونه داسي نه دي، د پيغمبر عليه السلام هره وينا او خطبه په بشپړه توگه

نه ده رااخیستل شوې، بلکې هر راوي د وینا یوه څانګړې برخه حفظ کړې او هغه ئې نورو ته انتقال کړې، داسي نه دي شوي چي چا مثلاً د پیغمبر علیه السلام یوه بشپړه خطبه لیکلې وي او نورو ترې اقتباس کړې وي؛ بلکي په شفوي توګه له یوه بل ته انتقال شوي. په بخاري کي داسي روایت هم مومو چي یوه راوي ته منسوب شوی خو همغه راوي په کلکه انکار کړی او ویلي ئې دي چي ما دا روایت نه دئ ویلی؛ ابوهریره رضي الله عنه ته د (لاعدوی: د مرضونو سرایت نشته) روایت منسوب شوی؛ هغه مهال چي ده داسي روایت وړاندي کړ چي وایي: د مرضونو انتقال شته او څان ترې خوندی وساتئ؛ نو چا ورته وویل: تا مخکي یوه خبره کړې وه او اوس دي دا خبره وکړه؛ دا ولې؟ ابوهریره رضی الله عنه سخت غُصه شوی؛ دومره چي خلک ئې په خبره نه پوهېدل؛ وئې ویل: ما هغه خبره نه ده کړې؛ په بخاري کي دا دواړه روایات راغلي؛ هغه روایت هم راغلی چي راوي ئې په خپله ترې انکار کوي؛ زه او ته چي له دومره پېړیو وروسته؛ د دغو روایاتو په ارتباط قضاوت کوو څه به وایو؛ کوم یو به منو؟؛ دا ئې ما او تا ته پرېښي؛ خو زه او د بخاري هر شاګرد نه پوهیږو کوم یو به صحیح ګڼو او د کوم دلیل له مخي!! څنګه ومنو چي ابوهریره؛ ده ته منسوب شوې خبره ردوي او پر دې انتساب سخت غوصه کیږي او بل ئې په زور هغه ته منسوبوي او وایي: ابوهریره دا خبره کړې خو ترې هېره شوې!! متأسفانه روایاتو کي له داسي مشکلاتو سره مخامخ کیږو.

پیغمبر علیه السلام دا اجازه نه وه ورکړې چي د ده احادیث ولیکل شي، د هغه تأکید پر دې وو چي یوازي قرآن ولیکل شي، حفظ شي او نورو ته انتقال شي. طبیعي ده چي د یوې خطبې ټول مطالب په بشپړه توګه حفظ کول که محال نه وي نو ډېر ګران کار دئ، هر چا د خطبې یوه برخه حفظ کړې او نورو ته ئې ویلې، دا هم ډېره طبیعي ده چي په الفاظو کي تبدیلي راشي او د څینو الفاظو پر څای مترادف الفاظ راشي، د همدې لپاره محتاط کسان د پیغمبر علیه السلام د هر حدیث په پای کي وایي: او کما قال رسول

الله صلی الله علیه و سلم: او یا لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي!

همدا راز که دغو دولسو رواياتو ته ځير شئ نو هرومرو به دا پوښتنه درسره پيدا کېږي چې پيغمبر علیه السلام تر دې د مخه څه ويل؟ آيا د هجرت په اړه ئې خبري کولې که پر دې چې د عمل تعلق له نيت سره څنګه دئ؟ د بحث اصلي موضوع څه وه؟ ځکه يوازي په دې خبري له پوهېدو وروسته ويلی شو چې د نيت او عمل تر منځ دا تعلق عام دئ که خاص؟ يوازي د هجرت په څېر نيك عمل احتواء کوي که هر عمل؟ د روايت له وروستۍ برخي داسي معلومېږي چې پيغمبر علیه السلام د هجرت په اړه بحث کولو، د همدې بحث په ترڅ کي ئې ويلي چې هجرت هغه عمل دئ چې د انسان نيت ئې څرنګوالی ټاکي. دا ځکه چې د نيت او عمل تړاو په لاندي صورتونو کي وي:

- ١- نېك نيت او نېك عمل، ٢- بد نيت او نېك عمل، ٣- نېك نيت او بد عمل، ٤- بد نيت او بد عمل، ٥- يوازي نېك نيت له عمل کولو پرته، ٦- يوازي بد نيت له عمل کولو پرته.

په دغو شپږو صورتونو کي د نيت او عمل تړاو يو شانته نه دئ، په ټولو کي دا خبره صدق نه کوي چې نيت د عمل څرنګوالی ټاکي، يوازي په نېك عمل کي نيت اعتبار لري، په بد عمل کي نيت اعتبار نه لري، نېك نيت له عمل کولو پرته هم معتبر ګڼل کېږي او انسان پر بد نيت له عمل پرته نه نيول کېږي. بد عمل په هر صورت کي بد دئ، که ئې تر شا نېك نيت وي يا بد نيت، دلته نيت هيڅ اعتبار نه لري. يعني که څوك د حج په نيت له چا غلا وکړي؛ آيا ويلی شو چې د ښه نيت له کبله ئې غلا ګناه نه بلکي د ثواب کار دئ؟

دا هم بايد په پام کي ولرو چې په قرآن کي د دې روايت لپاره نه يوازي هيڅ شاهد نه مومو بلکي دا وينا له قرآن سره تعارض لري؛ قرآن وايي: وَأَن لَّيۡسَ لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ: او دا چې انسان ته له خپلي هڅي پرته بل څه نه

ورپه برخه کېږي؛ يعني چي عمل ارزښت لري او معيار دئ نه ادعاء او نه هم مجرد نيت؛ که له عمل پرته او يوازي په نېك نيت چا ته اجر ورکول کېږي؛ دليل ئې دا دئ چي دا کس د خندونو له کبله نه دئ توانېدلی خپل نيت عملي کړي.

دغو خبرو ته په پام سره په بشپړ ډاډ او اطمئنان ويلی شو چي دا روايت د پيغمبر عليه السلام د هغي وينا يوه برخه کېدی شي چي د هجرت په اړه ئې کړې. نو په دغو رواياتو کې هغه راجح دئ چي د (الاعمال) پر ځای (العمل) په کې راغلی او د (النِّيَّاتِ) پر ځای (النِّيَّة).

دغو خبرو ته په پام سره گورو چي له مختلفو رواياتو د يوه غوره کول نه يوازي دې ته ضرورت لري چي د راويانو په اړه دقت او تحقيق وشي بلکې په الفاظو او ترکيب کې ئې هم بايد له درايت او دقت کار واخيستل شي، دا ځکه چي په رواياتو کې د الفاظو او د هغوی د ترکيب له پلوه پراخ او ژور توپيرونه تر سترگو کېږي او دا يوه طبيعي خبره ده ځکه چي روايات تر هغو محدثينو پوري په ليکلي بڼه نه دي رسېدلي چي د کتاب بڼه ئې ورکړې، خوله په خوله انتقال شوي، په ټولو کې به وگورئ چي د (حدثنا)، (اخبرنا)، (قال)، (سمعت) او (سمعنا) الفاظ راغلي، داسي موارد به په ندرت په نظر درشي چي په ليکلې بڼه کې کوم روايت له يوه بل ته رسېدلی وي.

يو ځل رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د اصحابو يوه ډله راغله؛ له فرض لمانځه وروسته د تسبيحاتو او شمېر په اړه ئې سپارښتنه ورته وکړه؛ کله چي ترې ووتل نو په خپلو منځونو کې د شمېرو په اړه په اختلاف کې پرېوتل؛ چا ويل ټول شمېر ئې ١٠٠ ځله دئ؛ ٣٣+٣٣+٣٤= ١٠٠ چا ويل هر يو سل ځله او چا ويل ټول ٣٤ ځله؛ ١١+١١+١٢=٣٤ ځله؛ بېرته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راستانه شول او هغه بيا پوه کړل. يعني د څو شېبو او څو گامونو په واټن کې هم کېدی شي د يوه غير تحريري روايت په اړه د اورېدونکو تر منځ اختلاف راولاړ شي؛ خو هغه روايت چي يوه کس ته منسوب شوی؛

گواکې هغه اورېدلی او نورو ته ئې انتقال کړی؛ هغه ئې هم د منبر له سر اورېدلی؛ له نړدې هم نه بلکې له لرې؛ دې کې توپیر او اختلاف حتمی دئ؛ دا دئ تاسو گورئ چې د بخاري لومړي روایت ۱۲ ځله په تکرار سره راغلی او تر منځ ئې ډېر توپیرونه؛ د دوی له منځه د یوه انتخاب څومره ستونزمن کار دئ؟

غواړو دې پوښتنې ته صحیح ځواب تر لاسه کړو چې موږ ته له دغو تګلارو کومه یوه غوره او مناسبه ده: د کوم مذهب متابعت راته غوره دئ او که دا چې سلفي او اهل حدیث (غیر مقلد) شو؟ لنډ ځواب مو دا دئ چې عامو مسلمانانو ته غوره لار دا ده چې د حقه مذاهبو له منځ؛ هغه ځان ته غوره کړي چې تر نورو ئې دلائل مضبوط ورته برېښي او خپل فقهي احکام ئې له قرآن او صحیح حدیث إستنباط کړي وي؛ دلائلو ته په پام سره یوه ته پر بل ترجیح ورکړئ او یو ترې انتخاب کړئ. په دې کې هیڅ شک نشته چې د مذاهبو امامان داسي وو چې هم په قرآن پوهېدل، هم په حدیث، استادان، فکري امامان او مشران ول؛ د کافي تحقیق او ژورو څېړنو په مرسته ئې فقهي احکام تنظیم کړي، له قرآن او حدیث ئې استنباط کړي، هر یو ئې ستر شخصیت وو، هر یوه په لکونو او میلیونونو پلویان لرل، نن د امت او اهل سنت و جماعت نږدې نوي سلنه احناف تشکیلوي؛ هر امام په زرگونو شاگردان روزلي، ستري ستري مدرسي ئې درلودې، تحقیق شوی، د هري پوښتني ځواب ورکول شوی، داسي نه ده چې یو څوک له کومي گوښې راپاڅېدلی او ځانګړی مذهب ئې اعلان کړی او خلکو منلی. ښه کار دا ده چې له دغو مذاهبو یو غوره کړو؛ خو دلائلو ته په پام سره او د قرآن او حدیث په رڼا کي، که خپله نه پوهېږو له بل چا وپوښتو؛ که خپله د دې مستوی نه یو چې هم په قرآن پوه وو او هم په حدیث؛ نو لاړ شو د یوه داسي صادق عالم او امین شخصیت خوا ته کښېنو چې د اعتماد وړ وي؛ خپلي دیني پوښتني ترې وکړو او د لارښود په توګه ئې ونیسو. لارښود مو باید داسي وي چې هم له قرآن او حدیث کافي

علم ولري او هم د ائمه وو له رأى او دلائلو ئې واقف وي او د غوره او ارجح رأى د تشخيص توان او استعداد لري. خو په دې شرط چي که د غوره شوي مذهب کومه رأى ئې تر بل ضعيفه وموندله نو بې ځايه تعصب د دې باعث نشي چي د سمي او مستندي رأى له منلو او متابعت ډډه وکړي. متأسفانه ځينی داسي دي چي د تعصب له کبله له غلطي رأى دفاع کوي، موږ يو امام او مذهب ئې له دې کبله غوره کړی چي د هغه رأيه مو د قرآن او حديث مطابق او تر نورو غوره موندلې؛ په ائمه وو کې د چا د ذات متابعت نه کوو؛ د غوره، مضبوطي او مستدلي رأى ئې متابعت کوو، د خپل امام په اړه هيڅکله دا نه وايو چي هغه معصوم دئ او هيڅ غلطي نه ده ترې شوې. د احنافو مذهب په حقيقت کې يو فکري مسلك دئ؛ ډېر ځلي شاگردانو له خپل استاد او امام سره مخالفت کړی او د هغه رأى ئې نه ده منلې، له امام ابو حنيفه سره د ده نږدې شاگردانو؛ په ډېرو مواردو کي اختلاف کړی؛ کله دواړه مهم شاگردان ئې يوې خوا ته شوي او دی بلي خوا ته يوازی پاته شوی، له خپلي رأيي تېر شوی او د هغوی رأى ئې منلې؛ وروستيو بيا د همدغو دواړو رأيه قبوله کړې؛ زموږ اسلوب بايد همداسي وي، د هيڅ رأيي په ارتباط بايد تعصب و نه لرو، يوازي پيغمبر صلى الله عليه وسلم معصوم دئ، الله تعالى هغه له گناه معصوم ساتلی؛ اما تر هغه لاندي له هر چا د اشتباه او خطأ احتمال شته؛ احناف هم بايد دا رأيه غوره کړي او سلفيان هم.

ښه خو دا ده چي په فروعي مسائلو کې او هلته چي اړوند روايات هم متعدد او بېل بېل وي؛ د هيڅ بل منل شوي حقه مذهب د پلويانو او د هغوی د دريځونو، نظرياتو او حرکاتو په وړاندي حساسيت ونه ښيو؛ هغه هم يوازي له دې کبله چي له موږ سره په يوې فرعي قضيې کې توپير لري؛ لکه دا چي په تکبير تحريمه کې به لاسونه څومره لوړوو؛ تر اوږو پوري او که تر غوږونو پوري. هر مذهب په يوه روايت استناد کړی او يوه رأيه ورته ارجح معلومه شوې؛ دا اختلاف او توپير بايد د دې باعث نه شي چي موږ هغه توهين او تکفير

کړو، باید د هغه عذر قبول کړو، په سړه سینه له هغه سره چلند وکړو او حساسیت و نه ښیو، فرعي مسائل باید د مسلمانانو تر منځ د اختلاف باعث نه شي؛ موږ لږ تر لږه څلور مذاهب؛ د حق او مقبول مذاهبو په توګه پېژنو؛ سره له هغو ټولو اختلافاتو چې د دوی تر منځ شته؛ د نورو مذاهبو له پلویانو سره مو چلند او د تعامل اسلوب باید پر همدې بنسټ ولاړ وي؛ له هغوی سره نه کینه او عداوت ساتو او نه ئې د اسلام له دائرې وتلي ګڼو.

د امت فقهاءو مختلف، متعارض او متضاد روایات چڼلي، یو ئې ترې غوره کړی، هغه ئې د یوه حکم بنسټ ګرځولی او اختلاف رأی ئې پای ته رسولی، أما د حدیث هغه کتابونه چې له ائمه وو وروسته لیکل شوي دا کار ئې نه دئ کړی، دا دئ ګورئ چې بخاري یو روایت دولس ځلي نقل کړی، داسي چې په الفاظو کي ئې ډېر توپیرونه دي، له دوی د یوه انتخاب ئې لوستونکو ته پرېښی!! د بخاري ټول هغه روایات به دې ته ورته ومومئ چې په مکرره توګه ئې نقل کړي، په ځینو کي خو به دومره شدید تعارض وګورئ چې تلفیق ئې قطعاً امکان نه لري او له دې پرته بله هیڅ چاره به په نظر نه درځي چې له ټولو یوازي یو غوره کړئ او دا هم په هغه صورت کي چې د ترجیح دلائل ومومئ که نه نو په متعارضو روایاتو عمل کول باید متوقف شي.

دې خبرو ته په پام سره باید ووایو: څوك چې ځان ته اهل حدیث وایي او ګمان کوي چې هر څوك کولی شي له بخاري احکام راوباسي او عمل پرې وکړي، داسي چې نه د فقهاءو آراءو ته په مراجعې اړ کېږي او نه د روایاتو چڼلو او تنقیح ته! سخته اشتباه کوي او دا وینا ئې یا له کم علمۍ او یا له ړانده تعصب او بې ځایه غرور راولاړه شوې.

د بخاري دوهم حدیث دا دئ:

٢- عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رضى الله عنها أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رضى الله عنه سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ يَأْتِيكَ

**الْوَحْىُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم« أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَىَّ فَيُفْصَمُ عَنِّى وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِىَ الْمَلَكُ رَجُلاً فَيُكَلِّمُنِى فَأَعِى مَا يَقُولُ ». قَالَتْ عَائِشَةُ رضى الله عنها وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْىُ فِى الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا.**

دا حديث هم بخاري کې درې ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲، ۲۹۷٦ او ۳۲۱۵؛ وروستي دوه ئې سره ورته او راويان ئې دا دي: فَرْوَة له عَلِى بْن مُسْهِرٍ، هغه له هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، هغه له خپل پلار او هغه له عَائِشَې رضي الله عنها روايت کوي؛ اما د دوهم روايت راويان دا دي: مَالِك له هِشَامِ بن عُرْوَة هغه له خپل پلار، هغه له عَائِشَة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايت کوي چې حَارِثَ بْنَ هِشَامٍ له رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښتل چې يَا رَسُولَ اللهِ! وحي څنگه درباندي راځي؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: کله کله د زنگ د غږ په څېر راته راځي او دا تر ټولو راباندي سخته وي؛ او په داسي حال کې رانه جلا شي چې په وينا ئې پوه شوی وم، کله کله (د وحي حامل) فرشته د يوه سړي په بڼه کې راته تمثيل شي نو خبري راسره وکړي او په هغه څه پوه شم چې وايي ئې؛ عائشې رضي الله عنها وويل: ما د سختي يخنۍ په ورځ ليدلی چې وحي پرې نازلېده او بيا په داسي حال کې ترې بېلېده چې پر تندي به ئې خولې بهېدې.

دلته هم په دغو رواياتو کې څو توپيرونه تر سترگو کېږي: په يوه کې (کل ذاك) الفاظ شته او په بل کې نشته، په يوه کې ويل شوي چې (وحی) د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي او په بل کې ويل شوي چې فرشته د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي، په يوه کې د (وَهْوَ أَشَدُّهُ عَلَىَّ ) الفاظ تر نورو مخکې او په بل کې دا الفاظ وروسته راغلي.

٢ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ المُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ الحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ يَأْتِيكَ الوَحْيُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الجَرَسِ، وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ، فَيُفْصَمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ المَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ» قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الوَحْيُ فِي اليَوْمِ الشَّدِيدِ البَرْدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا

٢٩٧٦ - حَدَّثَنَا فَرْوَةُ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ قَالَ كُلُّ ذَاكَ يَأْتِينِي الْمَلَكُ أَحْيَانًا فِي مِثْلِ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ فَيَفْصِمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ مَا قَالَ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ وَيَتَمَثَّلُ لِي الْمَلَكُ أَحْيَانًا رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ

٣٢١٥ - حَدَّثَنَا فَرْوَةُ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ الحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يَأْتِيكَ الوَحْيُ؟ قَالَ: «كُلُّ ذَاكَ يَأْتِينِي المَلَكُ أَحْيَانًا فِي مِثْلِ صَلْصَلَةِ الجَرَسِ، فَيَفْصِمُ عَنِّي، وَقَدْ وَعَيْتُ مَا قَالَ، وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ، وَيَتَمَثَّلُ لِي المَلَكُ أَحْيَانًا رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي، فَأَعِي مَا يَقُولُ»

د دې روايت لومړی راوي عَائِشَةَ رضي الله عنها، دوهم ئې عروه بن زبير،

دربېيم ئې هشام بن عروه، څلورم ئې مَالِك او پنځم ئې عَبْدُ اللهِ بْن يُوسُف دئ.

دا روايت په بخاري او نورو کتابونو کې نږدې ۱۱٦ ځلې راغلی.

که غور وکړو نو دا راته جوتېږي چې د فرشتې راتگ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول مناسب نه برېښي، خو د وحي راتگ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول موزون او دقيق معلومېږي، نو په يقين سره ويلی شو چې لومړی روايت تر دوهم ارجح دئ. د قرآن له وينا سره يوازي لومړی روايت اړخ لگوي ځکه قرآن د وحي درې صورتونه بيانوي:

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾ الشورى: ٥١

هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مگر په وحي سره، يا د حجاب له شا يا دا چې فرشته ولېږي او هغه څه د ده په حکم ورته وحي کړي چې غواړي ئې، يقيناً چې هغه باحکمت لوړ دئ.

دلته د وحي درې صورتونه ښودل شوي: ۱- مخامخ وحي، ۲- تکلم خو د حجاب له شا او ۳- د فرشتې په لاس وحي. قرآن موږ ته وايي چې دوهم صورت ئې (د حجاب له شا تکلم) له موسى عليه السلام پرته له بل پيغمبر سره نه دئ شوی، يعنی الله تعالى په انسانانو او پيغمبرانو کي فقط له يوه کس سره چې هغه موسى عليه السلام دئ؛ تکلم کړی؛ او دا د موسى عليه السلام امتياز وو، دا خبره آسانه نه ده يعنی درنه خبره ده، يوه رأی همدا ده چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم د معراج په سفر کي له الله تعالى سره مخامخ تکلم کړی او حتى مخکي دورمي او د مسيحيانو هغه خبره کوي چې وايي: عيسى عليه السلام د الله تعالى څنگ ته پر عرش کښېنستی؛ دوی هم د پيغمبر عليه السلام په ارتباط؛ همغه مبالغه کوي چې مسيحيانو د عيسى عليه السلام په ارتباط کوله؛ وحي د موسى عليه السلام په شمول ټولو پيغمبرانو

ته شوې، اما د حجاب له شا تکلم یوازې له موسی علیه السلام سره شوی، قرآن صریحاً موږ ته وایي چې موسی علیه السلام ته دوه امتیازات ورکړی شوي؛ ۱- پر عادي انسانانو دا امتیاز چې د پیغمبر په توګه غوره شوی؛ ۲- ادا چې د ټولو پیغمبرانو له منځه ئې یوازې له ده سره او هغه هم د حجاب له شا تکلم کړی؛ دا تکلم پورته په آسمانونو کې نه؛ په زمکي کې او د طور غره په یوه اړخ کې له یوې ونې؛ همدا راز قرآن موږ ته وایي چې له دې تکلم وروسته د موسی علیه السلام په زړه کې دا هیله او تمنی راپیدا شوې چې الله تعالی په خپلو سترګو وګوري؛ وئې ویل: اې زما ربه! ما ته راوښیه چې ودې ګورم؛ الله تعالی وفرمایل: لیدلی مې نه شې؛ یعني تا کې دا ظرفیت او توان نه شته چې ما په خپلو سترګو ووینې؛ دې غره ته وګوره که هغه زما د تجلي په وړاندې مقاومت وکړی شو؛ نو ته به مې هم ولیدی شې؛ خو چې الله تعالی د غره لوري ته تجلي وکړه، غر ټوټې ټوټې شو او موسی علیه السلام بې سده شو؛ کله چې په سد شو نو توبه ئې وکړه او وئې ویل: پاکي تا ته ده؛ ما ته ځان ستر معلوم شوی وو، وړوکی انسان یم، دا توقع می کوله چې الله تعالی په خپلو سترګو ووینم، دا بې ځایه غرور وو؛ توبه مې وکړه، لومړی کس یم چې تسلیم او منقاد یم او په دی حقیقت پوه شوی یم چې انسان په دی وړو سترګو الله تعالی نه شی لیدلی، الله تعالی له دی ډېر ډېر لوړ دئ چې انسان ئې ولیدی شي. له تا سره د قرآن دا صریح او څرګنده وینا هم ډېر جاهلان درسره نه مني، ځیني ئې داسي انګېري چې رسول الله صلی الله علیه وسلم؛ الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی او تکلم ئې ورسره کړی؛ اما عائشه رضی الله عنها چې هم پیغمبر علیه السلام ښه پیژني او هم په قرآن ښه پوهیدله، مفسره او د صحابه وو استاده وه؛ هغه وایي: که چا درته وویل چې محمد علیه السلام خپل رب لیدلی؛ دروغ ئې ویلي، ځکه قرآن فرمایي چې سترګی هغه لیدلی نه شي، د قرآن په هغه آیت استناد کوي چې وایي: سترګي ئې لیدلی نه شي خو دی سترګي ګوري؛ او فرمایي: که چا درته وویل چې محمد علیه السلام له الله

تعالی سره تکلم کړی، پوه شه چې دروغ ئې درته ویلي، دا ځکه چې قرآن موږ ته همدا لارښوونه کړې چې الله تعالی یوازې له موسی علیه السلام سره تکلم کړی. د وحې دوه نور صورتونه داسې دي چې یو ئې بلاواسطه وحې ده او بل ئې بالواسطه او د فرشتې له لارې وحې، نو ځکه یوازې هغه روایت د منلو دئ چې له قرآن سره اړخ لګوي او همدا خبره کوي چې وحې دوه صورتونه لري: له فرشتې پرته وحې او د فرشتې له لارې وحې، یوه ئې صلصلة الجرس ته ورته او بله ئې د انسان په بڼې کې د فرشتې له لارې، له دې معلومېږي چې هغه روایت دقیق نه دئ چې دواړه د فرشتې له لارې وحې ګڼي، یو ئې له لرې او بل ئې د انسان په بڼې کې د تمثیل له لارې.

بخاري نه دلته او نه په نورو مواردو کې دا ویلي چې له متعارضو روایاتو کوم یو ئې تر بل ارجح دئ او په کوم یوه ئې باید عمل وشي، کوم یو ئې له قرآن سره اړخ لګوي او کوم نه، هغه غوښتي هر هغه روایت په امانت سره ثبت او نورو ته ورسوي چې تر ده رسېدلی او اسناد ئې د اعتبار وړ ورته برېښېدلي؛ دا ئې لوستونکو ته پرېښې چې کوم یو غوره کوي. ښایي د بخاري د دوو لومړنیو روایاتو په اړه دا تحلیل او څېړنه به کافي وي چې د نورو د ځرنګوالي په اړه قضاوت وکړو.

د دغو روایاتو په اړه یوازې هغه څوك صحیح پرېکړه کولی شي او ارجح ئې ټاکلی شي چې هم د قرآن په تفسیر پوه وي، هم د درایت خاوند وي، هم ئې د حدیث نور کتابونه لوستلي وي، هم د بخاري ټول روایات ورته معلوم وي او هم ئې د سیرت کتابونه لوستلي وي او په اختصار سره یو فقیه وي، خو متأسفانه اوس داسې بې علمه کسان ګورو چې له کوم استاد د بخاري په لوستلو او د پګړۍ په تړلو سره به داسې مغرور شي چې ګمان به کوي د یوویشتمې پېړۍ مفتي اعظم شو، په هغو ائمه وو به اعتراضونه او نیوکې کوي چې امام بخاري ئې د یوه شاګرد حیثیت لري. دا په داسې حال کې چې دی به نه د بخاري د روایاتو په معنی سم پوهېږي، نه به د روایاتو تر منځ تعارض

درك کولی شي او نه به د دوو متعارضو روایاتو تر منځ د ارجح د پېژندا پوهه او درایت لري.

یوه ورځ مي فیسبوک کي د یوه اهل حدیث وینا اورېدله چي ویل ئې: آیا پیغمبر علیه السلام کله هم د جمعي خطبه په ناسته ویلې که نه؟ په یوه روایت ئې استناد کولو؛ راوي ئې ویلي: په هغه الله مي قسم چي زما روح ئې په واک کي ده، ما دوه زره د جمعي لمونځونه په پیغمبر صلی الله علیه وسلم پسي کړي او په ټولو کي مي داسي لیدلی چي هغه به په ولاړه خطبه ویله؛ روایت هم داسي چي راوي په لوړي او کلك قسم سره روایت کړی، ما له ځان سره فکر کولو چي عجیبه ده؛ د پیغمبر علیه السلام د جمعي ټول لمونځونه له پنځه سوه زیات نه دي؛ هغه لس کاله په مدینه کي د جمعي لمونځونه ورکړي؛ هر کال نږدې دوه پنځوس اونۍ؛ یعني دوه پنځوس د جمعې ورځي کېږي، نو په کال کي دوه پنځوس د جمعي لمونځونه او په لسو کلونو کي پنځه سوه شل لمونځونه؛ دا هم په هغه صورت کي چي د پیغمبر علیه السلام د سفرونو او غزواتو ورځي ترې منفي نه کړو؛ او دا ټول لس کلونه ئې په مدینه کي تېر کړي وي او هره جمعه ئې په لمانځه کي د خلکو امامت کړی وي؛ نو د جمعې د لمونځونو شمیر ئې پنځه سوه شل کېږي!! خو دې مظلوم راوي ته داسي د حقیقت او عقل خلاف خبره منسوب شوې چي ګواکي دوه زره د جمعې لمونځونه ئې په پیغمبر علیه السلام پسي کړي!! یعني چي د روایت منل؛ عقل، درایت او غور ایجابوي؛ که څوك په پټو سترګو هر روایت مني نو سمه لار ترې ورکېږي؛ دې ته ورته ډېر روایات داسي دي چي که سړی درایت ونه لري، په قرآن او حدیث پوه نه وي؛ منل، عمل پرې کول او احکام ترې راایستل؛ هم ده او هم نورو ته مشکلات او ستونزي زېږوي او د اختلافاتو باعث کېږي.

## الله تعالی د خدای په نامه یادول

هجرت که له یوې خوا موږ ته ډېري ګټې درلودې، یو نوی نسل وروزل شو، د جهاد او هجرت هېره شوې فریضه راژوندۍ شوه، د جهاد او هجرت په مدرسه کې ستر ستر هېر شوي مفاهیم راژوندي شول، خو له بلې خوا ئې ډېري ستونزي راته زېږولې دي، له دغو ستونزو یوه ئې دا وه چي ځینو خپل مخکینی مذهب پرېښی او د هغه چا مذهب ئې خپل کړی چي له مجاهدینو او مهاجرینو سره د مرستو په نامه راغلي خو خپل مذهب او فرهنګ ئې هم له ځان سره راوړی؛ که دا غربیان وو چي تاسي ولیدل له خپل فرهنګ سره راغلل او هڅه ئې وکړه چي پر افغانانو خپل فرهنګ، کلتور، اخلاق او افکار تحمیل کړي؛ د هغوی فرهنګ پر عریاني او اخلاقي فساد ولاړ وو؛ له دیني ارزښتونو سره دښمني او ضدیت ئې اساسي هدف او تګلاره وه، غوښتل ئې زموږ ځوان نسل له ټولو ملي او معنوي ارزښتونو پردی شي؛ خپل ملي دود، دستور جامو او لباس ته په سپکه سترګه وګوري، په فکر، اخلاق او لباس کې د هغوی تقلید وکړي او دې ته په درنه سترګه وګوري او د ترقي او تعالي نښه ئې وګڼي، کوبایي پتلون؛ هغه هم شړېدلی، زنګنونه او پیڅې ئې شړېدلې؛ نه یوازي زلمیان؛ بلکي غوښتل ئې نجوني هم کوبایي لباس واغوندي، هر پردي د خپل فرهنګ او کلتور خورولو او تحمیلولو هڅه کړې؛ ځینو د بهرنیو مرستو تر لاسه کولو لپاره او ځینو د ډېري بې علمۍ په وجه خپل مخکینی مذهب او اخلاق پرېښی او د نورو په رنګ کې رنګ شوي، دغو دین او مذهب خرڅوونکو یوازي په دې کار اکتفاء نه ده کړې چي خپل مذهب ئې د نورو

په پښو کې غورځولی بلکې ځینو د خپل پلار پر ږیرې او د مور پر ټکرې خندلې او ځینو د خپل پلار نیکه پر دین او مذهب ملنډې وهلې، ځینو خپلې ژبې ته سپك کتلې او د پردیو په ژبه خبرې کول ئې د ترقۍ او مخکې تګ نښه ګڼلې، له دغو یوه ډله ئې هغه ده چې وایي: الله د خدای په نامه يادول حرام دي!!
د خپلې ادعاء لپاره د قرآن په دې آیت استناد کوي چې فرمایي:
وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا۟ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ أَسْمَٰٓئِهِۦ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٨٠﴾ الاعراف:۱۸۰

او د الله غوره نومونه دي نو په دغو نومونو سره ئې دروبلئ او هغه پرېږدئ چې د ده په نومونو کې الحاد کوي (په کږه ځي)؛ حتماً به د خپلو کړنو له امله سزا ورکړی شي.

مخکې له دې چې د دې آیت د تفسیر په اړه څه ووایو باید دا واضح کړو چې آیا الله تعالی د خدای په نامه یادول جائز دي؟ آیا له آدم علیه السلام تر نن پورې په ټولو الهي کتابونو کې خدای د الله په نامه یاد شوی؟ آیا له آدم علیه السلام تر عیسی علیه السلام پورې ټولو پیغمبرانو او د دوی امتونو خدای د الله په نامه یاد کړی؟ آیا د دوی ژبه عربي وه؟ آیا پر دوی نازل شوي کتابونه په عربي ژبې وو او الله تعالی ئې په همغو نومونو یاد کړی چې په قرآن کې یاد شوی؟ دې پوښتنو ته د ځواب لپاره باید ووایو :

هر پیغمبر چې په کوم قوم کې مبعوث شوی نو پر هغه نازل شوی کتاب او صحیفه هم د ده د قوم په ژبه وو او الله تعالی په هغو نومونو یاد شوی چې دغو خلکو د الله تعالی لپاره د کتاب له نازلېدو مخکې وضع کړي وو او په دغو کتابونو کې الله تعالی په هغو صفاتو ستایل شوی چې دا قوم پرې پوهېدو او په دوی کې معمول ول، نه د الهي کتاب کوم لفظ ورته نامأنوس او پردی وو او نه د الله تعالی کوم نوم او صفت.

آدم علیه السلام او تر ده وروسته له ټولو پیغمبرانو لکه: نوح، ابراهیم، اسحاق، یعقوب، یوسف، موسی، هارون، یونس، داؤد، سلیمان او عیسی علیهم السلام هیڅ یوه خدای جل شأنه د الله په نامه نه دئ یاد کړی او په هغو توصیفي نومونو ئې نه دئ ستایلی چي الله تعالی په قرآن کي پرې ستایل شوی. بلکي هم ئې الله تعالی د خپل خپل قوم د ژبي په نومونو یاد کړی او هم ئې د الله تعالی صفتونه او صفاتي نومونه د خپلي ژبي له قاموس غوره کړي.

که الله تعالی په پښتنو کي کوم پیغمبر مبعوث کړی وی او پر هغه ئې کتاب نازل کړی وی نو دا کتاب به پښتو وو او الله تعالی به د خدای په نامه یادېدو او صفتونه به ئې دې ته ورته ول: پالونکی، ساتونکی، څارونکی، بخښونکی، خاوند، څښتن؛ او ټول هغه نومونه به په پښتو کي وو چي اوس په عربي کي ورته راغلي. که دا کار شوی وی، هم پیغمبر پښتون وی او هم د الله له لوري لېږل شوی کتاب او هم د الله تعالی نومونه؛ بیا چا ویلي وی چي خدای به یوازي د پښتو په نومونو یادوو او په پښتو صفتونو به ئې ستایو او خدای د الله په نامه یادول او په هغو صفاتو ئې ستایل چي اوس په عربي کي پرې ستایل کېږي حرام او ناروا کار دئ!! نو ووایئ چي د دې کس وینا به څومره صحیح وه؟! او دیني او علمي ارزښت به ئې څومره وو؟ په دې کي هیڅ شك نشته چي دا ادعاء خوشې، بې بنسټه او له خپله ځانه جوړه شوې ده، یوازي کم علمه خلك به دا خبره کوي چي الله تعالی د خدای په نامه یادول حرام دي!! له عربو پرته هیڅ قوم، هیڅ پیغمبر او هیڅ الهي کتاب خدای د الله په نامه نه دئ یاد کړی. الله تعالی د خدای په نامه یادول نه یوازي جائز دي بلکي د الله تعالی ټول نومونه او صفات له عربي بلي ژبي ته ژباړل ضروري دي او له دې پرته بله چاره نشته، که دا کار ونه شي نو له عربو پرته به هیڅوك نه خدای پېژندی شي او نه د هغه صفات. څنګه به یوه چینایي، روسي، انګرېز او نورو ته ښیو چي الله یعني څه، د رب، مالك، غفار، قهار، رحمان، رحیم، کریم،... معنی څه ده؟ آیا له ژباړي پرته بله چاره شته !؟

که څوك ووايي چي خدای د الله په نامه يادول غوره دي، په دې خبري هيڅ اعتراض نه لرو، خو که ووايي چي الله د خدای په نامه يادول حرام دي نو دا د هغه چا خبره ګڼو چي ډېر بې علمه وي او له ځانه حلال او حرام جوړوي، که څوك ووايي چي مأثوره دعاءګاني غوره دي؛ ورسره موافق يو، خو که ووايي چي په پښتو او له عربي پرته په بله ژبه دعاء کول ناروا دي؛ خبره ئې واهي او چټي ده او هيڅ ارزښت نه لري. څوك چي په عربي نه پوهېږي نو په خپلي ژبي ئې دعاء کول تر دې ډېر غوره دي چي په هغو الفاظو دعاء وکړي چي په معنی ئې نه پوهېږي.

په کوم آيت چي دوی استناد کوي په هغه کي مورږ ته لارښوونه شوې چي د دعاء په وخت کي بايد الله تعالی په خپلو غوره نومونو سره ياد کړو او د هغو کسانو په څېر نشو چي د الله تعالی په نوموني کي په کږو لارو درومي.
دغه مطلب د الإسراء د سورې په ۱۱۰ آيت کي داسي راغلی :

قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُوا۟ ٱلرَّحْمَـٰنَ ۖ أَيًّا مَّا تَدْعُوا۟ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَٱبْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١١٠﴾

ووايه: يا الله دروبولئ يا رحمن ته دعاء وکړئ، "له دغو ئې" چي په هر نوم دروبولئ "صحيح ده" ده ته ښايسته او غوره نومونه دي او مه دي دعاء په لوړ آواز کوه او مه ئې پټوه، (بلکي) د دواړو تر منځ وسطه لاره غوره کړه.

دغه آيتونه دا مطالب بيانوي:

- الله تعالی نېك او غوره نومونه لري، بايد په همدغو نومونو ئې ذکر وشي او دعاء ورته وشي، په هري دعاء کي ئې هغه نوم ياد شي چي له سوال سره مناسبت ولري، د مثال په توګه يا رحمن ارحمني: اې مهربانه ربه پر ما رحم وکړې، ياحفيظ احفظني: اې ساتونکيه ربه ما وساتې.

- باید په اسماء الله کې له انحراف او له ځانه د اسماءو او صفاتو له ایښودلو ډډه وکړو.
- د الله تعالی په وړاندې دعاء کې باید هغه طریقه غوره کړو چې دین راښودلې، لکه دا آیت چې امر کوي: نه به په ډېر لوړ غږ دعاء کوو او نه په ډېر ټیټ، بلکې د دواړو تر منځ به متوسطه لاره غوره کوو.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ؛ فَإِنَّكُمْ مَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، إِنَّمَا تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا. إِنَّ الَّذِى تَدْعُونَ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهِ. رواه احمد

اې خلکو! پر خپل ځان نرمي وکړئ "او په لوړ غږ د دعاء لپاره پر ځان زیاتی مه کوئ" ځکه تاسي نه کوڼ ته دعاء کوئ او نه غائب ته، بلکې هغه چا ته دعاء کوئ چې اورېدونکی او لیدونکی دئ، تاسي چې کوم ذات ته سوال کوئ هغه ستاسو هر یوه ته د خپلې سورلۍ تر غاړې ډېر درنږدې دئ.

قرآن موږ ته هغه نومونه راښودلي چې باید خپل رب پرې یاد کړو، د الله تعالی هر نوم د یوه الهي صفت ښوونه کوي، موږ د الله تعالی نومونه او صفات د هغه کتاب له لارې پېژندلی شو چې الله تعالی نازل کړی او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې د هغه علم ورکړی، له دې پرته د الله تعالی د نومونو او صفاتو د پېژندلو بله صحیح لاره نشته. خو تاسو پوهېږئ چې الهي کتابونه د مختلفو قومونو په ژبه نازل شوي او په هر یوه کې الله تعالی په بېلو بېلو نومونو یاد شوی، که څه هم په دغو الهي کتابونو کې د الله تعالی د نومونو الفاظ مختلف دي، خو معنی او مفهوم ئې یو دئ، دا نومونه په قرآنکریم، تورات، انجیل او زبور کې په یوه ډول الفاظو ندي یاد شوي، لدې معلومېږي چې پدغو نومونو کې تر ټولو زیات د پام وړ خبره هغه صفات دي چې دا

نومونه ئې په ګوته کوي.

په قرآن کې له ذکر شوو نومونو علاوه؛ الله تعالی نور نومونه هم لري چې یا ئې په نورو آسماني کتابونو کې ذکر کړي او یا ئې له ځان سره ساتلي او هیڅوك ئې ندئ پرې خبر کړی، لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

... أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَداً مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ * رواه احمد

...الهي! په هر هغه نوم دي سوال درته کوم چې ځان دي پرې نومولی، یا دي خپل کوم مخلوق ته ورښودلی او یا دي په خپل کتاب کې نازل کړی او یا دي په خپل علم غیب کې چې له تا سره دئ ځانته ځانګړی او خاص کړی.

لدې مبارك حدیث دا څرګندېږي چې د الله تعالی نومونه محدود ندي، یو شمېر ئې په دې کتاب کې ذکر شوي او نور ئې په نورو کتابونو کې راغلي، ځیني ئې پیغمبرانو علیهم السلام ته ورښودلي او ځیني ئې الله تعالی له خپل ځان سره ساتلي او هیچا ته ئې ندي ښودلي، دا ټول نېك او پاك نومونه داسي صفات په ګوته کوي چې الله تعالی وربانديې متصف دئ. د مثال په توګه السمیع، یعنی هغه ذات چې اورېدونکی دئ، البصیر: هغه ذات چې لیدونکی دئ، الرحمن: هغه ذات چې ډېر مهربان دئ. خو هغه نومونه چې د ده په علم غیب پوري منحصر بلل شوي دا نومونه د الله تعالی داسي صفات افاده کوي چې انسان پرې نه پوهېږي.

خو دا چې د الله تعالی په نومَوَنې کې له کوږوالي مراد څه دئ؟ آیا په قرآن او حدیث کې له راغلو عربي نومونو پرته په بل نامه د الله تعالی یادول الحاد دئ؟ ځیني خلك په دې اړه زیاته غلو کوي او الله تعالی له عربي نومونو پرته په بل نامه یادول او بلې ژبې ته د الله تعالی د نومونو ژباړه حرام او ناروا ګڼي!! حال دا چې الله تعالی په داسي نومونو یادول حرام دي چې له ده سره نه

ښايي، د ده صفت نشي منعکس کولی، غلطه او ناقصه معنی ورکوي، په غلطو مواردو کې کارول کېږي لکه: معشوق، جانان، نګار، صنم، ساقي، پیر مغان او دې ته ورته نومونه، هغه نومونه چې مختلف قومونه ئې د الله تعالی لپاره کاروي لکه خدای او GOD ؛ او له عربي نورو ژبو ته د الله تعالی د نومونو ژباړه لکه د مالك په ځای څښتن یا خاوند، د رب په ځای پالونکی، د حفیظ په ځای ساتونکی نه یوازې څه مانع نه لري بلکې د الله تعالی د نومونو او صفاتو په حقیقي معنی د ښه پوهېدو لپاره ضروري او ګټور دي، الله تعالی په خپله دا کار کړی؛ په تورات، زبور او انجیل کې چې کوم نومونه راغلي وو؛ په قرآن کې ئې هغه موږ ته په عربي ژبې کې بیان کړي. که قرآن په پښتو نازل شوی وی نو د الله تعالی ټول نومونه به په پښتو کې وو، بیا به پښتنو اهل ظاهرو ویل: له پښتو عربي ته د الله تعالی نومونه ژباړل او څښتن تعالی د الله او مالك په نامه یادول منع دي!!

## آيا الله تعالی انسان ته ورته دئ؟

د دې درس خلاصه دا ده چې اسلام موږ د الله تعالی د ذات د څرنګوالې په اړه له فکر او بحث کولو او څه ویلو منع کړي یو؛ دا ځکه چې انسان په خپلو ضعیفو حواسو د الله تعالی د ذات د څرنګوالي له درك ډېر ناتوان او عاجز دئ؛ یوازې مجسم شیان لیدلی شي؛ غیر مجسم شیان نشي درک کولی، د درک محدوده ئې د هغو شیانو په حد کې ده چې انسان ئې په خپلو سترګو لیدلی شي؛ هغه شیان چې انسان ئې نشي کولی په خپلو حواسو درک کړي؛ بل به ئې ورښيي؛ موږ که نن په دې اړه څه وایو نو دا د هغو په ځواب کې ده چې د الله تعالی د ذات په اړه ئې اختلاف زېږوونکي بحثونه کړي او له دې ئې د مسلمانانو تر منځ د اختلافاتو او منازعاتو لانجه جوړه کړې؛ غواړو د هغوی

بې محتویٰ نظریات وڅېړو او سوالونو ته ئې ځواب ووایو.

د انسان یوه لویه ستونزه دا ده چي پر غیبي شیانو باور کول ورته گران وي، هغه شی ژر مني چي په خپلو حواسو سره ئې احساس کړي، په خپلو سترگو ئې وگوري او په غوږونو ئې واوري او مجسم وي؛ داسي څه ژر مني او باور پرې کوي؛ خو یوازي د عقل په مرسته د یوه حقیقت منل ورته گران وي، غیبي شیانو ته هم داسي انځورونه په خپل ذهن کي جوړوي چي په سترگو لیدلو شیانو ته ورته وي؛ دا دواړه د انسان ستري ستونزې دي.

قرآن په همدې ارتباط؛ د البقره سورې په لومړنیو آیتونو کي فرمایي: هغه څوك پر دې کتاب د ایمان راوړلو وړتیا او ظرفیت لري چي یو له خصلتونو او ځانگړتیاوو ئې د غیبي شیانو پر شتون باور درلودل وي؛ یعني شته شیان ئې یوازي په هغه دائره کي محدود کړي نه وي چي په سترگو لیدل کېږي، په قرآن د پوهېدو لپاره یو له هغو صفتونو او ځانگړتیاوو چي ضروري دئ او انسان ئې باید په خپل ذهن او مغز کي ولري؛ د غیبي شیانو پر شتون باور دئ؛ یعني هغه څوك پر قرآن د إیمان راوړو له سعادت د تل لپاره محروم دئ چي له خپلو سترگو پټ شیان نه مني؛ یوازي هغه مني چي مادي او مجسم وي او په خپلو حواسو ئې احساس کړي؛ خو حقیقت دا دئ چي انسان د عالم د ټولو غائب او ناڅرگندو شیانو یوازي یوه وړه او هغه هم یوازي مادي برخه لیدلی او په خپلو حواسو درك کولی شي. د عالم ستره برخه د ده حواسو ته قابل د درك نه ده. قرآن په دې اړه فرمایي: بني اسرائیلو موسی علیه السلام ته وویل: ستا بلنه یوازي هغه مهال منلی شو چي خدای په خپلو سترگو وگورو!! له مصر د وتلو په مهال له داسي سیمي تېرېدل چي اوسېدونکو ئې بتان لمانځل؛ موسی علیه السلام ته ئې وویل: موږ ته هم داسي معبود جوړ کړه چي په سترگو ئې وینو او خوا ته ئې عبادت کوو. همدغو یهودانو بایبل تحریف کړ او په هغه کي ئې ولیکل چي خدای آدم د ځان په څېر پیدا کړ؛ دواړه سره ورته دي؛ تفاوت ئې یوازي په دې کي دئ چي هغه خدای دئ او دا انسان. د خدای

انځور ئې د آدم علیه السلام د انځور په څنګ کې جوړ کړ، دواړه یو رنګ، آدم پر زمکه پروت او خدای د فرشتو پر وزرونو سپور او آدم ته د خپلې ګوتې له لارې روح ورکوي، دا انځور تر ننه د دوی په موزیم کې پروت دئ، په کلیساوو کې ئې تر سترګو کېږي.

ټولو مشرکو قومونو خپل معبودان د انسان په څېره کې جوړ کړي، کله ئې د کوم انسان په اړه ویلي چې همدا خدای وو؛ له آسمان زمکې ته راکوز شوی وو، د عیسیٰ او عزیر علیهما السلام په ارتباط ئې هم همداسې ویل؛ کله ئې ویلې؛ چې دا د خدای زوی دئ، کله ئې ویلي چې دا د خدای ځای ناستی دئ او کله ئې هم ویلي چې دا د خدای د کورنۍ غړی دئ؛ بني اسرائیلو د ځان په ارتباط ویل؛ موږ د خدای نازولی قوم یو، خدای له آسمانونو راکوز شوی او په زمکه کې اوږده موده زموږ خوا کې مېشت شوی، جنت ئې هم زموږ لپاره پیدا کړی، نور ټول به دوزخ ته درومي او د دوزخ د سون توکي به وي.

متأسفانه؛ په مسلمانانو کې هم داسې کم عقله، شرك وهلې او جهل ځپلې ډله راپیدا شوه چې د اهل کتابو او مشرکینو تر اغېز لاندې ئې الله تعالی انسان ته ورته وګڼـلو، همغسې چې پیغمبر علیه السلام فرمایي: چې قدم پر قدم به د أهل کتابو تقلید کوئ او ورپسې به درومئ، حتیٰ که هغوی د سیمسارې په سوري ننوتې؛ تاسې به هم ننوځئ؛ همغه خبره ئې وکړه چې هغوی به کوله؛ وئې ویل: الله تعالیٰ؛ انسان د ځان په څېر پیدا کړی، الله تعالی په بشپړه توګه داسې دئ لکه انسان؛ دوه پښې لري، دوه لاسونه؛ ښی او کيڼ، لاسونه او پښې ئې پنځه پنځه ګوتې لري، پښې ئې پُنډۍ لري، دوه سترګې لري، خادر او پرتوګ لري، مجسم دئ؛ هر څه ئې د انسان په څېر؛ تفـاوت ئې یوازې دومره دئ چې هغه خدای دئ او دا انسان!!! د دغه شیطاني او شرکي تصور او انګېرنې لپاره ئې هڅه کړې چې داسې دلائل له قرآن او حدیث راپیدا کړي چې د دوی د ناسم او جاهلانه دریځ ملاتړ وکړي!! دې ته څه اهمیت نه ورکوي چې قرآن په صریحو او پرېکنده الفاظو ورته وایي: په دې پراخ عالم کې هیڅ

څه الله تعالی ته ورته نه دئ، نه په ذات کې، نه په صفاتو کې او نه په افعالو کې، پام کوئ چې د الله تعالی لپاره مثالونه بیان نه کړئ، الله تعالی مثال نه لري. یعني د هغه لپاره مثال نشئ موندلی، په دې عالم کې داسي څه نشته چي په کوم صفت کې له الله تعالی سره ورته وي. قرآن فرمايي:

فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الأَنْعَامِ أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴿١١﴾ الشورى ١١

د آسمانونو او زمکي پنځوونکی، (هغه چي) تاسي ته ئې په خپله له تاسو جوړې جوړې پيدا کړې او له څارويو ئې هم جوړې جوړې، په همدې کې تاسي خوروي، هيڅ شی هغه ته ورته نه دئ؛ او هغه ليدونکی اورېدونکی دئ. د آسمانونو او زمکي کلياني د ده دي، چا ته چي وغواړي روزي پراخوي او تنگوي، يقيناً چي هغه په هر څه ښه پوه دئ.

د دې مبارکو آيتونو اساسي مطالب او لارښووني دا دي:

- الله تعالی د زمکي او آسمانونو خالق او پيداکوونکی دئ؛ پداسي حال کې چي:

- الف- د دې شيانو خالق او پيداکوونکی وو او په څنگ کې ئې بل هيڅوك او هيڅ څه نه وو، يوازې دی وو، له ده پرته بل څه نه وو، دا عالم او هر څه ئې ده پيدا کړي، په دې عالم کې به داسي څه ونه مومئ چي هغه دي مخلوق او پيدا شوی نه وي؛ هر مخلوق حتماً خالق او صانع لري؛ له خالق پرته مخلوق نشو موندلی؛ زموږ عقل همدا حکم کوي، ممکنه او د منلو وړ نه ده چي يو شی موجود وي او هغه خالق او صانع ونه لري، يو اساسي توپير د خالق او مخلوق تر منځ همدا دئ، چي خالق ابدي او ازلي دئ، پيدا شوی نه دئ، مگر ټول مخلوق خالق لري او له خالق پرته منځ ته نه راځي .

- ب- نه زمکه وه او نه آسمان او نه د زمکي او آسمان هيڅ څه.
- انسانان او حيوانات ئې جوړه جوړه پيدا کړي؛ داسي چي:
- الف- دا ټول (انسانان او حيوانات ) نه وو، پيدا شول.
- ب – تر دوی وړاندي ئې زمکه او آسمانونه پيدا کړل.
- ج- د دوی د نسل د بقاء او دوام لپاره ئې جوړه جوړه پيدا کړل، لدې پرته نه د دوی زياتېدا او تکثير ممکن دئ او نه ئې د نسل دوام.
- په زمکي او آسمانونو کي هيڅ شیء د الله تعالی په څېر او مثل نه دئ، هيڅ شیء په هيڅ څه کي له هغه سره ورته والی نه لري، د الله تعالی د مثل مثال هم نشته، هر چا چي تاسي ته ووېل؛ خدای د دغه مخلوق په څېر دئ، دروغ ئې ويلي، خبره ئې مه منئ، د قرآن د صريح آيت خلاف خبره ئې کړې، د عقل خلاف ئې ويلي، مخلوق خدای کېدی نه شي او مخلوق د خدای په څېر کېدی نه شي، ځکه:
- الف- الله تعالی خالق دئ او دا نور ټول موجودات مخلوق دي.
- ب- ژوندي مخلوقات پيدا کېږي، زېږول کېږي او نور زېږوي، جوړه جوړه پيدا شوي، پداسي حال کي چي الله تعالی فرد واحد دئ، نه له چا زېږېدلی او نه ئې څه زېږولي، نه سيال لري او نه مثال.

دلته ويل شوي چي د ده مثال ته ورته څه نشته او دی ليدونکی اورېدونکی دئ. يعنی که وغواړئ چي په خپل ذهن کي د الله تعالی لپاره کوم مثال مجسم کړئ، نو پوه شئ چي په دې کائناتو او موجوداتو کي به هيڅ شی دې مثال ته ورته ونه مومئ. د يوه شي مثال په حقيقت کي د هغه شي تخميني او تقريبی تصوير وي، چي د همغه شي د پېژندلو لپاره کارول کېږي، کله چي د يوه شي د اصل او حقيقت ادراك ممکن نه وي نو د مثال په راوړلو سره ئې تشريح او توضيح کوو، خو د الله تعالی په اړه نه د مثال راوړل ممکن دي او نه ئې مثال

او مثل شته.

د آیت په پای کې ویل شوي: وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ: او دی لیدونکی اورېدونکی دئ. یعني الله تعالی هغه خبري اوري چي جاهل وګړي ئې د ده په اړه کوي او دی له خپل مخلوق سره تشبیه کوي او ټول مخلوقات د ده تر نظر لاندي دي او ګوري چي هیڅ څه ده ته ورته نه دي.

په دې آیت کې داسي نه دي ویل شوي: لیس مثله شئ: ده ته ورته څه نشته، بلکې ویل شوي: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ : د ده مثل ته ورته څه نشته او د دې معنی دا ده چي نه یوازي د الله تعالی د ذات د کیفیت ادراك ممکن نه دئ، بلکې دا هم ممکنه نده چي د الله تعالی د ذات او ذاتي صفاتو د کیفیت په اړه تخمیني او تقریبي تصویر ولرو. نو لازمه ده له هر هغه تأویل او توجیه په کلکه ځان وساتو چي د مخلوقاتو سره د الله تعالی تشبیه پکې وي.

که د الله تعالی د ذات د کیفیت په اړه بحث ضروري وی او د انسان لپاره ئې ادراك امکان درلودی نو الله تعالی به په خپله په پوره صراحت او وضاحت سره بیان کړی وی، مجمل به ئې نه پرېښود او یوازي په هغو آیتونو به ئې اکتفاء نه وه کړې چي له اسماء حسنی او لوړو صفاتو بحث کوي.

په روایاتو کې به هم داسي څه ونه مومئ چي د الله تعالی د ذات په اړه بحث کوي، تر هغه ځایه چي ما روایات مطالعه کړي؛ صحاح ستة مي لوستي، داسي څه مي نه دي لیدلي چي د الله د ذات په اړه بحث کوي او یا صحابه وو له رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی د ذات په اړه پوښتنه کړې وي، البته محدود شمېر داسي روایات شته چي انسان په سطحي نظر سره همدا انتباه ترې اخلي؛ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي؛ پام کوئ د الله تعالی د ذات په اړه مه فکر کوئ او مه بحث؛ بلکې د الله تعالی د نعمتونو په اړه فکر وکړئ.

د آیت شریف دوهمه برخه (وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ) دا په ګوته کوي چي

که څه هم انسان ته سميع او بصير ويل کېدی شي، الله تعالی د اورېدو او ليدو صفت انسانانو ته هم ورکړی، خو بيا هم په دې موجوداتو کې داسي څه نشته چي له الله تعالی سره ورته والی او شباهت ولري. د الله تعالی ذات او صفات هيڅ مثل او مثال نه لري.

د يوه څه د پېژندلو طريقه يا دا ده چي مستقيماً د همغه شي د ذات د کيفيت په اړه معلومات لاسته راوړې او وئې پېژنې او يا دا چي د مثال او سيال له لاري ئې وپېژنې او يا دا چي هغه ته ورته شی د ده په اړه تا ته خاص انځور درکړي او لدې لاري ئې په نسبي توګه وپېژنې. که څه هم انسان ته د عليم او ورته نورو صفاتو نسبت کېږي، خو توپير ئې دا دئ چي د انسان دغه صفات اکتسابي دي، له تجربې او يا هم له نورو ئې زده کوي، مګر د الله تعالی علم او ورته نور صفات ذاتي دي، که څه هم دغه صفات په انسان کې هم شته؛ خو د دې معنیٰ قطعاً دا نه ده چي انسان الله تعالی ته ورته دئ، د الله تعالی علم ذاتي دئ، په ماضي، حال او مستقبل پوهېږي، لرې او نږدې ورته ټول يو شان دي، غائب او مشهود ورته توپير نه لري، مګر د انسان علم محدود دئ، اول کې بې علمه پيدا کېږي، ورو ورو ئې له نورو زده کوي، اخر کې بې علمه شي او د زړښت داسي مرحلې ته ورسېږي چي هر څه ترې هېر شي؛ ټول مخکينی علم له لاسه ورکړي؛ په څه چي مخکې پوهېدو دا مهال نه پوهېږي. له دې پلوه هم انسان خدای ته ورته نه دئ، د انسام محدود علم او بصيرت بايد د دې باعث نه شي چي تاسي خدای له انسان سره تشبيه کړئ. قرآن؛ د الله تعالی د ذات ادراك او د کيفيت په څرنګوالي ئې د پوهېدا؛ ټول امکانات رد کړي او په پوره صراحت سره ئې ويلي چي الله تعالی نه سيال او مثل لري او نه د چا علم د هغه تعالی د ذات پر کيفيت احاطه او احتواء کولی شي.

همدا راز فرمايي :

فَلا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الأَمْثَالَ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ ﴿٧٤﴾ النحل٧٤

الله تعالی ته مثالونه مه بیانوئ؛ یقیناً چي الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

د قرآن دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چي الله تعالی د دې عالم له هیڅ څه سره تشبیه نه کړو او هیڅ څه د ده مثل او مثال ونه ګڼو، موږ نه داسي شيء پېژنو او نه ئې مومو چي د الله تعالی په څېر او هغه ته ورته وي. دا او د قرآن ګڼ شمېر نور آیتونه په ډېر قاطعیت سره وایي چي په ټول عالم کي الله تعالی ته ورته شيء نشته، نه کوم څه په خپل ذات کي الله تعالی ته ورته دئ، نه په صفاتو او افعالو کي، نه انسان په ذات، صورت، افعالو او صفاتو کي الله تعالی ته ورته دئ او نه الله تعالی انسان یا کوم بل مخلوق ته، الله تعالی اوري خو د دې اورېدو معنی دا نه ده چي خدای زموږ په څېر دوه غوږونه لري او په دغو غوږونو سره زموږ خبري اوري. دا مهمه موضوع ده؛ نه په روایاتو کي په دې اړه څه شته او نه هم په قرآن کي داسي څه راغلي چي الله تعالی زموږ په څېر دوه غوږونه لري، البته؛ د سترګو په اړه چي څه راغلي په خپل ځای کي به بحث پرې وکړو؛ الله تعالی اوري، خو داسي چي لري او نږدې غږ یو رنګ اوري، حتیٰ زموږ د زړه او خوب خبرې هم اوري، په دې معنیٰ چي زموږ او د خدای تعالیٰ په اورېدو کي ډېر توپیر دئ، په دې کي هم انسان له خدای او خدای له انسان سره هیڅ ورته والی نه لري؛ الله تعالی علیم دئ خو د الله تعالی علم د انسان د علم په څېر نه دئ چي د زده کړي او تعلیم او تعلم له لاري ئې تر لاسه کوي، موږ نه د ماضي له هغو پېښو خبر یو چي په خپله مو نه دي لیدلې او یا له بله مو نه دي اورېدلې؛ او نه د مستقبل په پېښو پوهېږو؛ خو الله تعالی ته ماضي، حال او مستقبل برابر دي او پر ټولو یو شان پوهېږي. الله تعالی بصیر دئ، هر څه ویني، هیڅ حجاب د ده د لیدو مانع کېدی نه شي؛ په مخلوقاتو کي هم لیدونکي شته، خو الله تعالی په دې صفت کي هم هیڅ مخلوق ته ورته نه دئ، که انسان او ځیني حیوانات داسي

دي چي دوې سترګي لري نو داسي هم شته چي يوه سترګه يا ډېري سترګي لري او داسي هم شته چي د خپل بدن په ټول پوستکي سره هره خوا ليدی شي!! خو بصير او ليدونکی خدای په خپل دغه صفت کي له هيڅ مخلوق سره ورته نه دئ. نو پام کوئ چي الله تعالی د عالم له هيڅ څه سره تشبيه نه کړئ.

د مخلوق خصوصيات دا دي: نه وو؛ پيدا شوی او له منځه ځي، خالق او صانع لري، حالت ئې تغيير مومي، مرکب دئ اجزاء لري، د مکان او زمان تابع دئ؛ ترې وتی او مستغني کېدی نشي، جسم لري، مرکب دئ، اجزاء ئې تر ده وړاندي پيدا شوي، مکان نيسي، له يوه ځای بل ته د تلو لپاره وخت ته ضرورت لري او دې ته ورته ځانګړتياوي؛ الله تعالی په دې ټولو خصوصياتو کي له مخلوق سره شباهت نه لري؛ په دغو کي ئې له مخلوق سره تشبيه کول؛ د قرآن د دغو صريح آيتونو خلاف عمل دئ.

همدا راز پيغمبر عليه السلام موږ ته وايي: د الله تعالی د ذات په اړه فکر مه کوئ؛ د نعمتونو په اړه ئې فکر وکړئ. خو دې شرك وهلې ډلي د دغو ټولو نصوصو مخالفت ته ملا تړلې او د الله تعالی په اړه داسي څه وايي چي له هغه انسان ته ورته خدای جوړوي!! د بحث مهمه موضوع ئې هم دا وي: د خدای لاسونه څنګه او څو دي، پښې ئې څنګه او څو دي، ګوتې ئې څو دي، سترګي ئې څو دي، پر عرش ئې استواء څنګه ده، د اوسېدو ځای ئې چېري دئ!!! نعوذ بالله من ذلك!!

راشئ هغو دلائلو ته لږ ځير شو چي دا ډله پرې استناد کوي: د دوی يو مستند دا روايت دئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ وَلاَ يَقُلْ قَبَّحَ اللَّهُ وَجْهَكَ وَوَجْهَ مَنْ أَشْبَهَ وَجْهَكَ فَإِنَّ

**اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ عَلَى صُورَتِهِ ». رواه احمد و مسند الحميدى**

**له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: که چا بل څوك وهلو نو بايد پر مخ ئې ونه وهي او داسي ونه وايي چي الله تعالى دي ستا او تا ته د ورته کس مخ تور کړي؛ ځکه الله تعالی؛ آدم عليه السلام د ده په بڼه او شکل کي پيدا کړ.**

**په روايت کي داسي راځي چي؛ «خلق آدم عليه السلام علىٰ صورته، فإن الله عز و جلّ خلق آدم عليه السلام علىٰ صُورَتِهِ"**

**تحت اللفظي ترجمه ئې دا ده چي الله تعالى آدم عليه السلام د هغه په صورت پيدا کړ؛ پوښتنه دا ده د چا په صورت ئې پيدا کړ؟ په دې کي ځينو مغالطه کړې؛ قصداً يا اشتباهاً؛ داسي ئې توجيه کړې چي گواکي الله تعالى آدم عليه السلام؛ د خپل ځان په څېر پيدا کړی؛ په داسي حال کي چي دلته بحث أصلاً د الله تعالى د ذات په ارتباط نه دئ، بلکي بحث د دوه کسانو تر منځ د شخړي او نزاع دئ چي بايد يو بل پر مخ ونه وهي او د هغه مخ ته دي بد رد هم نه وايي؛ ځکه د هغه مخ ته بد رد ويل د خپل نيکه او جد مخ ته بد رد ويل دي؛ ستا د نيکه؛ آدم عليه السلام مخ هم دغه کس ته ورته دئ چي ته ئې په څېره وهې او بد رد ورته وايي.**

**حميدي يو له هغو مهمو شخصيتونو او محدثينو دئ چي له تبع الأتباع ئې روايات تر لاسه کړي. له ده دغو محدثينو روايات اخيستي: بخاري - مسلم - أبو داود - ترمذي - نسائي - ابن ماجه. اما امام بخاري له خپل دغه استاد؛ پورتنی روايت نه دئ نقل کړی.**

**د دې روايت مفهوم کاملاً واضح دئ؛ که څوک په شفاف ذهن او زړه د دې روايت مخ ته زنگون ووهي او پر مفهوم ئې د پوهېدو تکل وکړي؛ نو ژر او په آسانۍ پرې پوهېدی شي.**

رسول الله صلی الله علیه وسلم سپارښتنه کړې چې که کله ستاسو تر منځ کومه شخړه راغله؛ نو پر مخ وهل مه کوئ؛ او مخ ته ئې بد رد مه وایئ. که د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې سپارښتني عمل وشي؛ نو یقیناً چې د ډېرو لانجو او جګړو مخنېوی کېږي؛ متأسفانه؛ ځیني د دې پر ځای چې د لارښووني دې مهم هدف ته اعتناء وکړي؛ د منازعاتو او مجادلاتو موضوع ترې جوړوي د خپلي غلطي رأی د توجیه لپاره ئې په غلطه توګه تعبیروي او خلک په مغالطو او مشاجرو کې غورځوي.

په دې حدیث کې چې مفهوم ئې ډېر روښانه دئ او د صافو زړونو خاوندانو ته په هغه کې د هیڅ اشتباه او سوء تفاهم ځای او مجال نشته، خو اهل ظاهر او هغه چې رنځور زړونه لري؛ لدې حدیث داسي څه راباسي او داسي ترجمه او تفسیر ئې کوي چې په ډېرو خطرناکو نتائجو منتج کېږي. هغوی وایي: په (صورته) کې ضمیر الله تعالی ته راجع دئ، ګواکې الله تعالی آدم علیه السلام خپل ځانته ورته پیدا کړ!!! او وایي: دا هم د الله تعالی لپاره یو ثابت صفت دئ؛ خو لدې قید سره چې د الله تعالی له شأن سره مناسب صورت!!! بې شکه چې دا خلك د خطاء او اشتباه په ډېري ژوري کندي کې پرېوتي، په خطرناکې فتنې کې لوېدلي، زړونه ئې رنځور دي، روښانه حقیقت سرچپه ویني او له څرګندو الفاظو داسي تعبیر اخلي چې د رنځورو زړونو له خاوندانو پرته بل چا ته د منلو نه دئ. هغوی که هر څه فکر کوي خو واقعیت دا دئ چې په دې ډول تصور سره الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي.

لږ پورتني حدیث ته ځېر شئ؛ دلته د دوو کسانو تر منځ شخړي ته اشاره شوې، رسول الله صلی الله علیه و سلم دا حکیمانه لارښوونه کوي چې د جګړي په وخت کې یو بل پر مخ مه وهئ، داسي مه وایئ چې الله تعالی دي ستا او تا ته ورته کس مخ تور او قبیح کړي؛ ځکه چې الله تعالی آدم علیه السلام هغه ته (دا ستا مقابل شخص ته) په ورته او مشابه شکل او صورت کې پیدا کړی. په دې پوهېږو چې د دښمنۍ او جګړي په وخت کې هر انسان د مقابل لوري

له مخ او ځېرې په خپل زړه کې د نفرت، کينې او کرکې احساس کوي، د مقابل طرف د نفرت او کرکې آثار هم د هغه په ځېرې او مخ کې راڅرگند شي، په سترگو کې ئې د قهر او غصې نښې راښکاره شي، نو ځکه د ده غصه او کرکه د مقابل لوري او دښمن مخ او سترگو ته متوجه کېږي؛ او خپل داخلي قهر داسي اظهاروي: سترگي دي راباسم، پزه دي پرې کوم، مخ دي تور، سترگی دي ړندې شه، دا مردار مخ دي داسي او داسي شه؛ په دې الفاظو هم اکتفاء نه کوي بلکي لاس پورته کوي او غواړي پر مخ ئې کلکه څپېړه ورکړي او خوله ئې په سوك ورماته کړي. زموږ حکيم پيغمبر عليه السلام؛ په جگړه کي د اخته افرادو روحي حالت ته په پام سره او د دوی د قهر او غضب د سړولو لپاره فرمايي: الله تعالی خپل بنده او ستاسو ټولو پلار آدم عليه السلام پداسي ځېرې او شکل کي پيدا کړی وو لکه دا ستا مقابل لوری، خپل پلار ته د احترام په دود بايد دا له تاسره په جگړه او شخړه بوخت ستا ورور؛ پر مخ ونه وهې او د مخ په اړه ئې سپکي خبري ونه کړې، داسي مه وايه چي ستا مخ دي تور وي او د هغه چا هم چي تا ته ورته مخ لري. په دې سره خو ته خپل پلار آدم عليه السلام ته هم بد رد وايې!! که د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا حکيمانه لارښوونې مراعات شي او د شخړو او مشاجرو په وخت کي په پام کي ونيول شي؛ نو د ډېرو فتنو او جگړو مخنيوی به وشي. نه پوهېږم اهل ظاهر ولي دا څرگند حقائق نه شي درك کولی؟ او ولي څرگند مفاهيم غلط تعبيروي؟ او ولي داسي توجيهات پکي کوي چي خبره تشبيه او تمثيل ته رسوي ؟

امام ابن حبان د دې روايت په اړه د ابو حاتم وينا رااخلي او ليکي: قَالَ أَبُو حَاتِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: «يُرِيدُ بِهِ صُورَةَ الْمَضْرُوبِ، لِأَنَّ الضَّارِبَ إِذَا ضَرَبَ وَجْهَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ ضَرَبَ وَجْهًا خَلَقَ اللهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ»: ابوحاتم وويل: له دې (صورته) د وهل شوي کس صورت مراد دئ، ځکه کله چي وهونکی خپل مسلمان ورور پر مخ وهي نو په حقيقت کي ئې هغه مخ وهلی چي الله تعالی آدم عليه السلام ته همداسي مخ ورکړی وو.

د دوی بل دلیل دغه روایت دئ :

عَن أَبِي هُرَيْرَةَ عَن النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ النَّفَرِ مِنْ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللَّهِ فَزَادُوهُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ فَلَمْ يَزَلْ الْخَلْقُ يَنْقُصُ بَعْدُ حَتَّى الْآنَ. صحيح البخاري٥٨٧٣ :

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الله تعالى آدم (عليه السلام ) په خپل صورت پيدا کړ، جگ والی ئې شپېته گزه وو، کله چي ئې پيدا کړ ورته وئې ويل: ولاړ شه پر هغو فرشتو سلام واچوه چي هلته ناستي دي او واوره چي د سلام څه ځواب درکوي، همدا به ستا او ستا د اولاد سلام او ځواب ئې وي. نو وئې ويل: السلام عليکم، هغوی ورته وويل: السلام عليك و رحمة الله، رحمة الله ئې پرې اضافه کړ. هر څوك چي جنت ته ننوځي نو د آدم عليه السلام په څېر به وي، د هغه له پيدايښت تر نن پوري مخلوقات کمی مومي (لوړوالی ئې راکمېږي).

د دې روايت معنی هم کاملاً واضح ده او هغه دا چي الله تعالى آدم عليه السلام داسي پيدا کړی وو چي صورت ئې همدا د ده د زامنو صورت وو؛ خو لوړوالی ئې شپېته گزه وو، دا لوړوالی ورو ورو کم شوی او اوسنی حالت ئې غوره کړی، د قيامت په ورځ به د آدم عليه السلام ټول مسلمان اولاد په خپلي اصلي او لومړنۍ بڼې او قد جنت ته درومي. ډېر ناپوه او غرضي او مرضي انسان به له دې روايت بل مطلب اخلي. يوازې هغه څوك به له دې روايت بل تعبير وړاندي کوي چي د خپلي عقيدې د ناسمي توجيه لپاره ئې د واضح کلام تحريفولو ته ملا تړلې وي.

دغه ډله د خپلي غلطي ادعاء د اثبات لپاره دا دليل وړاندي کوي او وايي:

دا دئ په قرآن کې الله تعالی ته سترګې، لاسونه، مخ او ساق منسوب شوي!! نو ځکه موږ وايو چې د الله تعالی صورت انسان ته ورته دئ !!!

دوی ته وايو: تاسو يقيناً غلط شوي يئ چې وايئ: په قرآن کې الله تعالی ته ساق (پُنډۍ) منسوب شوې؛ د قرآن په کوم آيت کې چې د ساق يادونه شوې هغه د کافرانو ساق دئ؛ نه د الله تعالی ساق؛ او مطلب ئې دا دئ چې د قيامت له هيبته به کافران داسې تښتي چې پيڅې به ئې بډ وهلې وي، پُنډۍ به ئې لوڅې او تښتي به. آيت دا دئ:

يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ لقلم : ٤٢

هغه ورځ چې پُنډۍ بربنډه کړی شي او دوی به سجدې ته راوبلل شي؛ خو توانېدی به نه شي.

په تفسيرونو کې د دې آيت په اړه د ډېرو ضعيفو او کمزورو آراءو تر څنګ؛ دوه د پام وړ تعبيرونه مومو:

الف: هغه ورځ چې د هيبتناك حالت له وېرې به ئې د ډېرو پيڅې پورته او پنډۍ لوڅې شي او د مفر په لټه کې به تښتي، سجدې ته به رابلل کېږي خو د سخت هيبت او وېرې له کبله به د سجدې توان ترې سلب شوی وي، حواس به ئې داسې پرېشانه وي چې نه به د چا خبره اورېدی شي او نه به په دې پوهېږي چې څه وکړي.

ب: هغه ورځ چې حقائق بربنډ شي، حجابونه او پردې پورته شي، د ټولو حقائقو بنياد او بنسټ ښکاره شي، هر څه به دوی سجدې ته رابلې خو دوی به له سجدې عاجز وي، دا ځکه چې په دنيا کې ئې د سجدې مشق او تمرين نه وو کړی.

د لومړي تعبير له مخې ساق په خپله اصلي معنی؛ پنډۍ اخيستل شوی؛ او په دوهم تعبير کې د اصل او بنسټ په معنی نيول شوی. لومړی توجيه هم

دقيقه ده او هم د سورې له مجموعي فضاء سره ژور مناسبت لري.

يُكۡشَفُ عَن سَاقٍ د وېري نښه ده چې ورپسې آيت ئې مزيد وضاحت کوي او وايي سترګې به ئې وېرجني او ذلت به سيورى پرې غوړولى وي، نو خود به سجده نه شي کولى؛ هغه وخت چې روغ رمټ ول؛ له سجدې ئې ډډه کوله.

متأسفانه په ځينو تفسيرونو کې په دې اړه داسي تعبيرونه هم مومو چې نه يوازي د قرآن له اساساتو سره سخت ټکر کوي؛ بلکي هر مسلمان په حيرت کې غورځوي چې څنګه يو مفسر د داسي خبري کولو جرأت کوي او څنګه ئې مني!! د الله تعالى د ذات د ځرنګوالي په اړه څه ويل او هغه ته غړي او جوارح ثابتول لوى جسارت دئ. دلته يُكشَفُ عن ساق ويل شوي، فاعل ئې مجهول دئ، د الله تعالى ساق ته ئې قطعاً نه شو راجع کولى؛ او دا نه شو ويلى چې د الله تعالى ساق به بل څوك وربربنډ کړي. که داسي ويل شوي وى يَكشِفُ عن ساقه: خپل ساق به بربنډ کړي؛ بيا دغو خلکو ويلى شوى چې کېدى شي له دې هغه څه مراد وي چې موږ ئې وايو !!

بايد دې ته مو پام وي چې موږ د الله تعالى د ذات په اړه له فکر کولو هم منع شوي يو، دا خو پرېږده چې هغه ته د غړو ثابتولو جسارت وکړو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ فِي الله، فَقَالَ: «تَفَكَّرُوا فِي الْخَلْقِ، وَلَا تَفَكَّرُوا فِي الْخَالِقِ، فَإِنَّكُمْ لَا تَقْدُرُونَ قَدْرَه.»

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه داسي قوم تېرېدو چې د الله تعالى د ذات په اړه په تفکر لګيا ول؛ ورته وئې فرمايل: د مخلوقاتو په اړه فکر وکړئ نه د خالق په اړه، دا ځکه چې تاسو په دې نه توانېږئ چې سمه اندازه ئې ولګوئ او په عظمت ئې پوه شئ.

ډېر ناپوه او مرضي انسان به الله تعالی ته ساق منسوبوي؛ الله تعالی له دې منزه دئ چې غړي ولري، پُنډۍ ولري، پُنډۍ ئې په جامو پټې وي او د قيامت په ورځ به د ده پُنډۍ بل وربربنډې کړي !!!

په قرآن کې خو الله تعالی ته نه خوله منسوب شوې، نه پښې، نه سر، نه وېښتان، نه سينه، نه غوږونه، نه پزه؛ او نه نور غړي، که له سترگو او لاسونو مراد غړي نيسئ نو بيا خو دا هم ووايئ چې: الله تعالی يو لاس لري که دوه که ډېر، ځکه دا ټول په قرآن کې راغلي، ولې د دوی له منځه دوه انتخابوئ، په قرآن کې عين، عينان او اعين (يوه سترگه، دوې سترگې او ډېرې سترگې) راغلې، ولې يوازې دوې سترگې ورته منسوبوئ؟!! په کومو ځايونو کې چې د دغو غړو يادونه شوې هلته مراد دا نه دئ چې د الله تعالی د ذات څرنگوالی معرفي شي، بلکې د الله تعالی يوه صفت ته اشاره کوي، د مثال په توگه (بيده الملك)، له دې مراد دا نه دئ چې الله تعالی يو لاس لري او پاچايي د کوم توپ په څېر داسي کوم شی دئ چې الله تعالی په خپل لاس کې نيولی؛ بلکې مراد ئې دا دئ چې الله تعالی مالك الملك دئ، واکمني د ده په واك کې ده. «بيده الملک» په انسانانو کې معمول استعاره ده چې د واکمنۍ لپاره ئې کاروي؛ او دا چې الله تعالی زموږ په ژبه قرآن رالېږلی، نو د همدې لپاره ئې دا وړ تعبيرونه راوړي، څو په اسانۍ ترې مفهوم واخلو، چېرته چې دا ډول الفاظ راغلي هدف ئې قطعاً دا نه دی چې الله د خپل ذات د څرنگوالي په اړه خبره کوي، بلکې هدف ئې دا وي چې الله تعالی خپل صفت ته إشاره کوي.

همدا راز الله تعالی بصير (ليدونکی) دئ خو الله تعالی د ليدو په صفت کې هيڅ مخلوق ته ورته نه دئ، په مخلوقاتو کې ځيني يوه سترگه لري، ځيني دوه، ځيني په سلگونو سترگې (لکه د شاتو مچۍ) او ځيني داسي دي چې د خپل بدن په ټول پوستکي سره هر لوري ته ليدل کولی شي (لکه آميب)، قرآن موږ ته وايي چې الله تعالی په دې صفت کې هم هيڅ يوه ته ورته نه دئ. په مخلوقاتو کې ځيني په دوو پښو تگ کوي، ځيني په څلورو، ځيني پر سينه،

ځيني پر وزرونو، د برق او نور تگ له دې ټولو توپیر لري، په نغلو کې د سويچ له وهلو سره سم د کابل لري سيمي ته همغه شېبه برق ورسېږي، خو الله تعالی په دې صفت کې هيڅ يوه ته ورته نه دئ. همداسي په ټولو نورو صفاتو کې.

دا ډله دې ته هم پام نه کوي چي د قرآن ځيني آيتونه متشابه دي، په هغوی کې غیر مرئي شيان له مرئي شيانو سره تشبيه شوي، هغه څه چي انسان نه ليدلي او نه په خپل قاموس کې ورته کوم نوم لري، په داسي الفاظو بيان شوي چي انسان د مرئي شيانو لپاره وضع کړي، په دې آيتونو کې راغلي دا الفاظ په متبادره معنی نشو اخيستی، قرآن موږ ته وايي چي په اصلي معنی ئې له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي، عرش، استواء على العرش، يد، عين، وجه، په هغه معنی نشو اخيستی چي موږ ئې د مخلوق لپاره کاروو، که دا غلطي مو وکړه نو الله تعالی مو له مخلوق سره تشبيه کړی، که څه هم له دې وينا وروسته سل ځله ووايو چي بلاتشبيه او بلاتکييف، دا د خولې بلاتشبيه نه موږ ته کومه گټه رسوي او نه موږ له هغي ډلي باسي چي مشّبهه نومېږي او الله تعالی له مخلوق سره تشبيه کوي. سبحان الله عما يصفون.

په مخکيني درس کې د دې آيت په ارتباط چي وايي:

وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ.... ﴿٦٤﴾ المائدة٦٤

او يهودانو وويل: د الله تعالی لاس تړلی دئ، د دوی لاسونه دي تړلي وي او پر دوی دي لعنت وي، په سبب د هغه څه چي وئې ويل، داسي نده لکه دوی چي وايي، د الله تعالی دواړه لاسونه خلاص دي او څنگه چي وغواړي همغسي انفاق کوي....

يوه محترم ورور په دې اړه ځيني مطالب درلودل؛ چي د وخت د کموالي له کبله مختصر ځواب ورکړی شو؛ اجازه راکړئ چي د نن ورځي درس تر پيل

وړاندې مزيد وضاحت وکړو:

باید وګورو چې د یهودانو هدف له دې وینا څه دئ چې د الله لاس تړلی دئ؟ آیا غواړي ووايي چې الله تعالی یو لاس لري او هغه هم تړلی دئ؟ او که دا د عربانو یوه استعاره وه او هدف ئې دا وو چې د مسلمانانو خدای بخیل دئ په خلاص لاس انفاق نه کوي!! عربانو به بخیل په همدې صیغه یادولو او د سخي په اړه به ئې ویل: یداه مبسوطتان: یعني په خلاص او پرانیستي لاس انفاق کوي. الله تعالی د یهودانو د دغي وینا په ځواب کې همدغه استعاره کارولې او ورپسې ئې ویلي: ینفق کیف یشاء: څنګه چې وغواړي همغسې انفاق کوي. دلته دواړه استعارې په مجازي معنی راغلې نه په حقیقي معنی؛ بحث د بخل او انفاق په اړه دئ نه د الله تعالی د ذات په اړه؛ نه د یهودانو هدف دا وو چې خدای یو لاس لري او هغه هم تړلی دئ او نه د الله تعالی د کلام معنی دا ده چې الله تعالی دوه لاسونه لري او دواړه تل پرانیستي وي. ډېر بې عقله او غرضي انسان به دا معنی ترې اخلي. دواړه د عربو استعارې دي او مجازي معنی ئې مراد ده نه حقیقي معنی ئې.

همدا د مغلول صیغه د قرآن په بل آیت کې داسي راغلې:

وَلا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَحْسُورًا ﴿٢٩﴾ الإسراء: ٢٩

مه دې لاس تر خپلې غاړې تړلی ساته (له انفاق او ورکړې لاس مه راټموه) او مه ئې په بشپړ پرانیستو سره پرانیزه؛ داسې چې (سبا ته) ملامت وګڼل شې او حسرت درباندې وشي.

یعني مه بخل کوه؛ دومره چې له محتاجانو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راټم کړې او مه اسراف کوه؛ داسې چې له مستحق او غیر مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستې وکړې چې سبا په خپله د بل مرستې

ته اړ شې او هر څوك دي ملامتوي او ستا پر حال تأسف کوي. بلکې د ورکړې او له بل سره د مرستو په دوران کې اعتدال مراعات کړه.

دلته دوه استعارې کارول شوې:

- خپل لاس تر خپلې غاړې مه تړه.
- لاسونه دې په بشپړ پرانیستو سره مه پرانیزه.

یوه ئې د بخل لپاره کارول شوې او بله ئې د ډېر سخاوت لپاره.

اوس که کوم ساده اهل ظاهر راپاڅي او ووایي: الله تعالی فرمایلي: لاس دې له خپلې غاړې سره مه تړه؛ نو که دې لاس مات شو او ډاکټر غوښتل مات لاس دې له غاړې سره وتړي؛ پام چې دا کار ونه کړې؛ دا د الله تعالی د امر خلاف کار دئ. او یا درته ووایي: هیڅکله به خپل لاسونه په بشپړ پرانیستو سره نه پرانیزې؛ ځکه الله تعالی د دې ممانعت کړی!! آیا د دې اهل ظاهر دا وینا د خندا او تأسف وړه نه ده!!؟

انسان ډېری وخت د خپلو معنوي مفاهیمو د إظهار لپاره مجبوراً له إستعارو کار اخلي؛ مثلاً وایي: «فلانی دروند سړی دئ» که څه هم د دروند معنیٰ ډېر وزن‌لرونکی دئ؛ خو کله چې موږ د یوه شخص په اړه دا خبره کوو؛ نو هدف مو د هغه معنوي وزن وي؛ یعني متین، معتبر او سنګین سړی دئ؛ نه دا چې هدف مو د هغه مادي او فزیکي وزن وي؛ او یا په بل عبارت: فلان ډېر غټ زړه لري، معنیٰ ئې دا ده چې فلانی ډېر زړور سړی دئ؛ نه دا چې زړه ئې په فزیکي او مادي لحاظ غټ دئ، خو دلته ناچاره د خپل معنوي مفهوم د إفادې لپاره د مجاز په ډول إستعاره کاروو او خپل أصلي مطلب نورو ته بیانوو.

کېدی شي یو بل آیت هم له تاسو سره په دې ارتباط مرسته وکړي؛ د زکریا علیه السلام دا دعاء په قرآن کې راغلې:

قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾ مريم: ٤

وئې ويل: اې زما ربه! هډوکي مي سست شول، سر مي له زړښت وځلېدو (د اور د لمبو په څېر)؛ او اې زما ربه! تا ته په دعاء کې بې بخت نه وم.

دلته يوه استعاره کارول شوې (وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا: له زړښت مي سر لمبې وکړې)؛ يعني وېښتان مي له ډېر زړښت داسي تك سپين شول او له سپينوالي وځلېدل لکه د اور شعلې چي ځلېږي. آيا سمه ده چي دلته اشتعال په حقيقي معنی ونيسو؟ او ووايو چي سر يې د اور لمبو نيولی؟! نه‌هېڅکله نه؛ که څوك دا کار وکړي آيا هغه به ډېر ساده او غرضي نه وي؟

په قرآن کې داسي استعارې دومره زياتي دي چي يوازې د فاتحې سورې په اوو آيتونو کې درې استعارې مومو: الصراط، المستقيم او الضالين. صراط د زمکي پر سر هغي لارې ته وايي چي خلك پرې له يوه ځای بل ځای ته ځي؛ خو دلته د هغي سمي تګلارې په معنی راغلې چي انسان سم او صحيح لوري ته پرې ځي. مستقيم هغه کرښې ته وايي چي سيده وي او هيڅ کوږوالي په کې نه وي؛ خو دلته ئې مراد هغه سم اسلوب دئ چي انسان حقيقت ته مخامخ او له کوږوالي پرته رسوي. ضال هغه چا ته وايي چي په صحراء او بېديا کې ئې لار ورکه کړې وي؛ خو دلته ئې مراد هغه دي چي د هدايت او رشد سمه لار ترې ورکه شوې. لکه دلته چي موږ دا درې استعارې په حقيقي معنی نه شو تعبيرولی او مجازي معنی ئې رااخلو؛ که دا کار ونکړو نو ستره غلطي به مو کړې وي؛ همداسي د قرآن په نورو مواردو کې هم مجبور يو همدا کار وکړو؛ په ټولو هغو ډېرو متشابه آيتونو کې به همدا کار کوو چي غيبي شيان په هغو الفاظو موږ ته معرفي شوي چي په اصل کې د څرګندو شيانو لپاره وضع شوي. او د قرآن په ټولو هغو استعارو کې به مجازي معنی رااخلو نه حقيقي معنی.

خو اهل ظاهر دقيقاً داسي دي لکه هغه صحابي چي د قرآن يو آيت ئې

اورېدلی وو خو په معنی ئې سم نه وو پوه شوی او د اهل ظاهر چم ئې ورسره کړی وو؛ آیت دا دئ:

(... وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ...) البقرة: ١٨٧

... او وخورئ وڅښئ تر هغه چي د سحر سپین تار له تور تار درته څرګند شي.

دا صحابي سپین او تور تار په حقیقي معنی فهمولي وو؛ د روژې په شپه ئې دوه سپین او تور تارونه خوا ته ایښي وو، په سیمي (پیشلمي) کې به ئې دغو تارونو ته کتل او تر هغه به ئې خوراك څښاك ته دوام ورکولو چي په خپلي خوني کې به د تارونو توروالی او سپین والی ورته جوت شو. رسول الله صلی الله علیه و سلم پوه کړ چي د دې تارونو مراد هغه سپینه او توره ګاره ده چي په سباوون کې د مشرق لوري ته د آسمان په لمنې کې راڅرګندېږي. باور وکړئ د اهل ظاهر رأیه د قرآن د ټولو استعارو په اړه د همدغه کس رأی او انتباه ته ورته ده.

## الله تعالی چېري دئ؛ پر عرش که په هر ځای کي له موږ سره؟

دا هم یوه بله اختلافي موضوع ده چي الله تعالی چېري دئ؟ آیا په هر ځای کې له بندګانو سره دئ که له آسمانونو بر پر عرش؟ صحابه وو او زموږ سلف صالح په دې اړه له بحث ډډه کوله، د قرآن هغه آیتونه ئې هم منل او هم لوستل چي وايي الله تعالی په هر ځای کې له خپلو بندګانو سره دئ او هغه هم چي وايي الله تعالی پر عرش استواء کړې، خو پرته له دې چي معیت

(ملتیا) او استواء (برابرېدا) تأویل کړي او مزید څه ووايي. خو وروسته په مسلمانانو کې داسي ډله راپیدا شوه چي وايي: الله تعالی له مخلوقاتو بېل او لري دئ او پر عرش ئې استواء کړې. کوم آیتونه چي له بندګانو سره د الله تعالی معیت او قرب ته اشاره کوي؛ هغه تأویلوي او د ملتیا او نږدېوالي په معنی ئې نه اخلي.

راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه وايي او د یوه مؤمن او موحد انسان عقیده باید څنګه وي. لاندي آیتونو ته ځیر شئ:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ۝٧ المجادله: ۷

آیا پام دي نه دئ چي الله تعالی په هر هغه څه پوهېږي چي په آسمانونو او په زمکه کې دي، نه داسي نجوی شته چي د دریو تر منځ وي او دی ئې څلورم نه وي او نه د پنځو تر منځ چي دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم یا زیات مګر دا چي دی ورسره وي؛ هر چېري چي وي. بیا به ئې د قیامت په ورځ په خپلو اعمالو خبر کړي. بې شکه چي الله په هر څه پوه دئ.

لکه چي ګورئ په دې آیت کې په ډېر صراحت او وضاحت سره ویل شوي چي که تاسو درې وئ نو څلورم مو خدای دئ او که پنځه وئ شپږم مو خدای دئ، که تر دې لږ یا ډېر وئ خدای درسره دئ؛ په هر ځای کې چي وئ. څوک چي پر قرآن ایمان لري هیڅکله به د دې جسارت ونه کړي چي د الله تعالی د دې صریح کلام په خلاف کومه وینا په خوله راوړي او ووايي چي الله تعالی په هر ځای کې له موږ سره نه دئ !!

دې آيت ته لږ په دقت سره ځير شئ:

﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾﴾ الحديد: ٤

الله تعالی هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، بيا ئې پر عرش استواء وکړه؛ څه چي په زمکه کې لاندي کوزېږي او څه چي ترې راوزي او څه چي له آسمان راکوزېږي او څه چي ورپورته کېږي، په ټولو پوهېږي؛ هر چېري چي وئ هغه له تاسو سره وي، الله تعالی ستاسو د کړنو ليدونکی دئ.

په دې مبارك آيت کې هم په ډېر وضاحت سره ويل شوي چي الله تعالی له تاسو سره دئ په هر ځای کې چي وئ. دا په داسي حال کې چي د آيت په لومړۍ برخي کې ويل شوي چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي له پيدا کولو وروسته پر عرش استواء وکړه؛ د دې معنی دا ده چي پر عرش استواء د دې منافي نه ده چي الله تعالی په هر ځای کې له موږ سره هم دئ. په يوه آيت کې د دواړو خبرو يادونه همدا مطلب په گوته کوي؛ يعني الله تعالی د مخلوق په څېر نه دئ چي په خاص مکان پوري محدود وي، يو ځای وي او بل ځای نه، دا د مخلوق ځانگړتيا ده چي په يوه وخت کې يوازي يو ځای کې وي.

ځوك چه قدير او عظيم خدای په مخلوق قياس کړي او د خالق په اړه په خپل ذهن کې مخلوق ته ورته تصوير جوړ کړي او مکان ته ئې محتاج وگڼي، دا کسان مجبورېږي د قرآنکريم الفاظ تأويل کړي او له هر لفظ داسي معنی راوباسي چي د دوی له ذهن او تصور سره برابره وي. دلته هم د آيت يوه برخه مني او بله برخه ئې تأويلوي او داسي معنی ترې راباسي چي وښيي الله تعالی په هر ځای کې له موږ سره نه دئ، بلکي يوازي د عرش په محدوده کې

محدود دئ. قرآن بل ځای کي فرمايي:

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ نَفْسُهُۥ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴿١٦﴾﴾ ق: ١٦

او يقيناً چي انسان مو پيدا کړ او په هغو وسوسو پوهېږو چي د ده نفس ئې ورته کوي او موږ ده ته د غاړي تر رگ ډېر ورنږدې يو.

﴿فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾﴾ الواقعه:۸۵ -۸۳

نو کله چي ساه ستوني ته راورسېږي او هغه مهال تاسو ورته گورئ او موږ هغه ته تر تاسو ډېر ورلنډ وو خو تاسي نه وينئ. (نو ولې ئې بېرته نشئ ستنولی).

دلته د «لاتبصرون» په صيغه کې هم يو خاص رمز او إشاره پرته ده او هغه دا چي که «أقرب» د «أعلم» په معنیٰ واخلو نو دلته بايد د «لاتعلمون» صيغه کاربېدلې وی، خو له دې معلومېږي چي «أقرب» پهخپله أصلي معنیٰ «ډېر نږدې» کاربېدلی، ځکه ئې د «لاتبصرون» صيغه راوړې؛ يعنې زه يم؛ خو تاسي مي نهوينئ.

په دې آيتونو کي هم ويل شوي چي الله تعالی ژوندي انسان ته هم او هغه بنده ته هم ډېر ورنږدې دئ چي ساه ئې د ختلو په حال کي وي او تاسو ئې خوا ته راټول وئ.

لکه چي گورئ په دغو آيتونو کي د معيت او ملتيا پر ځای د اقرب: تر ټولو ډېر نږدې؛ صيغه راغلې او په پرېکنده توگه وايي چي الله تعالی بنده ته ډېر ورنږدې وي خو تاسو ئې نه گورئ. خو اهل ظاهر دلته هم تأويل کوي او اقرب د اعلم په معنی اخلي، د دې ډلي يو تن ليکي: "ای نحن اعلم منه ما ظهر

وما بطن" یعنی موږ د هغه په ظاهر او باطن پوره علم لرو!! غواړو له دوی وپوښتو:

- د "اقرب" لپاره دي د "اعلم" ترجمه په کوم کتاب او د عربي ژبي په کوم قاموس کي لیدلې ده ؟
- آیا الله تعالی نه شو کولی ووایی: "ونحن اعلم به منکم" موږ د هغه په رابطه تر تاسو ډېر علم لرو؛ ولي ئې د اعلم پر ځای د اقرب صیغه راوړې؟
- د آیت په پای کي د "لاتبصرون" فقره د اقرب له لفظ سره سمون خوري؛ او له اعلم سره قطعاً اړخ نه لګوي؛ که د اعلم لفظ راغلی وی نو باید په پای کي ئې "وانتم لاتعلمون" ویل شوي وی.

نه پوهېږو څه شي له دې منع کړي یئ چي له کوم تحریف او تأویل پرته ووایئ: الله تعالی له نورو زیات خپل بنده ته نږدې دئ، د دې نږدېوالي کیفیت الله تعالی ته وسپارئ او عقیده ولرئ چي دا تقرب نه د مخلوق له تقرب سره شباهت لري او نه د الله تعالی د علو له صفت سره منافات!؟

څوك چي رب العالمین له مخلوق سره تشبیه کړي؛ هغه داسي انګېري چي الله تعالی خو په خپل عرش استواء کړې ده؛ نو له بنده سره ئې تقرب محال دئ. دا ځکه چي ویني د یوه مخلوق له بل سره د تقرب تقاضا دا ده چي هغه خپل لومړی ځای هرومرو پرېږدي، مخکي درومي او هغه بل ته ورنږدې کېږي. دا شخص له مخلوق سره د الله تعالی تقرب هم د مخلوقاتو په تقرب قیاسوي او دا ډول قیاس بیا په عرش د استواء منافی بولي؛ نو بناءً مجبورېږي د قرآنکریم الفاظ تأویل کړي. خو که دا شخص په دې عقیده وي چي په موجوداتو کي هیڅ شيء له الله تعالی سره شباهت نه لري، د الله تعالی تقرب د مخلوقاتو له تقرب سره ورته والی نه لري او داسي نه دئ چي د حرکت، نقل او ترك مکان غوښتونکی وي؛ که دا ډول عقیده خپله کړي نو بیا به نه بې ځایه تأویل ته اړ وي او نه به له هغه څه انکار ته اړ کېږي چي الله تعالی په خپله په قرآن کي

بیان کړي.

دې دوستانو ته وایو: که دا لمر چې د الله تعالی له مخلوقاتو یو مخلوق دئ؛ پداسې حال کې چې له موږ په زرګونو ملیونه میله فاصله لري، په خپل مسیر کې خوځي، کولی شي له همغي لرې فاصلې؛ په خپلې رڼا او حرارت سره؛ له موږ سره او په هر حالت کې، د توقف یا حرکت په حالت کې زموږ ملګری وي او وینو چې په ځینو ځایونو کې رالنډ او تجلي او حرارت ئې زیات او په ځینو نورو سیمو کې رانه لري او اثرات ئې کم وي؛ چې د لمر دا حال وي نو په کوم دلیل له بندګانو سره د الله تعالی معیت او تقرب؛ د هغه له شأن سره برابر او لایق تقرب؛ محال او ناممکن شمېرئ؟ پداسې حال کې چې هغه د ټولو رب دئ، هغه عظیم دئ، په هر څه محیط دئ، ټول عالم د ده د عظمت په وړاندې داسې دئ لکه د خردل یوه دانه ستا په لاس کې.

باید په یاد ولرو چې له الله تعالی سره زموږ رابطه یوازې دا نده چې هغه موږ ویني او له لرې زموږ غږ اوري او زموږ په هر څه علم لري؛ بلکې له دې علاوه هغه پر موږ او زموږ پر ټولو حالاتو او افعالو محیط دئ او احاطه لري، د اقتدار کرسي یې په هر څه احتواء کړېده، د هر کار د کولو قدرت هغه راکوي، توفیق د هغه له لوري دئ، زموږ اراده د ده د ارادې تابع ده، اراده ئې زموږ پر ارادې او افعالو حاکمه او مسلطه ده، هغه څه کېږي چې دی ئې وغواړي او د کولو توفیق ئې راکړي او هغه څه نه‌شي کېدی چې دی ئې ونه غواړي او د کېدو توفیق ئې رانکړي. که د شپې ویدېږو، نو هم د هغه په إراده؛ او له خوبه راپورته کېږو، نو هم د هغه په إراده، دغو مفاهیمو ته په پام سره باید پر عرش د استواء، قرب او معیت تر منځ ځانګړې رابطه ولټوو؛ نه داسې چې په یوه ایمان ولرو او له بل انکار وکړو. د دې مفاهیمو تر منځ تلفیق د هغه چا لپاره ګران کار دئ چې الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي او استواء، تقرب او معیت په هغه معنی اخلي چې د انسانانو تر منځ متداوله ده.

د یوه مثال په ترڅ کې دا مطلب توضیح کوم: که ستاسو په رغوي کې د بړدنو څو وړې دانې وي او تاسو ته څوك ووايي: تاسو د دې دانو کوم لوري ته يئ؟ لاندې، باندې، ښي او کېڼ لوري، شا يا مخې ته؟ ستا ځواب به څه وي؟ ستا صحیح ځواب به یوازې دا وي چې زه د بړدنو هرې خوا ته یم، زه پرې محیط یم، له دې پرته که بل څه ووايې نو اشتباه دې کړې. د الله تعالی په نسبت موږ همدغسې یو، لکه د بړدنو دانې زموږ په لاس کې، همدا راز دا عالم، آسمانونه او زمکه، ستوري او ستور لیکي ټول د الله تعالی په وړاندې داسې دي لکه د بړدنو څو دانې د یوه انسان په لاس کې. د همدې لپاره قرآن وايي: فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ : نو هر لوري ته چې مخ واړوئ الله هملته دئ.

هغوی چې دا مسائل په ظاهري معنیٰ اخلي، بايد د دغو آيتونو او مثالونو په رڼا کې خپله عقيده سمه کړي او په دې بايد باور ولري چې چېري موږ يو الله تعالی راسره دئ او کوم لوري ته چې مخ اړوو؛ الله تعالی همغه لوري ته دئ.

څوك چې الله تعالی له مخلوق سره تشبيه کوي گمان ئې دا وي چې الله تعالی به د مخلوقاتو په څېر د مكان او زمان تابع وي؛ مخلوق داسې دئ چې په یوه وخت کې یوازې یو ځای کې وي، يا د بام پر سر يا ترې لاندې، خو د الله تعالی په اړه دا خبره نشو کولی، الله تعالی په داسې حال کې چې پر عرش ئې استواء کړې له موږ هر یوه سره په هر ځای کې هم شته، د همدې لپاره گورو چې پر عرش استواء او له خپلو بندگانو سره په هر ځای کې اوسېدا؛ په یوه آيت کې راغلي.

دوی د خپلو غلطو انگېرنو د اثبات لپاره هڅه کوي چې په نصوصو کې داسې الفاظ ولټوي چې د دوی مستمسَك شي. کله وايي: دا دئ په فلان آيت کې د فوق کلمه راغلې، کله وايي: دا دئ په فلان روايت کې راغلي چې گوته د آسمان لوري ته ونیول شوه!! دې جنابانو ته وایو: د دواړو په اړه ستاسو انتباه غلطه او ناقصه او له نورو نصوصو سره متعارضه ده. لاندې آيت ته ځیر شئ:

وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٨﴾ الانعام:۱۸

او هغه پر خپلو بندګانو برلاسی دئ او هغه ښه باخبر حکیم دئ.

دلته درې مهم مطالب بیان شوي:

- ټول بندګان ئې تر حکم او سلطې لاندي دي، مؤمنان هم او کافران هم، هیڅوک داسي څه نشي کولی چي ده ئې اجازه نه وي ورکړې، د زور او ځواک خاوندان دي دا ګمان نه کوي چي د ټولواک رب د پرېکړو مخي ته ودرېدی شي، په هغه مهلت دي نه مغرور کېږي چي الله تعالی ئې د خپل خاص حکمت له مخي باغي بندګانو ته ورکوي.
- الله تعالی د خپلو بندګانو له هر حالت ښه خبر دئ، پوهېږي چي څوك د کومي معاملې مستحق دئ.
- له بندګانو سره ئې هره معامله پر حکمت ولاړه معامله ده.

اهل ظاهر د (فوق) لفظ په داسي توګه تعبیروي چي د دې آیت له اصلي مفهوم سره هیڅ مناسبت نه لري، په داسي حال کي چي دلته بحث له قهر (سلطې او برلاسي) دئ؛ نه د الله تعالی له فوقیت او موقعیت؛ خو دوی ئې د الله تعالی د مکاني موقعیت او فوقیت په معنی نیسي. دوی آیت داسي ژباړي: او هغه پر خپلو بندګانو (قاهر: برلاسی) او (فوق: اوچت) دئ. حال دا چي دا ترجمه صحیح نه ده؛ ځکه د (او) لپاره په متن کي لفظ نشته، متن داسي دئ: وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦۚ؛ دقیقه ترجمه ئې دا ده: خپلو بندګانو (باندي) (برلاسی) دئ. دا هم باید په پام کي ولرو چي فوق او تحت نسبي مفاهیم دي، یوازي د مخلوق په اړه صدق کوي، څه ته چي دا اوس زه تحت وایم د امریکا اوسېدونکي ورته فوق وایي او څه ته چي همدا اوس دوی تحت وایي موږ ورته فوق وایو، که زه په افغانستان کي او یو امریکایي په امریکا کي د آسمان په لوري ګوته نیسو نو زما او د هغه د ګوتو د استقامت تر منځ یو سل اتیا

درجې توپیر وي، فوق او تحت د الله تعالی په وړاندي مطرح نه دي، که څوك فوق د مکان په معنی ونیسي، دا تعبیر به ئې د قرآن د ګڼ شمېر هغو آیتونو او احادیثو تکذیب ته اړ کوي چي وایي الله تعالی خپلو بندګانو ته د غاړي تر رګ ورنږدې دئ. که څوك له دې انکار وکړي چي الله تعالی په هر ځای کي له موږ سره دئ، نو د قرآن له داسي څرګندو آیتونو ئې انکار کړی چي د هیڅ ډول تأویل مجال په کي نشته. دوی په دې نه پوهېږي چي د الله تعالی په وړاندي مکان او زمان، فوق او تحت، ماضي او مستقبل، شاهد او غائب مطرح نه دي، دا ټول نسبي مفاهیم دي چي یوازي د مخلوق په اړه صدق کوي.

دا ډله په دغو آیتونو کي تأویل کوي او معیت او قرب د علمي معیت او قرب په معنی نیسي او وایي چي الله تعالی د خپلو مخلوقاتو له حاله داسي خبر دئ لکه چي له دوی سره وي!! وایي: هو علی العرش مباین عن خلقه!! الله تعالی پر عرش باندي او له خپلو مخلوقاتو بېل او جلا دئ!! حال دا چي دا خبره هیڅ علمي ارزښت نه لري، د یوه کس ذاتي خبره ده، له ځانه ئې جوړه کړې ده، نه ئې الفاظ د قرآن او حدیث دي او نه ئې مفهوم. دقیقه خبره دا ده چي الله تعالی هم پر عرش استواء کړې او هم له خپلو بندګانو سره دئ.

دوی وایي چي پر ذاتي معیت او قرب باور درلودل د وحدت الوجود او حلول په عقیدې منتج کېږي. حال دا چي د حلول او وحدت الوجود خرافي عقائد د الله تعالی په اړه د غلطي انګېرني یوه انتهاء ده او الله تعالی د مخلوقاتو په څېر په مکان او زمان مقید ګڼل او د همدې غلطي عقیدې په حکم له بندګانو سره د الله تعالی له معیت او قرب انکار کول؛ بله انتهاء ده. دوی څکه دا خبره کوي چي مخلوق ئې داسي موندلی چي په یو ځای کي وي نو په بل ځای کي نه وي، که د بام پر سر وي نو تر بام لاندي نه وي، اول او آخر لري، د پیدایښت نېټه لري، له دې نېټې مخکي نه وو، د مرګ نېټه لري له هغې وروسته نشته، د زمان تابع دئ، الله تعالی په مخلوق قیاسوي او د همدې لپاره وایي: الله تعالی په آسمانونو کي او د عرش له پاسه دئ، په زمکي کي نشته!!

دوی ته وایو: کوم منطق اجازه درکوي چي اقرب د اعلم په معنی ونیسئ؟ الله تعالی فرمايي چي زه له خپلو بندګانو سره یم، د غاړي تر رګ ورنږدې یم، ته وايي: نه؛ ورنږدې نه دئ بلکي په حال ئې پوه دئ!!! که د دې آیتونو مراد دا وی چي الله تعالی د بندګانو له حال خبر دئ، په هر حال او هر ځای کي پرې پوهېږي، نو د دې لپاره خو به حتماً د خبیر او علیم الفاظ راتلل نه د قرب او معیت. قرآن خو هیڅکله داسي الفاظ نه کاروي چي د شك او ریب باعث شي، یوازي یو متعصب انسان کولی شي اقرب د اعلم په معنی ونیسي.

## عرش او پر عرش استواء

څوك چي د عرش او پر عرش د الله تعالی استواء او برابرېدا خبري اوري نو حتماً به ئې څو سوالونه په ذهن کي راګرځي: عرش څه دئ؟ پر عرش د الله تعالی د استواء معنی څه ده؟ آیا عرش مکان دئ؟ که د زمکي د تخت په څېر کوم تخت؟ آیا پر عرش د الله تعالی استواء همداسي ده لکه پر زمکني تخت د انسان ناسته؟ که داسي وي نو الله تعالی تر عرش مخکي چېري وو؟ عرش مخکي پیدا شوی که زمکه او آسمانونه؟ آیا صحابه وو په دې اړه پوښتني او بحثونه کړي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم څه ځوابونه ورکړي؟

تر هر څه وړاندي باید دا په پام کي ولرو چي په صحابه وو کي نه چا له رسول الله صلی الله علیه و سلم دا او دې ته ورته پوښتني کړې دي او نه ئې پر داسي مسائلو د بحث ضرورت احساس کړی. دا ځکه چي له یوې خوا دوی د قرآن پر لارښوونو اکتفاء کوله او د دغو پوښتنو ځواب ئې په قرآن کي موندلو؛ له بلي خوا هغوی په سترو سترو عملي چارو بوخت ول، د الله په لار کي او د مظلومانو او بې وزلو د ژغورني لپاره جهاد، د اسلامي نظام قائمول، د شر او فساد له ځواکونو سره پر له پسې نښتي، په خپله، په خپلي کورنۍ کي، په خپلي

ټولني کې او په ټولې نړۍ کې د دين او الهي شريعت حاکمول او نړۍ والو ته د قرآن پيغام رسول، د لفظي مناقشاتو، له بل او خپل سره په بې ګټې جدل کې د ځان مصروفولو لپاره ئې نه وخت درلود او نه ئې غوښتل چې په داسې خبرو خپل وخت ضائع کړي. خو کله چې مسلمانانو خپلو سترو سترو الهي مسئوليتونو ته شا کړه، جهاد ئې پرېښود، دښمن ئې هېر کړ، نه ئې د هغه څه کولو همت درلود چې صحابه وو کول، نه ئې د الله په لار کې د وخت، سر او مال قرباني کولو جذبه او شوق؛ نو خپلمنځيو مناقشاتو او جدلونو ته ئې مخه کړه، که پرون به هر مسلمان غوښتل چې د کفر، شرك، ظلم او فساد په ضد د جهاد اتل شي؛ نن ئې غوښتل چې د خپلمنځيو خوشي او بې ګټې جدلونو او مناقشاتو د ميدان اتل شي. دغه مهال پر دغو مسائلو د بحث او مناقشې بازار تود شو. که تاسو د دغو لفظي مناقشاتو تاريخ وڅېړئ نو هرومرو به دې نتيجې ته ورسېږئ چې دا لړۍ هغه مهال پيل شوې چې مسلمانانو په سياسي، فکري او نظامي محاذونو کې د دښمن په وړاندې ماته خوړلې، تېر برم او عظمت ئې له لاسه ورکړی، په کورنيو شخړو کې ښکېل شوي، د دښمن برلاسي ته تسليم شوي، ظالم، بې رحمه او مفسد واکمنان پرې مسلط شوي او کورني او بهرني دښمن غوښتي چې دوی په دغسې بحثونو او مناقشاتو کې مصروف وساتي.

صحابه وو له عرش او پر عرش له استواء؛ يوازې همغه تعبير درلود چې قرآن ئې زموږ مخې ته ږدې او وايي: ألا له الحكم، ألا له الامر و لله ما في السموت و ما في الارض؛ يعنې الله تعالی د عالم ټولواك دئ، د عالم د ټولو چارو واګې د ده په واك کې دي، دلته د ده حکم نافذ او اراده ئې حاکمه ده او هر څه د ده په حکم او اراده ترسره کېږي. الله تعالی هم د عالم خالق دئ او هم مالك. لکه څنګه چې د يوه چا د پاچا کېدو په اړه ويل کېږي چې د پاچايۍ پر تخت کښېناست؛ همدا راز د استواء على العرش معنی دا ده چې الله تعالی د ټولواك په توګه د دې عالم د ټولو چارو واګې په خپل واك کې ونيولې. صحابه

وو پر عرش له استوی فقط همدغه مفهوم او تعبیر درلود.

راشئ د قرآن ځیني هغه آیتونه له نظره تېر کړو چي دا موضوع په کي څېړل شوې:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

الاعراف: ٥٤

یقیناً چي ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استواء وکړه، شپه پر ورځ راکاږي (پرې پټوي ئې)؛ داسي چي په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، په دې پوه شه چي هم خلقت (یعني پیدایښت) ده لره دئ او هم امر (یعني فرمانونه صادرول او چاري سمبالول)؛ د عالمونو پالونکی الله چي برکتناك دئ.

قرآن په دې مبارك آیت سره څو ډېري مهمي او اساسي لارښووني د خپل مخاطب په وړاندي ږدي:

- ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو (شپږو تکویني مرحلو) کي پیدا کړل.

- د دوی له پیدایښت وروسته ئې د ټول عالم د ادارې، ساتني او پالني چاري په خپل اختیار کي واخیستې او د مطلق ټولواك په توګه ئې د عالم د سلطنت پر عرش استواء وکړه. یعني لومړی ئې زمکه او آسمانونه پیدا کړي بیا ئې پر عرش استواء کړې. داسي نه چي الله تعالی د عالم تر پیدایښت وړاندي پر عرش استواء کړې وه. بلکي لومړی ئې ملك پیدا کړی بیا د خپل ملك مالك شوی. د عالم په خلقت سره د ده دا صفت جوت شوی چي هغه خالق دئ او په استواء على العرش سره ئې دا صفت جوت شوی چي هغه مَلِك او مَالِك دئ. دا عالم

ټول د الله تعالی د مختلفو صفاتو مظهر دئ، خلقت ئې هم د يوه صفت مظهر دئ او ښيي چې هغه خالق دئ؛ د دې ملک اداره او پالنه هم د هغه د بل صفت مظهر دئ او هغه دا چې خدای مالک دئ او پر عرش ئې استوی کړې، خدای هم ملک دئ او هم مالک، يعنی د دې ټول عالم او هستي ټولواک هم دئ او ملک، سلطان او پاچا ئې هم دئ.

- د( أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ) له فِقرې معلومېږي چې د (لَهُ ٱلۡخَلۡقُ) معنی دا ده چې ټول عالم او هر څه ئې الله تعالی پيدا کړي او د ( ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ) معنی (لَهُ ٱلۡأَمۡرُ): يعني امرونه صادرول او کارونه سمبالول دي. د استوی علی العرش معنی فقط همدا ده؛ پام کوئ چې بل تعبير ترې ونه کړئ. د استوی علی العرش معنی (لَهُ ٱلۡأَمۡرُ) دئ، يعني امرونه صادرول او کارونه سمبالول دي، دا هم د ټولواک رب کار دئ، هغه چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړې او چاري ئې سمبالوي.

- دا د ده د ټولواکۍ او (استواء علی العرش) نښه او بېلگه ده چې شپه پر ورځ راکاږي؛ داسي چې په تلوار ئې لټوي.

- دا هم د ده د ټولواکۍ بله بېلگه ده چې لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، همغه کار کوي او په همغه لار درومي چې الله تعالی ئې امر ورته کړی؛ يو انچ هم بلي خوا ته نه منحرف کېږي، دا دئ پېړۍ پېړۍ تېرېږي چې هر ستوری په خپل ثابت مدار کي خوځېږي، همدا چې سپوږمۍ، لمر، ستوري؛ ټول د هغه امر ته تابع او منقاد دي او په همغه لار درومي چې الله تعالی ورته ټاکلې؛ دا ښيي چې د دې عالم پالنه او ټولواکي هم د ده اختيار کي ده، الله تعالی د دې عالم هم ټوالواک دئ، هم ئې خالق دئ او هم ئې مالک. دا څوک اداره کوي؟ دا د پيدايښت له لومړۍ ورځي تر نن پوري چې لمر په خپل مسير کي درومي او انحراف نشي کولی؛ له ټاکلي مسير يوې او بلي خوا ته انحراف نشي کولی؛ د دې معنی څه ده؟ يعنی دلته داسي ذات شته

چي هر څه اداره کوي، دا همغه ذات دئ چي پر عرش ئې استوی کړې، د عالم له پیدایښت وروسته؛ د ټولواک په توګه ئې د چارو سمبالول په خپل واك کي اخستې دي.

- په دې پوه شه چي هم خلقت یعني پیدایښت ده ته مختص دئ، په دې کي بل شریك نه لري او هم امر؛ یعني حکمونه صادرول او چاري سمبالول ده ته داسي مختص دي چي په دې کي هم هیڅ شریك نلري.
- الله تعالی مبارك او د عالمونو پالونکی او ساتونکی دئ.

د دې مبارك او ډېر مهم آیت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- داسي مه انګېرئ چي الله تعالی مکان ته ضرورت لري او عرش د ده مکان دئ، یا ئې عرش داسي دئ لکه د زمکي کوم تخت او کټ، یا الله تعالی پر عرش داسي استواء کړې لکه د زمکي پر کوم تخت چي څوك کښېني. داسي انګېرني الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کول دي؛ الله تعالی نه په خپل ذات کي له مخلوق سره شباهت لري او نه په خپلو صفاتو کي. الله تعالی موږ ته مکرر امر کړی چي له هیڅ مخلوق سره به ئې په هیڅ څه کي نه تشبیه کوو؛ هغه هیڅ مثال، سیال او ند نه لري.
- په دې مبارك آیت کي د یوم، استواء او عرش الفاظ ګورو چي په اصل کي انسانانو د ښکاره او څرګندو شیانو لپاره وضع کړي، عرش، استوی او یوم؛ دا ټول هغه الفاظ دي چي انسانانو د داسي شیانو لپاره وضع کړي چي په خپلو سترګو ئې ګوري، د انسان ټول قاموس او ژبه، ټول نومونه په اصل کي د ظاهرو شیانو لپاره وضع شوي، یوم یعنی همدغه ورځ چي حد اوسط دولس ساعته ده، عربو د یوم نوم ورته غوره کړی، موږ د ورځي نوم ورته غوره کړی، په دري او فارسي کي ورته د روز، انګریزانو ورته د DAY نوم غوره کړی، دا نومونه انسانانو وضع کړي، زموږ ټول نومونه د ظاهري شیانو لپاره دي؛ هماغه چي موږ ئې په خپلو سترګو ګورو؛ الله تعالی چي کوم کتاب رالېږلی؛ د همغه

قوم په ژبې ئې لېږلی چې پیغمبر ئې په کې مبعوث کړی؛ که پیغمبر عرب وو؛ الله تعالی په عربي کې قرآن لېږلی، که پیغمبر اسرائیلی وو؛ د ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام اولاد او ژبه ئې عبراني؛ که موسی، یوسف او عیسی علیهم السلام؛ او ژبه ئې عبري؛ زبور، تورات او انجیل په همدې ژبې نازل شوي او همغه نومونه په کې راغلي چې بني اسرائیلو تر دې وړاندې وضع کړي وو. خو په دې آیت کې د دې مطلب د افادې لپاره راغلي چې دا زمکه او آسمانونه په شپږو تکویني مرحلو کې پیدا شوي، دلته د ورځې معنی هغه ورځ نه ده چې نږدې دولس ساعته وي؛ بلکې یوه تکویني مرحله افاده کوي؛ دومره اوږده موده چې د عالم یوه برخه په کې پیدا شوې؛ د الله تعالی له شأن سره مناسبه ورځ.

- الله تعالی د هر څه مالك او ټولواك دئ او هر څه ئې تر واك او عرش لاندې دي. د استوی علی العرش معنی په خپله په دې آیت کې او له همدې فقرې وروسته راغلې او هغه دا (يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ) او وروسته په دې کې خلاصه شوی (وَ لَهُ الأَمرُ)؛ خو لکه څنګه چې دلته (یوم) د هغې ورځې په معنی نه شو اخیستی چې دولس ساعته کېږي؛ همدا راز عرش او استواء هم په متبادره معنی نشو اخیستی. قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د الله تعالی په وړاندې کله ورځ له زرو کلونو سره برابره وي او کله له پنځوسو زرو کلونو سره؛ دا ئې هسې دوه مثالونه دي، هدف دا دئ چې د انسان واړه معیارونه د الله تعالی په اړه صدق نه کوي، دلته شپږ ورځې داسې شپږ مرحلې په ګوته کوي چې له الله تعالی سره ښايي.

- استوی علی العرش یوه استعاره ده؛ په قرآن کې ئې مثالونه او بیلګې ډېرې زیاتې دي، باور وکړئ چې کله مې زړه غواړي چې په قرآن کې ټولې راغلې استعارې راغونډې او تشریح کړم؛ له دې ضخیم کتاب جوړېدی شي، یعنې چې

په قرآن کې دومره استعارې راغلې؛ استعاره یعني دا چې د یوه مطلب د افادې لپاره داسې الفاظ نه مومې چې د همدې مطلب د بیان لپاره وضع شوي وي؛ له نورو داسې الفاظو استفاده کوې چې کولی شي ستا مطلب په نسبي توګه بیان کړي؛ په اصل کې دا الفاظ د یوه بل مطلب لپاره وضع شوي خو ته ئې د عاریت په توګه کاروې او مخاطب په خپل مطلب پوه کوې؛ دې ته استعاره وايي. ټول هغه مفاهیم چې د غیب له دنیا سره تړاو لري او موږ په خپلې ژبې او قاموس کې ورته مناسب او مشخص نومونه نه لرو؛ نو د هغوی د معرفي کولو لپاره له دې پرته بله چاره نلرو چې له استعارې کار واخلو؛ لکه دلته چې د عرش او استوی علی العرش الفاظ راغلي؛ موږ په خپل قاموس کې د الله تعالی د عرش او پر عرش د ده استواء لپاره داسې مشخص الفاظ نه لرو چې اساساً د همدې لپاره وضع شوي وي؛ زموږ په قاموس کې د عرش نوم د داسې تخت لپاره وضع شوی چې څلور پښې لري او پر زمکه ایښودل کېږي؛ او دا یا له لرګي جوړېږي او یا له اوسپني او بل فلز؛ نه الله تعالی زموږ په څېر دئ او نه ئې عرش؛ که وغواړو د الله تعالی د عرش په اړه څه ووایو: نو له دې پرته بله چاره نلرو چې له همدغو الفاظو به د استعارې په توګه استفاده کوو؛ عربو پر (عرش استواء) د دې لپاره کاروله چې د یوه چا پاچا کېدل او د هېواد واګې تر لاسه کول بیان کړي؛ داسې لکه چې موږ وایو: پاچا مړ شو او پر تخت ئې زوی کښېناست. په قرآن کې داسې استعارې ډېرې زیاتې راغلې؛ په استعارو کې د کارول شوو الفاظو اصلي او معروفه معنی مراد نه وي؛ هغه مفهوم مراد وي چې استعاره ورته غوره شوې. لکه په دې استعاره کې چې (زوی ئې پر تخت کښېناست)؛ د دې معنی دا نه ده چې پاچايي ځانته خاص تخت لري او چې هر څوك پرې کښېني هغه به پاچا کېږي!! معنی ئې دا ده چې زوی د خپل پلار ځای ناستی شو؛ که دا زوی ئې پر کوم تخت کښېني که نه؛ په هر صورت کې پاچا دئ. پاچايي ئې په کوم خاص تخت پورې تړلې نه ده.

د دې لپاره چې دا مطلب لا زيات واضح شي د قرآن يوه بله استعاره ستاسو مخې ته ږدم: قرآن فرمايي:

خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٧ البقره: ۷

الله د دوی پر زړونو او د دوی پر غوږونو مهر لګولی او پر سترګو ئې ځانګړې پرده ده او دوی ته ستر عذاب دئ.

تر دې آيت وړاندي ويل شوي: که کافرانو ته خبرداری ورکړې او که نه؛ ايمان نه راوړي. په دې آيت کې د دې وجه او سبب ښودل شوی او هغه دا چې د دوی پر زړونو او غوږونو مهر لګول شوی او پر سترګو ئې ځانګړې پرده ده.

د آيت د استعارو معنی دا ده چې دوی داسې مرحلې ته رسېدلي چې د هدايت کېدو ټول امکانات ئې ختم شوي، ټولي لاري پرې تړل شوې، زړه ئې سخت، د نصيحت اورېدو استعداد ئې منکوب او بصيرت ئې ختم شوی، نه د حق خبره مني، نه نصيحت پرې تأثير کوي، نه له پېښو پند اخلي او نه د عبرتناکو صحنو له ليدو متأثر کېږي؛ نه په خپله د حقيقت د پېژندو جوګه دي، نه د بل خبره اوري او نه دا بصيرت په کې شته چې د ده چار چاپېر خورې نښې ئې سمې لاري ته هدايت کړي، خپلو ګناهونو دغه حالت ته رسولي.

رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ ته ښودلې چې پر زړه د مهر لګېدو معنی څه ده؛ فرمايي: کله چې څوک ګناه وکړي نو پر زړه ئې تور داغ پيدا شي، د ګناه تکرار سره دا تور داغ زياتېږي تر هغه چې ټول زړه ئې تک تور شي؛ داسې لکه توره تيږه او سرچپه کوزه؛ چې اوبه په کې نه شی ساتل کېدی؛ يعني دا ګناه ده چې انسان ورو ورو دې حد ته رسوي چې زړه ئې سخت شي، د حق منلو په وړاندې ئې د تور زړه دړې وتړل شي؛ د حق منلو ټول استعدادونه او امکانات له لاسه ورکړي؛ د مُهر لګېدو معنی دغه ده؛ معنی ئې هيڅکله دا نده چې ګواکې په رښتيا زړه ئې له تورو داغونو ډك شوی؛

معنی ئې دا ده چې په انسان کې رنګ رنګ تمایلات شته، کله ئې زړه ورته وایي: نېک کار وکړه، د خپل زړه دا خبره ومنې، د نیک کار لوري ته تمایل وکړي او له بد کار کرکه او نفرت، په دې سره ئې د نېکې تمایل ته وده ورکړي او د بدي تمایل او شوق ئې په شا تمبولی؛ خو که بد کار او ګناه دې وکړه؛ نو په دې سره دي د نېکي تمایل په شا تمبولی، پر مخ دي سپېره ورکړې، خبره دې نه ده منلې او تضعیف دي کړ؛ خو د بدي تمایل ته دي وده ورکړه، د هغه خبره دي ومنله او په دي توګه د بدي تمایلات په تا کي پیاوړي او ځواکمن شي چې ستا پر ټول زړه مسلط شي او د ښېګڼې ټول تمایلات او جذبات په تا کي وځپل شي؛ او داسي څه ستا په زړه کي پاته نشي چې د نېکي لوري ته دي وهڅوي؛ دغه حالت ته په دي آیت کي اشاره شوی ده، انسان په خپله او په خپلو ګناهونو سره دې حالت ته رسي؛ الله تعالی هیڅوك په داسي څه نه ګماري او داسي څه ورسره نه کوي چې په خپله د هغه وړتیا ونلري.

په دې آیت کې یوه دا استعاره (خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡ) کارول شوې او بله دا (وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞ )؛ چې په ګډه پورتنی مطلب افاده کوي. د لومړۍ استعارې معنی دا نه ده چې الله تعالی کوم ځانګړی مُهر لري او د کافرانو پر زړونو او غوږونو ئې دا مهر وهلی؛ د دوی زړونو او غوږونو ته کومه کڅوړه وراغوستې او له پاسه ئې مهر وربانديي وهلی؛ داسې چې نه غږ ورننوتی شي او نه کومه خبره؛ او که کوم ډاکټر د دوی زړونه او غوږونه عملیات کړي نو د مُهر ټاپه او نښه به هلته ومومي.

اوس که څوك د دې آیت له مخې الله تعالی ته مُهر ثابتوي او د کافرانو پر زړه او غوږ د مهر نښه؛ نو سخت ناپوه دئ او د آیت له سم تفسیر او تعبیر عاجز او تېروتی. په استواء علی العرش کې هم که څوك الله تعالی ته د عرش په نامه کوم مکان او د زمکې د کوم تخت په څېر تخت او استواء علی العرش؛ پر کوم تخت د انسان د ناستي په څېر ناسته ثابتوي؛ نو یقیناً چې تېروتی او سخته اشتباه ئې کړې؛ متأسفانه اهل ظاهر همدا کار کوي او وایي: په قرآن کي عرش

راغلی نو الله تعالی حتماً د زمکي د تخت په څېر کوم تخت لري؛ په قرآن کي استوی علی العرش راغلې؛ نو الله تعالی حتماً پر خپل تخت داسي ناست دئ لکه انسان چي د زمکي پر کوم تخت کښېني!!؛ هر څوك چي د قرآن د استعارو په اړه دا غلط اسلوب غوره کوي يقيناً چي سخت دوکه شوی او اشتباه کوي. همدا راز قرآن فرمايي:

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾ الإسراء: ۲۹

مه دي لاسونه تر خپلي غاړي تړلي ساته او مه ئې په بشپړ پرانيستو سره پرانيزه؛ داسي چي (سبا ته) ملامت وګنل شې او حسرت درباندي وشي.

د دې آيت تحت اللفظي ژباړه همدا ده؛ خو کوم مطلب چي افاده کوي هغه بېل دئ؛ دلته يوه ظريفه استعاره کارول شوې؛ له دې کلام (مه دي لاسونه تر خپلي غاړي تړلي ساته او مه ئې په بشپړ پرانيستو سره پرانيزه؛) مراد قطعاً دا نه دئ چي لاسونه دي مه تړه او مه ئې خلاصوه؛ مراد ئې دا دئ چي له انفاق او سخاوت لاس مه راټموه؛ داسي لکه چي له خپلي غاړي سره دي تړلی وي؛ نو نشې کولی خپل جيب ته لاس کړې او څه بل ته ترې راوباسې. دومره بخل مه کوه چي له مستحقينو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راټم کړې؛ او اسراف هم مه کوه؛ داسي چي له مستحق او غير مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستي وکړې چي سبا په خپله د بل مرستي ته اړ شې او هر څوك دي ملامتوي او ستا په حال تأسف کوي. بلکي د ورکړي او له بل سره د مرستو په دوران کي اعتدال مراعات کړه.

دلته دوه استعارې کارول شوې:

- لاس دي له خپلي غاړي سره مه تړه.
- لاسونه دي په بشپړ پرانيستو سره مه پرانيزه.

لومړۍ استعاره د بخل لپاره کارول شوې او دوهمه ئې د ډېر سخاوت او اسراف لپاره.

په دې دواړو استعارو کې د الفاظو ظاهري معنی او تحت اللفظي ترجمه مراد نه ده؛ مراد ئې قطعاً دا نه ده چي هيڅکله به خپل لاس له غاړې سره نه تړې او هيڅکله به خپل لاسونه په بشپړ پرانيستو سره نه پرانيزې. مراد ئې فقط دا دئ چي مه له انفاق ډډه کوه او مه په اسراف سره لګښتونه کوه. مه داسي کوه لکه چي لاسونه دي له غاړې سره تړلي وي او جېب ته دي نه کوزېږي او مه داسي چي په پرانيستو لاسونو هر لوري ته مصرفونه کوې.

په ټولو استعارو کې به همدا کار کوو؛ په تحت اللفظي ترجمې به ئې اکتفاء نه کوو، الفاظ به ئې بېل بېل نه ترجمه کوو؛ او په ظاهري او متبادري معنی به ئې نه نيسو؛ دې ته به ګورو چي خلك دا کلام د کوم مطلب بيانولو لپاره کاروي؛ او معمولاً د څه لپاره وضع شوی؛ له ټولو استعارو سره به همدا کار کوو؛ که دا د قرآن استعارې دي او که هغه چي موږ ئې هره ورځ په خپل کلام کې کاروو. لکه دا چي وايو: فلانی زما په زړه کې خاص ځای لري. يعني خاص درناوی او احترام ورته لرم او يا ځانګړې مينه ورسره لرم. ستا دا وينا يوه استعاره ده؛ د الفاظو له ظاهر داسي معلومېږي لکه چي ستا زړه يو کور وي او په هغه کې دي چا ته کومه ښکلې او ښايسته خونه مختص کړې وي. يا وايې: فلانی درووند سړی دئ. ستا دا وينا هم يوه استعاره ده؛ د درووند لفظ دي په عاريت سره کارولی دئ؛ نه په اصلي معنی؛ د استعارې ظاهري معنی داسي ده لکه چي د دې سړي وزن زيات وي؛ خو ستا مقصد دا دئ چي دا سړی له اخلاقي، معنوي او فکري پلوه درووند او د قدر وړ دئ. نو د دې استعارې تحت اللفظي ترجمه؛ غلط او ناسم کار دئ.

اوس که کوم ساده اهل ظاهر راپاځي او وايي: الله تعالی فرمايلي: لاس دي له خپلي غاړې سره مه تړه؛ نو که دي لاس مات شو او ډاکټر غوښتل مات لاس دي له غاړې سره وتړي؛ او دا سادګی ورته وايي: پام چي دا کار ونه

کړي؛ دا د الله تعالی د امر خلاف کار دئ؛ او یا درته ووایي: هیڅکله به خپل لاسونه په بشپړ پرانیستو سره نه پرانیزې؛ ځکه الله تعالی د دې ممانعت کړی!! او دا آیت هم ستا مخې ته کښېږدي: (وَلا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَحْسُورًا): مه دې لاسونه له خپلې غاړې سره تړلي ساته او مه ئې په بشپړ پرانیستو سره پرانیزه؛ داسې چې (سبا ته) ملامت وګنېل شې او حسرت دربانديې وشي. آیا د دې اهل ظاهر دا وینا د خندا او تأسف وړه نه ده؟!! دا خوارکی نه پوهېږي چې په دې آیت کې د بخل او اسراف په اړه دوه استعارې کارول شوې؛ هره استعاره خاص او ځانګړی مفهوم افاده کوي؛ د هرې ژبې خاوندان د بېلو بېلو مفاهیمو لپاره ځانګړې استعارې لري؛ د هرې استعارې بشپړ الفاظ په ګډه یو مفهوم افاده کوي؛ هیڅوك ئې الفاظ بېل بېل او د ظاهري او تحت اللفظي ترجمې په معنی نه نیسي.

همداسې (استوی علی العرش) هم یوه استعاره ده؛ دا دواړه الفاظ په ګډه د دې لپاره غوره شوي چې د پاچا او ملك کېدو مفهوم افاده او بیان کړي. که دلته استواء د داسې کښېناستو په معنی واخلو لکه د انسان ناسته او عرش د زمکې د سر د یوه داسې تخت په معنی واخلو چې له لرګي یا سرو سپینو زرو جوړ شوی، څلور پښې لري او پر زمکه ایښودل شوی وي؛ پر عرش د الله تعالی استواء همداسې تعبیر کړو؛ نو موږ څو ستر ستر اشتباهات او د قرآن د لارښوونو خلاف عمل مو کړی:

- الله تعالی مو له مخلوق سره تشبیه کړی؛ په داسې حال کې چې الله تعالی د عالم له هیڅ څه سره شباهت نه لري.
- الله تعالی ته مو مکان منسوب کړی؛ حال دا چې الله تعالی د مکان له درلودو منزه دئ؛ مکان د مخلوق خصلت دئ او محدودیت افاده کوي؛ خدای نه محدود دئ او نه مکان ته اړ.

• الله تعالی او عرش مو لازم او ملزوم کړي؛ حال دا چې الله تعالی د هیڅ مخلوق په شتون ملزم نه دئ؛ دی وو په داسي حال کې چې نه آسمانونه او زمکه وه او نه عرش.

• د استعارې او د هغې د الفاظو په اړه مو د عام اسلوب او معمول تعامل خلاف عمل کړی؛ د استعارې تحت اللفظي ترجمه مو کړې؛ په داسي حال کې چې دا د منل شوي تعامل خلاف عمل او غلط اسلوب دئ.

• د (استوی) او (عرش) الفاظ مو تأویل کړي؛ په داسي حال کې چې الله تعالی فرمايي: وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُ: او په تأویل ئې له الله پرته هیڅوك نه پوهېږي.

عرش او استواء علی العرش یوه استعاره ده؛ همدا راز حملة العرش یوه استعاره ده؛ نه عرش د الله تعالی لپاره مکان دئ، نه پر عرش استواء داسي ده لکه پر تخت د کوم انسان ناسته او نه حملة العرش داسي څه دي چې عرش پر خپلو اوږو وړي؛ داسي چې الله تعالی کله وغواړي له یوه ځای بل ځای ته ولاړ شي نو همدا د عرش حمله ئې له عرش سره یو ځای انتقالوي!! متأسفانه د اهل ظاهر تعبیر همداسي ده د هغوی له ټول تعبیر پرته له دې بله معنی څوك نشي اخیستلی، چې ګواګي د الله تعالی عرش فقط د زمکي په څېر یو تخت ته ورته دئ؛ څلور پښې لري او اتو فرشتو په خپلو اوږو اخیستی دئ او الله تعالی ئې له پاسه او له یوه ځای ئې بل ځای ته انتقالوي، دا د اهل ظاهر تعبیر دئ او دا د بایبل تعبیر دئ، بایبل کټ مټ الله تعالی همداسي تعریفوي، نعوذ بالله أن نقول ذلك. نه الله تعالی دا ویلي او نه د هغه رسول؛ دا خبري د محرف بایبل دي؛ نه د قرآن خبري. قرآن راغلی چې د بایبل ټولي غلطي خبري تصحیح کړي؛ که قرآن او بایبل سره مقایسه کړئ نو په څرګنده توګه به وګورئ چې قرآن د بایبل ټولي هغه ادعاء ګاني رد او تصحیح کړې چې د الله تعالی د ذات او صفاتو په اړه ئې کړې، یا ئې د عرش، د عرش حمله،

زمکې او آسمانونو، انسانانو او نورو ژوو د پیدایښت په اړه کړې؛ او یا ئې د پیغمبرانو علیهم السلام په اړه ویلي. په ډېر تأسف سره باید ووایو؛ ځینو مفسرینو متأسفانه اشتباه کړې او حتی دا هڅه ئې کړې چې د قرآن د آیتونو په تفسیر او تعبیر کې له بایبل استمداد کړی او هڅه ئې کړې چې قرآن او بایبل سره نږدې کړي؛ نو همغه څه ئې ویلي چې بایبل ویلي.

الله تعالی هر کتاب هغه مهال رالېږلی چې د مخکینیو کتابونو له لارښوونو او اغېزو هیڅ نښه او اثر نه دئ پاته شوی، نوی پیغمبر ئې هغه مهال مبعوث کړی چې د مخکیني پیغمبر کتاب په بشپړه توګه تحریف شوی. قرآن ئې هغه مهال رالېږلی چې د تورات، انجیل او زبور نه یوازې یوه صفحه هم روغه نه وه پاته شوې او په بشپړه توګه له منځه تللي او پاڼه پاڼه ئې د دښمنانو په لاس سوزېدلې وه؛ بلکې تورات، انجیل او زبور؛ د رومیانو په هدایت او د یونانیانو په لاس له کامل تحریف وروسته؛ د بایبل په نامه کتاب کې او هغه هم په یوناني ژبه؛ داسي راغونډ شول چې د دې الهي کتابونو هیڅ څه به په کې ونه مومئ؛ نه ئې لارښوونې او احکام او نه ئې الفاظ او کلمات. تورات، انجیل او زبور په عبري ژبه وو او بایبل په یوناني ژبې لیکل شوی او نورو ژبو ته ژباړل شوی.

دې ته مو باید پام وي چې د الاعراف سورې په ٥٤ آیت کې د قرآن وینا په حقیقت کې د بایبل د هغې غلطې ادعاء تردید کوي چې وایي: الله تعالی په شپږو ورځو کې ټول مخلوقات پیدا کړل، په دې کار سره ستومانه شو او په اومه ورځ ئې آرام وکړ. د بایبل د پیدایښت باب دوهم فصل په دې خبرې پیل کېږي: (په دې ترتیب آسمانونه، زمکه او څه چې په دوی کې دي تکمیل شول، د اومي ورځې په رارسېدو سره خدای د پیدایښت کار تمام کړ او له کاره ئې لاس واخیست، خدای اومي ورځې ته برکت ورپه برخه کړ او هغه ئې مقدسه وبلله، دا ځکه چې دا هغه ورځ وه چې خدای د پیدایښت د کار له بشپړولو وروسته آرام وکړ. په دې توګه آسمانونه او زمکه پیدا شول)!!

بایبل په دې وینا سره له خدای داسې څوك جوړ کړی چې په خپل ټول عمر کې ئې شپږ ورځې (۷۲ ساعته) کار کړی، په همدغو شپږو ورځو کې ئې د پیدایښت کار بشپړ کړی او د اومې ورځې په رارسېدو سره له خپل کار فارغ شوی، د ځمکې او آسمانونو ټول کارونه ئې خپلې مخې ته پرېښي! او ده د خپلې ستړیا رفع کولو لپاره آرام کړی!! بایبل دا هم نه وایي چې دا آرام یوازې د همدغې ورځې دولس ساعته وو که تر ننه دوام لري!! د بیان له الفاظو خو داسې معلومېږي چې د خدای کار په شپږو ورځو کې بشپړ شوی، له کار ئې لاس اخیستی، داسې کوم کار نه دئ پاته چې د بایبل خدای ئې د کولو لپاره راپورته شي او خپله رخصتي پای ته ورسوي!!

دوی خدای په انسان قیاس کړی، لکه څنګه چې انسان د خپلې ستړیا رفع کولو لپاره په اونۍ کې یوې ورځې رخصتۍ ته ضرورت لري؛ همدا راز د بایبل خدای هم باید انسان ته ورته وي؛ شپږ ورځې ئې کار کړی او اومه ورځ آرام!!

پوښتنه دا ده: آیا کوم عقلمن انسان به هغه څوك د خدای په توګه ومني چې ستړی کېږي او آرام ته ضرورت لري؟! موږ خو عملاً ګورو چې د پیدایښت لړۍ په مسلسل او پر له پسې توګه روانه ده، یوه شېبه په کې توقف نه راځي، د دې عالم هرې خوا ته چې مخ اړوو؛ ګورو چې هر څه له هیڅ پیل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لورې وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخرې پوړ ته ورسول شي، یو ضروري او لازم کار پرې ترسره شي، یو ضرورت ورباندې رفع کړی شي، یوه تشه او خلا پرې ډکه کړی شي، بیا ئې زوال پیل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل ته تش کړی شي، زوړ او کمزوری ختم شي او ځوان او ځواکمن ته خپل ځای پرېږدي. دا کار هره شېبه، هرې خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا خو موږ ته د خالق او پیدا کوونکي ذات د مسلسل تصرف، ربوبیت او پالنې نښې او آثار په نظر راځي، د بایبل پلویان دې موږ ته ووایي چې دا کارونه څوك کوي؟ په خپله ترسره کېږي که ئې الله تعالی ترسره کوي؟

تاسو د بايبل دا کچه وينا د قرآن له دې وينا سره مقايسه کړئ چې د الله تعالی په اړه فرمايي:

يَسۡـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ ﴿٢٩﴾ الرحمن:۲۹

د آسمانونو او زمکې هر څه ده ته خپلې غوښتنې وړاندې کوي (له ده د خپلو غوښتنو ترسره کېدل غواړي)، دی هره ورځ په يوه کار کې لګيا دئ (يعني هغه هره شېبه په چارو کې د تصرف په حال کې دئ)

يعني الله تعالی د زمکې او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتياوې ئې پوره کوي. د دې عالم هر کار، هره شېبه؛ په خپله مالك الملك خدای ترسره کوي. الله تعالی داسې نه دئ چې د دنيا کارونه ئې خپلې مخې ته پرېښې وي او دی هيڅ تصرف په کې نه کوي؛ بلکې هر کار، که ستر وي او که ووړ، د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره ترسره کېږي، هغه يوه شېبه هم د عالم د چارو له ادارې، پالنې او ساتنې نه غافل کېږي.

لکه چې د البقرې سورې په ۲۵۵ آيت کې لولو:

.... وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

(د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکې حاوي ده او د دوی دواړو (زمکې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ ذات دئ

بايبل په بل ځای کې ليکي: "د سبت (شنبه) ورځ په ياد لره او سپېڅلې ئې ګڼه... په دې ورځ به هيڅ کار نه کوئ... دا ځکه چې خدای په شپږو ورځو کې آسمان، زمکه او... پيدا کړل او په اومه ورځ ئې له کاره لاس واخيست... نو ده دا ورځ د استراحت ورځ ونوموله..."

خو قرآن د بايبل د دې غلطې خبرې په ځواب کې فرمايي چې الله تعالی د

آسمانونو او زمکې له پیدا کولو وروسته د چارو واګې په خپل لاس کې ونیولې، د ټول کائنات د سلطنت پر عرش ئې استواء وکړه، هغه هم خالق دئ او هم ټولواك، لکه څنګه چې د مخلوقاتو پیدایښت د ده ځانګړتیا ده، همدا راز واکمني او د عالم د چارو سمبالول د ده کار دئ، شپه او ورځ د ده په امر ځي راځي، دی لمر، سپوږمۍ او ستورې اداره کوي، الله تعالی هم خالق دئ او هم پالونکی او ساتونکی.

په مخکیني درس کې مو ولیدل چې قرآن دا عالم داسې معرفي کوي: دا د الله تعالی ملك دئ، دی ئې مالك او واکمن دئ، هر څه د ده په امر او حکم ترسره کېږي، که لمر راخېژي او لوېږي، که وريځې په آسمان کې خوځي، باران او واوره ترې ورېږي، که ونه او بوټی له زمکې راټوکېږي او دانه او مېوه ورکوي، که ژوي پیدا کېږي، ستریږي او مري؛ هر څه او هر کار الله تعالی کوي، د ده په امر او توفیق ترسره کېږي. قرآن د بایبل دا خبره له بنسټه ردوي چې الله تعالی د عالم له پیدایښت وروسته د نوي پیدایښت لړۍ متوقف کړه، ستومانه شو او آرام ئې وکړ!! ګورئ چې د الله تعالی په اړه د بایبل وینا څومره ناقصه او د واقع خلاف ده او د قرآن وینا څومره جامع او د حقیقت مطابق!! آیا یو عقلمن انسان به هغه خدای ومني چې ستومانه کېږي او آرام کولو ته اړ کېږي او د خپل ملك چارې او واګې خپلې مخې ته پرېږدي؟!!

الله تعالی په اونۍ کې یوه ورځ د دې لپاره د تعطیل او رخصتۍ ورځ نه ده ګرځولې چې ده په خپله عالم په شپږو ورځو کې پیدا کړ او اومه ورځ ترې وزګار شو او آرام ئې وکړ!! الله تعالی عالم پیدا کړی او له پیدا کولو وروسته ئې د دې عالم چارې په خپل واك کې نیولې، د عالم تر پیدا کولو د دې عالم ساتل او پالل که ګران کار نه وي نو آسان خو په هیڅ توګه نه دئ. قرآن فرمایي چې الله تعالی هم د دې عالم خالق دئ او هم ئې ټولواك، مالك او حاکم؛ په دې سره د بایبل د دغې غلطې وینا تردید شوی چې الله تعالی په انسان قیاسوي، ستومانه کېږي او استراحت ته ضرورت لري!! د انسان لپاره په اونۍ کې یوه

ورځ د عبادت لپاره مختص شوې، د يهودانو لپاره هفته، د مسيحيانو لپاره يکشنبه او د مسلمانانو لپاره جمعه. پر مسلمانانو د جمعې لمونځ فرض شوی، په دې ورځ به ټول په جومات کې راغونډېږي، په جَماعت سره به لمونځ کوي او د جُمعې د ورځي هغه خطبه به اوري چې د امام او د هغه د نائب له لوري ورکول کېږي او په هغې کې د تېرې اونۍ ټولي مهمي او اساسي مسئلې څېړل کېږي. په دې ورځ به يوازي د لمانځه لپاره خپل کارونه متوقف کوي، له لمانځه وروسته به خپل کارونه د نورو ورځو په څېر کوي!!

راشئ دا هم وګورئ چې بايبل د خدای، عرش او د عرش د حَمَله وو په اړه څه وايي؟ بايبل د حزقيال په کتاب کې (حزقيال په ۶۲۷ قبل له ميلاد زېږېدلی، د يهودانو نبي ګڼل کېږي) او د حزقيال د رؤيا په ضمن کې ليکي: (... بيا د لوخړو له منځه څلور عجيب موجودات چې انسان ته ورته ول راڅرګند شول، خو هر يوه څلور مخونه او دوه جوړې وزرونه درلودل، پښې ئې هم د انسان پښو ته ورته وې، خو ګوتې ئې د سخونـدر نوك ته ورته وې او د ځلانده فلز په څېر ځلېدلې، د هر وزر لاندي مې انسان ته ورته لاسونه ليدل، د وزرونو پای ئې سره وصل وو، مخامخ به ئې تګ کاوو پرته له دې چې راوګرځي!! هر يوه څلور مخونه درلودل: مخکينی ئې د انسان د مخ په څېر، ښی ئې د زمري په څېر، کيڼ ئې د غوايي په څېر او شاتنی ئې د عقاب په څېر!! هر يوه دوه جوړې وزرونه درلودل، چې يوه جوړه ئې پرانيستلي وو او د بل موجود د وزرونو څوکو ته به رسېدل او بلي جوړې د دوی بدن پوښلی وو، کوم ځای ته چې به د دوی روح تله په همغه لوري به تلل، له دې پرته چې بل لوري ته کاږه شي!! د دغو موجوداتو په منځ کې د بلو سکروټو په څېر شيان خوځېدل، چې له منځه ئې برېښنا راوته، دا ژوندي موجودات هم د برق په څېر تېز تېز مخکې شا ته خوځېدل،... څلور څرخونه مې وليدل، تر هر يوه لاندي يو څرخ، د زبرجدو په څېر ځلېدل او يو بل ته ورته ول، د هر څرخ منځ کې بل څرخ وو، د همدې لپاره په دې توانېدل چې په هر لوري وخوځېږي،

پرته له دې چې راوڅرخي، څرخونو داسي پرې درلودې چې له سترګو ډکې وې،... کله چې به دغه موجودات خوځېدل نو څرخونه به هم ورسره خوځېدل، چې له زمکې به پورته کېدل نو څرخونه به ورسره پورته کېدل او چې ودرېدل به نو څرخونه به هم ودرېدل، دا ځکه چې د دغو څلورو موجوداتو روح په څرخونو کې هم وه، نو دا موجودات او څرخونه د خپلي روح تر حکم لاندي ول،... د هر يوه د سر له پاسه صفحې ته ورته څه خور وو چې د شيشې په څېر به ځلېدو او انسان به ئې وېراوو، د دغي صفحې لاندي د دوی وزرونه داسي پرانيستي وو چې د يوه وزر به د بل وزر ته رسېدو،... کله چې به الوتل نو غږ به ئې داسي وو لکه د ساحل د څپو غږ، يا د خدای غږ يا د يوه لوی لښکر چيغي، کله چې به ودرېدل نو وزرونه به ئې راټيټ کړل، له هر ودرېدو سره به د صفحې له سر يو غږ اورېدل کېدو، د صفحې په سر د يوه ښکلي پاچايۍ تخت په څېر يو شی تر سترګو کېدو، داسي لکه چې له شنو ياقوتو جوړ شوی وي او د دې تخت له پاسه داسي ذات ناست وو چې انسان ته ورته وو، له ملا پورته داسي برېښېدو لکه په اور کې سور شوی فلز او له ملا لاندي لکه د اور ځلاندي لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو او په دې نور کې د بوډۍ د ټال (قوس قزح) ټول رنګونه تر سترګو کېدل، د خدای پرتمين حضور داسي ما ته راڅرګند شو، کله چې ما دا صحنه وليده، په سجده پرېوتم، )

دلته بايبل د تل په څېر خدای له انسان سره تشبيه کړی، له انسان سره ئې توپير يوازي په دې کې دئ چې (له ملا پورته داسي برېښېدو لکه په اور کې سور شوی فلز او له ملا لاندي لکه د اور ځلاندي لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو...)، عرش ئې د پاچايانو ښکلي تخت ته ورته، د عرش حَمَله ئې داسي څلور فرشتې چې هره يوه ئې څلور سرونه او څلور وزرونه لري، يو سر ئې انسان ته، بل ئې زمري ته، بل ئې غوايي ته او بل ئې عُقاب ته ورته دئ!!! خو حقيقت دا دئ چې يو پيغمبر خو پرېږده؛ هيڅ مؤمن انسان به د الله تعالی په اړه نه داسي خوب وګوري او نه به په خپل ذهن کې داسي غلط او ناقص

انځور جوړ کړي!! متأسفانه اهل ظاهر د خدای، عرش او د عرش د حمله په اړه د بایبل ویناوو ته ورته رأی لري.

ما ته د بایبل دا وینا داسي برېښي لکه چي د انسان د سر پر یوه وېښته ناست یو ویروس بل ته ووايي: خدای زموږ په څېر دئ، همداسي ګرد مرد، نه سر لري نه پښې، ځان ته ئې کتلي او موږ ئې د خپل ځان په څېر جوړ کړي یو، تر موږ ښایسته او ښکلی مخلوق به نو چېري وي چي خدای به هغه د ځان په څېر جوړ کړی وي؟! آیا خدای به د دغه لوی او بې عقله ځناور (انسان) په څېر وي چي موږ ئې د وېښته پر سر ناست یو، یوې خوا بلې خوا ته ځغلو او هغه پرې خبرېږي هم نه؟!! سترګي ئې دومره کمزورې دي چي موږ نه ویني، غوږونه ئې دومره درانه دي چي زموږ غږ نه اوري!! وروره! دا به د ډایناسور په څېر له منځه ځي!! بې شکه چي خدای به زموږ په څېر وي او تخت به ئې هم زموږ د پاچا تخت ته ورته، چي وزر لرونکي بکتریا به ئې له یوه ځای بل ځای ته په خپلو اوږو وړي!!! له موږ د خدای توپیر یوازي په دې کي دئ چي هغه خدای دئ او موږ ویروس، د هغه بدن ځلېږي او زموږ نه ځلېږي!!! او باور وکړئ چي د الله تعالی په اړه د اهل ظاهر رأیه کټ مټ همداسي ده.

د کوم احمق انسان عقل به په دې قانع شي چي ستر خدای، د دې پراخ عالَم خالق، ټولواك، ساتونکی او پالونکی رب؛ د وړوکي انسان په څېر دئ، د پاچایانو په څېر تخت باندي ناست دئ، دا تخت ئې څلور، څلور سري فرشتې په اوږو وړي؟!!!

د بایبل لیکونکي اورېدلي چي خدای اورېدونکی او لیدونکی دئ، هر څه ویني او هر څه ګوري، خپلو پیغمبرانو ته ئې وحي لېږلې، دوی ته ئې لارښوونې کړې، خپل احکام ئې ورته بیان کړي،... د تورات او انجیل له دغو اظهاراتو ئې دا انتباه اخیستې چي خدای حتماً د انسان په څېر دئ، همداسي دوه سترګي، دوه غوږونه، دوه لاسونه او دوه پښې لري، نو ځکه ئې مخکي هم ویلي چي

خدای انسان د ځان په څېر پیدا کړ او دلته د حزقیال په رؤیا کې هم خدای انسان ته ورته ګڼې!! ده اورېدلي چې خدای د عرش خاوند دئ، نو ځکه ئې دلته د خدای عرش د زمکې د پاچایانو له تخت سره تشبیه کړی!! هغه په دې نه پوهېږي چې په اصلي تورات او انجیل کې د الله تعالی د عرش یادونه د دې مطلب د افادې او بیانولو لپاره شوې چې الله تعالی د عالَم ټولواك دئ او هر څه د ده په حکم تر سره کېږي!! ده د تورات او انجیل دا خبره اورېدلې چې الله تعالی فرمایي: که تاسو ایمان او تقوی ولرئ زه به مو یوازې نه پرېږدم، له تاسو سره به وم او ستاسو مرسته او ملاتړ به کوم؛ هغه له دې وینا دا نظریه رااېستلې چې خدای له اسرائیلیانو سره دئ، په دوی کې اوسېږي، چې چېرې دوی ځي خدای ورسره ځي، نو کله چې دوی په بېدیا کې په خېمو کې اوسېدل خدای ته ئې هم د ځان په څېر خو ډېره ښکلې او قیمتي خېمه او په خېمې کې خاص ځای د قدس الاقداس په نامه جوړ کړ او کله چې په فلسطین کې ځای په ځای شول نو مجلل کور ئې، د پرېمانه سرو او سپینو زرو په کارولو سره ورته جوړ کړ، له دې وروسته خدای له آسمان راکوز شو او پرېکړه ئې وکړه چې د تل لپاره به په دغه کور کې د اسرائیلیانو خوا ته اوسېږي!!! په مجازي توګه کارول شوي الفاظ او استعارې ئې په اصلي معنی ونیول او د الهي کتابونو آیتونه ئې غلط تعبیر او تفسیر کړل!! دا همغه کار وو چې زموږ کم عقلو هم د دوی تر اغېز لاندې وکړ، عرش ئې د پاچایانو له تخت سره او پر عرش د الله تعالی استواء ئې پر کوم تخت د انسان له کښېناستا سره تشبیه کړه.

د تورات او انجیل په شمول په ټولو الهي کتابونو کې د الله تعالی د صفاتو او د عرش په څېر د داسې شیانو په اړه هم بحث شوی چې د انسان له نظره پټ دي او انسان په خپل قاموس کې د هغه لپاره نوم نه لري، دا ځکه چې انسان په خپل قاموس کې یوازې د هغو شیانو لپاره نوم لري چې دی ئې پېژني او په خپلو سترګو ئې ګوري؛ خو د غیبي شیانو لپاره نومونه نه لري. که څوك وغواړي د انسان په ژبه دا غیبي شیان ورمعرفي کړي نو له دې پرته بله لار نه

لري چي د تشبيه له فن کار واخلي او د انسان د قاموس موجود الفاظ او استعارې وکاروي. په الهي کتابونو کې دغه تشبيه او مجاز کارول شوی او په دې سره انسان ته د عالم غيب په اړه نسبي پوهه ورکړل شوې. کم عقلو او غرضي خلکو دغه تشبيه او په هغه کې کارول شوي الفاظ او استعارې په اصلي معنی اخيستي!! داسي لکه چي د بايبل ليکونکي د الله تعالی له عرش د پاچا ښکلی تخت جوړ کړی، خپل خدای ئې د يوه پاچا په څېر وربانديي کښېنولی او له فرشتو ئې څلور سري موجودات جوړ کړي چي دا تخت پر اوږو وړي او خدای له يوه ځای بل ځای ته لېږدوي!! د بايبل ليکونکي هڅه کړې چي په دې بيان سره د مسيحيانو او يهودانو دې پوښتني ته ځواب ووايي چي خدای څنګه له يوه ځای بل ځای ته ځان رسوي!! دا دئ هغه پياوړې فرشتې ئې له يوه ځای بل ځای ته رسوي چي هم د انسان هوښيارتيا لري، هم د عُقاب وزرونه، هم د غوايي زور، هم د زمري مضبوطي پښې او هم خدايي روح!!

له انسان سره د الله تعالی په اړه يوه پوښتنه دا ده چي خدای چېري دئ؟ څه کوي؟ له دې عالم سره ئې تعلق څنګه دئ؟ که څوك وغواړي چي دغه پوښتنه ځواب کړي او پوښتونکی په دې ئې پوه کړي چي الله تعالی دا عالم اداره کوي، ساتنه او حفاظت ئې کوي، دلته هر څه د ده په حکم تر سره کېږي... د دغه مطلب د افادې تر ټولو غوره او يوازينۍ طريقه دا ده چي هغه ته وويل شي: خدای د دې عالم ټولواك، پاچا او حاکم دئ، لکه څنګه چي د يوه چا د پاچا کېدو په اړه وايي: د پاچايۍ پر تخت کښېناست، يعني د دې ملك او هېواد ټولواك او پاچا شو او له دې وروسته به ټول کارونه د ده په امر ترسره کېږي؛ په الهي کتابونو کې دغه استعاره (پر عرش استواء) د دغه مطلب د افادې لپاره کارول شوې چي الله تعالی د دې عالم ټولواك دئ، امور ئې د ده په واك کې دي او د دې عالم د پاچايي پر عرش ئې استواء کړې!! عرش او پر عرش استواء هغه الفاظ دي چي انسان ئې د يوه پاچا د واکمنۍ او قدرت ته د رسېدو لپاره کاروي، په کومو آيتونو کې چي د الله تعالی لپاره داسي الفاظ

راځي؛ دا متشابه آيتونه دي چي په هغه کي د تشبيه فن کارول شوی. ځيني داسي گمان کوي چي گواکي دا متشابه آيتونه هغه دي چي انسان په شبهه کي اچوي؛ دوی اشتباه کړي؛ حقيقت دا دئ چي متشابه آيتونه هغه دي چي په هغوی کي د تشبيه له فن استفاده شوې. د الله تعالی ذات؛ د هغه عرش او پر عرش استواء ئې؛ داسي څه نه دي چي انسان په خپل قاموس کي داسي الفاظ او کلمات ورته ولري چي په مرسته ئې تشريح او بيان کړی شي؛ ناچار به په داسي الفاظو معرفي کېږي چي په اصل کي د انسان له لوري د مشهود او ملموس شيانو لپاره وضع شوي؛ او د تشبيه له لاري به د انسان ذهن او فهم ته رانږدې کېږي. په متشابه آيتونو کي راغلي الفاظ په متبادره او متداوله معنی نه شو اخيستی. داسي نه چي د الله تعالی له عرش هغه تصور او انگېرنه ولرو چي د زمکي پر سر د کوم تخت او عرش په اړه ئې لرو!! الله تعالی د مخلوق په څېر مکان ته اړ او محتاج نه دئ، د عالم هيڅ څه په ذات او افعالو کي الله تعالی ته ورته نه دي، نه ئې عرش د زمکي د کوم عرش او تخت په څېر دئ او نه پر عرش استواء ئې داسي لکه په کوم تخت د کوم مخلوق ناسته!! کله چي د عرش او پر عرش د الله تعالی د استواء خبره کوو بايد دا مطلب مو په پام کي وي چي نه د عالم کوم څه الله تعالی ته ورته دئ او نه الله تعالی په کوم څه کي له مخلوق سره شباهت لري. پام کوه چي د فرشتو په ذريعه د الله تعالی د عرش حمل کېدا داسي ونه گڼې لکه چي په دنيا کي څوك کوم تخت پر اوږو وړي؛ که داسي تصور دي په ذهن کي راولاړ شو؛ اشتباه دي کړې او الله تعالی دي له مخلوق سره تشبيه کړی. دا هغه غلطي ده چي د بايبل ليکونکي او منونکو وکړه!! او اهل ظاهر تکرار کړه.

پيغمبر عليه السلام دا مطلب څومره ښايسته او دقيق انځور کړی؛ هلته چي فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ

عَنْ مَلَكٍ قَدْ مَرَقَتْ رِجْلَاهُ الْأَرْضَ السَّابِعَةَ، وَالْعَرْشُ عَلَى مَنْكِبِهِ، وَهُوَ يَقُولُ: سُبْحَانَكَ أَيْنَ كُنْتَ وَأَيْنَ تَكُونُ. مسند ابو يعلی

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: يقيناً چي الله اجازه راکړه له داسي يوې فرشتې مو خبر کړم چي پښې ئې له اومي ښکتنۍ زمکي تېري شوې او عرش ئې پر اوږو دئ او هغه وايي: پاکي تا لره ده اې ربه! چي چېري وې او چېري يې!!

گورئ چي هغه باعظمته فرشته چي قامت ئې له اوو آسمانونو او زمکي تېر شوی او د عرش حامل ده؛ د الله تعالی د ذات له درك عاجزه او پر عرش ئې د استواء له څرنگوالي بې خبره ده!! او په دې اړه خپل کامل عجز په دې الفاظو بيانوي: پاکي تا لره ده چي هر ځای وې او يې!! يعني نه پوهېږي چي الله تعالی چېري وو، چېري دئ او چېري به وي.

که د عرش په اړه د پيغمبر عليه السلام دا وينا د بايبل له وينا سره مقايسه کړو همدا کافي ده چي ووايو: د الله تعالی او د هغه د عرش په اړه د بايبل وينا د هغه چا وينا ده چي خدای نه پېژني او د هغه له عظمت خبر نه دئ او د زمکي پر سر له يوه پاچا سره ئې ورته گڼلی!!

متأسفانه په مسلمانانو کې هم يوه داسي کم عقله ډله راپيدا شوه چي د الله تعالی، عرش، د عرش حَمَـله او پر عرش د الله تعالی د استواء په اړه بايبل ته ورته انگېرنه لري. هغوی هم وايي چي خدای انسان د ځان په څېر پيدا کړ، دوه سترگي، دوه غوږونه، دوه لاسونه، هر لاس ئې پنځه گوتي، دوه پښې، پنډۍ، څادر او پرتوگ لري!!! خو وايي: خدای دوه سترگي لري بلا تشبيه، دوه (ښی او کيڼ) لاسونه لري بلا تشبيه، هر لاس ئې پنځه گوتي لري بلا تشبيه، دوه پښې او پنډۍ لري بلا تشبيه، پر عرش ناست دئ بلا تشبيه، د قيامت په ورځ به خپلي پنډۍ لوڅي کړي بلا تشبيه.... يعني مُتَشٰبهاً وَ غَيرَ مُتَشٰبِهٍ!! هم سره ورته او هم نه ورته!! دوی هم له الله تعالی کټ مټ يو انسان جوړوي،

د الله تعالی عرش همغسي ګڼي لکه د کوم پاچا تخت او پر عرش د الله تعالی استواء همغسي لکه پر تخت د یوه پاچا ناسته. له دې څرګندي او قبیح تشبیه وروسته د بلا تشبیه او بلا تکییف لفظ راوړل هیڅ ګټه او معنی نه لري.

دې ته هم باید متوجه وو چې د قرآن په هري برخي کې چې د استوی علی العرش ذکر راغلی؛ ورپسې متصل ویل شوي: یدبر الامر، یغشي اللیل النهار، له الامر، له الملك، له الحکم؛ او دې ته ورته مطالب راغلي او دا ښیي چې په استوی علی العرش سره قرآن موږ ته دا لارښوونه کوي چې الله تعالی د دې عالم ټولواک دئ، د چارو واګي له ده سره دي. ډېر بې عقله انسان به له دې هغه انتباه اخلي چې د بایبل لیکونکي اخیستې او خپل خدای ئې د یوه داسي تخت پر سر کښېنولی چې څلور څلور سري فرشتې ئې حمل کوي!! د قرآن له نظره څوك چې له عرش د پاچایانو د تخت په څېر تخت جوړوي او له استوی په تخت کښېناستل؛ د ده په زړه کې کوږوالی دئ. مؤمن انسان به وايي: استوی علی العرش یوه استعاره ده چې انسانان ئې د چا د پاچايۍ لپاره کاروي، الله تعالی موږ ته په دغو الفاظو سره ښیي چې دی د عالم ټولواك دئ او ټولي واګي ئې د ده په واك کې دي، نه ئې عرش کوم تخت ته ورته شی دئ او نه ئې استواء د انسان استواء ته ورته کوم فعل!! د عرش او استواء په تأویل له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي.

بایبل دا هم لیکي چې خدای وفرمایل: "زه د انسان په لاس جوړ شوي کور کې نه اوسېږم، آسمان مي تخت او زمکه مي تر پښو لاندي کرسي ده!! تاسو به څنګه ما ته کور جوړ کړی شئ؟ او څنګه به زه په دې کور کې اوسېږم؟ آیا دا آسمان او زمکه ما نه دي پیدا کړي؟". عجیبه ده چې څوك د دې وینا تر څنګ هغه بله وینا هم کوي، د چا چې ټول آسمان تخت وي، څنګه به بل وړوکی تخت هم لري؟!

ښه به وي چې د دې رأیي لږ نور وضاحت وکړم، په داسي الفاظو سره چې ښايي د هر چا سر ژر پرې خلاص شي: که له ما څوك پوښتنه وکړي چې الله

تعالی عرش لري؟ ورته وايم: هو؛ يقيناً چي الله تعالی عرش لري. که راته ووايي: الله تعالی پر عرش استواء کړې؟ ورته وايم: هو؛ يقيناً چي الله تعالی پر عرش استواء کړې. که راته ووايي: لږ مخکي ولاړ شه او مزيد وضاحت راته وکړه. ورته وايم: پر عرش د استواء مراد دا دئ چي الله تعالی د عالم ټولواك دئ، امور ئې د ده په واك کي دي، دا عالم د ده ملك او دی ئې ټولواك دئ، که مزيد وضاحت رانه وغواړي ورته وايم: که څه هم د عرش متبادره معنی تخت او د استواء برابرېدا ده خو دا الفاظ د مخلوق لپاره په حقيقي معنی راځي او د الله تعالی په اړه په مجازي معنی. دا استعارې دي؛ بايد په مراد ئې اکتفاء وکړو او له تحت اللفظي ترجمې ډډه وکړو. الفاظ ئې د الله تعالی په اړه په متبادره معنی نشو نيولی. له دې آخوا زما او زما په څېر انسانان د څه ويلو توان نه لري، نه په دې پوهېدی شي چي عرش څه دئ او نه په دې چي پر عرش استواء څنگه ده؟ او دا همغه وينا ده چي قرآن ئې کوي: وما يعلم تأويله الا الله. مزيد ورته وايم: څوك چي عرش داسي گڼي لکه کوم تخت او استواء داسي گڼي لکه څوك چي پر کرسۍ کښېني؛ غلطي ئې کړې، د تأويل او تشبيه مرتکب شوی، خدای ئې له مخلوق سره تشبيه کړی، د ټولو صحابه وو او سلف صالح مخالفت ئې کړی او په دې سره ئې په مسلمانانو کي فتنه راولاړه کړي. قرآن د دغو خلکو په اړه ويلي:

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ ۝٧

نو هغه چي په زړونو کي ئې کوږوالی دئ په متشابه پسي ئې درومي؛ د فتنې په لټه کي او د تأويل په لټه کي؛ په داسي حال کي چي په تأويل ئې له الله پرته هيڅوك نه پوهېږي.

راشئ د يوه بل آيت په وړاندي هم لږ توقف وکړو چي اهل ظاهر او اهل تأويل ئې له تعبير او تفسير عاجز دي؛ قرآن فرمايي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ ٱلْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۝٧﴾ هود: ۷

او دی هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل؛ او عرش ئې پر اوبو وو، د دې لپاره چي تاسو وآزمويي کوم يو مو د عمل له مخي تر ټولو غوره دئ؛ او که ته ووايې چي تاسو به له خپلي مړيني وروسته هرومرو راپاځئ نو هغه چي کفر ئې کړی حتماً به ووايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!

په دې مبارك آيت کې ويل شوي چي الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کې پيدا کړل او عرش ئې پر اوبو وو. د دې آيت په تفسير کې د درنو مفسرينو تر منځ اختلاف تر سترګو کېږي؛ هم په دې اړه چي آيا له شپږو ورځو همدا زموږ اوسنۍ ورځي مراد دي او که شپږ تکويني مرحلې؟ او هم په دې اړه چي د دې فقرې معنی څه ده چي د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پر مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آيا عرش او اوبه د زمکي او آسمانونو له پيدايښت مخکي پيدا شوي؟ آيا عرش داسي شی دئ چي د بل څه پر سر ولاړ وي همغسي لکه د زمکي کوم تخت؟ او که معنی ئې دا ده چي هغه مهال يوازي اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندي وې او نور څه نه وو؟ آيا له اوبو مراد همدا زموږ اوسنۍ د څښلو اوبه دي که دا چي هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ويلي او مايع) وو؟

د دې مبارك آيت په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

- دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځي) يادونه شوې، انسانانو دا دوه نومونه د خاصو شيانو لپاره وضع کړي، کله چي دې ته ورته نومونه د الله تعالی په اړه راځي نو موږ ئې په هغه معنی نشو اخيستی چي انسانان

ئې ورته کاروي، نه عرش داسي شی دئ چي د زمکي کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چي زموږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آیتونو کي چي داسي الفاظ د غیبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آیتونه ویل کېږي، په هغوی کي داسي غیبي شیان چي انسان ورته نوم نه لري په داسي الفاظو یاد شوي چي انسان د لیدل کېدونکو شیانو لپاره وضع کړي، په دې سره موږ ته د غیبي شیانو په اړه نسبي معلومات راکول کېږي، د دې یو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چي قرآن ئې یو ځای د داسي مودې لپاره راوړي چي زموږ له زرو کلونو سره برابره ده او بل ځای ئې د پنځوسو زرو کلونو اوږدې مودې لپاره کارولې. نو دا شپږ ورځي هم دا زموږ شپږ ورځي نه دي چي نږدې دوه اویا ساعتونه کېږي؛ بلکي شپږ تکویني مراحل دي چي اوږدوالی ئې یوازي الله تعالی ته معلوم دئ. د دې تفصیل د قرآن پلوشې په تفسیر کي د الاعراف د سورې د ٥٤ آیت په تفسیر کي ولولئ.

- د آیت د دې فقرې (وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ) په اړه درنو مفسرینو بېل بېل آراء وړاندي کړي، د ځینو له تعبیر داسي معلومېږي چي ګواکي د الله تعالی عرش به د زمکي د سر کوم تخت ته ورته شيء وي او پر اوبو ئې اوسېدا داسي لکه د اوبو پر سر د کوم تخت ودرېدا!! په داسي حال کي چي نه د الله تعالی عرش د زمکي کوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسي ده لکه پر اوبو د زمکي د کوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چي د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه وو او نه د الله تعالی عرش داسي شی دئ چي د ودرېدو لپاره کومي اواري سطحي ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه له کومي ستني پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه داسي څه ته اړ وي؟! دا غلطي انګېرني او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تیاره ذهن زېږنده دي چي الله تعالی او عرش ئې د زمکي د سر له مخلوقاتو سره تشبیه کوي، د آیت معنی دا نه ده چي د آسمانونو او زمکي د پیدایښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر داسي ولاړ وو لکه د زمکي

کوم تخت چي پر اوبو ولاړ وي!! څوك چي د دې آيت په تعبير کې دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسي پوښتنو سره مخامخ کېږي چي هيڅ ځواب ورته نشي موندلی، لکه دا چي: عرش له اوبو مخکي چېري وو او پر څه ولاړ وو؟ الله تعالی له عرش مخکي چېري وو او پر څه ئې استواء کړې وه؟ د قرآن دا استعارې او الفاظ به ئې په تحت اللفظي معنی نه نيسو؛ له ژباړې به ئې هم ډډه کوو؛ يوازې پر عام مطلب او مراد به ئې اکتفاء کوو. تر دې وړاندې مو په دې اړه مفصل بحث کړی.

• د دې آيت له داسي تفسير او تعبير بايد ډډه وشي چي له بل آيت سره تعارض ولري؛ مخکينی آيت (إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ.... الاعراف: ٥٤)؛ يعني الله تعالی لومړی زمکه او آسمانونه پيدا کړي او بيا ئې پر عرش استواء کړې. نو د هود سورې د ۷ آيت داسي تعبير صحيح نه دئ چي ووايو: الله هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، په داسي حال کې چي عرش ئې پر اوبو وو. تفصيل ئې وروسته راځي.

د يوه آيت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چي وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکي او وروسته څه ويل شوي؟ که دلته لږ ځير شو نو راته جوتېږي چي دا آيت له مخکيني آيت سره ژور ارتباط لري، په مخکيني کې ويل شوي چي د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چي د دوی د پيدايښت او مړيني له نېټې خبر دئ:

وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٦ هود:٦

• ورپسې ويل شوي چي الله همغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي. تاسو پوهېږئ چي د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چي

له یوه باران راورېږي او زمکې ته رښا او تودوخه ورکوي او بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي؛ او بیا په آسمان او زمکې کې د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چې ورېدا، ذخیره کېدا، د زمکې پر سر روانېدا ئې د الله تعالی په حکم دي؛ چې خبره داسې ده نو باید پوه شې چې واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وال دئ.

مخکیني درس کې مو ولوستل چې د (کان عرشه علی الماء) مراد دا دئ چې الله تعالی د زمکې او آسمانونو له پیدا کولو وروسته او تر نورو توکو وړاندې اوبه پیدا کړې؛ چې دا د انسان د خلقت او هغه ته د روزي ورکولو تر ټولو مهم او اساسي توکی دئ. ټول ژوي له همدې پیدا شوي او د ټولو ژویو د ژوند او رزق مهمه وسیله او ماده همدا ده.

دا مطلب په همدې توګه د العنکبوت په سوره کې په دې بڼه راغلی:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٦٣﴾ العنکبوت: ٦٠-٦٣

او څومره ژوي داسې دي چې خپله روزي نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم؛ او هغه پوه اورېدونکی دئ؛ او که ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووایي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ، دا خو الله دئ چې له خپلو بندګانو ئې چا ته چې ئې وغواړي روزي ورته پراخه کړي او یا ئې ورته محدوده او تنګه کړي، یقیناً چې هغه پر هر څه ښه پوه دئ؛ او که ئې وپوښتې چې له آسمانه څوك اوبه

راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلې مړینې وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووایي: الله؛ ووایه: ستاینې ټولې الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

په دې آیتونو کې هم ګورئ چې لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بیا د آسمانونو او زمکې د پیدایښت، د لمر سپوږمۍ د تسخیر (چې شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بیا له آسمان د اوبو راورېدا او بیا په زمکې کې د ژوندون پیلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ویل شوي چې رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پیدا شوي او ذمه وال ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چې چا ته څومره رزق او روزي ورکړي.

که لږ ځیر شئ نو درته جوته به شي چې د دغو دواړو سورتونو په دغو آیتونو کې بشپړ ورته والی شته او یو د بل شرح او تفسیر دئ. په هغه ځای کې هم د بحث اصلي موضوع د رزق او روزي موضوع ده؛ هلته هم د زمکې او اسمان یادونه د همدې لپاره شوې ده او دا چې دلته د الله تعالی د عرش او اوبو یادونه شوې؛ او ویل شوي: (و کان عرشه علی الماء) معنی ئې دا ده چې اوبه د الله تعالی د واکمنۍ تر عرش لاندې وې؛ نه دا چې عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو؛ که له هغه پرته بل تعبیر ترې ولرو نو موږ خدای له مخلوق سره تشبیه کړی، له عرش مو یو جسم جوړ کړی؛ او پر اوبو ودرېدا ئې هم داسې لکه د زمکې یو تخت چې د اوبو پر سر ولاړ وي؛ او پر عرش د الله تعالی استوی مو داسې تعبیر کړې لکه چې یو انسان د زمکې پر تخت کښېني، دا د الله تعالی تمثیلول دي، له خپل مخلوق سره ئې ورته کول دي، دا تمثیل، تجسید او تجسیم دئ؛ او دا هغه څه دي چې الله تعالی موږ په خپل قران کې ترې منع کړي یو؛ او په مکرره توګه ئې راته ویلي: الله تعالی ته به مثال نه بیانوئ؛ په دې نړۍ کې هیڅ داسې څه نشته چې الله تعالی ته ورته وي، په خپل ذات، صفاتو او افعالو کې؛ عالَم ټول مخلوق دئ، مکان ته ضرورت لري، له یو ځای بل ځای ته خوځېدو کې زمان ته ضرورت لري؛ خو خدای هم له

مکان مستغني دئ او هم له زمان؛ نه د مکان تابع دئ او نه د زمان. که مو خدای له مخلوق سره تشبیه کړ یا په مخلوق کي مو د هغه لپاره مثال وړاندي کړ، یعني که څوک ووایي: الله تعالی په کرسۍ داسې کښېني لکه انسان چي کښېني؛ نو همدا هغه تمثیل او تشبیه ده چي قرآن موږ ترې منع کړي یو.

دې ته مو هم باید پام وي چي لکه په (عَلَىَ اللهِ رِزقُهَا) کي (علی) د فوقیت او بروالي په معنی نشو اخیستی او داسي نه شو ویلی چي رزق ئې د الله د پاسه دئ بلکي وایو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسي په (کان عرشه علی الماء) کي نه شو ویلي چي عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو، بلکي معنی ئې دا ده چي اوبه د الله تعالی د واکمنۍ تر عرش لاندي وې. ځکه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چي د رزق او روزي وسائل د الله تعالی په واك کي دي.

دې ته مو هم باید پام وي چي که دا آیت په بل ځای کي راغلی وی او هلته د بحث موضوع د عرش څرنگوالی وی نو قرآن موږ ته وایي چي د متشابه آیتونو د الفاظو داسي تأویل چي د مجازي معنی په ځای ئې په حقیقي معنی د پوهېدا هڅي او لټي ته ورته وي؛ د هغه چا کار دئ چي زړونه ئې بیمار وي؛ د ایمان او علم خاوندان د دغو آیتونو د الفاظو له تأویل او په اصلي معنی له ژباړي ډډه کوي او وایي چي په تأویل ئې له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي. دلته په حقیقت کي په دې الفاظو سره موږ ته نه د عرش د څرنگوالي او کیفیت څه ویل شوي او نه دا چي عرش پر څه باندي ولاړ دئ؛ بلکي دا مطلب ویل شوی چي د آسمانونو او زمکي له پیدایښت وروسته د الله تعالی په ملك کي او د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي لومړی پیدا شوې ماده هغه اوبه دي چي انسانان او نور ژوي ترې پیدا شوي (ځکه قرآن وایي چي هر ژوی مو له اوبو پیدا کړی: (وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلا يُؤْمِنُونَ). اوبه همغه ماده ده چي تر ټولو مخکي الله تعالی پیدا کړې؛ او دا همغسي ده لکه چي الله تعالی د ماشوم تر پیدا کېدو وړاندي او مخکي له دې چي هغه داسي

رزق او روزي ته ضرورت ولري چې د خپلې خولې له لارې ئې واخلي؛ الله تعالی د مور په تي کې ورته شېدې پيدا کړې وي؛ ضرورت ورته نه لري؛ خو د الهي دقيقي منصوبې مطابق؛ لا له وړاندې د مور په تي کې ورته مهيا شوې وي؛ له هغې نېټې وړاندې چې ماشوم پيدا کېږي، د مور په تي کې ورته شيدې مهيا شوې وي؛ او دا شيدې هم داسې چې د ماشوم ټول اساسي ضرورتونه په کې تعبيه شوي او ټولو اړتياوو ته ئې ځواب وايي؛ که دا ويټامينونه دي، که پروټين دئ، که غوړ او خواږه دي او که مالگه او نور منرالونه دي؛ په طبيعت کې تر بلې هرې غذا بشپړه او مکمله؛ تر دوو کلونو پورې د ده ټولې اړتياوې رفع کولی شي او يوازې پر همدې غذا اکتفاء کولی شي؛ همداسې د زمکې او اسمانونو له پيدايښت وروسته لومړی ماده چې پيدا شوې؛ هغه اوبه دي.

تر دې مخکينی آيت هم د ژوو د پيدايښت، مرگ او رزق په اړه بحث کوي او دا آيت هم د ټول عالَم پيدايښت ته اشاره کوي؛ او تاسو پوهېږئ چې اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه برخه ده؛ دانه، مېوه او واښه هم په اوبو راټوکېږي. په دې آيت سره موږ ته لارښوونه شوې چې الله تعالی د ژوو تر پيدايښت مخکې د دوی روزي پيدا کړې؛ داسې لکه د ماشوم له پيدا کېدو مخکې چې د مور په تي کې شيدې ورته پيدا کوي.

ساينس وايي: لومړی پيدا شوی عنصر هايدروجن دئ، اتم (۸) ئې آکسيجن دئ؛ د دغو دواړو له ترکيب اوبه پيدا شوې؛ يعني د اوبو د ترکيب له دريو برخو دوه ئې هغه هايدروجن دئ چې تر ټولو نورو عناصرو وړاندې پيدا شوی. او قرآن وايي: د آسمانونو او زمکې د پيدايښت په مهال؛ د الله تعالی په ملك کې او د ده د واکمنۍ تر عرش لاندې؛ لومړنی مرکب اوبه وې. او دا له شك پرته د قرآن يو ستر علمي اعجاز دئ؛ خو متأسفانه ناپوهانو داسې څه ترې جوړ کړي چې په خپله ئې له سم تعبير عاجز دي او بل ته ئې فهم محال کوي!!

د دا ډول آيتونو په تعبير او تفسير کې د اهل ظاهر اسلوب ډېر غلط او

ناسم دئ؛ دا خبره د تعصب له مخي نه كوو، د تفرقې لپاره ئې هم نه كوو، د يووالي لپاره ئې كوو، ملت له يوې لويې ستونزي سره مخ دئ: مذهبي اختلاف؛ دا اختلاف بايد رفع شي، حقيقت بايد څرګند شي، په سړه سينه بايد دا مسائل وڅېړو؛ او په جرأت او متانت سره حق ته غاړه كېښېږدو، تعصب بايد ونه لرو، ړوند تعصب تحريم كړو، ځان ترې وژغورو، كومه شېبه چي موږ ته حقيقت معلوم شي؛ له ځنډ او تأخير پرته هغه ومنو، دا اسلوب چي عرش د الله تعالى مكان ګڼي؛ د زمكي له تخت سره ئې تشبيه كوي او (كان عرشه على الماء) كي اوبه د عرش مكان بولي؛ همغسي لكه د انسان كوم تخت چي د زمكي پر سر يا د اوبو له پاسه ولاړ وي. د دې لپاره چي د دوى د دې غلط اسلوب په تفاهت او غلط والي سم پوه شو؛ دې آيت ته ستاسو توجه رااړوم:

وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾ يونس: ٣٧

او دا قرآن داسي نه دئ چي له الله پرته دې (څوك) په دروغو جوړ كړى شي، خو ليكن د هغه څه تصديقوونكى دئ چي ترې مخكي وو او د كتاب تفصيلي بڼه، چي هيڅ شك پكي نشته؛ د عالميانو د رب له لوري.

دلته د قرآن څو ځانګړتياوي په ګوته شوې:

- داسي دئ چي له الله تعالى پرته ئې هيڅوك د جوړولو توان نه لري، د هغو جامع علومو له پلوه چي قرآن پرې احاطه كړې، د هغو اسرارو له پلوه چي قرآن څرګند كړي، د هغو روښانه لارښوونو له پلوه چي قرآن ئې د انسان مخي ته ږدي، د هغو احكامو له پلوه چي د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د مختلفو اړخونو د تنظيم لپاره قرآن وړاندي كړي، د هغه خوندور، جذاب، اغېزناك او جالب اسلوب له پلوه چي په قرآن كي د مطالبو د بيان په اړه غوره شوى، بالآخره له هره پلوه دا قرآن داسي دئ چي انسان نه بلكي يوازي الله تعالى ئې په وړاندي كولو قادر دئ.

- د مخکینیو الهي کتابونو تصدیقوونکی دئ، که څوك تر دې د مخه په کوم بل الهي کتاب ایمان لري، نو دا قرآن به داسي ومومي چي د هغه کتاب د هر اساسي مطلب او هري مهمي خبري تصدیق کوي؛ همغه څه وایي چي هغو کتابونو ویلي.
- د الهي کتاب تفصیلي بڼه دئ، څه چي په نورو کتابونو کې په مجمله او مختصره توګه راغلي په قرآن کې په لا زیات تفصیل او وضاحت سره راغلي.
- د شك مورد په کې موندلی نه شئ، هیڅوك نه شي توانېدی په قرآن کې داسي څه په ګوته کړي چي د هغه په حقانیت کې او په دې کې چي دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ؛ شك او شبهه راولاړه کړي.
- د دې کتاب هر څه په دې ګواهي ورکوي چي د عالمیانو د رب له لوري لېږل شوی.

دلته د قرآن دا ځانګړتیاوي د دې لپاره بیان شوې چي د مخکینۍ سلسلې په لړ کې مشرکینو ته مزید وویل شي چي پر مخکینیو دلائلو علاوه دا قرآن د یوه داسي لارښود کتاب په توګه ستاسو مخي ته پروت دئ چي ستاسو ټولو پوښتنو ته ځواب وایي، ستاسو ټول شکونه له منځه وړي او د ژوند د هري پېښي په اړه ستاسو لارښوونه کوي.

په دې آیت کې د قرآن په اړه ویل شوي: تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ؛ تحت اللفظي ترجمه ئې داسي ده: قرآن د هغه څه تصدیق کوي چي د لاسونو تر منځ ئې دي؛ خو مراد ئې دا دئ چي قرآن ټول هغه الهي کتابونه تصدیقوي چي تر ده مخکې نازل شوي. اوس که کوم اهل ظاهر ووایي: دلته قرآن ته (ید) یعني لاس منسوب شوی؛ د بین یدیه صیغه کارول شوې یعني د ده لاسونو منځ کې؛ نو معنی ئې فقط دا ده چي قرآن لاسونه لري او مخکیني کتابونه هم د ده په لاسونو کې داسي ځای پر ځای شوي لکه چي څوك کتابونه په خپل لاس کې نیسي!!! آیا دا ډېره کچه او غلطه د خندا وړ خبره نه ده؟ آیا

دا د قرآن د دغه آيت د مراد او مطلب خلاف تفسير او تعبير نه دئ؟ د (استوى على العرش) او (عرشه على الماء)، (يداه مبسوطتان) او دې ته ورته نورو آيتونو کې د دوى غلط تعبير همداسي د خندا وړ دئ.

د (کان عرشه على الماء) په اړه ځينو درنو مفسرينو ويلي چي دا عالم د آسمانونو او زمکي تر پيدايښت مخکي د مائع (اوبو) په څېر وو، که څه هم دا تعبير تر يوه حده د پام وړ دئ، خو دا تعبير به يوازي په هغه صورت کې د منلو وړ وو چي د بحث اصلي موضوع د عرش د څرنګوالي بيانول وى؛ نه ژوو ته روزي ورکول.

دا يو له هغو آيتونو دئ چي اهل ظاهر او هغه خلك ئې له فهم، تفسير او واضح تعبير عاجز دي چي استعارې او په متشابه نصوصو کې راغلي الفاظ د مجازي معنى پر ځاى په حقيقي معنى نيسي، د دوى د مسلك له مخي بايد د دې آيت دا فقره (وَ كَانَ عَرشُهُ عَلىَ المَاءِ) داسي تعبير کړي چي ګواکي د آسمانونو او زمکي له پيدا کېدو مخکي د الله تعالى عرش (تخت) د اوبو پر سر پروت وو!! که پوښتنه وشي چي آيا عرش او اوبه ازلي دي؟ آيا له الله تعالى سره لازم او ملزوم؟ د دوى د تعبير معنى خو همدا ده، دوى له عرش پرته د الله تعالى تصور هم نه شي کولى، اما موږ وايو هماغسي چي قرآن وايي الله تعالى اول زمکه او اسمانونه پيدا کړي او بيا ئې پر عرش استوى کړې، يعني عرش بعدي دئ، نه مخکني، خو عرش مکان نه دئ؛ او الله تعالى هم مکان ته اړ او محتاج نه دئ، مکان د مخلوق ځانګړتيا او احتياج دئ، دا يو عيب دئ، محدوديت افاده کوي، خداى محدود نه دئ. پوښتنه کوو: دا عرش د اوبو تر پيدايښت د مخه چېري او د څه د پاسه وو؟ آيا دلته له اوبو همدغه زموږ د څښلو اوبه مراد دي چي دا خو د آسمانونو او زمکي له پيدايښت ډېر وروسته پيدا شوې او که مراد ترې دا دئ چي دا عالم د مائع او اوبو په څېر ويلي وو؟ د دې الفاظو معنى څه ده چي عرش ئې پر اوبو وو؟!! دغو پوښتنو ته هيڅ ځواب نشي ويلى.

دا آیت موږ ته دا خبره هم کوي چي د ټول عالم د خلقت او پیدایښت اصلي او تر ټولو ستره موخه د انسان آزموینه او د دې آزمېښت له لاري د هغه انسان راڅرګندېدا ده چي د عمل له مخي تر ټولو مخلوقاتو غوره دئ.

یعني د دې عالم د پیدایښت موخه همدا ده چي هغه انسان راڅرګند شي چي تر ټولو اکرم او افضل دئ، له دې معلومېږي چي د الله تعالی په وړاندي د انسان پیدایښت څومره ارزښت لري. د همدې لپاره پیغمبر علیه السلام فرمايي: د ټول عالم او کائنات ختمېدا او زوال؛ د الله تعالی لپاره ډېر أهون او آسان کار دئ نسبت د یوه مؤمن قتل ته؛ یعني که دا ټوله زمکه له ټولو مساجدو سره، له ټولو مقدسو ځایونو سره د کعبي په شمول وران شي، الله تعالی ته دومره ارزښت نه لري؛ لکه د یوه مسلمان وژل.

که د هود سورې ۷ آیت ته لږ په دقت سره ځیر شو نو ګورو چي د غوره انسان پیدایښت ئې د ټول عالم د پیدایښت اصلي موخه او هدف ګڼلی؛ او وايي:

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا .... هود: ۷

او دی هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل؛ او عرش ئې پر اوبو وو، د دې لپاره چي تاسو وآزمويي کوم یو مو د عمل له مخي تر ټولو غوره دئ؛

دا ښيي چي په الهي معیارونو کې د صالح انسان ارزښت څومره لوړ دئ؛ دا ټول عالم، آسمانونه او زمکه د همدې انسان د راڅرګندېدو لپاره پیدا شوي.

## آيا الله تعالی د ځمکي آسمان ته راکوزېږي؟

د مسلمانانو تر منځ د اختلاف یوه بله موضوع د هغه روایت له بېلو بېلو تعبیرونو راولاړه شوې چي وايي: الله تعالی د شپې په وروستۍ درېيمي برخي کي د دنیا آسمان ته راکوزېږي او وايي: څوك شته چي دعاء راته وکړي او زه ئې دعاء قبوله کړم؛ څوک شته چي څه رانه وغواړي او زه ئې ورکړم؛ څوک شته چي بخښنه رانه وغواړي او زه ئې وبخښم؟. روایت دا دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ يَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ ». (بخاری:۱۱٤٥)

دا روایت په بخاري کي درې ځلي راغلی؛ د سند له پلوه غریب دئ، په صحابه وو کي یو، په تابعینو کي دوه او په تبع تابعینو کي یو راوي لري، د تابعینو دوه راویان د ابو هریره دوه دوستان دي، چي په ځینو کي د یوه نوم او په ځینو کي د دواړو نومونه راغلي. د متن له پلوه داسي دئ چي نه یوازي په قرآن کي کوم شاهد ورته نه مومو، بلکي د قرآن له هغو آیتونو سره تعارض لري چي وايي: الله تعالی بنده ته ډېر نږدې دئ، د غاړي تر رګ هم ورنږدې دئ، په هر ځای کي ورسره دئ، که یوازي وي او که له نورو سره یو ځای، همدا راز په قرآن کي د الله تعالی د نزول او راکوزېدو انګېرنه مشرکینو ته منسوب شوې لکه چي فرمايي:

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ

وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٢١٠﴾ البقره:۲۱۰

آیا دوی له دې پرته د بل څه انتظار نه لري چې الله تعالی او فرشتې د وريځو په سیوري کې ورته راشي او کار پای ته ورسېږي؟ حال دا چې کارونه ټول الله ته محول کېږي.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ.... ﴿١٥٨﴾ الانعام: ۱۵۸

آیا له دې پرته بل انتظار نه لري چې فرشتې او ستا رب ورته راشي؟

دا او دې ته ورته آیتونه د بایبل هغه وینا ردوي چې وايي: الله تعالی د وريځو په لړو کې راغی او موسی علیه السلام ته ئې ځان وروښود!! نه یوازې موسی علیه السلام ته؛ بلکې د یهودانو ډېرو نورو انبیاو ته هم، د خدای په اړه د بایبل تصور دا دئ چې خدای له یعقوب علیه السلام سره غېږه ونیوله، هر څومره چې ئې زور وواهه ونشو توانېدی چې یعقوب علیه السلام راځملوي. زموږ اهل ظاهر هم همدا تصور ترې اخیستی!! د بایبل خدای له یعقوب سره غېږ نیسي او دومره کمزوری دئ چې د هغه له راپرځولو عاجز او په پای کې هم د بایبل خدای پر ښي ورون یوه لګته ورکړه، د یعقوب علیه السلام دغې پښې تر پایه درد کولو او له همدې کبله یهودان د پسه د ښي ورون غوښه نه خوري!! دا د بایبل خدای دئ، کټ مټ یو انسان، زور ئې هم لکه له یوه انسان سره برابر، بلکې د انسان له ځملولو عاجز! هغه کلک نیولی خو دی ځان نشي ترې خلاصولی؛ یعقوب علیه السلام ئې تر هغه نه پرېږدي چې ده ته برکت ورکړي، نو مجبور شوی چې برکت ورکړي او یعقوب ئې پرېږدي!! ګورئ چې د الله تعالی په اړه د بایبل او اهل ظاهر تصور او انګېرنه سره ورته ده؛ کټ مټ ئې انسان ته ورته؛ دوه لاسونه او دوه پښې لري، لاس او پښه ئې پنځه پنځه ګوتې، رداء لري، ساق لري... تفاوت ئې له انسان سره فقط دومره چې هغه خدای دئ او دا یو انسان؛ او په پای کې وايي: بلا تشبیه او بلا تکییف!! دا بلا تشبیه او بلا تکییف څه ګټه کوي؟ د بلا تشبیه قید کومه

ستونزه حل کولی شي؟!!

په نورو روایاتو کې هم پورتني روایت ته ورته مطلب نه تر سترګو کېږي؛ که څه هم عباده بن صامت رضي الله عنه ته داسي یو روایت منسوب شوی خو په سند کې ئې ضعف دئ.

دې ته مو پام وي چي الله تعالی نه په زمان مقید دئ او نه په مکان محدود، دا د مخلوق خصوصیت او ځانګړتیا ده چي د زمان او مکان تابع وي، نه د زمان له قید وتلی شي او نه د مکان له محدودیت، په یوه وخت کې یوازي په یوه ځای کې وي، نه په دوو ځایونو کې او نه په هر ځای کې، که په بل ځای کې راڅرګندېږي نو مخکینی ځای باید پرېږدي. خو الله تعالی د مخلوق په څېر نه دئ، نه ئې نزول د مخلوق په څېر دئ چي له لوړ لاندي راکوزېږي، نه په خاص مکان مقید او محدود دئ چي یو ځای وي او بل ځای نه، نه لري والی او نږدې والی د هغه په اړه مطرح دئ، داسي چي نږدې او لري لیدل او اورېدل ورته توپیر ولري.

متأسفانه ځیني خلك دلته هم د دې پر ځای چي د نزول کلمه د نورو مواردو په څېر په مجازي معنی ونیسي هغه په حقیقي معنی نیسي او ګمان کوي چي الله تعالی له عرش د دنیا آسمان ته راکوزېږي، داسي لکه کوم مخلوق چي له کومي لوړي لاندي ځای ته راکوزېږي!! دوی ته وایو: ١- الله تعالی خو په هر ځای کې له بنده سره دئ، د غاړي تر رګ ورنږدې دئ، ټیټ او جګ ږغ ئې یو شان اوري، هره دعاء ئې قبلوي، نو د دنیا آسمان ته راکوزېدل یعني څه؟ په دې دواړو کې به کومه خبره منو؟ له مورږ سره یو ځای دئ که له لومړي آسمان او عرش زمورږ ږغ اوري؟ ٢- د شپې درېیمه خو تل د زمکې پر سر موجوده وي، دا ګړۍ دلته، بله ګړۍ په ایران کې، بله ګړۍ په سعودي کې... همداسي تر هغه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پاته وي چي څلرویشت ساعته وروسته بیا پر مورږ راشي؛ نو ستاسو د تعبیر له مخي خو د دې معنی دا شوه چي الله تعالی څلرویشت ساعته له عرش لري په لومړي آسمان کې وي!! نو د

نزول مصداق به څه وي؟ ۳- د الله تعالی په اړه متشابه الفاظ په هیڅ مورد کې په متبادره معنی نشو اخیستی، که دا غلطي مو وکړه نو الله تعالی به مو له مخلوق سره تشبیه کړی وي او له داسي پوښتنو سره به مخامخ کېږو چي ځواب ئې نشو ویلی. آیا څوك کولی شي د دغو مخکینیو پوښتنو ځواب ووايي؟

که ومنو چي ښايي رسول الله صلی الله علیه و سلم به دا خبره کړې وي نو معنی او مراد ئې دا دئ چي الله تعالی د هغه بنده دعاء ژر قبلوي چي د شپې په درېیمي برخي کي الله تعالی ته دعاء کوي.

ما له تحقیق مخکي پر دې روایت ډېر ځلي استناد کړی؛ خو اوس او له تحقیق وروسته دې نتیجې ته رسېدلی یم چي له دې وروسته به هیڅکله پرې استناد نه کوم؛ له دې وېري چي مبادا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوب کړم چي هغه نه دي ویلي!!

دې ته مو پام وي چي اسلامي امت یو مهال له دې خطرناکي فتنې سره مخامخ شو چي قرآن شا ته وغورځول شو، د جعلي او موضوعي احادیثو بازار تود شو، کله به یوې ډلي د خپل دریځ په ګټه احادیث جوړول او کله به بلي ډلي د دغو موضوعي احادیثو په ځواب کي متضاد احادیث راپیدا کول. له علي رضي الله عنه په روایت شوي یوه حدیث کي دې فتنې ته داسي اشاره شوې:

عَنْ الحَارِثِ، قَالَ: مَرَرْتُ فِي المَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ يَخُوضُونَ فِي الأَحَادِيثِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَلِيٍّ، فَقُلْتُ: يَا أَمِيرَ المُؤْمِنِينَ، أَلَا تَرَى أَنَّ النَّاسَ قَدْ خَاضُوا فِي الأَحَادِيثِ، قَالَ: وَقَدْ فَعَلُوهَا؟ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: أَمَا إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ». فَقُلْتُ: مَا المَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ، وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ، وَهُوَ الفَصْلُ لَيْسَ بِالهَزْلِ، مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللَّهُ،

وَمَنْ ابْتَغَى الهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللَّهُ، وَهُوَ حَبْلُ اللَّهِ المَتِينُ، وَهُوَ الذِّكْرُ الحَكِيمُ، وَهُوَ الصِّرَاطُ المُسْتَقِيمُ، هُوَ الَّذِى لَا تَزِيغُ بِهِ الأَهْوَاءُ، وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الأَلْسِنَةُ، وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ العُلَمَاءُ، وَلَا يَخْلَقُ عَلَى كَثْرَةِ الرَّدِّ، وَلَا تَنْقَضِى عَجَائِبُهُ، هُوَ الَّذِى لَمْ تَنْتَهِ الجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا: {إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِى إِلَى الرُّشْدِ} [الجن: ١] مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ، وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ، وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ " فى رواية (هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ). رواه ابن أبى شيبة، والدارمى، والترمذى

له حارث الاعور روايت دئ چي وايي: په يوه جومات تېر شوم، خلك مي وليدل چي د احاديثو په اړه لگيا دي، نو علي بن ابي طالب رضي الله عنه ته ورغلم او ورته ومي ويل: اې امير المؤمنينه! آيا نه گورې چي خلك په احاديثو کې په بحثونو لگيا دي؟ وئې ويل: آيا همداسي ئې کړي؟ ومي ويل: هو؛ وئې ويل: خو ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلي چي فرمايل ئې: دا به يوه فتنه وي (په بل روايت کې داسي راغلي: له ما وروسته به داسي احاديث راڅرگند شي چي ويونکي به ئې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل، له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل؛ دا ټول به زما په اړه تور او افتراء وي، قسم پر هغه ذات چي زه ئې په حق سره رالېږلی يم؛ زما امت به د خپل اصلي دين او جماعت په اړه په دوه اويا فرقو ووېشل شي، ټول به هم په خپله بې لاري وي او هم به د نورو بې لاري کوونکي وي، چي د دوزخ لوري ته به بلنه ورکوي، که داسي وشول نو پر تاسو لازمه ده چي د الله تعالى پر کتاب منگولي ولگوئ.) علي رضي الله عنه وايي: ما ورته وويل چي له دې فتنې د وتلو لار کومه ده؟ وئې فرمايل: د الله کتاب؛ چي په هغه کې د مخکينيو قومونو قصې دي او د راتلونکو قومونو په اړه خبر، ستاسو تر منځ (د شخړو او منازعاتو په اړه) حکم او پرېکړه، هغه فيصله کوونکی دئ (د حق او باطل

تر منځ پرېکنده حکم)، هسي خوشې وينا نه ده، هر جابر چې هغه پرېږدي الله تعالی به ئې مات مات کړي، څوك چې له ده پرته په بل څه کې هدايت ولټوي الله تعالی به ئې بې لاري کړي، همدا د الله تعالی مضبوطه رسۍ ده، همدا له حکمت ډك پند او ذکر دئ، همدا مستقيمه لار ده، همدا هغه څه دئ چې نه ئې هوی او هوس کږولی شي او نه ئې ژبې ګډوډولی شي، نه علماء پرې مړېدلی شي او نه په ډېرو لوستلو سره زوړوالی مومي، نه ئې عجائب پای ته رسي، دا همغه کتاب دئ چې کله پېريانو واورېدو نو له دې ئې ډډه ونه کړه چې ووايي: موږ عجيب قرآن واوريد، د کمال لوري ته بلنه ورکوي نو ايمان مو پرې راوړ، څوك چې د قرآن له مخې څه ووايي نو رښتيا ئې ويلي، چا چې عمل پرې وکړ نو اجر ئې په برخه شو، چا چې حکم پرې وکړ عدالت ئې وکړ او چا چې (نور) د ده لوري ته وبلل؛ هدايت ته ئې بلنه ورکړې. او په بل روايت کې؛ په خپله مستقيمې لاري ته هدايت شو...

که څه هم ترمذي د دې روايت د سند په اړه څه ملاحظات لري او وايي: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ؛ وَهَذَا الْحَدِيثُ لَا نَعْلَمُهُ يُرْوَى إِلَّا عَنْ عَلِيٍّ، وَلَا نَعْلَمُ رَوَاهُ عَنْ عَلِيٍّ، إِلَّا الْحَارِثُ: دا حديث غريب دئ؛ له دې لاري پرته ئې له بلې لرۍ نه مومو؛ او دا حديث يوازي له علي رضي الله عنه روايت شوی او له علي هم يوازي حارث روايت کړی. داسي خبره خو د ټولو هغو رواياتو په اړه کېدی شي چې غريب وي او په يوې طبقې کې يوازي يو راوي ولري؛ د بخاری ډېری روايات همداسي دي. کېدی شي پر حارث ملاحظات وي او له دې کبله ترمذي ضعيف ګڼلی وي؛ خو د روايت متن ډېر ښکلی او دقيق دئ او په هغه کې چې د قرآن په اړه څه ويل شوي ټول ئې د قرآن له آيتونو اخيستل شوي مطالب دي. حقيقت دا دئ چې ډېر خلك په دې فتنې اخته شوي؛ قرآن ته ئې شا کړې او پر ضعيفو او د قرآن خلاف رواياتو نښتي.

# رفع اليدين

## د لمانځه تکبيرونو کې لاسونه لوړول

دا يوه له هغو قضاياوو ده چې موږ د شوروي خلاف جهاد په دوران کې ورسره مخامخ شوو؛ هغه مهال چې يو شمېر عرب رضاکاران افغانستان ته راغلل، ځيني ئې ډېر مخلص او د امت غوره شوي شخصيتونه؛ خو د دوی تر څنګ داسې افراد هم راغلل چې د عربي هېوادو استخباراتو رالېږلي وو.

ستونزه دغو را پيدا کړې وه؛ نه هغو مخلصو چې هم ئې اخلاص درلود او هم هوښيارتيا، نه ئې غوښتل چې د دوی کوم لفظ او حرکت د اختلاف باعث شي؛ حتی ډېر ئې سره له دې چې سلفيان ول؛ په رکوع او له رکوع راپورته کېدو کې له تکبير سره يو ځای د لاسونو پر لوړولو ئې باور درلود؛ خو د دې لپاره ئې دا کار نه کولو چې حساسيتونه را ونه پارېږي.

د جهاد په دوران کې ځينو عربي هېوادو تر هغه د مجاهدينو ملاتړ کاوو چې امريکايانو همدا کار ترې غوښتو؛ داسې ئې انګېرله چې که شوروي ځواکونه له افغانستان را تېر شول او د مجاهدينو مقاومت وځپل شو، نو د دې ځواکونو بل ګام به د خليج په لوري وي؛ او دوی ئې له مقابلې عاجز؛ دوی عملاً په خپلو سترګو ليدل چې د عربو ډېر هېوادونه د شوروي هېواد په اقمارو بدل شوي وو، د مصر لوی هېواد، عراق، سوريه، يمن، سودان حتی د فلسطينيانو الفتح ګوند؛ دا ټول يو په بل پسې د مسکو په پلويانو بدل شوي وو، وېرېدل که افغان مجاهدين مات شي؛ بيا دوی هم نه شي تم کېدلی، بيا

---

به د خليج ټول هېوادونه د شوروي په لاس کې پرېوزي، د نفت او ګاز څاه ګانې به هم د شوروي لاس کې غورزي، د همدې لپاره ئې د دې جهاد ملاتړ کولو؛ او په جهاد کې د بهرنيو رضا کارو جنګياليو د شرکت مخه ئې نه نيوله؛ بلکې تشويقول ئې، له مجاهدينو سره ډېرى مرستې همدا ولسي مرستې وې، خو کله چې سپيني ماڼۍ دا پرېکړه وکړه چې په کابل کې د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت د جوړولو مخنيوى وکړي، د شوروي اتحاد ګواښ او خطر منتفي شوى، د جنګ يوه جبهه اوس له منځه تللې، د غرب او کمونيزم ترمنځ جنګي جبهه، د دې جبهې اصلي بريالي اتلان افغان مجاهدين ول؛ تر دې وړاندې په دريو جبهو کې جنګ روان وو، سوړ او تود جنګ: د غرب او کمونيزم تر منځ، د کمونيزم او اسلام تر منځ او د غرب او اسلام تر منځ؛ د کمونيزم په ماتې او زوال سره؛ دوه جنګي جبهې ختمې او يوه پاته شوه؛ د غرب او اسلام تر منځ جنګي جبهه؛ له موجود وضعيت د غرب انتباه او تشخيص دا وو چې که مجاهدين وتوانېدل په کابل کې اسلامي حکومت جوړ کړي؛ دا هم له هغه وروسته چې يوه داسې ستر او خطرناك ځواك ته ئې ماته ورکړې چې غرب او امريکا ئې له مقابلې عاجز وو، نو نتيجه به ئې دا وي چې د جهاد دا برياليۍ تجربه نورو هېوادو ته هم انتقال شي؛ په ځانګړې توګه هغو اسلامي هېوادو ته چې د امريکا اقمار ګڼل کېدل؛ طبيعي ده چې جهاد په افغانستان کې محدود پاته نشي؛ لمن ئې خوره شي او په نورو اسلامي هېوادو کې همدا تجربه تکرار شي؛ دا انګېرنه او وېره د دې باعث شوه چې امريکا او سيمه ايز اذناب او اقمار ئې له مخکيني دښمن؛ شوروي سره لاس يو کړي او په ګډه د مجاهدينو خلاف متحده جبهه پرانيزي؛ او پرېنږدي چې په افغانستان کې د مجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړ شي.

که تش په نامه مجاهدين له روسانو او کمونستانو سره يو ځاى شوي او د ملګرتيا معاهدې ئې لاسليك کړې؛ دا کار ئې د سعودي په وساطت کړى، مهندسي د سعودي له لوري وه؛ له رياض مسکو ته انتقال شوي؛ ټول له دې

---

وېرېدل چي په افغانستان کي د جهاد تاريخي تجربه بريالۍ نشي. له پېړيو پېړيو وروسته؛ د لومړي ځل لپاره د جهاد په نامه يو اغېزمن او بريالی حرکت پيل شو؛ شعار ئې آزادي او اسلامي نظام قائمول وو؛ ټول ئې له بريا وېرېدل؛ د کفر، شرک او نفاق ګډه جبهه ئې په خلاف جوړه شوه؛ د دې لپاره چي په افغانستان کې د اسلامي نظام تأسيس د دوی لپاره لوی او خطرناك ګواښ وو. امريکا ځينو عربي هېوادو ته دنده وسپارله چي د مجاهدينو په ليکو کې د مذهب تر پوښښ لاندي اختلافات راولاړ کړي؛ دغو هېوادو لاس پر سينه کېښود او د واشنګټن د اوامرو د تعميل لپاره ئې ملا وتړله، تهران لا د مخه له مسکو او واشنګټن سره لاس يو کړی وو. د مجاهدينو په ليکو کې اختلاف راولاړول د غربيانو او د دوی د لاس پوځو تر ټولو خطرناکه منصوبه وه، غربيانو داسي ځېري لټولې چي نه دين لري او نه مذهب، نه د اخلاقي حدودو پروا ساتي او نه د ملي هويت او ملي فرهنګ او کلتور، همغسي کسان چي روسانو غوره کړي او روزلي وو، همغه چي د شوروي پروتوکولي همکاران شول؛ پټې معاهدې ئې ورسره درلودې؛ دوی ټول د ناټو په پښو کې هم ولوېدل او د امريکايي او اروپايي افسرانو تر قومندې لاندي د خپل ملت په خلاف وجنګېدل، په پاکستان او ايران کې جوړې شوې ټولې ډلي او د کابل چپي ګوندونه؛ مسکو پلو او چين پلو ئې؛ له استثناء پرته؛ د ناټو افغاني سرتېري او مليشې شول؛ له ناټو سره راغلل، د اقتدار پر کرسيو نصب شول، شل کاله د بهرنيو په خدمت کې ول او په پای کې له دوی سره يو ځای؛ مخکې او وروسته ووتل. په دوی کې کمونستان داسي ول چي ګمان ئې کولو خاص افکار لري او خپل آرمانونه او شعارونه؛ خو ډېر سخيف او غلط افکار او ګنده آرمانونه او غولوونکې شعارونه؛ په حقيقت کې ګوډاګي او د پرديو د لاس آله؛ د هر مهاجم او اشغالګر په خدمت کې؛ او سيکولران بيا داسي وو چي تر کمونستانو لا زيات منحط، لاابالي، بې مفکورې، بې هدف؛ نه ئې انساني آرمانونه درلودل او نه ئې پر کوم معنوي او اخلاقي ارزښت باور؛ له يوې خوا ايران د شيعه وو په

تنظيمولو بوخت وو، اته ډلې ئې ترې جوړې کړې؛ د دې لپاره اته چې شمېر ئې د پېښور ميشتو ډلو په پرتله زيات وي؛ دلته اوه او هلته اته!! خو په دې اتو کي يو هم داسي پاته نه شو چي له ناټو سره يو ځای نه وي راغلي او نه وي وتلي. او په پاکستان کي جوړ شوي احزاب؛ چي د امريکا په وينا او په دې موخه جوړ شوي وو چي پرېنږدي د شوروي خلاف جهاد؛ له پيل تر پای؛ يوازي د حزب اسلامي له لوري سوق او اداره شي؛ او په يوه متحد، مضبوط او بريالي اسلامي نظام منتج شي؛ دوی د شوروي ځواکونو ماته او له افغانستان وتل غوښتل؛ خو هممهاله ئې دا هڅه کوله چي د شوروي ماته او وتل؛ د مجاهدينو په بريا او د دوی په لاس د اسلامي نظام په قائمېدو منتج نه شي. دا هغه څه وو چي دوی سخت ترې وېرېدل، غوښتل ئې په هر صورت او هره بيع د دې مخنيوی وکړي؛ په پېښور کي د حزب اسلامي خلاف د ډلو جوړولو موخه او هدف همدا وو؛ دا دئ ومو ليدل چي ټولي دغه ډلې؛ له استثناء پرته؛ د ناټو په پښو کي ولوېدلې؛ له ناټو سره يو ځای راغلل او يو ځای ووتل!! د اشغال په شلو کلونو کي؛ ټول د اشغالگرانو په خدمت کي ول او د هغوي لپاره د افغانانو خلاف جنگېدل!! له بلي خوا ځينو عرب هېوادونو؛ د اسلامي خواخوږۍ تر پوښښ لاندي؛ او له خرما او خېمو سره يو ځای؛ په افغانانو کي د يوه نوي مذهب رائجولو لپاره متې رابروهلې وې؛ موخه ئې دا نه وه چي دا مذهب ورته خاص ارزښت درلود او د مذهبي جذبې له مخي ئې هغه ته کار کولو؛ بلکي غوښتل ئې د مجاهدينو په ليکو کي د اختلافاتو راولاړولو لپاره د يوې اغېزمني وسيلې په توگه ترې استفاده وکړي. د مذهب په نامه اختلاف راولاړول؛ په تاريخ کي اوږده سابقه لري؛ که کمونيستانو او غربپالو پر دين نيوکي کولې او که د عربي هېوادو په استخباراتي شبکو پوري تړلو څېرو او ډلو پر حنفي مذهب گوزارونه کول؛ هغه هم په داسي حال کي چي افغانان د اشغالگرانو خلاف په ستر او له کړاوونو ډك جهاد مصروف ول او هره ورځ ئې گڼ شمېر شهيدان ورکول؛ وجه ئې همدا وه چي اشغالگرانو زموږ دين او

---

مذهب د يووالي او مقاومت اساسي او اصلي عامل ګڼلو؛ د مقاومت د ځپلو لپاره ئې بايد دا بنسټ او ستر عامل او محرك نړولی وی. ۹۵٪ افغانانو يو مذهب درلود؛ همدا ئې د يووالي او وحدت يو لوی او اغېزمن عامل وو، په نورو اسلامي هېوادو کي بېل بېل مذاهب؛ له يوې خوا د ملي يووالي د تضعيف باعث شوي او له بلي خوا ئې په هغوی کي مذهبي شخړي او منازعات رامنځته کړي؛ په افغانستان کي د نويو مذهبي ډلو رامنځته کول؛ هغه هم د اشغال خلاف د جهاد په دوران کي؛ يقيناً چي د دې خبيثي منصوبې تر شا د خطرناکو اسلام ضد استخباراتي شبکو خبيث لاسونه وو؛ غوښتل ئې افغانان په کورنيو مذهبي لانجو او نښتو کي ښکېل کړي او له دې لاري ئې يووالی متلاشي او مقاومت کمزوری کړي.

عملاً مو ليدل چي د دغو ډلو مبلغينو به تقليد او د مذهب متابعت شرك ګاڼو، د لمانځه په تکبيرونو کي لاسونه لوړول به ئې دومره ضروري ګڼل لکه چي فرض وي او داسي نه کولو ته به ئې د حديث خلاف عمل په سترګه کتل، دا نه د دې لپاره چي د فقهاءو تر منځ يوه اختلافي مسئله ده؛ بلکي فقط د دې لپاره چي په دې نامه په افغانانو کي اختلاف راولاړ کړي، ځينو ئې په ناپوهي سره دا کار کولو او له دې ئې دا توقع هم درلوده چي فقط په همدې سره به مخامخ جنت ته درومي او الله تعالی به ترې راضي کېږي!! خلکو ته به ئې ويل: دا دئ د بخاري ټول روايات وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه وو به د لمانځه په تکبيرونو کي لاسونه لوړول، له قرآن او حديث بې خبره خلك به د دوی د غلطو تبليغاتو تر اغېز لاندي راغلل، غرضي او مرضي خلکو به د خرما، خېمې او ريال لپاره له دوی سره موافقه وکړه، خپل مخکينی مذهب به ئې پرېښود او نوی مذهب به ئې غوره کړ. دوی په دې نه پوهېدل چي بخاري يوازي هغه روايات راوړي چي د ده د رأيي او مسلك تأييد کوي، هغه روايات ئې پرېښي چي د ده له مسلك سره اړخ نه لګوي، د بخاري يوه لويه ستونزه همدغه ده، نورو کتابونو په امانت سره د دواړو لوريو د استناد

وړ روايات راوړي. زموږ علماءو هم انفعالي موقف غوره کړی، خلکو ته يوازي دا وايي چي پام کوئ وهابي نه شئ او خپل پلرنی مذهب پرېنږدئ!! نه ئې په خپله د احنافو د رأيي اړوند احاديث وړاندي کولی شو او نه ئې د احاديثو په کوم کتاب داسي حواله ورکولی شوه چي خپل مخاطب پرې قانع کړي!!

موږ په داسي حال کي چي د ټولو حقه مذاهبو درناوی کوو، د مسلمانانو يووالی غواړو، په فرعي فقهي مسائلو کي د مذاهبو تر منځ اختلاف د دې وړ نه ګڼو چي مسلمانان سره بېل شي او يو د بل په ضد د دښمنۍ جبهه پرانيزي، مخصوصاً نن چي ټول کفري ځواکونه، مشرکين، منافقين او روافض په يوه صف کي د حقيقي مسلمانانو په ضد ودرېدلي. خو د دې لپاره چي د دغو فرعي اختلافاتو حقيقت څرګند شي دا بحث وړاندي کوو.

راشئ وګورو چي د لمانځه په ټولو تکبيرونو کي لاسونه لوړول د صحيح او معتبرو احاديثو موافق عمل دئ که مخالف؟ د احنافو رأی د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنت مطابق ده که د دوی د مخالفينو؟ حتماً پوهېږئ چي احناف يوازي د لمانځه په ابتداء؛ تکبير تحريمه کي لاسونه لوړوي او په نورو تکبيرونو کي ئې نه لوړوي؛ البته د اختر په لمونځ کي له ٦ اضافي تکبيرونو سره لاسونه لوړوي او په وتر کي هم؛ اما ځيني نور په دې باور دي چي ګواکي پيغمبر عليه السلام  به تکبير تحريمه کي هم لاسونه لوړول، رکوع ته تللو کي هم او له رکوع ببرته راپورته کېدو کي هم؛ داسي روايات هم شته چي ګواکي رسول الله  صلى الله عليه وسلم به سجدي ته تلو او را پورته کېدو کي هم لاسونه لوړول؛ له دغو ټولو آراءو کومه يوه غوره، دقيقه او د سنتو او صحيحو احاديثو مطابق ده.

بخاري د رفع اليدين لپاره دا ترجمة الباب ايښی:

باب رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي التَّكْبِيرَةِ الأُولَى مَعَ الِافْتِتَاحِ سَوَاءً

باب: له تکبير أولىٰ سره سم د لاسونو پورته کول

او تر همدې عنوان لاندي ئې دا روايت راوړی:

**حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ، وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا وَقَالَ « سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ». وَكَانَ لاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السُّجُودِ.**

**له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د لمانځه په پيل او رکوع ته د تکبير ويلو په وخت کي خپل لاسونه تر اوږو پوري پورته کول، له رکوع د سر پورته کولو په وخت کي به ئې همداسي لوړ کړل او فرمايل به ئې (سَمِع اللهُ لِمَن حَمِدَه، رَبَّنا ولَكَ الحَمدُ)، خو په سجدو کي ئې داسي نه کول. يعني د سجدې په وخت کي به ئې لاسونه نه لوړول.**

**دا روايت ئې پنځه ځلي په دغو شمېرو راوړی: ۳۸٤، ٦۹۳، ٦۹٤، ۷۳۵، ۷۳٦ روايات دا دي:**

**۳۸٤ - عَن عبد الله بن عمر: أنَّ رسولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - كانَ يَرفعُ يدَيهِ [حتى تكونا] حذوَ مَنكِبَيه [حين يكبِّر]، إذا افتتَحَ الصلاةَ، وإذا كبَّرَ لِلركوعِ [فعل مثله]، وإذا رفَعَ رأسَه منَ الركوعِ رفَعَهُما كذلكَ أيضاً، وقال: "سمعَ اللهُ لمَن حمِدَه، ربَّنا ولكَ الحمدُ"، وكانَ لا يَفعلُ ذلكَ فى السجودِ، [ولا حينَ يَرفعُ رأسَه منَ السجود].**

**٤٠٠ - وعن عبد اللَّه بن عمر قال: رأيت النبى -صلى اللَّه عليه وسلم- افتتح التكبير فى الصلاة، فرفع يديه حين يُكَبِّرُ حتى يجعلهما حذو منكبيه، وإذا كبر للركوع فعل مثله، وإذا قال: "سمع اللَّه لمن حمده" فعل مثله، وقال:**

"ربنا ولك الحمد"، ولا يفعل ذلك حين يسجد، ولا حين يرفع رأسه من السجود.

وفي رواية: إذا قام من الركعتين رفع يديه (٥).

٧٣٥ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ: " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ، وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا، وَقَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ، وَكَانَ لاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السُّجُودِ "

٧٣٦ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ فِي الصَّلاَةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يَكُونَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَكَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يُكَبِّرُ لِلرُّكُوعِ، وَيَفْعَلُ ذَلِكَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، وَيَقُولُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، وَلاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السُّجُودِ "

٧٣٨ - حَدَّثَنَا أَبُو اليَمَانِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنَا سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: " رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَتَحَ التَّكْبِيرَ فِي الصَّلاَةِ، فَرَفَعَ يَدَيْهِ حِينَ يُكَبِّرُ حَتَّى يَجْعَلَهُمَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ فَعَلَ مِثْلَهُ، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَعَلَ مِثْلَهُ، وَقَالَ: رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ، وَلاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يَسْجُدُ، وَلاَ

حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ "

په داسي حال کې چې د دغو ټولو روایاتو لومړی راوي یو کس او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او دوهم راوي ئې زوی سالم او درېیم ئې زهري دئ خو په الفاظو کې ئې ډېر توپیرونه تر سترګو کېږي: په یوه کې كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ په بل کې إِذَا قَامَ فِي الصَّلاَةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يَكُونَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ او په بل کې كَانَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلاَةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ په یوه کې وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا په بل کې وَكَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يُكَبِّرُ لِلرُّكُوعِ، وَيَفْعَلُ ذَلِكَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ په بل کې وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ فَعَلَ مِثْلَهُ په بل کې وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ په بل کې وَإِذَا قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ. رَفَعَ يَدَيْهِ په بل کې وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ په یوه کې وَكَانَ لاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السُّجُودِ او په بل کې وَلاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يَسْجُدُ وَلاَ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ راغلي. مطلب ئې دا دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د سجدې له تکبیر پرته په نورو تکبیرونو کې لاسونه تر اوږو پورې لوړول، د سمع الله لمن حمده د ویلو په وخت کې به ئې هم دا کار کولو.

لکه چې ګورئ دا روایت په دریو طبقو؛ صحابه، تابعین او تبع تابعین کې یو یو راوي لري؛ یعني د محدثینو په اصطلاح اغرب دئ.

د بخاري کوم روایات چې پورتنۍ خبره کوي ټول ئې یوازې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته منسوب دي، خو له ده بل روایت داسي دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به یوازې په لومړي تکبیر کې لاسونه لوړول بیا ئې دا کار نه کولو. روایت دا دئ:

عن عبد الله أنه كان يرفع يديه فى أول ما يستفتح ثم لا يرفعهما. ابن ابي شيبه

په نورو کتابونو کې له ابو هریره رضي الله عنه په دې اړه داسي روایت هم راغلی چې وایي: د سجدې په تکبیرونو کې به ئې هم لاسونه لوړول. د ابو

هريره رضي الله عنه روايت دا دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ حِينَ يُكَبِّرُ يَفْتَتِحُ الصَّلاَةَ وَحِينَ يَرْكَعُ وَحِينَ يَسْجُدُ. بخاري: ٦٣٠٧

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به خپل لاسونه هغه مهال تر اوږو پوري لوړول چي د لمانځه پيلولو په وخت کي به ئې تکبير ويلو؛ او کله چي به ئې رکوع او سجده کوله.

د دغو رواياتو په مقابل کي داسي روايات دي چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازي په لومړي تکبير کي لاسونه لوړول؛ بيا ئې دا کار نه کولو. تاسو درې روايتونه وليدل: دوه عبدالله بن عمر رضى الله عنهما ته منسوب دي، يو ئې داسي چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم به په لومړي تکبير کي هم لاسونه لوړول او رکوع ته په تلو کي او له رکوع بېرته راپورته کېدو کي هم او همدا عبدالله بن عمر ته منسوب بل روايت داسي دئ چي ابن ابي شيبه راوړی دئ او وايي: پيغمبر صلى الله عليه وسلم به يوازي په لومړي تکبير کي لاسونه لوړول بيا ئې نه کول؛ او بل د ابو هريره روايت چي گواکي پيغمبر صلى الله عليه وسلم به لومړي تکبير کي هم، رکوع ته تلو کي هم، له رکوع را پاڅېدو کي هم، سجدو ته په تلو کي هم او راپورته کېدو کي هم تکبير ويل او لاسونه به ئې لوړول، د دغو ټولو له منځ د يوه انتخاب آسان کار نه دئ، فقهاءو دا کار کړئ، دا متعارض روايات ئې څنګلي بيا ئې د خاصو دلائلو په رڼا کي يو ترې غوره کړی، دا کار هر څوک نشي کولی؛ کافي درايت، فهم، بصيرت، علم او په احاديثو او قرآن پوهه ايجابوي.

بخاري دا روايات نه دي راوړي:

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَرِيبًا مِنْ أُذُنَيْهِ، أَوْ نَحْوًا مِنْ ذَلِكَ، ثُمَّ لَمْ يَعُدْ "

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيْهِ، ثُمَّ لَا يَرْفَعُهُمَا حَتَّى يَفْرُغَ» رواه ابن ابى شيبه.

عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: «كَانَ أَصْحَابُ عَبْدِ اللَّهِ وَأَصْحَابُ عَلِيٍّ، لَا يَرْفَعُونَ أَيْدِيَهُمْ إِلَّا فِي افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، قَالَ وَكِيعٌ،، ثُمَّ لَا يَعُودُونَ» ابن ابى شيبه

عن عاصم بن كليب عن أبيه أن عليا كان يَرفَعُ يَدَيه إذا افتَتَحَ الصَّلاةَ، ثم لا يَعودُ. رواه ابن ابى شيبه

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ رَفَعَ يَدَيْهِ ثُمَّ لا يَرْفَعُهُمَا حَتَّى يَفْرُغَ. مصنف ابن ابى شيبه

حَدَّثَنَا ابْنُ مُبَارَكٍ، عَنْ أَشْعَثَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ ؛ أَنَّهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ التَّكْبِيرَةِ ثُمَّ لا يَرْفَعُهُمَا. ابن ابى شيبه

عن عاصِمِ بنِ كُلَيبٍ، عن أبيه، عن عليٍّ رضى الله عنه، أنَّه كان يَرفَعُ يَدَيه فى التَّكبيرَةِ الأُولَى مِنَ الصَّلاةِ، ثم لا يَرفَعُ فى شَىءٍ مِنها. رواه البيهقى

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بن إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ،"أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ شَيْءٍ، ثُمَّ لا يَرْفَعُ بَعْدُ". المعجم الكبير للطبرانى

عَنْ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ تَكْبِيرَةٍ، ثُمَّ لَا يَعُودُ» وهذا مما لا اختلاف عن ابن مسعود فيه. وقد وافق هذا الحديث عن عبد الله بن مسعود فيه. مشكل الآثار للطحاوى

لكه چي گورئ پورتني روايات وايي چي براء بن عازب رضي الله عنه، علي رضي الله عنه، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او الشعبي وايي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت دا وو چي يوازي په تكبير أولىٰ كي به ئې لاسونه لوړول او په نورو كي به ئې نه لوړول.
لاندي روايات هم دغه خبره كوي:

(١) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «رَفَعَ يَدَيْهِ حِينَ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ» (ثم لا يرفعها حتى يفرغ.) المعجم الاوسط

(٢) ٢٤٥٦- حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ عَبْدِ الرحمن بْنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ : أَلاَ أُرِيكُمْ صَلاَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ فَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلاَّ مَرَّةً. مصنف ابن ابي شيبه

(٣) ٢٤٥٧- حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ قِطَافٍ النَّهْشَلِيِّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ : أَنَّ عَلِيًّا كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ ثُمَّ لا يَعُودُ. مصنف ابن ابي شيبه

(٤) ٢٤٤٣ - حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ أَبِي مَعْشَرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، «أَنَّهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ مَا يَسْتَفْتِحُ، ثُمَّ لَا يَرْفَعُهُمَا» مصنف ابن ابي شيبه

(٥) ٢٤٥٩- حَدَّثَنَا ابْنُ مُبَارَكٍ، عَنْ أَشْعَثَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ ؛ أَنَّهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ التَّكْبِيرَةِ ثُمَّ لا يَرْفَعُهُمَا. مصنف ابن ابى شيبه

(٦) ٢٤٦٠- حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، قَالَ : أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ وَمُغِيرَةُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ ؛ أَنَّهُ

كَانَ يَقُولُ : إِذَا كَبَّرْتَ فِي فَاتِحَةِ الصَّلاَةِ فَارْفَعْ يَدَيْك ثُمَّ لا تَرْفَعْهُمَا فِيمَا بَقِيَ. مصنف ابن ابي شيبه

(٧) ٢٤٦١- حَدَّثَنَا وَكِيعٌ وَأَبُو أُسَامَةَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ : كَانَ أَصْحَابُ عَبْدِ اللهِ، وَأَصْحَابُ عَلِيٍّ لا يَرْفَعُونَ أَيْدِيَهُمْ إِلاَّ فِي افْتِتَاحِ الصَّلاَةِ، قَالَ وَكِيعٌ : ثُمَّ لا يَعُودُونَ. مصنف ابن ابي شيبه

(٨) حدثنا أبو بكر بن عياش عن حصين ومغيرة عن إبراهيم قَالَ لَا تَرْفَع يَدَيكَ فَى شَئ مِنَ الصَّلاةِ إِلا فِي الاِفْتِتَاحَةِ الأُولى. مصنف ابن ابي شيبه

(٩) ٢٤٦٣- حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ طَلْحَةَ، عَنْ خَيْثَمَةَ وَإِبْرَاهِيمَ، قَالَ : كَانَا لا يَرْفَعَانِ أَيْدِيَهُمَا إِلاَّ فِي بَدْءِ الصَّلاَةِ. مصنف ابن ابي شيبه

(١٠) ٢٤٦٤- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ : كَانَ قَيْسٌ يَرْفَعُ يَدَيْهِ أَوَّلَ مَا يَدْخُلُ فِي الصَّلاَةِ ثُمَّ لا يَرْفَعُهُمَا. مصنف ابن ابي شيبه

(١١) ٢٤٥٠ - حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " لَا تُرْفَعُ الْأَيْدِى إِلَّا فِي سَبْعَةِ مَوَاطِنَ: إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ، وَإِذَا رَأَى الْبَيْتَ، وَعَلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَفِي عَرَفَاتٍ، وَفِي جَمْعٍ، وَعِنْدَ الْجِمَارِ " مصنف ابن ابي شيبه

احنافو دغو روایاتو ته ترجیح ورکړې، دا ځکه چي هم د دغو روایاتو شمېر زیات دئ او هم ئې راویان تر عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د پاخه عمر خاوندان. د ده یو روایت بل نفي کوي، نو آخوا ته په بخاري کي یوازي یو روایت پاته کېږي چي په تکبیرونو کي د لاسونو د لوړولو خبره کوي، خو له هغه سره هغه خلك هم موافق نه دي چي په رفع الیدین باور لري، ځکه هغوی د سجدې په تکبیرونو کي د رفع الیدین قائل نه دي او د ابو هریره رضي

الله عنه روایت د سجدو په تکبیرونو کې هم د لاسونو لوړولو خبره کوي.

ابن ابي شیبه چې په ۲۳۵ هجري کې وفات شوی او تر امام بخاري هم د صحابه وو دور ته ورنږدې دئ او هم ئې خپل کتاب تر بخاري ډېر د مخه لیکلی، د رفع الیدین اړوند روایات ئې په امانت سره راوړي، د دواړو لوریو مستند روایات ئې رااخیستي، هغه هم چې د امام بخاري رحمه الله د رأیي تأیید کوي او هغه هم چې د دې رأیي خلاف دي او وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوازي په تکبیر أولیٰ کې لاسونه لوړ کړي. د انس رضي الله عنه هغه روایت ئې هم راوړی چې د ابو هریره رضي الله عنه روایت ته ورته دئ. دا روایت په صحابه وو کې دوه راویان لري؛ ابو هریره او انس رضی الله عنهما؛ داسې روایاتو ته محدثین د عزیز نوم ورکوي. دوی روایات د إسنادو له مخې په څلورو ډولونو وېشلي: غریب، عزیز، مشهور او متواتر.

غریب: هغه دئ چې په یوه طبقه کې یو راوي لري.

د بخاري دغه روایت په دریو طبقو کې یو یو راوي لري؛ چې تر غریب اوښتی او اغرب یعني ډېر غریب او نا آشنا ګڼل کېږي؛ خو ابو هریره او انس رضی الله عنهما ته منسوب روایت چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به سجدې ته په تلو کې هم او راپورته کېدو کې هم لاسونه لوړول؛ دا په صحابه وو کې دوه راویان لري؛ د سند له مخې د عبدالله بن عمر رضی الله عنه دا روایت ځکه معتبر دئ چې یو شاهد هم په څنګ کې لري، یوه بل تقویه کړی؛ داسې روایت ته محدثین د عزیز نوم ورکوي.

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بل روایت د لومړني روایت خلاف راغلی او وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به یوازي په لومړي تکبیر کې لاسونه لوړول؛ بیا ئې دا کار نه کولو.

پوښتنه دا ده چې که رفع الیدین په تکبیر پورې مربوط وي نو ولې د سجدې په تکبیرونو کې لاسونه نه پورته کوي، بیا خو په کار وه چې دوی د ابو

---

هريره رضي الله عنه په روايت عمل کولی.

که دې موضوع ته له عقلي پلوه هم وګورو؛ د احنافو رأيه دقيقه او درنه ده؛ په څو دلائلو:

امام ابو حنيفه رحمه الله تابعي دئ، له صحابه وو ئې هم روايات اورېدلي، ده ته چي کوم روايات رسېدلي ډېر لاس په لاس شوي نه دي، هر څومره چي روايات زيات لاس په لاس شي او په خپلو اسنادو کې زيات راويان ولري؛ يعني له څلورم او پنځم راوي چا ته رسېدلي وي؛ په هغوی کې د توپیر، تغيير او تحريف امکان تر هغو زيات وي چي له لومړي، دوهم يا درېيم راوي تر لاسه کېږي، امام بخاري رحمه الله اکثراً له پنځمي طبقې او نسل خپل روايات تر لاسه کړي؛ خو امام ابو حنيفه له اول او دوهم نسل. امام ابو حنيفه رحمه الله د صحابه وو او تابعينو هغه اعمال په خپلو سترګو ليدلي چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم په تواتر له يوه نسل بل ته انتقال شوي، دې ته محققين تواتر بالتعامل وايي چي اعتبار ئې تر ټولو رواياتو لوړ دئ، خو امام بخاري رحمه الله ته داسي څه په لاس نه دي ورغلي.

له دې علاوه ځمونږ له ګڼ شمېر ډېرو مهمو او با مقصده حرکاتو جوړ شوی چي هر يو ئې ځانګړی محرك، علت او حکمت لري. لومړی حرکت، له لومړي تکبير سره د دواړو لاسونو پورته کول دي.

تاسو پوهېږئ چي د دنيا په ګوټ ګوټ کې د ټولو انساني ټولنو تر منځ دا عادت او دود دئ چي کله يو بل ته تسلمېږي او د هغه په خلاف له جګړي لاس اخلي نو لاسونه پورته کړي، د لاسونو دا راز پورته کول له جګړي د لاس اخيستلو او د تسليمۍ نښه ده. ته د ځانځه په پيل کې، د الله جل شأنه په وړاندي، په دې حرکت سره له بغاوت لاس اخلې او له الله تعالی او د ده له سننو سره له جګړي خپل برائت او بې زاري او د الله جل جلاله په مقابل کې خپله کامله تسليمي او انقياد اعلانوې. ښايي تا به په کومي جګړي کې، کوم کس داسي ليدلی وي چي د بل په وړاندي ئې لاسونه اوچت کړي وي او د ده

له دې حرکت ته ښه پوهېدلی یې چي په دې سره هغه مقابل طرف ته څه پیغام لېږل غوښتل او د ځان له خوا ئې هغه ته د کومي خبري اطمئنان ورکولو. خو ما ته ووایه: آیا کله د لمانځه په ابتداء کي، د تکبیر تحریمه او الله اکبر په ویلو او د لاسونو د پورته کولو په دوران کي، ستا په زړه کي دا خبره راګرځېدلې چي زه د الله په وړاندي له هر راز بغاوت لاس اخلم او خدای ته خپله کامله تسلیمي اعلانوم؟ که له دې شعور او احساس سره تا خپل لاسونه نه وي پورته کړي نو ماته ووایه چي لدې حرکت ستا مقصد څه وو؟ هسي یو تقلیدي، بې روحه او بې مقصده حرکت؟

عجیبه ده چي ځیني په دې خبره خپلو منځونو کي په شدید اختلاف کي لوېږي چي له تکبیر تحریمه سره باید لاسونه تر غوږونو پوري اوچت شي او که د غوږونو او اوږو تر منځ او که تر اوږو پوري؟ حال دا چي د هر یوه لپاره د پیغمبر علیه السلام په عمل استناد شوی. خو په دې خبري نه فکر کوي او نه بحث چي د دې حرکت اصلي مقصد څه دئ؟ محرك ئې څه او باید د کوم احساس او شعور مظهر وي؟

دې حرکت ته یوازي د لمانځه په پیل کي ضرورت وو، له هغه وروسته نور حرکات داسي دي چي د لاسونو اوچتول نه ایجابوي، رکوع د تعظیم مظهر ده، په ټولو قومونو کي ګورو چي کله یو د بل درناوی او د هغه پر عظمت او ستر والي اعتراف کوي نو سر ورته ټیټوي؛ موږ د الله تعالی په وړاندي پر رکوع مکلف شوي یو او راته ویل شوي چي دا سر ټیټول او رکوع به مو یوازي د الله تعالی په وړاندي وي، د الله په دین کي دا نشته چي یو انسان د بل انسان په وړاندي سر ټیټ کړي؛ او ځان تر بل سپك او حقیر وګڼي؛ کوم سر چي د خدای په وړاندي ټیټ شوی وي؛ باید د بل چا په وړاندي ټیټ نشي؛ په لمانځه کي زموږ رکوع د الله تعالی پر عظمت د اعتراف مظهر ده؛ دا په خپله یو ستر او ارزښتمن حرکت دئ؛ له دې سره یو ځای د لاسونو لوړولو ته ضرورت نشته؛ عقلاً او د لمانځه نورو حرکاتو ته په پام سره ویلی شو چي هر حرکت مو باید

له یوه غړ سره توأم وي نه داسي چي ځیني ئې له یوه غړ سره دوه حرکتونه ولري؛ د رکوع تکبیر مو باید یوازي د رکوع لپاره وي؛ نه داسي چي هم لاسونه لوړ کړو او هم رکوع ته لاړ شو؛ د لمانځه هر حرکت له یوه غړ سره توأم وي، له تکبیر تحریمه سره لاسونه لوړوو، رکوع او سجدې ته په تلو او راپورته کېدو کي تکبیر وایو، له سلام ویلو سره مخ یو خوا بله خوا اړوو؛ سجده د مسجود پښو ته د لوېدو مظهر ده، موږ چي د الله تعالی په وړاندي سجده کوو او تندی پر زمکه ږدو؛ د دې حرکت معنی دا ده چي د الله تعالی پښو ته لوېږو. ښایي تاسو به داسي څوك لیدلی وي چي ډېر مضطر او محتاج وو؛ هغه چا ته ورغلی چي گمان ئې کولو د ده مرسته کولی شي او ستونزه ئې حل کولی شي؛ د هغه پښو ته لوېدلی او په زاریو زاریو ئې مرسته ترې غوښته؛ د الله تعالی په وړاندي سجده کول همداسي حرکت دئ؛ چي په خپل ذات کي ستر او ارزښتمن دئ؛ نو رکوع او سجدې ته په تلو کي د لاسونو لوړولو ته ضرورت نشته؛ د دغو دواړو په شروع کي تکبیر ویل دا مطلب افاده کوي چي زما رب تر دې هم ډېر ستر دئ چي زه ورته سر ټیټوم یا تندی پر زمکه ږدم؛ دلته له تکبیر سره متصل یو ستر بامقصده حرکت تر سره کېږي، د تسلیمي تر اعلان هم ستر ستر حرکات، له دې سره د لاسونو د لوړولو نه یوازي ضرورت نشته بلکي هم د مفاهیمو د خلط باعث کېږي او هم په یوه اعلان سره دوه حرکات تر سره کول؛ حال دا چي یو اعلان باید د یوه حرکت لپاره وي نه د دوو لپاره، که په ټول لمانځه کي نور تکبیرونه د یوه حرکت لپاره وي نو په رکوع کي به ولي په استثنائي توگه د دوو حرکتونو لپاره وي، له رکوع مخکي تکبیر به یا د لاس لوړولو لپاره وي او یا د رکوع لپاره، له قومې وروسته تکبیر به یا د سجدې لپاره وي یا د لاس لوړولو لپاره، نه د دواړو لپاره، د دې لپاره هیڅ معقوله توجیه نشو موندلی!! غوره او ارجح رأیه دا ده چي لاسونه یوازي په لومړي تکبیر کي لوړ شي. همغسي چي په ډېری روایاتو کي راغلي.

ځیني دا اعتراض کوي چي احناف ولي د وتر او عیدینو په لمونځونو کي له

اضافي تکبیرونو سره لاسونه لوړوي؟ دوی ته عرض کوو چې موږ د لمانځه په هغو تکبیرونو کې د رفع الیدین مخالف یو چې د رکوع او سجدې لپاره ویل کېږي، په دې عقیده یو چې د لمانځه هر تکبیر له یوه ځانګړي حرکت سره توأم وي، تکبیر به یا د رکوع او سجدې لپاره وي او یا د لاس لوړولو لپاره، داسې نه چې له یوه تکبیر سره هم رکوع یا سجده وشي او هم لاسونه لوړ کړی شي، د وتر او د عیدینو د لمانځه اضافي تکبیرونه هر یو د یوه حرکت لپاره ویل کېږي نه د دوو لپاره.

یوه ورور د درس په پای کې وویل: په ترمذي کې ١٤ روایتونه راغلي چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به پر تکبیر أولیٰ سربېره په رکوع او له رکوع راپاڅېدو کې هم لاسونه لوړول. له ده سره وعده وشوه چې سبا به د درس په پیل کې إن شاء الله ستا ځواب وایو؛ اوس وخت پای ته رسېدلی. هغه ته د راتلونکي درس په پیل کې دا ځواب ورکړی شو.

گمان می کنم دیروز یکی از برادران گفت که در ترمذی ١٤ روایت در باره رفع الیدین در رکوع آمده، برایم تعجب آور بود چون در اثناء مطالعه ترمذی متوجه شده ام که از تکرار روایات تا حد زیاد خودداری کرده، از این بابت تفاوت زیادی با بخاری دارد. و این یکی از امتیازات ترمذی است، تنظیم بهتر باب ها و عنوان هایش نیز امتیازی دیگر. به شامله مکرراً رجوع کردم تا ببینم ادعاء برادر محترم تا چه پیمانه ای وارد است. دیدم که در ترمذي فقط دو بار حدیث رفع الیدین در رکوع آمده به این شماره ها: ٢٣٧، ٢٥٥. هر دو روایت دقیقاً همان روایات بخاری اند؛ هم از لحاظ إسناد و راوی ها در سه طبقه و هم از ناحیه متن. روایات این ها اند:

٢٣٧ - حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ وَابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ مَنْكِبَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ الرُّكُوعِ

٢٥٥ - حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَابْنُ أَبِي عُمَرَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِذَا رَكَعَ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ»، وَزَادَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي حَدِيثِهِ: «وَكَانَ لَا يَرْفَعُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ».

سؤال این است که امام بخاری رحمه الله چرا روایاتی را نیاورده که می گوید: پیامبر علیه السلام جز در تکبیر أولیٰ در سائر تکبیرهای نماز؛ دست هایش را بلند نمی کرد؟ شاید به چند دلیل: ١- این روایات به او نرسیده، که احتمال آن وجود دارد هر چند ضعیف. ٢- إسناد این روایات را معتبر نیافته، که احتمال آن بیشتر است. ٣- عمداً نخواسته این روایات را بیاورد و تنها بر روایات موافق رأی خودش اکتفاء کرده؛ که چنین کاری از شأن یك محدث عادل و حقجو بعید است. اگر بنابر دلیل دومی از آوردن این روایات خودداری ورزیده؛ در آن صورت: ١- کسانی که امام بخاری را امام مذهب خود پذیرفته؛ نباید بر روایاتی استناد کند که امام بخاری راویان آن را معتبر و معتمد نخوانده، ٢- روایات مورد تأیید او در باره رفع الیدین؛ همه از ناحیه إسناد غریب اند و در سه طبقه فقط یك یك راوی دارد.

چون امام بخاری حتیٰ روایاتی را نیز نیآورده که از ناحیه متن با روایات بخاری یکسان اند اما از ناحیه روات تفاوت دارند؛ او فقط این سلسله راوی ها را پذیرفته سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، الزُّهْرِيِّ، سَالِمٍ و پدرش عبد الله بن عمر رضي الله عنهم؟ یعنی که امام بخاری سائر إسناد ها و سلسله راوی ها را معتبر نخوانده. در این صورت روایات معتبر از دیدگاه امام بخاری در سه طبقه فقط یك یك راوی دارد.

د رفع الیدین په ارتباط مسلم دا روایت هم راوړی:

٣٣١ - عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رضی الله عنه - قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ -

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ مَا لِى أَرَاكُمْ رَافِعِى أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ؛ اسْكُنُوا فِى الصَّلاَةِ؛ قَالَ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَرَآنَا حَلَقًا فَقَالَ مَالِى أَرَاكُمْ عِزِينَ؛ قَالَ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا قَالَ يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ وَيَتَرَاصُّونَ فِى الصَّفِّ.

له جابر بن سَمُرَةَ روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم پر موږ راووت او وئې فرمایل: ولې مو داسي ګورم چي لاسونه لوړوونکي یئ؛ داسي لکه د هغو اسونو لکۍ چي ډېر خوزي او خپلي لکۍ او پښې ډېري خوځوي؟ په لمانځه کي آرام او په سکون سره اوسئ. بیا راووت په داسي حال کي چي موږ حلقه حلقه وو؛ نو وئې فرمایل: ولې مو خواره خواره ګورم؟ بیا راووت او وئې فرمایل: آیا خپل صفونه داسي نه برابروئ لکه د خپل رب په وړاندي د فرشتو صفونه؟ ومو ویل: یا رسول الله! ملائکي څنګه د خپل رب په وړاندي خپل صفونه برابروي؟ وئې فرمایل: لومړي صفونه بشپړوي او په صف کي نږدې نږدې ودرېږي.

مسلم دا روایت په دغو شمېرو مکرر راوړی: ١١٩، ١٢٠، ١٢١، ٣٣١، ٤٢٨.

دا روایت وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د لاسونو له لوړولو ممانعت کړی. پوښتنه دا ده چي دا روایت او هغه به څنګه تلفیق کوو چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به په لومړي تکبیر، د رکوع تکبیر او له رکوع راپاڅېدو په وخت کي لاسونه لوړول؟ آیا کولی شو د دې دواړو تر منځ تعارض رفع کړو؟ که یو ترې انتخابولی شو نو ولې امام مسلم نه دئ انتخاب کړی؟ ولې بخاري دا روایت نه دئ راوړی؟ هم ئې تلفیق ګران دئ او هم د یوه انتخابول او هم دا ځواب ویل چي ولې امام بخاري د خپلي خاصي رأی

خلاف روايات نه دي راوړي؛ دلته هم او په نورو مواردو کې هم!! له همدې کبله نن گورو چي د امام بخاري سلفي پلويان داسي فکر کوي چي په هري مسئلې کې يوازي هغه روايات راغلي چي بخاري راوړي؛ او څوك چي د بخاري د رواياتو مطابق عمل نه کوي نو عمل ئې د حديث خلاف دئ؛ آبله ورځ مي د سلفيانو د يوه مشهور عالم ويډيو اورېدله، ډېر کلک وو او په دې ئې ټينگار کولو او ويل ئې: دغه روايت چي يوازي په بخاري کي راغلی؛ څوک چي په دي عمل نه کوي، گواکي هغه د حديث مخالف دئ او زړه مو پرې خوږېږي چي د حديث مخالفت کوي!! هغوی ته وايو: عام مسلمانان او احناف خو پرېږده؛ دا دئ امام مسلم؛ د امام بخاري نږدې ملگری؛ د ده روايت ورسره نه مني او په خلاف ئې بل روايت راوړی!! تا اصلاً نور کتابونه نه دي لوستلي؛ يوازي په بخاري دي اکتفاء کړې او ملامت هم نه يې؛ ځکه بخاري يوازي د خپلي رأی روايات راوړي او نور ئې نه دي راوړي؛ زموږ يو اعتراض دا دئ چي ولي د يوې قضيې اړوند ټول هغه روايات په بشپړ امانت سره نه دي راوړل شوي چي په نورو کتابونو کي راغلي؛ لومړی بايد ټول اړوند روايات رانقل شوي وی او بيا يو د دلائلو له مخي ترې غوره شوی وی، په دې صورت کې به هر لوستونکی پرې قانع کېدو؛ په داسي حال کي نور روايات پرېښودل او فقط يو ئې رواړل او بيا فيصله هم هغو لوستونکو ته پرېښودل چي اصلاً د قضاوت او سم غوراوي ظرفيت او استعداد نه لري؛ دا دئ گورئ چي امام مسلم ډېر داسي روايات راوړي چي نه يوازي امام بخاري نه دي راوړي بلکي د بخاري د رواياتو خلاف خبره کوي.

له هر تکبير سره د لاس نه لوړولو اړوند مخکيني روايت په اړه سلفيانو يو ځواب ويلی چي ډېر کمزوری دئ. وايي: دا ممانعت د لمانځه په پای کې دواړو لوريو ته د سلام په وخت کې د لاس خوزولو په ارتباط دئ!! په دوو دلائلو دا توجيه ناسمه ده: ۱- دلته د دواړو لاسونو پورته کول راغلي (رَافِعِي أَيْدِيكُمْ)؛ نه خوزول ۲- د لاسونو خوزولو روايت بېل دئ او په هغه کې

(تُومِئُون) راغلي، روايت داسي دئ:

**.... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَامَ تُومِئُونَ بِأَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمُسٍ؟ إِنَّمَا يَكْفِي أَحَدَكُمْ أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عَلَى فَخِذِهِ ثُمَّ يُسَلِّمُ عَلَى أَخِيهِ مَنْ عَلَى يَمِينِهِ، وَشِمَالِهِ»**

.... رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ولې په خپلو لاسونو داسي اشاره کوئ لکه د خوزېدونکو اسونو د لکيو په څېر؟ بې له شکه ستاسو هر يوه ته دا کافي ده چي لاس ئې پر ورانه ايښی وي او پر خپل هغه ورور سلام واچوي چي د ده ښي او کيڼ لوري ته دئ.

## په امام پسي د مقتدي قرائت

د مذاهبو تر منځ يوه اختلافي موضوع دا ده چي آيا مقتدي به په امام پسي په جهري يا خفيه لمونځونو کې قرائت کوي که نه؟ آيا دا ادعاء صحيح ده چي د فاتحې سوره لوستل هم پر امام فرض ده او هم پر مقتدي؟ که يوازي پر امام؟ آيا لوستل ئې فرض دي که غوره؟ آيا له فاتحې پرته لمونځ صحيح کېږي؟ په دې اړه قرآن څه حکم کوي او احاديث څه وايي؟

راشئ لومړی دا وګورو چي قرآن په لمانځه کې د قرائت په اړه څه حکم کوي؟ قرآن د قرائت په اړه موږ ته څو لارښووني لري:

- دوه ځلي امر کوي چي يوه آسانه برخه د قرآن په خپلو لمونځونو کې ووايئ: فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِۚ او فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُۚ
- موږ ته امر کوي چي کله قرآن لوستل کېږي نو غوږ ورته ونيسئ او پټه خوله اوسئ:

وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ. الاعراف: ۲۰٤

- پيغمبر عليه السلام ته امر کوي چي کله فرشته تا ته قرآن دراوروي نو له ځان سره ئې مه وايه او تلوار مه پرې کوه:

وَ لا تَعْجَلْ بِالْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضى إِلَيْك وَحْيُهُ... طه: ۱۱٤

- تر هغه د مخه چي تا ته د قرآن وحي بشپړه شي پر قرائت ئې تلوار مه کوه.

د دغو دريو آيتونو معنى دا ده چي: ۱- په لمانځه کي يوازي د قرآن يوه آسانه برخه لوستل فرض دي، دا ځکه چي په قرآن کي دا امر نشته چي په لمانځه کي به د فاتحې سوره لولئ، په احاديثو کي راغلي چي ځوك په لمانځه کي د فاتحې سوره ونه لولي لمونځ ئې ناقص دئ. ۲- د امام د قرائت په وخت کي له ځان سره قرآن ويل، شونډې پرې خوزول او غوږ نه نيول د قرآن د صريح حکم خلاف عمل دئ.

که موږ ته داسي دوه متعارضي رأيي يا متضاد روايات مخي ته راشي چي يو ئې وايي: د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ، مقتدي به د امام د قرائت په وخت پټه خوله وي او قرائت به نه کوي او بل ئې وايي: مقتدي به هم د امام تر څنګ د فاتحې سوره له ځان سره لولي، نو موږ له ځنډه پرته ويلى شو چي دا دوهمه رأى له قرآن سره تعارض لري او لومړى رأى له قرآن سره په بشپړه توګه توافق لري.

اوس راشئ د هغو خلکو رأى وڅېړو چي په لمانځه کي د فاتحې سوره لوستل فرض ګڼي، دا وګورو چي دوى په کومو رواياتو استناد کوي او څه دليل لري. دوى په دغه روايت استناد کوي:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ (لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ).

له عباده بن صامت رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چي فاتحه (الحمد لله) ونه لولي؛ لمونځ ئې لمونځ نه دئ)

په بخاري کې دا روايت دوه ځلي په دغو شمېرو راغلی:

٧٥٦ - حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ»

٧١٤ - حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

د دواړو الفاظ او راويان سره ورته دي.

د دې روايت په تعبير کې د محدثينو او فقهاءو تر منځ اختلاف دئ، ځيني ئې داسي تعبيروي چي ګواکې په لمانځه کې د فاتحې سوره لوستل فرض وي، له دې پرته لمونځ نه صحيح کېږي، هم د جماعت په لمانځه کې او هم په انفرادي لمونځونو کې، هم په جهر لمونځونو کې او هم په خفيه لمونځونو کې، هم د مقتدي لمونځ او هم د امام لمونځ، په جهر لمونځونو کې هم بايد مقتدي له امام وروسته دا سوره ووايي، که نه نو لمونځ ئې صحيح نه دئ!! د دې لپاره چي په دې اړه صحيح رأيه معلومه کړو بايد لاندي ټکي په پام کې ولرو:

په قرآن کې د لمانځه د ترکيب په اړه څو خبري شوې دي: د لمانځه په پيل کې د الله نوم يادول (وَذَكَرَ ٱسْمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ)، قبلې ته مخ کول (فَوَلِّ وَجْهَكَ شطرَ الْمَسجِدِ الْحَرَامِ)، قيام ((إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ)، قرائت (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ)، ((وَقُرْآنَ الْفَجْرِ)، رکوع، سجده (يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا ارْكَعُوا وَ اسجُدُوا). په قرآن کې د دې لپاره شاهد نه مومو چي په لمانځه کې د فاتحې د سورې لوستل ترې معلوم شي؛ بلکي په مکرره توګه ويل شوي چي د قرآن کومه

---

آسانه برخه تلاوت کړئ.

الله تعالی موږ ته امر کوي چي د قرآن د تلاوت په وخت کي ساکت وو او غوږ ونیسو، د دې معنی دا ده چي د امام د قرائت په وخت کي به غوږ نیسو او له څه ویلو به ډډه کوو.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي چي د امام قرائت د مقتدي قرائت دئ:

"مَن صَلَّى خَلفَ الإمامِ فإِنَّ قراءةَ الإمامِ له قراءةٌ": موطأ مالك

څوك چي په امام پسي لمونځ کوي نو د امام قرائت د ده قرائت هم دئ.

د دې معنی دا ده چي کله ته په امام پسي ولاړ یې او هغه په جهري لمونځونو کي قرائت کوي؛ نو د هغه قرائت ستا قرائت هم دئ، اورېدل ئې درته کفایت کوي او ته ئې تکرار ته ضرورت نه لرې.

که څوك امام په رکوع کي ومومي نو بشپړ رکعت ئې نیولی دئ او د دغه رکعت اعاده وربانديي لازمه نه ده؛ که څه هم نه ئې فاتحه اورېدلې ده او نه ئې ویلې ده؛ په دې اړه د اکثریت فقهاءو اجماع ده.

دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چي:

۱. په جهر لمونځونو کي او هغه مهال چي امام قرائت کوي د فاتحې سوره یا د قرآن نور آیتونه لوستل د قرآن د صریح حکم خلاف عمل دئ. څوك چي د امام د قرائت په وخت کي له ځان سره قرائت کوي، شونډي خوزوي، په عجله او تلوار سره قرائت کوي، دا کار ئې د قرآن او سنت خلاف دئ، ځکه الله تعالی خپل پیغمبر له داسي کولو منع کړی، رسول الله صلی الله علیه و سلم به د بعثت په لومړیو کي د وحي د نزول پر مهال او د فرشتې د قرائت په دوران کي همدا کار کولو چي الله تعالی ترې منع کړ!!

۲. اورېدل د لوستلو ځای ناستی دئ، څوك چي قرآن اوري داسي دئ لکه چي په خپله ئې لولي، ډېر ځلي د اورېدو اغېز تر لوستلو هم زیات وي، که اورېدل

او لوستل یو شان نه وی نو پر هغه چا به د قرائت سجده نه لازمېده چې د سجدې آیت ئې اورېدلی، د احنافو له نظره د سجدې څوارلس آیتونه چې څوک واوري یا ئې ولولي باید د قرائت سجده یا سجده تلاوت وکړي، معنی دا ده چې دا اوریدل کټ مټ داسي دي لکه چې سړی خپله وایي، دلته چې ته په خپلې ژبې غږ اوچته وي او غوږ دي اوري، هلته د یو بل له ژبې یا خولې غږ راوتلی ده او ستا غوږ ئې اوري، دواړه ورته دي، همدي لپاره چې څوک د سجدې آیت واوري په هغه هم سجده لازمه ده، یوازې په لوستونکې نه، په اوریدونکې هم لازمه ده، ددې معنی داده چې لوستل او اوریدل سره ورته دي!!

۳. په خفیه لمونځونو کې په امام پسي قرائت داسي دئ لکه له قرائت پرته نور تکبیرات او تسبیحات ویل، نه یوازې د ممانعت لپاره ئې د منلو وړ دلیل او توجیه نشته بلکې د جهري قرائت اړوند حکم په ناسمه توګه تعبیرول او خفیه قرائت ته ئې غځول دي، د احنافو ځیني مشایخ په دې باور دي چې په خفیه لمونځونو کې باید له قرائت ډډه وشي، د دوی مقابل کې بله رأی دا ده چې په خفیه لمانځه کې د دې پر ځای چې مقتدي پټه خوله وي؛ هیڅ څه ونه وایي او په نورو فکرونو کې غرق وي؛ ښه ده چې تلاوت وکړي؛ په دې کې څه مانع او حرج هم نشته، سکوت، خاموشي او غوږ نیول په جهري لمونځونو کې لازم دي، اما هغه مهال چې امام په خفیه لمونځ کې ستا امامت کوي او ته څه نه اورې، آیا صحیح ده چې دا مهال به هغه خاموش وي او څه به نه وایي؛ که وئې ویل نو ګناه ئې کړې؛ او د دې آیت خلاف عمل ئې کړی!! ځیني علماء او محققین په دې رأی دي چې دې وخت کې قرائت کول داسي دي لکه امام چې رکوع او سجده کې تسبیحات وایي ته ئې هم وایې، یا امام تکبیر وایي ته هم ورسره تکبیر وایې، د دې پر ځای چې خاموش پاته شې؛ ښه ده چې فاتحه ووایې او کومه سوره ووایې.

٤. که له فاتحې پرته لمونځ لمونځ نه وی نو د هغه مقتدي لمونځ به صحیح نه

---

ګڼل کېدو چي له قرائت وروسته او په رکوع کي ئې امام نیولی.

٥. فرض هغه دئ چي الله تعالی ئې د کولو حکم کړی وي، نه د فاتحې د ویلو په اړه په قرآن کي کوم حکم مومو؛ نه صریحاً او نه اشارتاً؛ او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم له حدیث داسي معلومېږي چي ویل ئې فرض وي، ځکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم ګڼ شمېر احادیث داسي مومو چي په نورو امورو کي ئې دې ته ورته الفاظ کارولي، لکه (لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ)؛ آیا د دې معنی دا ده چي که څوك یو ځل له چا سره خپله ژمنه ماته کړي له اسلامه ووت؟ که څوك په یوه واړه امانت کي یو ځل خیانت وکړي ایمان ئې حبط شو؟ لکه دلته چي کمال د اسلام او ایمان مراد دئ په هغه روایت کي کمال او حسن د ښه لمانځه مراد دئ، نه دا چي له فاتحې پرته لمونځ هیڅ اعتبار نه لري، د دین تقاضا دا ده چي څوک به خیانت نه کوي، ایمان او خیانت سره نه جوړېږي، د دین کمال دا ده چي سړی امین وي له خیانت ډډه وکړي، څه چي په امانت ورسپارل کېږي په هغه کي خیانت ونه کړي، همدا راز دین یعنی د ځینو احکامو او دساتیرو په وړاندی ژمنتیا، څوک چي په خپل عهد باندي وفا نه کوي، نو هغه اصلاً هیڅ دین نه لري، دلته هم کمال د دیانت مراد دئ، نه دا چي په تخلف سره انسان د ایمان، اسلام او دین له دائرې وځي، همدا راز ښه او غوره لمونځ هغه دئ چي په هغه کي فاتحه ولوستل شي.

د جَمعي په لمانځه کي د فاتحې د لوستلو او نه لوستلو په اړه ځیني روایات یو څه وایي او ځیني بل څه.

له عبدالله بن شداد رضي الله عنه، جابر رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما راغلي روایات وایي چي د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ. روایات دا دي:

---

عن عبدِ اللَّهِ بنِ شَدّادٍ، قال رسولُ اللَّهِ صلى اللَّه عليه وسلم: "مَن كان له إمامٌ فإِنَّ قراءةَ الإمامِ له قراءةٌ" السنن الكبرى للبيهقى

عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ، فَإِنَّ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ» المعجم الأوسط للطبرانى

عن جابر، عن النبى صلى الله عليه و سلم قال: مَن كان له إِمامٌ فإِنَّ قراءةَ الإمامِ له قراءةٌ" مسند عبد بن حميد

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَلْفَهُ رَجُلٌ يَقْرَأُ فَنَهَاهُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا انْصَرَفَ تَنَازَعَا فَقَالَ: أَتَنْهَانِي عَنِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَتَنَازَعَا حَتَّى بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ فَإِنَّ قِرَاءَتَهُ لَهُ قِرَاءَةٌ» رواه البيهقى

عن عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رضى الله عنهما كَانَ إِذَا سُئِلَ: هَلْ يَقْرَأُ أَحَدٌ خَلْفَ الإِمَامِ؟ قَالَ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ خَلْفَ الإِمَامِ فَحَسْبُهُ قِرَاءَةُ الإِمَامِ، وَإِذَا صَلَّى وَحْدَهُ فَلْيَقْرَأْ، قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لاَ يَقْرَأُ خَلْفَ الإِمَامِ. أخرجه الموطأ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ فِى الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الإِمَامِ تَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ. سنن الدارقطنى

خو بل لوري ته له عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه، ابو هريره رضي الله

عنه او ابو امامه رضي الله عنه راغلي روايات وايي چي له فاتحې پرته لمونځ يا ناقص دئ يا اصلاً لمونځ نه دئ. روايات دا دي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهُ صلى الله عليه و سلم قَالَ:« كُلُّ صَلاَةٍ لاَ يُقْرَأُ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِىَ خِدَاجٌ ». رواه البيهقى

عن أبى أُمَامَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: مَنْ لَمْ يَقْرَأْ خَلْفَ الْإِمَامِ فَصَلَاتُهُ خِدَاجٌ. رواه البيهقى.

خو دا په مشخصه توگه د فاتحې يادونه نه کوي.

عن ابن عمرو بن ميمون بن مهران عن أبيه مَنْ لَمْ يَقرَأْ بِأُمِّ القُرآنِ فِي صَلاتِهِ فَهِيَ خِداجٌ . رواه الطبرانى فى الأوسط

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ:« مَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَلاَ صَلاَةَ لَهُ ». سنن الدارمى

عن أبى هريرةَ قال: أمَرَنِى رسولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أن أُنادِىَ: "لا صَلاةَ إلا بقُرآنٍ، بفاتِحَةِ الكِتابِ سنن الكبرى للبيهقى

سنن الدارقطني کې دوه روايات راغلي چي دواړه ئې ضعيف گڼلي، يو ئې ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب شوی چي الدارقطني ئې د اعتبار وړ نه گڼي، روايت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « يَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ خَافَتَ أَوْ جَهَرَ ». عَاصِمٌ لَيْسَ بِالْقَوِىِّ وَرَفْعُهُ وَهَمٌ.

بل ئې محمد بن عبدالله بن عمير روايت کړی چي ضعيف ئې گڼلی:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « مَنْ صَلَّى صَلاَةً مَكْتُوبَةً أَوْ تَطَوُّعًا فَلْيَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مَعَهَا فَإِنِ انْتَهَى إِلَى أُمِّ الْكِتَابِ فَقَدْ أَجْزَأَ وَمَنْ صَلَّى صَلاَةً مَعَ إِمَامٍ يَجْهَرُ فَلْيَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِى بَعْضِ سَكَتَاتِهِ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَصَلاَتُهُ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ ». مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ ضَعِيفٌ.

دې ته مو پام وي چې د يوې رأيي پلويانو دغو رواياتو ته صحيح ويلي او د بلي رأيي پلويانو مخکينيو ته، د إسنادو له مخي د دغو رواياتو د صحت او عدم صحت په اړه وروستۍ پرېکړه که محال نه وي نو ډېره گرانه ده، دومره چې د امت محققينو په تېرو څوارلسو پېړيو کې ونشو کړی. لږ تر لږه يوه فقيه ته ضرورت ده چې وکولی شي له دغو متضاد او متعارضو رواياتو يو غوره کړي؛ متأسفانه اوس ځيني داسي فکر کوي چې هر څوک کولی شي له دغو متعارضو او متضادو رواياتو يو خوښ کړي او عمل پرې وکړي؛ همدا ناسم تفکير او بې ځايه جسارت د فتنو باعث شوی؛ د متعارضو رواياتو له منځه د يوه انتخاب د قرآن او حديث کافي او جامع علم او تر څنگ ئې درايت او تفقه ايجابوي؛ فقهاءو په ډېر غور، دقت او زحمت سره روايات چڼلي او د مضبوطو دلائلو له مخي ئې د ټولو له منځ يو او تر ټولو غوره ئې انتخاب کړی او د يوه فقهي حکم بنسټ ئې گرځولی. له لس گونو زرو رواياتو ئې څو سوه غوره کړي او په استناد ئې د فقهي يو ووړ کتاب ليکلی. د اختلافاتو د مخنيوي لاره دا ده چې پرېنږدو هر څوک له يوه مدرس؛ هغه هم د يوې کليوالي مدرسې له مدرس؛ د څو کتابونو په لوستلو سره له ځانه مفتي جوړ کړي او په هري موضوع کې د فتوی گانو ورکولو جسارت او جرأت وکړي؛ هغه هم داسي چې په کوم کتاب کې ئې داسي روايت موندلی چې د ده له مزاج او سليقې سره ئې

اړخ لګولو؛ همدا ئې غوره کړی؛ پرته له دې چې معلومه کړي دا روایت د متن او سند له پلوه څومره د اعتبار او استناد وړ دئ.

خو که د قرآن په رڼا کې د دې روایاتو په اړه قضاوت وکړو نو ویلی شو:

- څوك چي په امام پسې لمونځ کوي د امام قرائت ورته کافي دئ.
- په جهر لمونځونو کې او هغه مهال چي امام قرائت کوي؛ د فاتحې سوره یا د قرآن نور آیتونه لوستل؛ د قرآن د صریح حکم خلاف عمل دئ.
- په خفیه لمونځونو کې په امام پسې قرائت داسي دئ لکه له قرائت پرته نور تکبیرات او تسبیحات ویل.
- که څوك په رکوع کې امام ومومي رکعت ئې بشپړ ګڼل کېږي او اعاده ئې ورباندي نشته؛ ځکه د لمانځه ټولي هغه برخي ئې بشپړي کړې دي چي په قرآن کې ورته اشاره شوې: تکبیر تحریمه، قیام، رکوع او سجده، یوازي قرائت ترې پاته شوی او دا نقیصه هم په دې سره رفع شوې چي د امام قرائت د ده قرائت ګڼل شوی.

دا خبره هم په پام کې ولرئ چي ځیني وایي: د الحجر په سورې کې د ۸۷ آیت معنی دا ده چي د فاتحې سوره د قرآن په نامه یاده شوې، آیت دا دئ:

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَـٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِي وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾ الحجر:۸۷

خو دا لویه اشتباه ده؛ دلته له سبعاً من المثانی د فاتحې سوره مراد ده او له القرآن العظیم ټول قرآن؛ دا تعبیر په بشپړه توګه غلط دئ چي څوك د دې آیت په استناد د فاتحې سوره د ټول قرآن په نامه یاده کړي. که د فاتحې سورې ته د قرآن نوم ورکړی شي نو بیا خو به د فاقرءوا ما تیسر من القرآن معنی دا وي چي د فاتحې یوه آسانه برخه ولولئ!! او په لمانځه کې به د دې سورې یوه برخه ویل هم کافي شمېرل کېده!! خو هیڅوك د دې خبري جسارت نه کوي!!

د بخاري له مخکيني روايت وروسته چي کوم روايت زموږ مخي ته راځي ښيي چي د فاتحې لوستل فرض نه دي ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم يوه سړي ته د لمانځه په اړه د نورو لارښوونو په ضمن کي وويل: بيا له قرآن داسي آسانه برخه ولوله چي حفظ دي وي؛ که فاتحه فرض وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ورته ويلي وو چي لومړی فاتحه ولوله او بيا يوه آسانه برخه د قرآن!! روايت دا دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَرَدَّ وَقَالَ « ارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ». فَرَجَعَ يُصَلِّي كَمَا صَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ » ثَلاَثًا. فَقَالَ وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ فَعَلِّمْنِي. فَقَالَ « إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، وَافْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلاَتِكَ كُلِّهَا ».

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم جومات ته راغی، په دې وخت کي يو سړی هم جومات ته راغی او لمونځ ئې وکړ، (دا شخص خلاد بن رافع رضي الله عنه وو)، بيا ئې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم سلام واچاوو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د سلام ځواب ورکړ او ورته وئې فرمايل: (لاړ شه، لمونځ وکړه ځکه تا لمونځ نه دئ کړی)، هغه ولاړ او د مخکي په شان ئې لمونځ وکړ، بيا راغی او پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې سلام واچاوو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمايل: (لاړ شه، لمونځ وکړه، ځکه تا لمونځ نه دئ کړی) دا کار درې ځلي

تکرار شو، هغه سړي وویل: قسم پر هغه ذات چې ته ئې په حقه رالیږلی یې؛ زما خو تر دې ښه لمونځ زده نه دئ، نو را وئې ښیه؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (کله چي لمانځه ته پاڅېدلې نو تکبیر ووایه، بیا له قرآن داسي آسانه برخه ولوله چي حفظ دي وي، بیا رکوع وکړه، تر هغه په رکوع کې پاته شه چي ډاډه او آرام شې، بیا پورته شه او سم صحیح ودرېږه، بیا سجده وکړه ښه په آرامۍ سره بیا له سجدې پورته شه او ښه آرام کښېنه، دا کار دي په ټول لمانځه کي کوه)؛ ترمذي کي یو بل روایت هم په دي ارتباط راغلی چي وایي: ... څومره چي رکوع وه؛ قومه به همدومره وي؛ په سجدې کي چي څومره پاته کېدا وي؛ په هماغه اندازه به د دوو سجدو په منځ کي وقفه وي؛ دا مطلب په ترمذي کي دوه ځلي راغلی.

له دې روایت معلومېږي چي د فاتحې لوستل فرض نه دي، که فرض وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً دې سړي ته د هغې یادونه کړې وه!! څوك چي وایي دا حدیث په بل نسخ شوی؛ د خپلي ادعاء لپاره هیڅ موجه دلیل نه لري.

## آیا په لوړ ږغ آمین ویل جائز دي؟

آمین یعنی خدایه! زموږ دغه دعاء قبوله کړه؛ په بایبل کي هم آمین راغلی او مسیحیان ئې وایي.

یوه بله فرعي موضوع چي ځینو غرضي او مرضي کړیو د اختلاف وسیله ترې جوړه کړې دا ده چي آیا مقتدي او امام به آمین په لوړ غږ وایي که په ټیټ غږ؟ راشئ وګورو چي صحیح رأیه کومه ده او زموږ درنو ائمه وو او فقهاءو په کوم دلیل یوه رأیه ترې غوره کړې.

موږ؛ احناف دې ته ترجیح ورکوو چي آمین په خفیه وي؛ نه په جهر او

لوړ غږ؛ سلفیان په لوړ غږ سره آمین وایي؛ ضروري ئې ګڼي؛ دومره چې فرض ئې بولي!! حتیٰ دومره تأکید پرې کوي لکه چې تر فرض هم لوړ وي!! متأسفانه ډېرى اختلافي مسائل داسي دي چې د سنت او مستحب په مستوی کې دي؛ خو ځیني کړۍ دومره ترکیز پرې کوي چې تر فرضو هم زیات ارزښت ورکوي؛ حتی دومره چې که څوک له دوی سره دا ونه مني او عمل پرې نه کوي؛ نو د اسلام له دائرې ئې وتلی ګڼي.

ځیني کسان د بخاري په دې روایت استناد کوي او وایي چې امام او مقتدي به په لوړ ږغ آمین وایي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « إِذَا أَمَّنَ الإِمَامُ فَأَمِّنُوا فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ». (بخاری:۷۸۱)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (کله چې امام آمین وایي، نو تاسي هم آمین ورسره وایئ، ځکه که د چا آمین د ملائکو له آمین سره برابر شي، نو تېر ګناهونه ئې ورته بخښل کېږي).

مخکي له دې چې د روایت د اسنادو په اړه څه ووایو؛ اجازه راکړئ څو پوښتني ترې وکړو:

- دلته خو د امام او مقتدي خبره ده؛ له ملائکو سره د آمین یو ځای کېدو معنی څه ده؟

- مګر په همدومره آسان کار سره؛ چې نه فرض دئ او نه واجب؛ د انسان تېر ګناهونه معاف کېږي؟! ټول ګناهونه په سترو سترو کارونو هم نه بخښل کېږي، ځیني ګناهونه داسي چې الله تعالی ئې هیڅا ته نه بخښي؛ شهید ته ټول مخکیني ګناهونه بخښل کېږي؛ کار ئې هم ډېر ستر دئ؛ د الله تعالی په لاره کې ئې خپل سر وقف کړی؛ ده ته هم د بنده حق نه بخښل کېږي؛ آیا دا مبالغه نه ده چې وایي: په یوه داسي آسان کار چې ځیني ئې سنت هم نه

ګڼي؛ ټول مسلمانان پرې متفق هم نه دي؛ لږ تر لږه اوس د امت غوڅ اکثریت؛ نه دا په لمانځه کي وايي او نه باور پرې لري او په جهر سره آمین نه وايي؛ آیا په همدې کار سره به یوه ته ټول ګناهونه بخښل کېږي او بل به منکر حدیث ګڼل کېږي؟!!

دا روایت د سند له مخي ډېر غریب دئ، په صحابه وو کي یو، په تابعینو کي دوه او په تبع تابعینو کي یو راوي لري، د دې په مقابل کي نور روایات داسي دي چي وايي: کله چي امام و لا الضالین ووايي؛ تاسو آمین ووایئ: إذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ، فَقُولُوا: آمِينَ.

له ابو هریره رضي الله عنه دا روایت هم راغلی چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: کله چي امام وَلَا الضَّالِّينَ ووايي؛ تاسو آمِينَ ووایئ)

عن أبي صالح عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم قال: إذا قالَ الإمامُ: (وَلَا الضَّالِّينَ) فقولوا: آمينَ).

د مدیني فقهاءو د أبو هریره رضي الله عنه یوه روایت ته ترجیح ورکړې، خو امام ابو حنیفه او امام مالك بل روایت ته. دوی او نور ائمه چي وايي آمین دي په ټیټ ږغ ویل کېږي په دې روایت هم استناد کوي:

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ حُجْرٍ أَبِي العَنْبَسِ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ: {غَيْرِ المَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة]، فَقَالَ: "آمِينَ" وَخَفَضَ بِهَا صَوْتَهُ.

علقمه بن وائل له خپل پلار روایت کوي چي وايي: کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم (غير المغضوب عليهم ولا الضالين) ته ورسېد نو آمین ئې په ټیټ ږغ ووایو.

یعني پیغمبر علیه السلام په جګ غږ آمین نه دئ ویلی؛ امین ئې ویلی خو په ټیټ غږ.

امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي په څلورو ځايونو کې به امام خپل ږغ ټيټوي: سبحانك اللهم، تعوذ، بسم الله او آمين.

د مرقاة المفاتيح مصنف وايي: حمل أئمتنا ما ورد من رفع الصوت على أول الأمر للتعليم ثم لما استقر الأمر عمل بالإخفاء والله أعلم.. ثم إن الأصل في الدعاء الإخفاء لقوله تعالى: (ادعوا ربكم تضرعا وخفية) ولا شك أن آمين دعاء، فعند التعارض يرجح الإخفاء بذلك وبالقياس على سائر الأذكار والأدعية:

زموږ ټول أئمه په دې نظر دي چي په جهر سره آمين ويل په لومړيو کې او خلکو ته د ښوونې او تعليم لپاره وو، بيا کله چي کار مستقر شو (خلك پرې پوه شول) نو په خفيه ويلو ئې عمل پيل شو،... له دې علاوه په دعاء کې اخفا او په ټيټ ږغ دعاء کول اصل دئ ځکه چي الله تعالی فرمايي: (خپل رب ته په زاريو او ټيټ ږغ سره دعاء وکړئ)، په دې کې شك نشته چي آمين دعاء ده، نو د تعارض په صورت کې په آمين ويلو کې إخفاء او ټيټ ږغ غوره دئ، پر نورو اذکارو او دعاءګانو قياس سره.

متأسفانه اوس داسي خلك راپيدا شوي چي د بخاري په دغه غريب روايت به عمل کول داسي ګڼي لکه په کوم صريح آيت، لکه چي آمين ويل تر فرض هم اوښتی وي!! په داسي حال کې چي نه پوهېږي د دې روايت وزن او اعتبار څومره دئ، ولې د امام ابو حنيفه او امام مالك په څېر سترو سترو فقهاءو هغه ته يا اعتبار نه دئ ورکړی او يا ئې د ابتدائي دور مربوط ګڼلی او د دې پر ځای ئې هغه روايت معتبر ګڼلی چي د خفيه آمين سپارښتنه کوي، دې ته هم اعتناء نه لري چي امام ابو حنيفه ته له صحابه وو روايات رسېدلي او امام بخاري ته له پنځم نسل!! دوی ته همدا آمين بالجهر، رفع اليدين، قرائت خلف الامام، لاس پر سينه يا پر نامه ايښودل، په قيام کې پښې څومره لري لري ايښودل تر ټولو مهم او اساسي مسائل برېښي، تر فرائضو هم مهم، هغه هم نه د دې لپاره چي دا رأيه ئې پر بلې مضبوطه او مستدله موندلې بلکې د مادي اغراضو او له بداېو عربو هېوادو د اجورې تر لاسه کولو لپاره!! موږ له هغو خلکو نه

گیله لرو او نه اعتراض پرې کوو چې یو روایت تر بل ورته غوره او ارجح معلوم شوی او عمل پرې کوي؛ ورته وایو: تا ته دغه روایت سم معلوم شوی؛ په همدې عمل کوه؛ بل چې دا روایت معتبر نه ګڼي؛ مه ئې تکفیروه؛ دا سپارښتنه هم درته کوو چې هغه روایات هم له نظره تېر کړه چې د دې خلاف دي؛ په پټو سترګو په یوه چا او خبري پسې مه ځه؛ ځکه الله تعالی موږ ته لارښوونه کړې او فرمايي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾ الإسراء ٣٦

- په هغه څه پسې مه ځه چې په اړه ئې علم نه لرې؛ یقیناً چې غوږ، سترګه او زړه؛ دا هر یو داسې دئ چې په اړه ئې پوښتل کېږي.

- یعني چې الله تعالی د غوږونو، سترګو او زړه په ارتباط حتماً تا پوښتي چې د فهم او پوهې له دغو وسائلو او اسبابو دې ولې سمه استفاده ونه کړه؟ ولې په پټو سترګو په چا پسې ولاړې؟ ولې دې هره خبره ومنله او په خپل زړه کې دې ځای ورکړ؟ قرآن د مؤمنانو په اړه فرمايي:

الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَٰئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿١٨﴾ الزمر ١٨

هغه چې خبره اوري او د هغې متابعت کوي چې تر ټولو غوره وي؛ دا هغه خلك دي چې الله هدایت کړي او همدا عقلمن دي.

له الله تعالی او د هغه له رسول پرته؛ د هر چا خبره چې اورې نو د دې الهي لارښووني مطابق عمل ورسره کوه.

بله غوښتنه نه ترې لرو؛ فقط ورته وایو: تعصب مه کوه، له مسلمان سره په فرعي قضایاوو کې د اختلاف رأی له کبله دښمني مه پاله، د اسلام له دائرې

ئې وتلی مه ګڼه، که هغه ستا او ستا د استاد پر ځای د هغه چا رأی مني او ارجح ئې ګڼي چې ګمان کوي هم تر تاسو پر قرآن ښه پوهېدو او هم پر حدیث؛ د صحابه وو دور ته نږدې وو؛ او همدې ته په پام سره ئې هغه د امام په توګه غوره کړی؛ نو د هغه په خلاف د جنګ جبهه مه پرانیزه؛ مه تېره ژبه کاروه او مه تېره توره؛ که همت او غیرت لرې نو دا ژبه او توره د اسلام د خطرناکو دښمنانو په ضد وکاروه.

ما د تحقیق په دوران کې؛ د تفسیر او بخاري شرحي (حکمة الباریٔ) د لیکلو په دوران کې؛ دا موندلې چې د احنافو اسلوب او آراء؛ تر نورو غوره او احسن دي؛ د احنافو رأی؛ یعني د هغي مجموعې رأی چې امام ابوحنیفه ئې مشري کوله او د فقهي احکامو په تدوین کې ئې خاص اسلوب درلود؛ دا د یوه شخص نه بلکې د یوې مؤمني مجموعې مذهب دئ؛ داسي چې په ډېرو مواردو کې شاګردانو له خپل استاد؛ امام ابو حنیفه سره توافق نه دئ کړی او نورو د دغو شاګردانو رأیه تر خپل استاذ غوره ګڼلې؛ یعنی هغوی دلائلو ته په پام سره یوه رأیه قبوله کړې؛ نه په پټو سترګو؛ دا نه ړوند تقلید دئ، نه بدعت، نه شرك او نه د سنت خلاف عمل؛ د فتوی په صادرولو کې له الله تعالی وویرېږئ او په وړو وړو خبرو خلك مه تکفیروئ؛ په امت کې یو ستر مصیبت او لویه فتنه هغه تکفیري ډلي دي چې د خلکو د مسلمانولو ظرفیت، کمال او همت نه لري خو د مسلمان په تکفیرولو کې ډېر جرئ او جسور دي!!

موږ له هغو کرکه لرو چې له فرعي مسائلو د اختلاف وسیله جوړوي او په ډېرو حساسو شېبو کې د اختلاف راولاړولو په موخه فرعي اختلافي قضایا عنوانوي!! له دوی به هیڅکله وانهورئ چې د عربو د اوسنیو فرعونانو او ابو جهلانو په ضد څه ووایي، د دغو هېوادو د حکامو فساد، ظلم، عیاشي د پردیو په وړاندي ذلت او د خپلو ولسونو په وړاندي بې رحمي او ظلم ته ګوته ونیسي، په عربو هېوادو کې د امریکایانو د نظامي اډو یادونه وکړي، پر افغانستان او عراق د صلیبي ځواکونو یرغلونه وغندي، خو د امام ابو حنیفه

په ضد به په ډېر جسارت او سپين سترگۍ سره بد و رد وايي او د احنافو مذهب به د حديث خلاف گڼي؛ امام ابو حنيفه خو پرېږده د عمر رضی الله عنه په ارتباط به هم وايي چي هغه دا شل ركعته تراويح را منځ ته كړي او په دين كي بدعت نشته؛ او تاسو پوهېږئ چي د دې خبري معنى څه ده؟ يعني دوى عمر رضي الله عنه په بدعت تورنوي!!! په داسي حال كي چي عمر رضی الله عنه فقط دومره كار كړى چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنت مطابق ئې همغه شل ركعته تراويح په يوې جَمعي سره احياء كړې چي پيغمبر عليه السلام ئې دوه يا درې شپې امامت كړى؛ په دې اړه به إن شاءالله تفصيلي بحث كوو؛ دا ښاغلي پر عمر رضي الله عنه او امام ابوحنيفه په داسي حال كي نيوكي او اعتراض كوي چي د قرآن يو آيت سم نشي ژباړلی، د يوه حديث له سمي او دقيقي ترجمې به عاجز وي، د بخاري د رواياتو تر منځ توپيرونه او تعارضات به نشي درك كولی او د متعارضو رواياتو له منځ؛ د يوه د انتخاب استعداد به نه لري، خو داسي به مغرور وي چي د امت فقهاءو او ائمه وو ته به په سپكه سترگه گوري، د كوم جومات په كونج كي به ئې څو مظلوم طالب العلمان راغونډ كړي وي، د دوی په نامه به له خلكو پيسې راټولوي، همدا به ئې د معيشت د تأمين ذريعه وي، خو د همدغو مظلومانو له ايمان او عقل سره به لوبي كوي او د مذاهبو په ضد به ئې پاروي؛ دوی ته له الله تعالى هدايت غواړو او ورته وايو اشتباه مو كړې غلطه لار مو غوره كړې، راشئ پر مهمو او اساسي مسائلو تركيز وكړو، راشئ هير شوي فرائض احياء كړو، راشئ دښمنان درجه بندی كړو، قضايا درجه بندی كړو، پر كومو قضاياوو تر نورو وړاندي تركيز وكړو؛ چا ته د اصلي او لومړي دښمن په سترگه وگورو، څوك خپل ورور وگڼو؛ سره له دې چي په ځينو مسائلو كي له هغه سره اختلافات لرو. زموږ گران پيغمبر عليه السلام حتى يو مهال په مكه كي ويل: "قولوا لا اله الا الله تفلحوا": فقط لا اله الا الله ووايئ ژغورل كېږئ؛ د دې معنى دا ده: پيغمبر عليه السلام چي په كومي قضيې تر نورو وړاندي او زيات تركيز كولو

---

همدا وه؛ کله چې خلک خدای ومني؛ نو د فلاح او نجات پر رسۍ ئې منګولې لګولې او نور مسائل به ئې ورو ورو او په آسانۍ حل کېږي.

## له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته

ځیني داسي ګمان کوي چې دوهم او څلورم رکعت ته له پاځېدا د مخه او د مخکیني رکعت له وروستۍ سجدې وروسته باید لنډه ناسته وشي، دوی د دې ادعاء لپاره د بخاري په یوه داسي روایت استناد کوي چې د سند له مخي ډېر زیات غریب دئ، روایت داسي دئ:

۷۸۰ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ قَالَ أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ قَالَ أَخْبَرَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ اللَّيْثِيُّ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَإِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا

۸۲۳ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، قَالَ: أَخْبَرَنَا خَالِدٌ الحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ الحُوَيْرِثِ اللَّيْثِيُّ، أَنَّهُ «رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، فَإِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِنْ صَلاَتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا» (بخاری:۸۲۳)

له مالک بن حویرث رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې پداسي حال کې په لمانځه لیدلی چې په طاق رکعت یعني اول او دربیم رکعت کې به تر هغه پوري له سجدې قیام ته نه پاڅېدو چې ښه به نه وو ناست. یعني له کښېناستو وروسته به قیام ته پورته شو.

دا روایت په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري او دا دي: هُشَيْمٌ، خَالِدٌ الحَذَّاءُ، أَبو قِلاَبَةَ، مَالِكُ بْنُ الحُوَيْرِثِ اللَّيْثِيُّ.

امام بخاري هغه روايات نه دي راوړي چې د دې خبري خلاف خبره كوي؛ كه ئې إسناد سم او صحيح ګڼلی نو حتماً به ئې راوړي وو؛ ګواکې د نورو رواياتو إسناد د اعتبار وړ نه دي او ده چې كوم روايات راوړي او نقل كړي؛ فقط دغه د رواياتو سلسله دقيقه او د اعتبار وړ ده او كه دا ومنو؛ نو پوښتنه كوو: دا روايت په څلورو طبقو كې يو يو راوي لري؛ اغرب دئ؛ آيا كولی شو په داسې غريب روايت؛ د احكامو په ارتباط استناد وكړو؟! له ډېرو سره به رنګ رنګ ځوابونه او له تكلف ډك توجيهات وي؛ خو موږ په دې عقيده او باور يو؛ هغه هم د قرآن د صريح آيت په حكم؛ چې د يوه مدعي ادعاء هغه مهال د منلو او اعتبار وړ ده چې ٢ – ٣ او ٤ شاهدان وړاندي كړي؛ هر څومره چې ادعاء ستره وي؛ د شاهدانو شمېر ئې بايد زيات وي؛ د دين او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وينا او عمل په اړه ادعاء تر ټولو زيات شاهدان ايجابوي؛ له شاهد پرته د يو چا ادعاء منل؛ حتى په عادي مسائلو لكه قرض، تجارتي راكړې وركړې، پېر پلور كې ناروا ده؛ قاضي مكلف دئ له مدعي سند او شاهدان وغواړي؛ له دې پرته د حكم او فيصلې صادرولو حق نه لري؛ په مهمو ديني مسائلو كې؛ لكه دا چې څه حلال دي او څه حرام، څه فرض، واجب او سنت دي؛ او څه د مسلمانانو خوښي ته پرېښودل شوي؛ د فلان قضيې په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا او لارښوونه څه ده؛ په داسې مهمو مواردو كې به څنګه د يوه كس ادعاء منو؟ قرآن موږ ته په واضح الفاظو ويلي: هغه مهال د يو چا ادعاء د منلو ده چې دوه يا درى يا څلور شاهدان ولري. موږ د خپل ګران پيغمبر عليه السلام په اړه احتياط كوو؛ د داسې څه له ويلو ډډه كوو چې په صحت ئې متيقن شوي نه وو؛ دا جسارت نه كوو؛ چې ده منسوب شوې هره وينا او ادعاء له تحقيق او شواهدو پرته ومنو؛ ده راته لارښوونه كړې: چا چې ما ته داسې خبره منسوب كړه چې ما نه ده ويلې؛ خپل ځاى دي په جهنم كې ولټوي؛ تاسو او هر مسلمان ته مو همدا توصيه ده.

د ابو قلابه په اړه ويل شوي: ويل كېږي مستجاب الدعوة، صادق، ډېر خطا

کېدونکی وو، په اسانيدو او متونو کې پر هغې وينا استناد نه شي کېدی چې دی په کې يوازې وي، زموږ له شيخ ابو القاسم بن منيع رارسېدلې چې له ما سره د ابي قلابه لس اجزاء دي؛ په هغوی کې يو داسې حديث نشته چې د إسنادو يا متن له پلوه روغ او سالم وي؛ له خپلې حافظې به ئې حديث بيانولو نو ځکه ئې اوهام زيات شوي.

قال الدَّارَقُطنِي قيل لنا كان مستجاب الدعوة صدوق كثير الخطأ فى الأسانيد والمتون لا يحتج بما انفرد به بلغنى عن شيخنا أبى القاسم بن منيع عندى عن أبى قلابة عشرة أجزاء ما منها حديث يسلم إما فى الإسناد أو فى المتن كان يحدث من حفظه فكثرت الأوهام منه. على بن عمر الدَّارَقُطْنِي

د بخاري دا روايت د سند له مخې تر مطلق غريب اوښتی او په څلورو طبقو کې يو يو راوي لري، محققين غريب روايات د احکامو په اړه حجت نه ګڼي، مګر دا چې د تأييد لپاره ئې کوم شاهد وموندل شي، د متن له پلوه له هغو رواياتو سره تعارض لري چې وايي: له سجدې راپورته کېدا به په تکبير سره وي، که په طاق رکعتونو کې له وروستۍ سجدې وروسته ناسته وشي نو له ناستې وروسته ولاړېدا بل تکبير ايجابوي، دا ځکه چې د لمانځه هر حرکت له يوه ږغ او وينا سره توأم وي، دا حرکت به ولې په استثنائي توګه له کومې وينا او ږغ پرته ترسره کېږي؟!! ښايي مالك بن حويرث به د رسول الله صلى الله عليه و سلم داسې ناسته په کوم استثنائي حالت کې ليدلې وي؛ لکه د بيمارۍ يا د زنګنو د درد په حالت کې. نه له بل صحابي داسې روايت شته او نه رسول الله صلى الله عليه و سلم د داسې کولو امر کړی.

که تاسو د تشهد لپاره د کښېناستلو اړوند روايت ته ځير شئ درته جوته به شي چې کله کله راوي د بل چا له کوم حرکت ناسمه انتباه اخلي، هغه د بيمارۍ او کوم مشکل په وجه استثنائي حرکت کړی وي او دې راوي داسې

انتباه ترې اخيستې وي چې ګواکې دا ئې دائمي عادت دئ!! روايت داسي دئ:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ يَرَى عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رضى الله عنهما يَتَرَبَّعُ فِي الصَّلاَةِ إِذَا جَلَسَ، فَفَعَلْتُهُ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ حَدِيثُ السِّنِّ، فَنَهَانِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَقَالَ إِنَّمَا سُنَّةُ الصَّلاَةِ أَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنَى وَتَثْنِيَ الْيُسْرَى. فَقُلْتُ إِنَّكَ تَفْعَلُ ذَلِكَ. فَقَالَ إِنَّ رِجْلَيَّ لاَ تَحْمِلاَنِي. (بخاري:۸۲۷)

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له زوی عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ئې ليدو چي په لمانځه کي د کښېناستلو په وخت به ئې پلتۍ وهله، ما هم دا کار وکړ، زه دا مهال کم عمره وم، نو زه ئې له دې کار منع کړم او وئې ويل: د لمانځه سنت دا دئ چي په ناستي کې خپله ښۍ پښه ودروې او کيڼه پښه دي تاو کړې (او ورباندي کښېنې)، ما ورته ويل: ته خو داسي کوې!! وئې ويل: زما پښې (کمزورې دي او) زما دروندوالی نه شي زغملی.

له دې روايت دوه خبري معلومېږي: ۱- په تشهد کې د ناستي سنت دا دئ چي سړی ښۍ پښه ولاړه وساتي او کيڼه پښه څملوي او پرې کښېني، احنافو د نارينه وو لپاره دغه صورت ته ترجيح ورکړې؛ او د ښځينه وو لپاره هغه صورت ته چي پر کوناټي کښېني او پښې ښي لوري ته کږې کړي. ۲- ښايي مالك بن حويرث رضي الله عنه هم رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي کوم استثنائي حالت کې ليدلی.

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له وينا دوه خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي: ۱- په دواړو جلسو کې به ناسته پر کيڼي پښې وي، که داسي نه وی نو هغه به ورته ويلي وو چي په يوې جلسې کې داسي او په بلې کې داسي کښېنه، ۲- ناسته به په کيڼي پښي وي څکه هغه دا عذر وړاندي کړی چي زما

ښه دا نشي تحمل کولی، که ناسته پر کوناټي وی نو د دې خبري کولو ضرورت نه وو.

که موږ ته داسي مسائل رامخته شول، له داسي لانجې سره مخامخ شولو چي نه پرې پوهېږو، پرېکړه نه شو کولی، له ګڼ شمیر متعارضو روایاتو یو نشو غوره کولی؛ نو څه به کوو؟ په دې ارتباط هم قرآن موږ ته صریح او څرګندي لارښووني کړې او هم پیغمبر علیه السلام؛ د قرآن په وینا به عمل کوو.

په داسي مواردو کي باید د قرآن او حدیث څو لارښووني په پام کي ونیسو:

قرآن فرمایي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ الإسراء : ٣٦

او په هغه څه پسي مه ځه چي پرې نه پوهېږې، دا ځکه چي غوږ، سترګي او زړه داسي دي چي د هر یوه پوښتنه کېږي.

په دې مبارك آیت کي موږ ته ویل شوي چي له غور او دقت پرته هیڅ خبره ونه منو، د غوږ دړه د هري خبري اورېدو ته داسي پرانیستې پرېښږدو چي د زړه تل ته مو لار وموموي؛ پرته له دې چي زموږ عقل ئې وڅېړي او د صحت او سموالی پرېکړه ئې وکړي. یوازي هغه مهال باید یوې خبري ته په خپل زړه کي ځای ورکړو چي پرې پوه شوي یو، که د کوم شي په اړه څه اورو نو هغه مهال ئې ومنو چي یا ئې په خپلو سترګو وګورو، یا مطمئن شاهد او ګواهان ورته ولرو او یا زموږ عقل او زړه ګواهي ورکړي چي دا خبره رښتیا ده. الله تعالی موږ ته غوږونه، سترګي او زړه د دې لپاره راکړي چي د سم او ناسم په پېژندو کي ترې استفاده وکړو، د قیامت په ورځ پوښتل کېږو چي دا د معرفت او پېژندو استعدادونه مو څنګه کارولي، مهمل او بې استفادې مو پرېښي وو او که مو سمه استفاده ترې کړې وه. الله تعالی به پوښتنه کوي

چې ولې مو غلطې خبرې ته غوږ کېښېښود، له تحقیق پرته مو ومنله، عمل مو پرې وکړ او بل ته مو وکړه. هغه خبره ومنه چې په حقانیت ئې پوه شوی یې، له تحقیق وروسته په یوې خبرې باور کوه، په پټو سترګو په هرې خبرې پسې مه درومه.

که انسان په خپله مخامخ له قرآن او حدیث اخذ نشي کولی؛ د مسلمانانو اکثریت همداسې دي؛ نو قرآن هغوی ته دا لارښوونه کوي:

وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَاۖ وَصَاحِبۡهُمَا فِي ٱلدُّنۡيَا مَعۡرُوفٗاۖ وَٱتَّبِعۡ سَبِيلَ مَنۡ أَنَابَ إِلَيَّۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٥﴾ لقمان: ۱۵

او که دوی دواړو (مور پلار) ستا په اړه دا هڅه کوله چې له ما سره داسې څه شریك کړې چې د هغه په اړه علم نه لرې؛ نو اطاعت ئې مه کوه؛ او په دنیایي چارو کې په ښه توګه مصاحبت ورسره کوه؛ او د هغه چا متابعت کوه چې زما لوري ته ئې انابت کړی. بیا ستاسو راتګ او ستنېدل زما لوري ته دي؛ نو په هغه څه به مو خبر کړم چې تاسو کول.

یعني ته به هم د الله تعالی لوري ته ځې او ستا مور، پلار او هغه چې تا ئې متابعت کړی هم؛ بیا به هغه تاسو په خپلو کړنو خبر کړي؛ کله چې انسان په خپلې کورنۍ کې د مور، پلار او مېرمنې له مخالفت سره مخامخ شي؛ دا تر ټولو لوی او ستر امتحان دئ؛ انسان د هرې آزموینې او مصیبت په وړاندې مقاومت کولی شي؛ خو د مور او پلار مخالفت زغمل او په وړاندې ئې صبر کول ورته ډېر ډېر ګران وي؛ دا ئې هم زړه غواړي چې کاش څوک پیدا شي؛ او د ده او مور او پلار تر منځ قضاوت وکړي؛ هغوی د ده د دریځ په حقانیت پوه کړي؛ الله تعالی فرمایي: تشویش مه کوه؛ ټول زما لوري ته راځئ؛ د قیامت په ورځ به زه ستاسو په اړه قضاوت کوم؛ همدا باید تا مطمئن کړي.

مسلمان پر دې ګمارل شوی چې له والدينو سره به ښېګڼه کوي، د هغوی د پېرزوينو درناوی او شکر به کوي، د قيامت په ورځ به الله تعالی د دې پوښتنه کوي چې له والدينو سره مو چلن څنګه وو، د ټولو بېرته ستنېدا د الله تعالی په لوري ده؛ خو انسان ته ئې دا سپارښتنه هم کړې چې که پلار او مور ستا په اړه دا هڅه کوله چې له الله تعالی سره داسي څه شريك کړې چې د هغه په اړه علم نه لرې؛ نو اطاعت ئې مه کوه؛ خو سره له دې په دنيايي چارو کې له هغوی سره په ښه توګه مصاحبت کوه. د دوی پر ځای د هغه چا متابعت کوه چې زما لوري ته ئې انابت کړی. بيا مو بېرته ګرځېدا زما په لوري ده نو په هغه څه به مو خبر کړم چې تاسو کول.

يعني د الله تعالی په اړه به د مور او پلار غلطه خبره هم نه منې؛ اجنبي او پردی خو لري پرېږده؛ که دوی ناسمي لاري ته بللې نو اطاعت ئې مه کوه او د داسي چا اطاعت وکړه چې مطمئن يې هغه د الله تعالی لوري ته تل او په هر څه کې رجوع کوي.

همدا راز قرآن فرمايي: هغه څوك د لارښود په توګه غوره کړه چې دوه مهم خصلتونه ئې دا وي: په خپله عملاً په سمه لار روان وي او له الله تعالی پرته له بل چا د دعوت او لارښوونې اجر او معاوضه نه غواړي؛ نه مادي معاوضه او نه معنوي؛ لکه شکرانه او اجوره او يا تحسين، تقدير، توصيف او تمجيد.

ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسْـَٔلُكُمْ أَجْرًا وَهُم مُّهْتَدُونَ. يس: ۲۱

د هغه چا متابعت وکړئ چې له تاسو بدله او معاوضه نه غواړي او هدايت شوي دي.

الله تعالی يوه قوم ته دوه پيغمبران ولېږل؛ قوم تکذيب او تهديد کړل؛ ورپسې ئې دريم ولېږو؛ خو دوی نه يوازي له مخالفت لاس وانخيست بلکې وئې ويل: که مو د دعوت لړۍ بنده نه کړئ؛ نو په دردناك عذاب به مو

تعذيب او رجم کړو؛ په همدې حالت کې يو صالح انسان له لري سيمي راځي او قوم ته وايي: د هغو متابعت وکړئ چي له تاسو هيڅ اجر او بدله نه غواړي او په سمه لار روان دي. قرآن دا قصه زموږ مخي ته ږدي او د دې صالح بنده همدا وينا په دغو الفاظو بيانوي:

ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ يس: ۲۱

او په دې سره قرآن دا ډېره مهمه او رغنده لارښوونه موږ ته کوي چي: هغه د امام او لارښود په توګه غوره کړئ چي دوه مواصفات او ځانګړتياوي ولري: له الله تعالی پرته له بل چا اجر نه غواړي؛ نه مادي اجر او نه معنوي اجر؛ نه شکرانې، نه توصيف، تمجيد او ستاينه؛ چا چي له الله تعالی پرته له بل چا د اجر هيله، غوښتنه او تمنی درلوده؛ عملاً دي داسي ومومند چي له دين ئې دکان جوړ کړی او د دعوت، تبليغ او ارشاد په نامه؛ دين په دنيا معاوضه او مبادله کوي؛ بل ته د طمعي سترګي اړوي، کار ئې الهي نه دئ، خپل اجر يوازي له الله تعالی نه غواړي؛ د هغه متابعت مه کوه او لارښود ئې مه نيسه.

له دې قرآني لارښوونو معلومېږي چي عام مسلمانان په مشروط تقليد مأمور شوي؛ او داسي تقليد نه يوازي ناروا نه دئ بلکې عام مسلمانان پرې ګمارل شوي. هغه چي ځانته غير مقلدين وايي؛ عملاً تر نورو زيات او سخت مقلدين دي؛ باور وکړئ تر ټولو شديد مقلدين دوی دي؛ مګر امام بخاري د دوی امام نه دئ؟ آيا د بخاري کتاب د دوی يوازينی مذهبي کتاب نه دئ؟ آيا په امام بخاري پسي ئې اقتداء نه ده کړې؟ که دا تقليد نه وي؛ نو تقليد څه ته وايي؟ عام مسلمانان له دې پرته بله چاره نه لري چي يو څوك ځان ته لارښود ونيسي او په هغه پسي اقتداء وکړي؛ په داسي چا پسي چي په دين پوهېږي؛ څوك چي په خپله مستقيماً له قرآن او حديث اخذ نشي کولی؛ غير له دې بله چاره نه لري؛ مجبور دئ ځانته داسي لارښود غوره کړي چي د ايمان، علم او تقوی له پلوه پرې باور لري.

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هره منسوب شوې وینا منل او نورو ته کول؛ د دې روایاتو په رڼا کې وڅېړئ:

وعن أَبِی هريرة - رضی الله عنه - : أنَّ النبيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ : " كَفَى بالمَرْءِ كَذِباً أنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ" . رواه مسلم .

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي: یوه سړي ته دا دروا‌غ کافي دي چې هر هغه څه ووایي چې اورېدلي ئې دي (یعني له تحقیق پرته هره خبره مني او بل ته ئې وايي).

یعني که احیاناً اورېدل شوې خبره سمه هم وي؛ له تحقیق او غور پرته ئې اورېدل، منل او بل ته کول؛ دروا‌غ ګڼل کېږي.

وعن سَمُرَةَ - رضی الله عنه - قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله - صلى الله عليه وسلم : "مَنْ حَدَّثَ عَنِّي بِحَديثٍ يَرَى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الكَاذِبينَ". رواه مسلم

له سمره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: څوك چې زما له لوري کوم حدیث بیانوي په داسي حال کې چې انګېري او ګمان کوي چې دا دروغ دئ؛ نو دی یو له دروغجنو دئ؛ یعني دی هم دروغجن دئ او هغه هم چې ده ترې اورېدلي.

د مسلم په بل روایت کې د يَرَى پر ځای يُرَى راغلي:

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَدَّثَ عَنِّي بِحَدِيثٍ يُرَى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِينَ.

یعني د روایت په اړه داسي وانګېرل شي (په خپله راوي او نور هم) چې دروغ دئ؛ نو دا راوي یو له دروغجنو دئ.

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ وَأَبِي أُسَيْدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: "إِذَا سمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّهُ

مِنْكُمْ قَرِيبٌ، فَأَنَا أَوْلاكمْ بِهِ. وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَنْفِرُ مِنْهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّه مِنْكُمْ بَعِيدٌ، فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ".

له ابي حُميد او ابي اُسيد روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ورته نرم شي؛ (يعني ستاسو زړه، حواس، مشاعر ترې اغېزمن شي او رښتيا ئې وګڼي)؛ او داسي ئې مومئ چي تاسو ته نږدې دئ؛ (داسي ئې مومئ لکه چي ستاسو خپله خبره او ستاسو رأى ته نږدې خبره وي)؛ نو زه تر تاسو هغه ته أولیٰ يم او که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ترې نفرت کوي او داسي ئې مومئ چي له تاسو لري دئ؛ نو زه تر تاسو زيات له هغه لري يم.

يقيناً چي د مسلمان ايمان، عقل، زړه او فِراست؛ هغه څه دي چي په مرسته ئې حق او باطل پېژندی او تفکيک کولی شي؛ د پيغمبر عليه السلام قول او وينا درک کولی شي؛ د قرآن په څېر ځلانده ملاك او معيار ورسره دئ؛ په رڼا کي ئې په ډېري آسانۍ پوهيدی شي چي کومه وينا به د پيغمبر عليه السلام وي او کومه نه.

## جمع صلاتين

يوه بله اختلافي موضوع دا ده چي آيا په سفر کي جمع صلاتين (دوه لمونځونه په يو وخت اداء کول) جائز دي؟ آيا په قرآن کي د دې جواز لپاره کوم شاهد او دليل مومو؟ راشئ وګورو چي په قرآن کي او د رسول الله صلى الله عليه و سلم په احاديثو کي په دې اړه څه لارښوونه شوې. قرآن فرمايي:

وَإِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَقۡصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنۡ خِفۡتُمۡ أَن يَفۡتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْۚ إِنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمۡ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ﴿١٠١﴾ النساء: ۱۰۱

او کله چي په زمکه سفر کوئ؛ نو په دې کې پر تاسو کومه گناه نشته چي لمونځ رالنډ کړئ؛ که دا وېره مو وه چي کافران به مو په فتنه کې واچوي. بې شکه چي کافران ستاسو ښکاره دښمنان دي.

د دې مبارك آيت لارښووني دا دي: د سفر په حالت کې او هغه وخت چي له دښمن مو څه وېره وي؛ نو کولی شئ خپل لمونځ رالنډ کړئ، څلور رکعته مو دوه رکعته، رکوع او سجده مو مختصر او قرائت او تسبيحات مو رالنډ کړئ. په قصر کې نوري آسانتياوي هم شاملي دي چي يوه برخه ئې د البقرې د سورې په ۲۳۹ آيت کې توضيح شوې، آيت دا دئ:

حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا أَوۡ رُكۡبَانٗاۖ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾

د ټولو لمونځونو او د هغه غوره ئې ښه حفاظت کوئ او الله لره قانت (غاړه ايښودونکي او منقاد) ودرېږئ. خو که وېرېدلئ نو ببيا يا پلي او يا سپاره، خو کله چي د امنيت احساس وکړئ نو الله همغسي ياد کړئ لکه چي تاسو ته ئې درښودلی؛ همغه څه چي نه وربانديپوهېدئ.

دلته له (ٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ) مراد هغه لمونځ دئ چي په ټولو شرائطو برابر وي او په قنوت، خشوع او خضوع او د زړه او حواسو په حضور تر سره شي، داسي لمونځ د خطر او سفر په وخت کې نشي ترسره کېدی؛ د همدې لپاره الله تعالی وفرمايل چي د خطر په وخت کې کولی شئ چي په تلو تلو کې، که پلي

وئ يا سپاره؛ لمونځ اداء کړئ، په اشاره، د اصل لمونځ نيمايي او د قبلې په لوري له مخ کولو پرته، له لنډ قرائت او مختصرو تسبيحاتو سره. خو د امن په وخت کې به همغسي لمونځ کوئ چي الله درښودلی. دا مطلب هم بايد واضح کړو چي دلته (وسطی) په هغه معنی راغلی چي د همدې سورې په ۱٤۳آيت کې راغلی: وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا: لکه دلته چي له وسطی زماني او مکاني وسط مراد نه دئ همدا راز له الصلوة الوسطی هغه لمونځ مراد نه دئ چي د وخت له پلوه د نورو لمونځونو په منځ کې وي، د آيت وروستۍ برخه په ډېر صراحت سره دا مطلب په ګوته کوي چي له الصلوة الوسطی غوره لمونځ مراد دئ، هغه چي د خطر او سفر په وخت کې ئې ترسره کول ګران وي. له دې د مازديګر لمونځ اخيستل داسي توجيه ده چي له ټول آيت او مخصوصاً له وروستۍ برخي سره ئې هيڅ اړخ نه لګوي.

دلته څو پوښتنو ته بايد ځواب ومومو:

- په سفر کې د قصر حکم له دغه آيت اخيستل شوی که بله مرجع لري؟
- دلته قصر د سفر په وجه جائز شوی که د خوف او خطر په وجه؟
- له قصر مراد يوازي د رکعتونو په شمېر کې قصر دئ که د لمانځه په هيئت او کيفيت کې هم او مخکې، وروسته کول ئې هم؟

دغو پوښتنو ته د ځواب موندلو په کار کې لاندي خبري مرسته کوي:

- له دې آيت وروسته چي کوم آيت راځي له هغه معلومېږي چي دلته د خوف او خطر په وجه د قصر اجازه ورکړی شوې.
- له همدې وروستي آيت معلومېږي چي له قصر د لمانځه په کيفيت او هيئت کې قصر کول هم مراد دي، ځکه دلته په لمانځه کې له يوه ځای بل ځای ته د خوځېدو ذکر او د هغه اجازه راغلې.

- پیغمبر علیه السلام د سفر په لمونځونو کې قصر کړی، تل ئې څلور رکعته نیمايي کړي، په داسي حال کې هم چي د هیڅ خطر وېره نه وه.
- د قصر په اړه له دې پرته بل آیت نه مومو.

له دغو خبرو په ډاګه معلومېږي چي د سفر قصر هم له دې آیت اخیستل شوی او د خوف قصر هم او په قصر کې هم د رکعتونو قصر شامل دئ او هم د هیئت او کیفیت قصر.

د احزابو په جنګ کې چي له سفر پرته د خوف او خطر حالت وو، سفر نه وو، ټول مدینه کي اوسېدل، دښمن راغلی او مدینه ئې محاصره کړې، د لوی جنګ لپاره تیاری نیول شوی وو، د دښمن لس زره جنګیالي؛ د مختلفو قومونو، حزبونو او مذاهبو پلوي جنګیالي راټول شوي، تاریخ ئې د احزابو جنګ په نامه یادوي، یعني د عربو ټول احزاب یوې خوا ته او حزب الله، جند الله او د مؤمنانو حزب بل طرف ته، په دغه جنګ کي چي سفر په کې نه وو اما د خطر حالت وو؛ په لمونځونو کې قصر شوی.

د قصر دوه صورتونه ګورو: ۱- له جَمعي پرته یوازي یوازي لمونځ، ۲- ځنډول ئې او قضائي ئې اداء کول.

په مخکیني آیت کې په دې اړه په ډېر صراحت سره ویل شوي وو چي د سفر او خوف په حالت کې قصر کولی شئ، خو دا نه وه واضح شوې چي په بې خوف سفر کې به قصر کوئ که نه؟ خو د ۱۰۳ آیت له فحوی معلومېږي چي په سفر کې به هم قصر کوئ، دا ځکه چي د پوره لمانځه لپاره ئې د اطمئنان شرط وضع کړی، که یوازي د خوف منتفي کېدل مراد وی نو د (اطمئنان) پر ځای به ئې د (امن) لفظ راوړ، د خوف په مقابل کې د امن لفظ راځي، لکه د بقرې د سورې په ۱۹۶ آیت کې چي د خوف منتفي کېدو لپاره د امن لفظ راغلی او ویل شوي: که په امن کې شوئ نو بیا تر حج مخکې د عمرې د اداء کولو حکم دا دئ. په سفر کې که هرڅومره آرام او بې تکلیفه سفر وي خو

انسان په کې لالهانده او پرېشانه وي او زړه ئې نامطمئن. آيت دا دئ:

فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْۚ فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ﴿١٠٣﴾ النساء: ١٠٣

خو کله چې دا د خوف لمونځ اداء کړئ، نو الله په ولاړه، ناسته او پر اړخ ملاسته کې يادوئ، بيا کله چې مطمئن شئ نو همغه (د امن د وخت) لمونځ اداء کړئ. بې شکه چې دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی.

يعني د لمانځه لپاره اوقات ټاکل شوي، هر لمونځ په خپل خپل وخت اداء کول فرض دئ. مخکينی رخصت د يوه ضرورت له مخي موقت رخصت وو، په عادي حالاتو کې به هر لمونځ په خپل ټاکلي وخت ترسره کوئ. خو د سفر او خوف په حالت کې به دا له خپل ټاکلي وخت لمونځ مخکي يا وروسته کول څنگه وي؟ په دې اړه دوه رأيي دي: د ماسپښين او مازديگر لمونځونه، يو ځای او په يوه وخت کې، يو په بل پسي، په يوه أذان او دوه اقامته اداء کول او د ماښام او ماخستن لمونځونه همداسي؛ لکه څنگه چې د حج په دوران کې؛ په عرفات کې د ماسپښين او مازديگر لمونځونه يو ځای او په مزدلفه کې د ماښام او ماخستن لمونځونه يو ځای اداء کېږي. دوهمه رأيه دا ده چې له حج پرته په نورو سفرونو کې د دوو لمونځونو يو ځای کول بايد داسي وي چې يو په خپل آخري وخت کې او بل په خپل لومړني وخت کې همداسي يو ځای اداء شي، دې ته صوري او شکلي جمع صلاتين وايي، دا د احنافو رأيه ده، له احنافو پرته نور ټول مخکينی صورت غوره گڼي او له دې لحاظه د حج او نورو سفرونو تر منځ په توپير باور نلري، د دې لپاره څو دلائل وړاندي کوي: ۱- د لمونځونو صوري جمع تر دې ډېر گران کار دئ چې هر لمونځ په خپل خپل وخت او بېل بېل اداء شي، دوه لمونځونه په دې توگه يوه وخت ته رابرابرول او هغه هم په سفر کې گران کار دئ، قصر او جمع صلاتين خو د تخفيف لپاره دي، د هر

لمانځه لپاره پراخ وخت ټاکل شوی، صوري جمع دا پراخوالی او سهولت له منځه وړي او په یوه محدود وخت کې ئې راخلاصه کوي. ۲- په سفر کې لمونځ رامخکې کول یا وروسته کول داسې دئ لکه چې د مسافر او مریض لپاره دا رخصت ورکړی شوی چې روژه بل وخت او د کال نورو ورځو ته وځنډوي، روژه د لمانځه په څېر ثابت وخت لري خو د مسافر او مریض لپاره ئې دا سهولت ورکړی. ۳- د حج په موسم کې دوه جمع صلاتین لرو، یو ئې په عرفات کې د ماسپښین او مازدیگر لمونځ د ماسپښین په لومړي وخت کې او بل ئې په مزدلفه کې د ماښام او ماخستن لمونځ د ماخستن په وخت کې، که د حج په حالت کې او د عرفات او مزدلفې په مقام کې جائز وي نو په نورو وختونو کې خو په أولیٰ درجه جائز دئ.

احناف هم جمع صلاتین جائز ګڼي خو داسې چې مخکینی لمونځ به په خپل آخري وخت کې او ورپسې لمونځ به په لومړي وخت کې یو په بل پسې اداء کېږي، دې ته جمع صوري وایي، نور مذاهب جمع حقیقي جائز ګڼي.

په داسې حال کې چې د لمانځه د توقیت په اړه دا آیت ډېره واضح لارښوونه کوي او په داسې حال کې چې د پیغمبر علیه السلام سنت زموږ مخې ته پروت دئ، هغه مبارك نږدې اتلس زره لمونځونه په مدینه منوره کې کړي، د مدینې په سلګونو او په زرګونو اوسېدونکو پنځه وخته أذان اورېدلی، د پیغمبر علیه السلام په امامت کې ئې د جماعت لمونځ لیدلی، د أذان او اقامت الفاظ ئې اورېدلي، د ده او اصحابو د لمانځه کیفیت ئې لیدلی او دا ټول د مدینې مسلمانانو یو په بل پسې له یوه بل نسل ته انتقال کړي، خو سره له دې ګورو چې ځیني ټول لمونځونه په یوه وخت کې کول هم جائز ګڼي، له سفر او خطر پرته په عادي حالت کې د ورځې پنځه لمونځونه په درې وختونو کې ترسره کول هم جائز ګڼي، ځان ته د أذان خاص الفاظ او د لمانځه خاص ترتیب او ترکیب لري او د خپل مسلك په اړه هومره تعصب لري چې په بل کیفیت او هیئت کې لمونځ ورته لمونځ نه ښکاري، د بل مسلك په امام پسې لمونځ کول جائز نه

ګڼي، د هغه په أذان روژه نه ماتوي او حتیٰ هغه مسلمان نه ګڼي. ای کاش ټول امت لږ تر لږه په دغسي واضح مسائلو کې له اختلاف لري پاته شوی وی، د قرآن صریح نص، د پیغمبر واضح سنت او د مدینې د مسلمانانو د لمانځه هیئت او کیفیت ئې د ملاك په توګه منلی وی. متأسفانه دا اختلاف هم له متعارضو روایاتو راولاړ شوی.

د جمع صلاتین په اړه د بخاري روایت دا دئ:

**عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ، ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ. فَقُلْتُ الصَّلاَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ " الصَّلاَةُ أَمَامَكَ ". فَرَكِبَ، فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ، فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ، ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الْعِشَاءُ فَصَلَّى وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا. (بخارى:١٣٩)**

له اسامه بن زید رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلى الله علیه و سلم له عرفات راوګرځېد، کله چي یوې درې ته ورسېد، کوز شو او د اودس ماتي لپاره صحرا ته تېر شو، بیا ئې لاسونه ومینځل خو اودس ئې بشپړ نه کړ، ما وویل: یا رسول الله! د لمانځه وخت دئ! وئې فرمایل: (لمونځ دي وړاندي دئ)، بیا سپور شو او کله چي مزدلفې ته ورسېد، کوز شو، اودس ئې وکړ، خو اودس ئې بشپړ کړ، بیا د لمانځه لپاره اقامت وویل شو او د ماښام لمونځ ئې وکړ، بیا هر چا خپل اوښ په خپل خپل ځای کي چو کړ، ورپسې د ماخستن د لمانځه اقامت وویل شو او لمونځ ئې وکړ، د دواړو تر منځ ئې بل لمونځ ونکړ.

دا روایت په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٨١، ١٦٦٧، ١٦٦٩، ١٦٧٢ له دغو توپیرونو سره: په یوه کي دَفَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه

و سلم مِنْ عَرَفَةَ په بل کې لَمَّا أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ، په یوه کې حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ او په بل کې عَدَلَ إِلَى الشِّعْبِ؛ او په بل کې حَيْثُ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ مَالَ إِلَى الشِّعْبِ؛ او په بل کې فَلَمَّا بَلَغَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم الشِّعْبَ الأَيْسَرَ الَّذِي دُونَ الْمُزْدَلِفَةِ أَنَاخَ، په یوه کې فَبَالَ او په بل کې فَقَضَى حَاجَتَهُ، په یوه کې ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ، په بل کې فَتَوَضَّأَ وُضُوءًا خَفِيفًا، په بل کې فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ الْوَضُوءَ او په بل کې فَجَعَلْتُ أَصُبُّ عَلَيْهِ وَيَتَوَضَّأُ، په یوه کې فَقُلْتُ الصَّلاَةَ يَا رَسُولَ اللهِ او په بل کې يَا رَسُولَ اللهِ أَتُصَلِّي په یوه کې الصَّلاَةُ أَمَامَكَ او په بل کې الْمُصَلَّى أَمَامَكَ راغلي.

له دې توپیرونو سره سره د روایاتو مطلب او مفهوم سره ورته دئ، البته دا سوال له هر چا سره مطرح کېږي چې ولې په یوه تکراري روایت کې دومره توپیرونه، ولې ئې ټول الفاظ په بشپړه توګه یو شانته نه دي؟ دا یوه ستونزه ده، تل به په متعارضو روایاتو کې دا ستونزه وګورئ، د بخاري په ډېرو مکررو روایاتو کې له دې ستونزي سره مخامخ شئ؛ په یوه مطلب پوري اړوند روایت په مکرره توګه راغلی خو په الفاظو کې ئې کله توپیرونه او کله تعارضات تر سترګو کېږي؛ په کار خو دا وه چې هیڅ توپیر او تعارض نه لیدل کېدی. تر ټولو غوره او دقیق روایت انتخاب او رانقل شوی وی؛ چټل، څېړل او یو ترې غوره کول؛ شاګردانو او مبتدي لوستونکو ته نه وی پرېښودل شوی؛ دا ستونزه باید د بخاري د لیکلو په مهال حل شوې وی.

د مخکیني روایت مطلب دا دئ چې: رسول الله صلى الله علیه و سلم له عرفات د راګرځېدو په مهال؛ په یوې درې کې له سورلۍ کوز شوی، اودس ماتې ته تېر شوی، لاسونه ئې مینځلي، بشپړ اودس ئې نه دئ کړی، د ماښام د لمانځه وخت وو، خو دلته ئې لمونځ نه دئ کړی، مزدلفې ته د ماخستن مهال رسېدلی، هلته ئې لومړی د ماښام لمونځ په بېل اقامت سره کړی، بیا ئې لږ دمه کړې او بیا ئې د ماخستن لمونځ په بېل اقامت کړی، د دې دواړو لمونځونو تر منځ ئې بل لمونځ نه دئ کړی.

دې ته مو باید پام وي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ماسپښین او مازدیگر لمونځ په عرفات کې په ګډه او د ماسپښین په مهال یو په بل پسې په دوه اقامتونو کړی او د ماښام او ماخستن لمونځ ئې همداسې خو د ماخستن په وخت په مزدلفه کې کړي. لومړني ډول جمع صلاتین ته جمع تقدیم او دوهم ډول ته ئې جمع تأخیر ویل کېږي. له دې معلومېږي چې دا دواړه ډوله جمع په هر سفر کې جائز ده، د دې لپاره نه کوم نقلي دلیل موندلی شو او نه عقلي دلیل چې په حج کې دې جائز وي او په نورو سفرونو کې ناجائز. زموږ ځینو درنو فقهاءو چې ویلي په نورو سفرونو کې داسې جمع صلاتین جائز ده چې یو ئې د خپل وخت په آخري برخي او بل ئې په لومړۍ برخي کې ترسره شي، په دې کې د رخصت او سهولت مصلحت فوت کېږي، دا تر دې هم ډېر ګران دئ چې هر لمونځ په خپل وخت کې وشي، ځکه په خپل وخت لمونځ کولو کې ډېر پراخوالی شته، د هر لمانځه لپاره تر یوه ساعت زیات وخت لري، خو په داسې جمعي کې یوازې څو دقیقې فرصت لري. د قرآن هغه مبارك آیت چې وایي: (... إِنَّ الصلَوٰةَ كانَت عَلى الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰباً مَّوْقُوتاً * النساء: ۱۰۳)؛ بې شکه چې دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی. که په دې کې د هیڅ استثناء مجال نه وی نو بیا خو به په عرفات او مزدلفه کې هم دوه دوه لمونځونه یو په بل پسې په دوو وختونو کې نه وو جائز، په سفر کې د قرآن د صریح آیت له مخې قصر جائز دئ، په قصر کې دا هم شامل دي چې لمونځ مخکې یا وروسته کړئ، دا ځکه چې ورپسې ویل شوي چې د قصر د حالت له ختمېدو وروسته او کله چې مطمئن شوئ نو بیا مکمل لمونځ په خپل وخت کې اداء کړئ. له دې په څرګنده معلومېږي چې د جمع صلاتین رخصت (د دوو لمونځونو په یوه وخت اداء کولو جواز) هم له دې آیت اخیستل شوی.

په سفر کې لمونځ رامخکې کول یا وروسته کول داسې دئ لکه چې د مسافر او مریض لپاره دا رخصت ورکړی شوی چې روژه بل وخت او د کال نورو ورځو ته وځنډوي، روژه د لمانځه په څېر ثابت وخت لري خو د مسافر او

---

مریض لپاره ئې دا سهولت ورکړی.

دلته یوه بل ټکي ته هم توجه په کار ده او هغه دا چې امام بخاري رحمه الله دا روایت د اودس د تخفیف او بشپړوالي تر عنوان لاندې راوړی، د لارې په اوږدو کې وضوء ئې د خفیف وضوء په معنی اخیستی، خو دا په دې معنی نه دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هلته یو ډول اودس کړی او په مزدلفه کې بل ډول، بلکې هلته ئې یوازې لاسونه مینځلي، ځکه د راوي له وینا معلومېږي چې هلته ئې د لمانځه اړوند وضوء (اودس) نه دئ کړی، که داسې وی نو هغه به دا نه ورته ویل چې د لمانځه وخت دئ، یعنې تا خو بشپړ اودس ونه کړ حال دا چې د لمانځه وخت دئ!!

## جومات ته د ښځو تګ

جومات ته د مېرمنو د تګ په اړه نه یوازې په عام او غیر مثقف مسلمانانو کې حساسیتونه شته بلکې تر دې وړاندې په یهودانو کې هم په دې ارتباط کافي حساسیتونه وو؛ د هغوی مذهبي مشرانو (احبار) جومات او معبد ته د مېرمنو د تګ مخالفت او ممانعت کولو؛ حتی مېرمنې ئې ناپاکې او پلیتې ګڼلې.

خو په دې اړه ټول مسلمانان متفق دي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانې کې؛ د لومړي مسجد له جوړېدو؛ بیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت پورې؛ ښځې جومات ته تلې او د جَماعت په لمونځونو کې ئې هره ورځ پنځه ځله تر یوه سقف لاندې؛ له نارینه وو سره یو ځای په بېلو بېلو صفونو کې برخه اخیسته؛ ځینو حساسیت ښودلو خو د مېرمنو مخنیوی ئې نشو کولی، دا ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم جومات ته د دوی د تګ په اړه په مکرره توګه سپارښتنه کوله؛ عمر رضی الله عنه د هغو په ډله

---

کې وو چې جومات ته د مېرمنو د تګ مخالف وو؛ مخصوصاً د پیغمبر علیه السلام د مېرمنو په اړه به ئې له ده غوښتل چې خپلو مېرمنو ته امر وکړي له کوره ونه وځي، خو نه رسول الله صلی الله علیه و سلم د ده غوښتنه ومنله او نه ئې مېرمني ورسره موافقه وکړه؛ دی به وړاندي او مېرمن به ئې تر شا جومات ته روانه وه، د خپلي مېرمني ممانعت ئې ځکه نشو کولی چې پیغمبر علیه السلام د تګ اجازه ورکړې وه. په جومات کې به د سړو او مېرمنو د صفونو ترتیب هم داسي وو چې نارینه وړاندي، ماشومان ورپسې او مېرمني وروسته؛ د اختر په لمونځونو کې به ئې هم برخه اخیسته؛ او کله کله به رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی لپاره بېله غونډه جوړوله او دوی ته به ئې ځانګړې موعظه اوروله. نه یوازي دا چې مسجد ته تلې او د جماعت په لمونځونو کې به ئې شرکت کولو بلکې ګڼ شمېر مېرمنو د امهات المؤمنین په شمول په غزواتو کې هم شرکت کړی. په دې اړه روایات دومره زیات او دومره صریح دي چې هیڅوك ترې انکار نشي کولی. راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه حکم کړی، آیا په قرآن کې داسي لارښووني مومو چې جومات ته د ښځو د تلو جواز ترې استنباط شي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه څه لارښووني کړې؟

که قرآن ته ځیر شو نو په دې خبري پوهېدا به راته ګرانه نه وي چې قرآن مؤمنانو ته په جماعت د لمونځ کولو سپارښتنه کوي.

وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ البقره: ٤٣

او لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

دا آیت د بني اسرائیلو په ارتباط راغلی؛ په داسي برخي کې چې د دین پلورو یهودي علماءو ځیني بد خصلتونه بیان شوي؛ قرآن د دغو علماءو او د دوی د فسادونو په اړه تفصیلي بحثونه کړي؛ د هغو په اړه چې له دین ئې دوکان جوړ کړی، هغه چې حلال به ئې حرامول او حرام به ئې حلالول، په

دين کې ئې زياتوالی کړی او ډېر څه ئې له ځانه پرې اضافه کړي او په دې توګه ئې د خلکو پېټې درانه کړي؛ د دوی په لاس او پښو کې ئې زنځيرونه اچولي، د هر پيغمبر او د هر مصلح داعي مخالفت ته ئې ملا تړلې، د حق وينا لومړی دښمني به د دوی له لوري وه، دلته په همدې ضمن کې د دوی څو خصلتونه بيان شوی: له الله سره ئې تعلق ضعيف او کمزوری وو، لمونځ ئې يا پرېښی او يا له حقيقي روح عاري او په شکلياتو لګيا وو، د دې پر ځای چې زکات ورکړي د زکات، صدقات او خيراتونو تر لاسه کول ئې عادت شوی وو، له عام ولس سره ئې هم اړيکې سستې شوې وې، له نورو سره ئې يو ځای عبادت هم پرېښی وو، د همدې لپاره دوی ته د دغو څو خبرو امر شوی: لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او له نورو رکوع کوونکو سره يو ځای رکوع وکړئ؛ ستاسو د ټولو انحرافاتو علاج په همدې کې دئ. دا آيت ښيي چې له نورو لمونځ کوونکو سره يو ځای لمونځ کول يوه الهي دائمي وجيبه وه او ده.

دا خو پرېږده چې قرآن په عادي او د امنيت او سولې په حالت کې؛ مؤمنان په جماعت سره لمونځ مکلف کړي؛ او وايي: لمونځ اصلاً يوه اجتماعي فريضه ده نه انفرادي؛ بايد له نورو سره يو ځای او په جماعت سره اداء شي؛ انفرادي لمونځ استنثائي حالت دئ چې د مجبوريت او عذر له کبله منل کېږي، هغه چا ته ئې اجازه او رخصت ورکړی شوی چې معذور وي او نه شي کولی جومات ته ولاړ شي؛ تاسو ګورئ چې د لمانځه دعاءګاني د جمع په صيغه دي؛ "اياک نعبد و اياک نستعين" خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا مرسته غواړو؛ "اهدنا الصراط المستقيم": موږ ته سمه لار وښيه؛ که څوك يوازې لمونځ کوي نو دعاء به ئې داسې وي لکه چې له نورو سره يو ځای په لمانځه ولاړ دئ او دعاء کوي. ټولې دعاءګاني ئې همداسې دي.

قرآن د جنګ ميدان ته ځېرمه او د خطر په حالت کې هم د جماعت سپارښتنه کوي او فرمايي:

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْۖ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةًۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسْلِحَتَكُمْۖ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾ النساء: ۱۰۲

او که ته (اې پيغمبره!) له دوی سره وې او په لمانځه ورته ودرېدې، نو د دوی يوه ډله دې له تا سره ودرېږي او خپلې وسلې دې ورسره واخلي، نو کله چې ئې سجده وکړه بيا دې له تاسو تر شا شي او هغه بله ډله چې لا ئې لمونځ نه دئ کړی هغه دې راشي او له تا سره دې لمونځ وکړي او خپل احتياطي تدابير دې ونيسي او اسلحه دې ورسره واخلي، کافران دا خوښوي چې تاسو له خپلو وسلو او مال متاع غافل شئ نو په يوواري دربانديې رامات شي، خو که له بارانه ځورېدئ يا بيمار وئ نو څه گناه دربانديې نشته چې خپله وسله کېږدئ، خو احتياطي تدابير مو ونيسئ، بې شکه چې الله د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تيار کړی.

په دې آيت کې د صلوة خوف په اړه لاندې لارښوونې شوې.

- د لمانځه لپاره به خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، يوه به په امام پسې اقتداء کوي او بله به پېره کوي.
- لومړۍ ډله به يو رکعت لمونځ وکړي او له سجدې وروسته به د پېرې لپاره تر شا شي. د لمانځه په وخت کې به خپله وسله له ځان سره لري.

- دوهمه ډله به راشي، اقتداء به وکړي او خپل لمونځ به پوره کړي. دوی ته ویل شوي چي هم به وسله له ځان سره لري او هم به احتیاطي تدابیر مراعاتوي، دا ځکه چي د پیړۍ کار بل ته حواله کول د احتیاط غوښتنه کوي، هلته باید لمانځه ته راشي چي نورو د پیړۍ کار پیل کړی وي.
- لومړۍ ډله به هغه وخت خپل پاته لمونځ تکمیل کړي چي دوهمه ډله له لمانځه فارغه شي او د دوی ځای ونیسي.
- لمونځ هم په دوو برخو وېشل شوی او یوازي یو رکعت ئې یوه برخه ګڼل شوې، له دې معلومېږي چي د سفر او خطر په وخت کي د قصر لمونځ څلور رکعته نه دئ، یا دوه رکعته دئ یا درې. پیغمبر علیه السلام هم په سفر کي یوازي د ماښام لمونځ درې رکعته او د نورو وختونو دوه دوه رکعته لمونځ کړی.

دلته د خوف متوسط او منځنی حالت بیان شوی، په کم خطر کي یو ځای جماعت کېدی شي او په زیات خطر کي جماعت پرېښودی شي، یوازي یوازي او حتیّٰ د قضاء کولو او وروسته اداء کولو اجازت شوی.

په دې حالت کي یوازي په هغه صورت کي له ځانه د وسلي لري کولو اجازه شوې چي یا له ورښت په تکلیف وئ او یا دومره بیمار وئ چي د وسلې له حمل عاجز وئ.

په جمع د لمانځه دا سپارښتنه عامه ده، ټولو مؤمنانو ته راجع ده، یوازي د نارینه وو لپاره نه ده، د قرآن بل آیت په دې ګواهي ورکوي چي ښځې هم په دې سپارښتني کي شاملي دي، ځکه قرآن د مریم علیها السلام په اړه فرمایي:

يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ وَٱسْجُدِى وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ آل عمران: ٤٣

اې مریمې! خپل رب ته تسلیم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع کوه.

د مریم علیها السلام یادونه د دې لپاره راغلې چي وښیي یوه مؤمنه مېرمن

---

باید څنګه وي، مریم علیها السلام ته د عالم پر ټولو ښځو فضیلت ورکړی شوی، قرآن هغه د مؤمنو مېرمنو لپاره د غوره مثال او بېلګي په توګه معرفي کوي او فرمايي:

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ٱبْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي ٱلْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١١﴾ وَمَرْيَمَ ٱبْنَتَ عِمْرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتْ مِنَ ٱلْقَٰنِتِينَ ﴿١٢﴾

التحريم: ۱۱-۱۲

او الله د مؤمنانو لپاره د فرعون د مېرمني مثال بیانوي چي وئې ویل: اې زما ربه! ما ته په خپلي خوا کي په جنت کي یو هستوګنځی جوړ کړه او له فرعون او د ده له عمله مي وژغوره او له دغو ظالمانو مي وژغوره. او د عمران لور مریمي (مثال) چي د خپل فرج ساتنه ئې وکړه، نو موږ له خپلي روح څه په کي پو کړل، د خپل رب ویناوي ئې رښتیني وګڼلې او د الله کتابونه ئې هم؛ او له غاړه ایښودونکو وه.

دلته دوه مثالي مؤمن شخصیتونه د ټولو مؤمنو مېرمنو لپاره د بېلګي او اسوه په توګه معرفي شوي: د فرعون مېرمن او مریم علیها السلام؛ د فرعون مېرمن آسیه چي د فرعوني کورنۍ مهمه غړې، د مصر دوهم شخصیت، د یو ظالم واکمن مېرمن وه پر الله تعالی ئې ایمان راوړ، د ایمان له کبله فرعون تر تعذیبونو لاندي ونیوله؛ دومره چي په لاس او پښو کي ئې میخونه ټکوهل؛ د همدغه سخت تعذیب لاندي؛ خپل رب ته دعاء کوله چي ما خپلي خوا ته دروغواړه او هملته ما ته کور جوړ کړه، له دې ظالم فرعون او د ده له کړنو مي وژغوره؛ او د ده له ظالم ټولي مي وژغوره؛ الله تعالی ئې دعاء قبوله کړه، هغې ته ئې هغه بیت او کور جوړ کړ چي دې غوښت او د بیت المعمور په

نامه ئې ونوماوو؛ او په قرآن کي ئې يادونه وکړه. او په دې سره ئې موږ ته لارښوونه وکړه چې کېدای شي يوه ميرمن داسي وي چې خاوند ئې فرعون ته ورته وي؛ خو د ايمان له کبله دومره ستر او عظيم شخصيت ترې جوړ شي چې په تاريخ کي ئې بېلګه او مثال نه وي؛ د ټولو مؤمنو ميرمنو لپاره اسوه او قدوه شي او الله تعالی ئې په خپل هغه کتاب کي يادونه وکړي چې تر قيامت پوري به لوستل کېږي. دوهم ستر شخصيت؛ مريم عليها السلام چې په مدرسه او جومات کي ئې روزنه وشوه؛ د زکريا عليه السلام په لاس؛ د يحيی عليه السلام پلار او د مريمې ماما؛ هغه ستر شخصيت چې الله تعالی د فرشتې په واسطه او په زړښت کي د زوی زېری ورکړ؛ دی او مېرمن ئې د عمر هغه پړاو ته رسېدلي وو چې د اولاد طمع او هيله پای ته ورسېږي، په محراب کي پر لمانځه ولاړ وو چې د زوی زېری ورکړی شو؛ مريم عليها السلام د ده په لاس او په معبد کي روزل شوې؛ کله به چې د مريمې د هستوګني خاص ځای ته ورغی نو د هغې خوا کي به ئې مېوه موندله، وبه ئې پوښتله: اې مريمې دا له کومه درته راځي؟ هغې ورته ويلي: دا د الله تعالی له لوري ده؛ او الله تعالی چې چا ته وغواړي له حساب پرته روزي ورکوي؛ يعني زه د دې روزي مستحقه نه يم؛ الله تعالی ئې له محاسبې پرته او د خپل فضل له مخي راکوي. له مريمې همدلته هغه ستر شخصيت جوړ شوی چې د انساني تاريخ له پيل تر پای پوري هيڅ ښځه د هغې مقام ته نشي رسېدی، دې ته له نورو لمونځ کوونکو سره د لمونځ کولو سپارښتنه؛ نه ځانګړې او خصوصي سپارښتنه ده او نه منسوخ شوې سپارښتنه. البته ښځو ته دا لارښوونه د نارينه وو له اړوند سپارښتني يوازي دومره توپير لري چې نارينه جومات ته پر تلو مکلف شوي او ښځو ته دا رخصت ورکړی شوی چې کولی شي جومات ته ولاړي نشي او په خپل کور کي لمونځ وکړي، خو که ئې وغوښتل جومات ته ولاړه شي هيڅوک ئې د مخنيوي حق نه لري. دا د رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي مکرره سپارښتنه ده چې د حجة الوداع په تاريخي او مهمي خطبې کي ئې هم د نورو سترو سترو

او مهمو امورو تر څنګ یو ځل بیا تکرار کړه.

راشئ هغه روایات هم له نظره تېر کړو چي په دې اړه راغلي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. قَالَتِ النِّسَاءُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم غَلَبَنَا عَلَيْكَ الرِّجَالُ، فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِكَ. فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ، فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ، فَكَانَ فِيمَا قَالَ لَهُنَّ " مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا إِلاَّ كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ ". فَقَالَتِ امْرَأَةٌ وَاثْنَيْنِ فَقَالَ " وَاثْنَيْنِ ". (بخاري:۱۰۲)

له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: ښځو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: ستا په اړه نارینه پر موږ برلاسي شوي (ستا د ویناوو په اورېدو کي دوی پر موږ وړاندي دي)، نو له خپل لوري موږ ته یوه ورځ ځانګړې کړه، نو د دوی لپاره ئې د ملاقات یوه ورځ وټاکله، (په هغه ورځ ئې) دوی ته وعظ وکړ او په خاصو امورو ئې وګمارلې، د هغو خبرو په ضمن کي چي دوی ته ئې وکړې دا هم وه چي: (له تاسي چي د هري ښځي درې اولادونه ترې ومري، دا به له اور ورته پرده شي.) یوې ښځي وویل: که د چا دوه اولادونه ترې ومري؟ وئې فرمایل: که دوه ئې ومري هم.

دا روایت په بخاري کي دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۱۲۴۹، ۷۳۱۰ له دغو توپیرونو سره: په یوه کي غَلَبَنَا عَلَيْكَ الرِّجَالُ او په بل کي ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ، په یوه کي فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِكَ، په بل کي فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ، يَوْمًا نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللهُ، په یوه کي فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ او په بل کي فَاجْتَمَعْنَ، په یوه کي فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ او په بل کي فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللهُ ثُمَّ قَالَ، په یوه کي تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا او په بل کي تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلاَثَةً او په یوه کي دا الفاظ هم شته فَأَعَادَتْهَا مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ " وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ " خو، په بل کي نشته. په دغو کي ۷۳۱۰ روایت تر نورو

جامع دئ.

د ابو هريره رضي الله عنه په يوه روايت کي راغلی چي: (هغه مړه شوي اولادونه ئې لا بالغ شوي نه وي).

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ إِذَا تَبَرَّزْنَ إِلَى الْمَنَاصِعِ وَهُوَ صَعِيدٌ أَفْيَحُ فَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم احْجُبْ نِسَاءَكَ. فَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَفْعَلُ، فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي عِشَاءً، وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً، فَنَادَاهَا عُمَرُ أَلاَ قَدْ عَرَفْنَاكِ يَا سَوْدَةُ. حِرْصًا عَلَى أَنْ يَنْزِلَ الْحِجَابُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ. (بخاري:١٤٦)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني رضي الله عنهن به د شپې له مخي د ضرورت رفع کولو لپاره بېدياوو ته چي پراخ او ارت ميدان وو وتلې، عمر رضي الله عنه به رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل: مېرمني دي په حجاب وګماره، خو رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي نه کول، يوه شپه ماخستن د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن سوده بنت زَمْعَه رضي الله عنها چي يوه دنګه او لوړه مېرمن وه بهر ووتله، عمر رضي الله عنه پرې غږ کړ چي اې سوده! ومي پېژندلې، دا د هغي تلوسې له امله چي د حجاب د حکم نازلېدو په اړه ئې درلودو، نو الله تعالی د حجاب آيت نازل کړ.

دا روايت هم په بخاري کي په تکرار سره په دغو شمېرو ١٤٧، ٤٧٩٥، ٥٢٣٧، ٦٢٤٠ او له دغو توپيرونو سره راغلی: په يوه کي فَأَنْزَلَ اللهُ آيَةَ الْحِجَابِ او په بل کي بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ، په يوه کي كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ او په بل کي

قَدْ أُذِنَ أَنْ تَخْرُجْنَ فِي حَاجَتِكُنَّ؛ او په بل کې قَدْ أَذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَوَائِجِكُنَّ "راغلي.

لکه چې گورئ په دې رواياتو کې شدید تعارض دئ: يو وايي چې دا پېښه د حجاب د حکم تر نازلېدو مخکې رامنځته شوې او د همدې لپاره د حجاب آيت نازل شو او بل ئې وايي چې د حجاب آيت لا د مخه نازل شوی وو او سوده رضي الله عنها په حجاب کې د وتلو په سبب پېژندل شوې وه، يو وايي چې د حجاب آيت دغه مهال نازل شو او بل وايي چې دغه مهال رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وحي وشوه او مېرمنو ته ئې د حاجت لپاره بهر ته د وتلو اجازه ورکړی شوه!!

امام بخاري رحمه الله له دغو متعارضو او متناقضو رواياتو د يوه د انتخاب په اړه هيڅ نه دي ويلي، خو که د قرآن په رڼا کې ئې وڅېړو نو په بشپړ يقين سره ويلی شو چې د حجاب اړوند آيت قطعاً په دې ارتباط نه دئ نازل شوی، قرآن په ډېر صراحت سره وايي چې د جلباب (پړوني) حکم په دې خاطر نازل شو چې منافقينو، مرجفينو او مفسدينو به هغه مېرمني ځورولې چې د لمانځه يا بل دې ته ورته ضروري کار لپاره به بهر ته وتلې، دوی ته ويل شوي چې پړونی پر ځان واچوي؛ د دې لپاره چې وپېژندل شي دا پاك لمنې او متقي مېرمني دي او لوچکان ئې ونه ځوروي.

نن د غربي تمدن يوه ستره ستونزه دا ده چې کله مېرمني په غربي لباس کي بهر ووځي؛ که څه هم پاک لمني وي؛ ډېري ځورول کېږي؛ ښوونځي، دفتر، بازار ته د تگ په وخت کې گواښل کېږي؛ په کوڅه او سړک کې د اوباشانو له لوري نه يوازي ځورول کېږي؛ بلکې اختطاف کېږي او تېری ورباندې کېږي؛ دومره جنسي تېري چې هر کال په امريکا کې کېږي؛ په ټولې آسيا کې نه کېږي؛ وجه ئې ښکاره ده؛ شراب، عرياني، فساد ته هڅوونکې سندري، نايټ کلپونو کې گډې نڅاوي، غليظ او پاروونکی سينگار او ... د جنسي تېريو اصلي لاملونه او اسباب دي؛ په غربي کلتور کې هغه غير قانوني او د اسلام له نظره نامشروع

او حرام جنسي روابط ګناه نه ګڼل کېږي چې د طرفینو په خوښه او رضایت تر سره شي؛ یوازې هغه حالت جنسي تېری ګڼل کېږي چې په جبر یا دوکې سره وي او یو لوری مجبور یا اغفال کړی شوی وي؛ که څه هم د آزاد او بې مهاره جنسي روابطو لپاره؛ ذهناً او عملاً شرائط دومره برابر کړی شوی چې څوك جنسي تېري ته لږ اړ کېږي؛ خو ځنې ئې دومره خوره ده چې رسمي څېړنې ښيي له هرو څلور مېرمنو؛ درې ئې د جنسي تېري ښکار کېږي. غرب هڅه کوي دا رسوایي پټه وساتي خو پټه نه پاته کېږي؛ په مقابل کې ئې؛ د آسیا مخصوصاً اسلامي هېوادو په اړه چلن داسي دئ چې یوه وړه پېښه به په مسلسله او پراخه توګه خپروي؛ دا پېښه به هم داسې وي چې یو یا دواړه لوري به ئې له غربي اخلاق او فرهنګ متأثره شوي وي؛ په غرب کې د قانوني جنسي روابطو په پرتله د غیر قانوني روابطو ځنې ډېره پراخه ده؛ رسنۍ اعتراف کوي چې د هغو مېرمنو او نجونو شمېر ډېر لږ دئ چې د تعلیم، تحصیل او مأموریت په دوران کي جنسي تېری ئې نه وي تجربه کړی؛ حتی په کلیسا کي د هغو راهبو شمېر لږ دئ چې د کشیش له لوري تېری پرې نه وي شوی؛ په دې وروستیو کې ډېر داسي راپورونه خپاره شول چې کشیش په هلکانو او نجونو تېری کړی.

د هغه روایت په اړه باید ووایو: حجاب د شپې لپاره نه دئ؛ د ورځې لپاره وي، د شپې له لوري او هغه هم ماخستن مهال؛ نه څوك بې حجابه پېژندل کېږي او نه له حجاب سره؛ یوازې د قد او ونې د لوړوالي له مخې د یو چا په اړه ګمان کېدی شي؛ د عمر رضي الله عنه له شأن ډېره لرې ده چې د شپې له لوري او هغه هم په دغه حالت کې د پیغمبر علیه السلام پر مېرمنې غږ وکړي؛ که څه هم عمر رضی الله عنه د پیغمبر علیه السلام خسر وو خو د هغه له شانه داسي کار ډېر لری دئ.

دې ته مو هم باید پام وي چې په کلیوال ژوند کې او هغه مهال چې د کورونو منځ کې بیت الخلاوي نه وې نو د سړیو لپاره به بېل لوری او د ښځو

لپاره بېل لورى غوره کېدو، نه به نارينه د ښځو لوري ته وتل او نه به ښځي د نارينه وو لوري ته او معمولاً به ښځي په ګډه سره وتلې.

څه چي ويل ئې ممکن دي يوازي دا دي چي ښايي عمر رضي الله عنه غوښتل چي د پيغمبر عليه السلام مېرمني هيڅکله له کوره بهر ونه وځي، خو الله تعالى هغوى ته له جلباب سره د وتلو اجازه ورکړه، ځکه نو په روايت کي ويل شوي چي الله تعالى دوى ته د ضرورت لپاره د وتلو اجازه ورکړه، په قرآن کي هم يوازي دغه د وتلو د اجازې آيت مومو، د نه وتلو حکم او آيت نشته، نه صراحتاً او نه اشارتاً، هغه آيت چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو ته وايي: (وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰ: او په خپلو کورونو کي تم شئ او د مخکيني جاهليت په څېر ځان له سينګار سره مه ښکاره کوئ). د دې آيت معنى هيڅکله دا نه ده چي له کوره هيڅ مه وځئ، که داسي وى نو امهات المؤمنين به جومات ته نه تللې، جهاد ته به نه وتلې، حج ته به نه تللې، د پيغمبر عليه السلام د موعظو اورېدو ته به نه ورتلې.

په دغو متعارضو رواياتو کي دا روايت غوره او ارجح برېښي:

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ لِحَاجَتِهَا، وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً لاَ تَخْفى عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا، فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا سَوْدَةُ أَمَا وَاللَّهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا، فَانْظُرِى كَيْفَ تَخْرُجِينَ، قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً، وَرَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فِى بَيْتِى، وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى. وَفى يَدِهِ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِى فَقَالَ لِى عُمَرُ كَذَا وَكَذَا. قَالَتْ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِى يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ " إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ ". بخارى: ٩٥ ٤٧

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي د حجاب له لازمېدو وروسته، سوده رضي الله عنها (په حجاب کې) د کوم ضرورت لپاره بهر ووتله، هغه دنگه مېرمن وه، چا چي پېژندله نو پرې پټه نه پاته کېده، عمر رضي الله عنه ولیده او ورته وئې ویل: اې سوده! والله چي پر موږ پټه نه پاته کېږې، وگوره څنگه وځې! وایي: هغه بېرته راستنه شوه، په داسي حال کې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم زما په کور کې وو او ماښامنی ئې خوړلو او په لاس کې ئې غوښین هډوکی وو، هغه راغله او وئې ویل: یا رسول الله! زه د ځینو اړتیاوو لپاره بهر ووتلم او (عمر رضي الله عنه) دا دا راته وویل، (عائشه رضي الله عنها) وایي: الله تعالی هغه ته وحي وکړه، بیا په داسي حال کې ترې لوړه شوه چي هغه غوښین هډوکی ئې لا په لاس کې وو او وئې فرمایل: یقیناً چي تاسو ته د خپلو حاجتونو او اړتیاوو لپاره د وتلو اجازه درکړی شوې.

د دې روایت له مخي دوه خبري کولی شو: لومړی دا چي مخکینی روایت ناقص دئ، د پېښي په اړه ئې وینا دقیقه نه ده او دوهم دا چي د توجیه وړ نه برېښي چي عمر رضي الله عنه به د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې وینا له اورېدو وروسته هم پر خپلې رأیي ټینگار کړی وي!! او ښځي به ئې جومات ته له تلو منع کړې وي.

**حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَيُّوبَ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَوْ قَالَ عَطَاءٌ أَشْهَدُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم خَرَجَ وَمَعَهُ بِلاَلٌ، فَظَنَّ أَنَّهُ لَمْ يُسْمِعِ النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ، وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِي الْقُرْطَ وَالْخَاتَمَ، وَبِلاَلٌ يَأْخُذُ فِي طَرَفِ ثَوْبِهِ.** (بخاري: ۹۸)

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي: یو ځل رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي حال کي (د نارینه وو له لیکو یا منځ) ووت چي بلال رضي الله عنه هم ورسره وو (ښځو ته ورغی) گمان ئې وکړ چي ښځو د ده وعظ او نصیحت نه دئ اورېدلی، نو هغوی ته ئې وعظ وکړ، د صدقې ورکولو امر ئې ورته وکړ، نو ښځو خپلي لښتۍ او گوتې د صدقې په توگه اچولې او بلال رضي الله عنه په خپلي لمن کي راټولولې.

دا روایت په تکرار سره په دغو شمېرو ٩٦٢، ٩٦٤، ٩٧٥، ٩٧٧، ٩٧٩، ٩٨٩، ١٤٣١، ١٤٤٩، ٤٨٩٥، ٥٢٤٩، ٥٨٨٠، ٥٨٨١، ٥٨٨٣، ٧٣٢٥ او له دغو توپیرونو سره راغلی: په پورتني کي دا نه دي ویل شوي چي ښځو ته له وعظ مخکي لمونځ شوی، بیا خطبه ورکړی شوې، خو په ځینو نورو کي دا مطلب ویل شوی، په دې کي دا هم نه دي ویل شوي چي د بلال په څادر یا لمن کي به ئې خپلي گاڼې غورځولې خو په نورو کي دا مطلب هم راغلی، په یوه کي یوازي دومره ویل شوي چي د عید لمونځ مي له رسول الله صلی الله علیه و سلم، ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره کړی ټولو به له خطبې مخکي لمونځ کاوو، په یوه کي دا هم ویل شوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د الممتحنه د سورې دا آیت ولوستو: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ...)؛ کله چي ترې فارغ شو نو وئې فرمایل: آیا تاسو همدا بیعت کوئ؟ یوې ځواب ورکړ چي هو؛ په یوه کي ویل شوي چي د کمکي اختر لمونځ ئې وکړ او په بل کي راوي شك کوي چي د کمکي اختر که د لوی اختر لمونځ.

د دې روایت په اړه څو خبري توجه غواړي: په اصلي مطلب ئې هلته سم پوهېدی شو چي نور روایات هم وگورو، د نورو روایاتو په رڼا کي راته جوتېږي چي دا د اختر لمونځ وو، پیغمبر علیه السلام لومړی لمونځ کړی، بیا ئې خطبه ویلې، بیا د خلکو له منځ تېر شوی او د ښځو د لمانځه ځای ته ورغلی، هغوی ته ئې بیا وعظ کړی، د صدقې ورکولو ته ئې هڅولې او هغوی خپلي گاڼې صدقه کړې.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر روايات ښيي چي د پيغمبر عليه السلام په دوران کې ښځو د جماعت په لمونځونو کې شرکت کولو، د ودرېدو ځای ئې بېل او د نارينه وو تر شا وو، پيغمبر عليه السلام د هغوی روزنې ته خاصه توجه کوله، د اختر په لمانځه کې له عامي خطبې وروسته د ښځو خوا ته ورغلی او هغوی ته ئې بيا وعظ کړی. خو متأسفانه اوس حالت داسي دئ چي ښځې مېلو، ودونو، زيارتونو ته تلی شي، نه خاوندان او خپلوان پرې اعتراض کوي او نه واعظان، خو جومات ته ئې تګ ممنوع دئ!! ځوك چي وايي اوس د فساد او فتنو دور دئ نو ځکه جومات ته د ښځو تګ ښه نه دئ!! هغوی ته وايو: له فساد او فتنو د ښځو د مخنيوي لار خو دا ده چي هغوی جومات ته راشي او وعظ واوري.

ځوك وايي چي د پيغمبر عليه السلام په وخت کې فتنې تر نن لږي وې؟! دا خبره يوازې هغه ځوك کولی شي چي له حقائقو بې خبر وي، په مدينه کې ښځې هغه مهال جومات ته تللې چي محدود شمېر کسانو ايمان راوړی وو، يهودانو لا په مدينه کې فعال حضور درلود؛ بازار او مارکيټ د دوی په لاس کې وو؛ قرآن وايي چي ډېر ځلي به منافقينو، مرجفينو او د بيمارو زړونو خاوندانو هغه ښځې ځورولې چي جومات ته به تلې، د دغو مفسدينو له امله ئې ښځې جومات ته له تلو منع نه کړې بلکې امر ئې ورته وکړ چي له جلباب سره جومات ته ولاړې شي.

قرآن فرمايي:

لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلا قَلِيلا. الأحزاب: ٦٠

که د مدينې منافقين، د بېمارو زړونو خاوندان او مرجفين (هغه چي اراجيف وايي، تورونه لګوي او افتراءات او ناوړه تبليغات کوي)؛ لاس وانخلي؛ تا به داسي پرې مسلط کړم چي بيا به دلته ستا په خوا کې نه وي مګر د لنډې مودې

لپاره.

آیا څوك دا حق لري چي ووايي: اوس د فتنې دور دئ نو ښځي دي حج نه کوي، یا د حج په دوران کې دي مخ او لاسونه هم پټوي؟ که دا حق نه لرو نو له جومات ئې څنگه منع کوو؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم خو د خپل مبارك ژوند په وروستيو شپبو او په خپلو وروستنيو خطبو کې فرمايلي: که ستاسو ښځي غواړي چي په جومات کې لمونځ وکړي نو مخنيوی ئې مه کوئ!!!

څوك چي وايي د عمر رضي الله عنه په وخت کې دا پرېکړه وشوه چي ښځي دي جومات ته نه ځي! هغوی ته وايو: دا نه د يوه حکم د تغيير په معنی اخيستی شو او نه د تعطيل په معنی، يوازي دومره ويلی شو چي که دا ادعاء صحيح وي نو دا پرېکړه هغه مهال د خاصو ظروفو او شرائطو په وجه شوې، داسي نه ده چي د دې پرېکړي مخالفت حرام او ناجائز وي او نن چي د اسلام او مسلمانانو مصلحت دا غوښتنه کوي چي د ښځو ديني او اخلاقي روزني ته لازياته توجه وشي او له نورو خواوو ئې مخ جومات ته واړوو نو دا کار حرام او ناروا وگڼو!! حرام هغه دي چي الله تعالی او د هغه رسول حرام کړي.

اوس وضعيت داسي دئ چي ستا کور او په کور کې د کورنۍ غړي هم خوندي نه دي؛ دښمن او زهرجن تبليغات ئې له دېوالونو او تړلو دروازو اوړي او خپل هدف ته ځان رسولی شي؛ په هر کور کې تلويزيون دئ؛ لويان ئې د هېواد او نړۍ له وضعيت د خبرېدو لپاره گوري او ماشومان ئې د کارتون لپاره؛ خو په دې کې گنده او اخلاق ضد سريالونه هم ښودل کېږي او حتیٰ داسي تلويزيونه هم شته چي اصلي هدف ئې له دين، معنوی ارزښتونو او اخلاق سره دښمني ده؛ تلويزيون ته ورته راډيو او مبايل دي؛ عام شوي او تر هر چا پوري رسېدلي؛ د دغو وسائلو اداره او کنټرول د داسي کسانو په لاس کې دئ چي يا ئې هدف مادي او مالي گټې دي او يا له معنوي ارزښتونو سره مقابله؛ نه دين لري، نه اخلاق او نه په معنوي ارزښتونو باور؛ دين او اخلاق

د هوس په وړاندې مانع بولي او مقابلې ته ئې ملا تړلې. که په داسې ظروفو او شرائطو کې څوك خپلو مېرمنو او لوڼو ته دا اجازه هم ورنه کړي چې جومات ته ولاړې شي، په جمع لمونځ وکړي؛ د خطيب وينا واوري؛ داسې مدرسې او ښوونځي ته ولاړې شي چې اداره، معلمين، مدرسين، تعليمي نصاب او ماحول ئې روغ او د اعتماد وړ وي؛ نو څوك به ئې روزي؟ دين او اخلاق به له چا زده کوي؟ ديني او اخلاقي تربيت به ئې څوك کوي؟

ځيني وايي: کاش اوس داسې جوماتونه او داسې واعظان وی چې د ښځو روزنه وکړی شي،... د کومې فتنې له مخې چې د ښځو لمونځ په کور کې غوره ګڼل شوی کېدی شي هغه په جومات کې دننه احتمالي فتنه وي نه د لارې په اوږدو کې. د دوی په ځواب کې بايد ووايو: که رسول الله صلی الله عليه و سلم ښځو ته ويلي وی چې ستاسو لمونځ تر جومات په کور کې غوره دئ نو يوه ښځه به هم جومات ته نه وه تللې، د ښځو له عمل او د رسول الله صلی الله عليه و سلم له ويناوو معلومېږي چې د پيغمبر عليه السلام تر رحلت پورې ښځې جومات ته راتلې او رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپلې وروستۍ خطبې کې دا سپارښتنه کړې ده چې که ښځو غوښتل جومات ته ولاړې شي مخنيوی ئې مه کوئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم حتیٰ د عمر رضي الله عنه دا مطالبه ونه منله چې ويل ئې: يا رسول الله! خپلې مېرمني دې بهر ته له وتلو منع کړه، رسول الله صلی الله عليه و سلم له څه ځنډ وروسته وفرمايل: ما ته وحې شوې چې دوی منع نه کړم. موږ يوازې د دومره څه ويلو حق لرو چې ووايو: جوماتونه بايد داسې جوړ شي چې هم د ښځو د لمانځه ځای بېل وي او هم ئې د تګ راتګ لاره بېله وي، خو هغه حلال کار نشو حراموﻟﯽ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم نه دئ تحريم کړی. د عمر رضي الله عنه په اړه په رواياتو کې راځي چې هغه له کوره د ښځو له وتلو او جومات ته تلو سره موافق نه وو، خو عملاً ئې حالت داسې وو چې دی به مخکې جومات ته روان وو او مېرمن به ئې ورپسې وه خو هغه ئې منع کولی نشوی.

---

**عن أُمِّ عَطِيَّةَ انها سَمِعتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ " يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى". قَالَتْ حَفْصَةُ فَقُلْتُ الْحُيَّضُ فَقَالَتْ أَلَيْسَ تَشْهَدُ عَرَفَةَ وَكَذَا وَكَذَا. (بخارى:۳۲٤)**

له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي وئې فرمايل: (نوې رسېدلې ښځي؛ او ستري يا په پرده کي ناستي ښځي او حائضې ښځي دي وځي او د خير په کارونو (د عيد لمونځ) او د مسلمانانو په دعاء کي دي ګډون کوي، خو حائضې ښځي دي له مصلى ګوښه ودرېږي، حفصه وايي: ومي ويل: آيا حائضې ښځي هم؟ دې وويل: آيا حائضې ښځي عرفات او...او... ته نه حاضرېږي؟!

دا روايت هم شيږ ځلي نور په دغو شمېرو ۳۵۱، ۹۷۱، ۹۷٤، ۹۸۰، ۹۸۱، ۱٦٥۲او له دغو توپيرونو سره په بخاري کي راغلی: په يوه کي يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ (وينځي؛ خدور جمع خِدْر: هغه ځای چي وينزي په کي اوسېدې، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، په بل کي أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ، فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَدَعْوَتَهُمْ او په بل کي كُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيدِ، حَتَّى نُخْرِجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا، حَتَّى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ فَيَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ، فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ، وَيَدْعُونَ بِدُعَائِهِمْ يَرْجُونَ بَرَكَةَ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَطُهْرَتَهُ، په يوه کي دا هم راغلي قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ اللهِ، إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ. قَالَ لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا، لکه چي ګورئ په دغو روايتونو کي ويل شوي چي موږ ته به امر کېدو چي د عيد د لمانځه لپاره ووځو، پېغلي، زړې او حتى حائضې به هم وتلې، په خپل ټاکلي ځای کي به ودرېدې، په لمانځه کي به ئې برخه اخيستله، حائضې به له مصلى بهر په يوه ګوښه کي وې او دا صحنه به ئې ليدله، يوې مېرمني له رسول الله

صلی الله علیه و سلم پوښتنه وکړه چې که څوك جلباب ونه لري او د همدې لپاره د عید لمانځه ته ونه وځي څه ګناه پرې شته؟ ورته وئې فرمایل: خپلې خورلڼې دې جلباب ورواغوندي.

په دې کې ډېر لوی حکمت دئ، له داسي غونډو انسان ډېر زیات متأثره کېږي، د همدې لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو ته امر کاوو چې په دغو غونډو کې برخه واخلي. ډېره عجیبه ده چې د داسي څرګندو نصوصو په شتون کې ځیني خلك جومات ته د ښځو تلل ناروا ګڼي!! حفصه بنت سیرین وایي زما د خور مېړه له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په دولسو غزواتو کې برخه اخیستي وه چې په شپږو کې ئې زما خور هم ورسره وه، هغوی به مریضان او زخمیان تداوي کول.

عَنِ عَايِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى الْفَجْرَ، فَيَشْهَدُ مَعَهُ نِسَاءٌ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ مُتَلَفِّعَاتٍ فِى مُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ. (بخاري:۳۷۲)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به چې د سهار لمونځ کاوو یو شمېر مسلماني مېرمني به هم په داسي حال کي چي ځانونه به ئې پخپلو ټکریو کي نغښتي وو لمانځه ته راتللې، له لمانځه وروسته به بېرته خپلو کورونو ته تللې او هیچا به نه پېژندلې چي څوک دي.

دا روایت هم درې ځلي نور په دغو شمېرو ۵۷۸، ۸٦۷، ۸۷۲ او له دغو توپیرونو سره راغلی: په یوه کې مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ، په بل کې مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، په یوه کې ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، په بل کې يُصَلِّي الصُّبْحَ بِغَلَسٍ فَيَنْصَرِفْنَ نِسَاءُ الْمُؤْمِنِينَ، لاَ يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ، أَوْ لاَ يَعْرِفُ بَعْضُهُنَّ بَعْضًا او په بل کې فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ او په بل کې مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، له دې توپیرونو سره سره د روایاتو مطلب

يو دئ او هغه دا چې مسلماني مېرمني به جومات ته تللې، د سحر په لمانځه کې به ئې هم برخه اخيسته، رسول الله صلى الله عليه و سلم به د سحر لمونځ په داسي وخت کې کاوو چې تر لمانځه وروسته به هم لا دومره تياره وه چې مېرمني به نه پېژندل کېدې.

له دې روايت دوه تعبيرونه شوي: يو دا چې مېرمني به په ټکريو کې داسي پټې وې چې چا به نه پېژندلې او بل دا چې دومره تياره به وه چې دوی به نه پېژندل کېدې. لومړی تعبير په دې دليل کمزوری او ناسم دئ چې خبره د سحر د تيارې (غلس) ده؛ نه په جامه کې د پټېدو څرنګوالی، له دې روايت نه يوازي دا مطلب نشي اخيستل کېدی چې د ښځو مخونه به پټ وو بلکې په خلاف د دې ښيي چې د دوی مخونه به لوڅ وو خو د تيارې په وجه به نه پېژندل کېدې. لومړۍ ادعاء به په هغه صورت کې صحيح ګڼل کېده چې د (غلس: تياره) يادونه نه وی شوې يا د سحر له لمانځه پرته د ټولو لمونځونو يا د ورځې د کوم لمانځه يادونه شوې وی.

## حجاب او شرعي لباس

لباس د انساني ژوند يوه مهمه قضيه ده؛ هم له طبيعي او اجتماعي پلوه او هم له ديني او مذهبي پلوه؛ هر دين او مذهب به حتماً دې اړخ ته توجه کوي او په دې ارتباط به د انسان پوښتنو ته ځواب وايي. اساسي پوښتني دا دي:

- د انسان او نورو ژويو تر منځ د لباس په ارتباط دا اوسنی توپير څنګه او ولې راپيدا شوی؟

حتماً پوهېږئ چې انسان په طبيعت کې يوازينی بربنډ ژوی دئ، نور ټول ژوي؛ مرغان، د ځنګلونو ځناور، اهلي ځناور، څاروي او د بحر حيوانات؛ ځانته

ښکلی لباس لري، ژمي کي ئې له يخني ساتي، په دوبي کي له گرمي او په اوبو کي له اوبو؛ گنډل نه ايجابوي، مصرف نه ترې غواړي، په انتخاب کي ئې هم خپل اختيار نه لري، په فطري او طبيعي توگه ورته انتخاب شوی، له لومړۍ ورځي له خپل لباس سره دنيا ته راځي، سېرلی، د آهو، زمري، پړانگ او نورو حيواناتو بچي؛ په کومه ورځ چي پيدا شي؛ ډېره ښکلې جامه ئې وي؛ څو ساعته وروسته؛ په خپلې مور پسي زغلي؛ اما انسان بربنډ پيدا شوی، مصنوعي جامي ته ضرورت لري، په ژمي کي بېله جامه او په دوبي کي بېله، د نارينه وو لپاره بېله او د ښځينه وو لپاره بېله، دا د انسان او نورو ژوو ترمنځ ژور توپير دئ، د دې توپير عامل او سبب څه دئ، دا يوه پوښتنه ده؛ ولې داسي شوي؟ ټول ژوي فطري او طبيعي جامه لري او انسان لوڅ او بربنډ پيدا کېږي؛ دې مصنوعي جامي ډېري ستونزي ورته زېږولې؛ کله تبعيض، کله تعصب، کله تر بل د لويي احساس، بل ته د جامي له کبله په سپکه سترگه کتل او تحقيرول، له هر پلوه لوړ او محترم شخصيتونه د خړو جامو له کبله ټيټ گڼل، ذليل او پريوتي انسانان په ښکلو او گرانو جامو کي تر نورو لوړ نيول، د خپلو جامو پر مټ پر نورو د فخر او لوړوالي احساس کول؛ دا ټول د جامو له څرنگوالي زېږېدلې ستونزي دي.

- ولې له انسان پرته نور ټول ژوي د پيدايښت له لومړۍ ورځي ښکلې او مناسبه جامه لري اما انسان بربنډ پيدا کېږي؟ د دې توپير عامل او سبب څه دئ؟

- انسان څانته د خپلي خوښي جامه جوړوي؛ دا اختيار به څنگه کاروي؟ محدوديتونه ئې کوم دي او د اختيار دائره ئې څومره پراخه او تنگه ده؟ آيا فقط همدومره ده چي په يخني کي به بېله او په تودوخي کي بېله جامه اغوندي؟ آيا د نارينه او ښځينه په لباس کي توپير ضروري دئ؟ په نورو ژوو کي

دا توپیر په څرګنده توګه ګورو؛ آیا انسانان هم دې فطري توپیر ته اړ دي او دا ئې د فطرت تقاضا ده؟

- دا ټول د دې غوښتنه کوي چې جامه او څرنګوالی ئې جدي وګڼل شي او په اړه ئې سطحي او عادي چلن ونه شي.

- د نورو ژوو او انسان تر منځ د جامې په ارتباط دا توپیر هم شته چې د نورو ژوو جامه ثابته وي؛ اما انسان خپله جامه بدلولی شي؛ څوك له جامې پسه بربښي خو په سینه کې به ئې د لېوه زړه وي؛ خو لېوه تل لېوه وي او پسه تل پسه، نه دا خپله جامه بدلولی شي او نه هغه، اما انسان بیا داسې دئ چې کله به له ظاهري جامې داسې بربښي چې ګواکې ډېر بې آزاره دئ خو په سینه کې به ئې د لېوه زړه وي؛ په حقیقت کې به انسان ډوله درنده ځناور وي؛ څوك به زمری بربښي خو په حقیقت کې به د ګېدړ په څېر ډارن وي، جامه به ئې د پړانګ اغوستې وي؛ برګه جامه چې خلك ویروي؛ خو دی به د حقیقت په میدان کې شغال وي، ښځه کولی شي د نارینه جامه واغوندي او نارینه د ښځې؛ انسان په جامې سره خلك غولولی شي؛ خو حیوانات داسې نشي کولې، زمری او پړانګ ښکار کوي؛ خپل ښکار ته پټېږي هم، اما جامه نشي بدلولی، په خپلې جامې سره ښکار په دام کې نشي اچولی، داسې چې وئې غولوي، زمری له هغې ټولې زړورتیا او زور سره؛ کله چې ښکار ته ځي نو پټ پټ ځي، سر به ئې ټیټ نیولی وي او ګامونه به داسې په احتیاط سره اخلي چې غرځه ئې غږ نه شي اورېدلی، اما د انسان ځانګړتیا داسې ده چې کولی شي خپله جامه بدله کړي؛ او خپلې جامې سره نور وغولوي، د انسانانو په ټولنې کې به د پولیس په جامه کې غله ګورو، په داسې حال کې چې وظیفه ئې د غلو نیول دي، خو دی به د رڼا ورځې رسمي غل وي، د قاضي په جامه کې به ظالم ګورو؛ په داسې حال کې چې د قاضي دنده عدالت تامینول دي؛ خو همدا قاضي به تر ټولو ستر ظالم، د ظالم ملګری او د مظلوم دښمن وي.

• غربي سيکولر افکار؛ بربنډتوب خوښوي؛ مخصوصاً د مېرمنو لپاره؛ په دې کې هيڅ محدوديت نه مني؛ تاسو که اروپا ته ولاړ شئ؛ هلته يوازي په دوبي کې څو ورځي ډېر ليدل کېږي؛ په دې ورځو کې به تاسو بشپړي کورنۍ وګورئ چې د ساحل يا د کوم پارك پيتاوي ته په شګي او چمن کې؛ په بشپړه توګه لوڅ او بربنډ پراته وي؛ نه څوك د اعتراض حق پرې لري او نه ئې بد او کرکجن عمل ګڼي!! اما ټول الهي دينونه او په سر کې ئې اسلام؛ دې ته د شيطاني عمل په سترګه ګوري؛ او قرآن خو دا وايي چې د شيطان لوی کار دا وو چې آدم او حواء بربنډ کړي او له جنت ئې وباسي؛ هڅه ئې دا وه چې انسان وغولوي او جامه ترې وباسي؛ اسلام د لباس په اړه داسي لارښووني او احکام لري چې هم به نارينه هغه مراعاتوي او هم ښځينه، دواړو ته ئې حدود تعين کړي، دا ځکه چې چا ته اختيار ورکړی شي؛ د هغه لپاره بايد حدود او مقررات هم وضع شي، مجبور او بې اختياره مخلوق ته څوک قانون نه وضع کوي؛ اما چا ته چې اختيار ورکړی شي نو هغه ته به حلال او حرام ښودل کېږي؛ او د اختياراتو لپاره به ئې پولې او حدود وضع کېږي، همدې ته په پام سره؛ اسلام د لباس په اړه انسان ته حدود تعيين کړي او ځانګړې لارښووني ئې ورته کړې؛ هم نارينه وو ته او هم ښځينه وو ته.

• پر دې پوښتنو سربېره؛ له هر هغه مسلمان سره چې غواړي د ژوند په ټولو برخو کې د شريعت له حکم او غوښتنو سره سم عمل وکړي؛ دا پوښتنه راولاړېږي چې د نارينه او ښځينه شرعي او ضروري لباس په اړه د اسلام حکم څه دئ؟ د نارينه لباس به څنګه او د ښځو جامه به څنګه وي؟ آيا هغه جامه چې ښځي او سړي ئې د حج په دوران کې پر اغوستو مکلف شوي، نارينه يو سپين څادر او لونګ؛ چې نه به بل رنګ لري، نه به ګنډل شوي وي، سر به ئې لوڅ وي، په پښو به ئې پڼې يا پڼو ته ورته څپلۍ چې د پښو بېدۍ په کې پټې نشي. او ښځي به نه مخ پټوي او نه لاسونه؛ يعني نه به نقاب پر مخ اچوي او

نه لاس پوښي (دست کشي). دا د حج جامه داسي ده چي نه به څه ترې کموي او نه به څه پرې زياتوي. آيا په نورو حالاتو کي همدومره جامه کافي ده؟

متأسفانه د نارينه او ښځينه شرعي لباس او د حجاب په اړه هم په امت کي د اختلاف شاهد يو، ځيني خاص لباس ته د سنت په سترګه ګوري، د نارينه لپاره سر لوڅول او د ښځو لپاره مخ لوڅول هم ګناه ګڼي، د نارينه او ښځينه فرضي لباس په اړه بېل بېل حدود لري او بېل بېل معيارونه کاروي. راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه حکم کوي او رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ ته څه لارښوونه کړې. قرآن فرمايي:

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ وَيَحْفَظُواْ فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾ النور:۳۰

مؤمنانو ته ووايه چي د خپلو سترګو (کارول) راکم کړي او خپل عورت وساتي، دا ورته ډېر غوره دئ، يقيناً چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي دوی ئې کوي.

يعني الله تعالی چي په دی ارتباط کومه لارښوونه تاسو ته کړې د خپل پراخ او کامل علم له مخي ئې کړې، ستا په فطرت پوه دئ، ستا له ضعف خبر دئ؛ هر څه ته په پام سره ئې لارښوونه کړې چي نامحرم ته د ليدلو په ارتباط محتاط اوسه او خپل نظر سمبال کړه؛ که احتياط ونه کړې نو کېدی شي له پولو واوړې، ځان ساتنه درته ګرانه شي او خپل هوس مهار نه کړی شې.

وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ

نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُواْ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾

او باايمانه ښځو ته ووايه چي د خپلو سترګو (کارول) راکم کړي، خپل فروج وساتي او خپله ګاڼه ښکاره نه کړي؛ مګر هغه ئې چي څرګنده وي او خپل ټکري دي پر خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دي له خپلو مېړونو، خپلو پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو له زامنو، خپلو ورونړو، ورېرونو، خوريېو، خپلو ښځو، خپلو وينځو، هغو ترلاس لاندي سړيو چي بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چي د ښځو په عورت خبر نه دي؛ بل چا ته نه څرګندوي او خپلي پښې دي داسي (پر زمکه) نه وهي چي هغه ګاڼه ئې معلومه شي چي پټوي ئې او اې مؤمنانو! ټول د الله لوري ته رجوع او توبه وکړئ چي بريالي شئ.

په دې آيت کي څو برخي خاصه توجه غواړي:

- په لومړۍ فقره کي د مېرمنو په اړه همغه سپارښتنه شوې چي په مخکيني آيت کي د نارينه وو په اړه شوې؛ يعني مېرمني دي نارينه وو ته له زيات او په التفات سره کتلو ډډه وکړي؛ دا ځکه چي د نارينه مخ لوڅ وي او کېدی شي داسي کتل ستونزي رامنځته کړي؛ او له همدې په څرګنده توګه معلومېږي چي د مېرمنو مخونه به د نارينه وو په څېر لوڅ وو؛ که داسي نه وي نو نارينه وو ته به ولي ويل کېدل چي سترګي مو کنترول کړئ؟!
- له دې فِقرې (وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ: او خپل ټکري دي پر خپل ګرېوان واچوي) معلومېږي چي مخ په دې کي شامل نه دئ؛ د سر، ګرېوان،

سينې او د غاړې پټول احتواء کوي؛ خمار هغه واړه ټکري ته وايي چې پر سر اچول کېږي او په دواړو پيڅو ئې غاړه، گرېوان او اوږې پوښل کېږي؛ که مخ په پټولو کې شامل وی نو حتماً به تر جيوب وړاندې د مخ يادونه شوې وه.

- آيا د دې فقرې (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ...) معنی دا ده چې مېرمنې مکلفې دي له نږدې خپلوانو پرته خپله گاڼه حتی نورو ښځو ته هم ونه ښيي؟ آيا د دې آيت لارښوونه همداسې ده؟ هو همداسې ده؛ خپله گاڼه به نه ښيي مگر د خپلې کورنۍ هغو ډېرو نږدې خپلوانو ته چې په دې آيت کې ئې يادونه شوې؛ يوازې دوی ته کولی شي خپله گاڼه وښيي، نورو ته ئې د ښودلو حق نه لري؛ يعني د دې آيت معنی دا ده چې مؤمنې مېرمنې حق نه لري په ودونو او محفلونو کې د شرکت لپاره سينگار وکړي او گاڼه وکاروي؛ او نورې مېرمنې ئې په رنگ رنگ گاڼو پوښلې وگوري، دا ځکه چې له دې ډېرې فتنې او ستونزې راولاړېږي؛ کله چې غريبې او ناداره مېرمنې په همدې واده او محفل کې له ارزان بيعو جامو او له سينگار او گاڼو پرته شرکت کوي او داسې مېرمنې گوري چې په گاڼو پټې وي، گران بيعه جامې ئې اغوستې وي او په يوه ورځ کې ئې هملته څو ځلي بدلې کړي؛ دا حالت له يوې خوا نفرتونه او حسادتونه پاروي؛ له بلې خوا ئې تحريکوي او سيالۍ ته ئې هڅوي؛ له خپلو خاوندانو غواړي چې د شتمنو په څېر جامې او گاڼې نشي ورته اخستلی؛ نو دومره خو دې وکړي چې جامه ئې داسې نه وي چې نور ورته د مزدورې په سترگه گوري او په جگو سترگو چا ته کتلی نشي؛ د مېرمن او مېړه تر منځ د خفگان حتیٰ بېلوالي سبب کېږي؛ په گاڼو سمبال مېرمن ځان تر نورو لوړ گڼي او هغوی ته د حقارت په سترگه گوري؛ دغو مطالبو ته په پام سره اسلام مېرمنو ته لارښوونه کړې چې له غليظ سينگار سره په ودونو او مېلمستياوو کې شرکت ونه کړي او خپلې گاڼې نورو ته ونه ښيي.

په دغو دواړو آيتونو کې په لږ دقت سره دا نتائج تر لاسه کولی شو:

• که په حجاب کې مخ شامل وی نو په دېرشم آیت کې دې حکم مورد نه درلود چې مؤمنانو ته ووایه: خپلې سترګې ټيټې واچوي؛ دا حکم خو په هغه صورت کې وارد دئ او مجال لري چې د ښځو مخ لوڅ وي.

• د ښځو لپاره د سترګو ټيټ اچول همغه حکم لري چې د نارينه وو لپاره ئې لري؛ په دې دواړو کې په تفکيك او امتياز باور درلودل د دې آيتونو د روحيې خلاف خبره ده.

• د آيت له دې برخي (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَاۖ) په ځرګنده توګه معلومېږي چې له زينت مراد ګاڼه ده؛ ځکه د آيت په دغي فِقرې کې وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ په ډېر وضاحت سره همدا مطلب توضيح شوی، په مخکيني کې ما ظهر منها او په دې کې ما يخفين من زينتهن ويل شوي؛ په زمکه د پښو په کلکو وهلو سره د ګاڼې غږ اورېدل کېږي او د نامحرم توجه جلبوي؛ که دلته زينت له ګاڼې پرته په بله معنى نه شو اخيستى نو په مخکينيو کې ئې هم په بله معنى اخيستل بې دليله خبره ده. دا داسې ده لکه د يوسف سورې په ٤٢ آيت کې چې ويل شوي: (فَأَنساهُ الشيْطنُ ذِكرَ رَبِّهِ: شيطان له ده د خپل رب (بادار) يادونه هېره کړه)؛ ځينو مفسرينو داسې انګېرلې چې ګواکې دلته په آيت کې يوسف عليه السلام ته اشاره شوې؛ يعني شيطان له يوسف عليه السلام خپل رب هېر کړ؛ نو ځکه ئې له خپلو دوه زنداني ملګرو؛ هغه ته چې ګمان ئې کولو خلاص به شي؛ وويل: خپل بادار ته زما يادونه وکړه؛ چې بې ګناه او بې موجبه زنداني شوی؛ ګواکي خدای ئې هېر کړی او له پاچا ئې طمع کړې!! له آزاد شوي غلام ئې غوښتي چې پاچا ته ئې يادونه وکړي؛ د همدې له کبله څو کاله نور په زندان کې پاته شو؛ دا د ځينو مفسرينو رأی ده؛ خو يقيناً چې دا رأی اشتباه ده؛ ځکه قرآن موږ ته په صريح الفاظو وايي چې هېروونکی څوک دئ؛ او څه ترې هېر شوي؛ ورپسې آيت د آزاد شوي غلام په اړه وايي: "وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّة" له څه مودې وروسته ورپه ياد

شو؛ د یوسف علیه السلام خبره هغه مهال ورپه یاد شوه چې پاچا له درباریانو د خپلې رؤیا تعبیر غوښتی او هغوی ویلي: د دې خوب په تعبیر نه پوهېږو؛ دغه مهال د یوسف علیه السلام زنداني ملګري ته خپله وعده ورپه یاد شوې او پاچا ته ئې ویلي: زه ئې تعبیر درښیم؛ ما زندان ته ولېږئ؛ یوسف کولی شي دا خوب سم تعبیر کړي. یوسف علیه السلام ته ئې دا خوب تېر کړی او هغه له ځنډ پرته او فوراً د خوب تعبیر ورته ویلی؛ دا تعبیر پاچا ته رسېدلی او هغه غوښتي چې یوسف علیه السلام په خپل قصر کې وګوري او د خوب تعبیر ترې واوري.

● په ٤٥ آیت کې ویل شوي (وَ قَالَ الَّذِی نجَا مِنهُمَا وَ ادَّکَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ)؛ وروستی (وادکر) ښیي چې (فانساه الشیطان) هم دغه غلام ته راجع دئ نه یوسف علیه السلام ته. دلته هم که له (ما یخفین) مراد ګاڼه وي نو له (ما ظهر منها) هم له ګاڼې پرته بل څه مرادول اشتباه ده. که څه هم زینت له ګاڼې علاوه په نورو معانیو هم راغلی.

● موږ په هغه صورت کې ادعاء کولی شوی چې مخ هم په خمار سره پټول ضروري دي چې تر (جیوبهن) مخکې د وجوههن ذکر راغلی وی؛ خو دلته مېرمنو ته هدایت شوی چې خپل ټیکري دي پر خپل ګرېوان واچوي؛ که د مخ پټول مراد وی نو باید د مخ یادونه هم شوې وی او یوازي د ګرېوان پر یادونې بسنه نه وی شوې؛ که د مخ پټول مراد وی نو دوه خبري ضروري وې: ۱- باید په صراحت سره د مخ (وجوههن) یادونه شوې وی، ۲- د مخ لپاره باید د غطاء (پټول) لفظ راغلی وی نه د یضربن (اچول).

● د (ما ظهر منها) په اړه د دوو مشهورو صحابه وو تر منځ د رأی اختلاف دئ؛ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وایي: مراد ترې لباس دئ او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وایي: مراد ئې هغه  ګاڼه ده چې پر ګوتو، غوږونو او پزې کارول کېږي. د عبدالله بن عباس له رأیې معلومېږي چې د بدن دا برخې؛

---

لاسونه او مخ په حجاب کې شاملې نه دي او حتیٰ له ګاڼو سره په (ماظهر منها) کې راځي. که په آیتونو کې لږ په دقت سره غور وکړو نو راته جوتېږي چې له زینت نه مخ مراد دئ او نه لاسونه او نه جامه؛ بلکې هغه ګاڼه مراد ده چې ښځې ئې په مخ او لاسونو کې کاروي؛ لکه ګوتې یا ټیك. البته د ګاڼې له نه ښکاره‌کولو په اصل کې مراد د وجود هغه برخه نه ښکاره‌کول دي چې د تزئین لپاره ئې ګاڼه کارول کېږي؛ لکه غاړه، سینه، غوږونه. د آیت له دې برخې دا هم معلومېږي چې که ښځو خپل مخ سینګار کړی وي، سترګې ئې توري او شونډې ئې سرې کړې وي ورته روا نه دي چې د نامحرم په وړاندې ئې لوڅ کړي؛ ځکه چې د زینت له ښکاره‌کولو منع کړی شوې دي. او زینت په اصل کې د دې لپاره وي چې د بل توجه ځان ته جلب کړي، هر هغه کار چې ښځې ئې د نامحرم د توجه راجلبولو لپاره وکړي ناروا دئ، که دا ګاڼه وي، رنګه لباس وي یا عطر وي. دا کار یوازې د خپل خاوند او نږدې خپلوانو په وړاندې کولی شي. د خاوند په وړاندې سینګار ئې د ثواب کار دئ. په دې ارتباط ښځو ته ډېر امتیازات ورکړی شوي؛ نارینه د ورېښمینې جامې له اغوستلو منع شوي؛ خو ښځو ته اجازه ورکړی شوې چې د ورېښمو جامه واغوندي؛ خو په کور کې د مېړه لپاره، نارینه د طلا او سرو زرو له کارولو منع شوي؛ د سرو زرو له ساعت، ګوتې او هغه ګاڼې چې فرعون او لښکریانو ئې کارولې؛ د سرو زرو له لوښو منع شوي؛ خو مېرمنو ته دا اجازه ورکړی شوې چې د سرو زرو ګاڼې وکاروي؛ ښځه چې هر څومره له پاکو او ښکلو جامو او ښه سینګار سره؛ د خپل مېړه په وړاندې ښکاره او ورسره مخامخ شي؛ دا ئې د ثواب کار شمېرل کېږي؛ اما د نا محرم په وړاندې له دې کار منع شوې دي.

● د مخ پټول په هغه صورت کې فرض ګڼلی شو چې: ۱- د پټولو په اړه ئې د نص الفاظ صراحت ولري، ۲- که دا فرض وی نو د حج په دوران کې به ښځې د یوه فرض په ترك کولو نه مکلف کېدې. څنګه ومنو چې تر ټولو مقدس ځای کې؛ د الله تعالی د کور خوا ته؛ د کعبې د طواف په دوران کې؛ او د حج په

څېر مهمي فريضې د اداء کولو په ضمن کې؛ چي په لکونو خلک راغونډ وي، اوړه په اوږه روان وي؛ هلته ئې مېرمنو ته ويلی چي مخ او لاسونه به نه پټوي؛ پټول ئې داسي ممنوع دي لکه چي نارينه به خپل سر او پښې نه پټوي؛ په حج کې دي د مخ پر څرګندولو ګمارل شوې او په بل وخت کې دي څرګندول حرام او ناجائز وي؟!! هلته دي فرض وي او په بل ځای کي حرام او ناجائز!!؛ دا قطعاً د منلو او توجيه وړ نه ده؛ څوك چي حج ته د استثنائي حالت نوم ورکوي؛ اشتباه کوي؛ په حقيقت کې حج معياري حالت دئ نه استثنائي حالت؛ پيغمبر عليه السلام فرمايي چي حج ټول اسلام دئ؛ يعنی ټول اسلام په بشپړه توګه په حج کي تمثيل شوی دئ، حج معياري حالت دئ؛ په لباس کي هم، په لمانځه او جمع صلاتين کي هم؛ او په هر څه کي هم؛ څه چي په حج کې جائز وي په بل وخت کې په أولیٰ درجه جائز دي. دا د احنافو رأيه ده او يقيناً د احنافو رأيه تر ټولو دقيقه او مضبوطه رأی ده او کافي دلائل ورته لري.

- که څوك ډېره غلو کوي نو دومره دي ووايي چي مخ پټول مستحب دي؛ هغه هم محيط ته په پام سره؛ نه دا چي فرض او واجب ئې وګڼي.

دا هم بايد په پام کې ولرو چي د سترګو ټيټ اچول غوره او مستحب کار دئ؛ له ګناه د مخنيوي وسيله ده، خو کتل حتیٰ له زنا مخکي ټول ناروا کارونه؛ که د سترګو اشاره ده، که د لاس اشاره ده، که په غېږ کي نيول دي که ښکلول دي او امثال د دې؛ دا ټول ناروا کارونه په صغيره ګناهونو کې راځي. له ځانه نه وايو؛ پيغمبر عليه السلام فرمايي؛ يو څوک ورته راغی او وئې ويل: يا رسول الله دا، دا، را نه وشول؛ له زنا پرته نور هر څه؛ وئې فرمايل: آيا لمونځ دي کړی؟ وئې ويل: هو؛ پيغمبر عليه السلام وفرمايل: دا لمونځ هغه ټول جبرانوي؛ يعني چي دا ټول صغيره ګناهونه دي. خو متأسفانه اوس ځيني مستحباتو ته د داسي ستر فرض په سترګه ګوري چي هيڅ څه نه ورسره برابروي؛ د همدې مستحباتو له مخي د چا د ايمان او عدم ايمان فيصله او پرېکړه کوي.

- د نارینه او ښځي لپاره د فرض حجاب حد همغه دئ چي په حج کي باید مراعات شي، تر دې زیات ئې په مستحباتو کي راځي.

دې ته باید متوجه وو چي د نارینه او ښځي لپاره د احرام لباس یو داسي معیار دئ چي ښیي مسلمان نارینه او مسلمانه ښځه په همدومره لباس مکلف دي، تر دې زیات ئې نه فرض دئ او نه واجب، بلکي مستحب دئ او د دوی خوښي او ظروفو ته پرېښودل شوی. که د حج په څېر ستر عبادت کي، د بیت الله خوا ته، د لکونو خلکو په منځ کي دومره لباس کافي وي؛ نو په نورو وختونو کي خو په أولیٰ درجه کافي دئ. څوك چي وایي نارینه د سر پر پټولو او ښځه د مخ او لاس پر پټولو مکلف دي؛ په دین کي غلو او بې ځایه سختي کوي او خلك په هغه څه مکلف کوي چي الله تعالی نه دي پرې ګمارلي. که د ښځي لپاره مخ او لاسونه پټول ضروري وی نو الله تعالی به د حج په دوران کي پرې مکلفه کړې وه او که د نارینه لپاره سر پټول ضروري وی نو الله تعالی به په حج کي پرې مکلف کړی وو. ښځي به په دې نه ګمارل کېدې چي د حج په دوران کي به نه مخ پټوي او نه به لاس پوښي (دستکشي) په لاس کوي، نارینه به پر دې نه ګمارل کېدل چي سر به نه پټوي او داسي بوټونه به نه پښو کوي چي تر پښو ئې زیاتي پښې ورپټي کړي، ښنګرۍ (ببړۍ) په کي پټي شي. په لوڅ سر، له پکول، خولۍ، پټکي او لونګۍ سره ملونځ کول یو برابر دي او حتیٰ ویلی شو چي که څوك د الله تعالی په وړاندي د خپل عجز او انکسار ښودلو لپاره لوڅ سر ودرېږي نه یوازي ګناه ئې نه ده کړې بلکي د ثواب داسي کار ئې کړی چي حاجیان ئې د حج په دوران کي کوي. د احنافو د فقهاءو رأیه همدا ده. متأسفانه داسي کسان هم شته چي ځان ته اهل حدیث وایي خو عملاً د هغو احادیثو هم مخالفت کوي چي بخاري ئې صحیح ګڼي؛ وایي: د حج په دوران کي ښځي باید نقاب پر مخ راکش کړي خو داسي چي له مخ سره به ئې نه لګېږي!! ګواکي په دې سره ئې هم پر حدیث عمل کړی او هم ئې پر خپل مذهب!!

په دې ارتباط د سلفيانو ترمنځ هم جدي اختلافات مومو، مرحوم الباني؛ د سلفيانو مهم او معروف شخصيت چې صحاح سته ئې تنقيح کړي او د دغو شپږو کتابونو صحيح او ضعيف ئې په ګوته کړي؛ نن چې سلفيان د کوم حديث په اړه څه وايي نو د ده پر رأى استناد کوي؛ هغه له مرحوم عبدالله بن باز سره اختلاف لري؛ ابن باز په دې رأى وو چې د مېرمنو مخ او لاسونه بايد له نامحرم پټ وي؛ پر مخ حجاب ولري او لاسپوښي واغوندي؛ خو الباني ورسره موافق نه دئ؛ د بخاري د اړوند رواياتو په اړه ونه توانېدل خپل اختلاف حل کړي. دواړه وفات شوي؛ ما له دواړو سره په وار وار ليدلي او خبري مي ورسره کړې؛ په ځينو نورو مواردو کې هم؛ د دوی تر منځ اختلاف وو؛ دواړه سلفيان وو خو تر منځ ئې جدي او شديد اختلافات.

ځيني ئې وايي چې په لوڅ سر لمونځ کول مکروه دي!! که پوښتنه وکړو چې د کوم نص په استناد؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په احاديثو کې خو دا خبره نه ده شوې، رسول الله صلى الله عليه و سلم خو هم د حج په دوران کې لوڅ سر لمونځ کړی او هم په ځينو نورو وختونو کې، تاسو د څه په استناد دا خبره کوئ؟! داسي څه به ترې واورې چې حيران به شې، وايي: الله تعالى فرمايلي: خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ، د دې آيت ترجمه هم داسي کوي: هر جومات ته د تلو په وخت کې خپل زينتي لباس واغوندئ، خو نه د دې آيت ترجمه دغسي ده او نه ئې مطلب دا دئ چې پګړۍ يا خولۍ پر سر کړئ؛ ځکه دلته مسجد د اسم زمان په توګه راغلی نه د اسم مکان، مراد ئې د سجدې او لمانځه وخت دئ نه جومات؛ او مقصد ئې دا دئ چې د هغو خلکو غلطه عقيده ترديد کړي چې وايي په زړو، ځيرو، خيرنو، پينه شوو، وړينو، کرباسي او ملنګي جامو کې لمونځ کول ډېر ثواب لري!! الله تعالى فرمايي چې تر ټولو ښکلې جامې مو د لمانځه لپاره واغوندئ، الهي شريعت موږ ته وايي چې جومات ته د تلو په وخت کې ښې جامې واغوندئ، عطر ووهئ، که مو داسي څه خوړلي وو چې له خولې مو بد بوی تلو يا د ډېرو خولو په سبب بد بوی

درنه تلو؛ جومات ته له تللو ډډه وکړه، ځان پاکیزه او ستره کړه بیا جومات ته ولاړ شه. د خذوا زینتکم معنی او مراد دا دئ، نه د خولۍ او پګړۍ پر سر کول.

د مُحرِم (حج کوونکي) د لباس د څرنګوالي په اړه د بخاري روایت دا دئ:

١٧٠٧ - عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَاذَا تَأْمُرُنَا أَنْ نَلْبَسَ مِنْ الثِّيَابِ فِي الْإِحْرَامِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْبَسُوا الْقَمِيصَ وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا الْبَرَانِسَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدٌ لَيْسَتْ لَهُ نَعْلَانِ فَلْيَلْبَسْ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْ أَسْفَلَ مِنْ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوا شَيْئًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا الْوَرْسُ وَلَا تَنْتَقِبْ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسْ الْقُفَّازَيْنِ رواه البخارى

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي: یو سړی پاڅېدو او وئې ویل: یا رسول الله! څه امر راته کوې چي په احرام کې به څه جامه اغوندو؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: نه به کمیس اغوندي، نه پرتوګونه، نه پټکي، نه چپني؛ او که څوك پڼې (څپلکي) ونه لري نو موزې دي واغوندي؛ خو داسي دې پرې کړي چي تر ښنګریو (بېډیو) لاندي شي؛ او نه دي داسي جامه اغوندي چي وَرْس (هغه بوټی چي جامې ته سور رنګ ورکوي) او زعفران (هغه بوټي چي جامې ته ژړ رنګ ورکوي او ښه بوی لري)؛ پرې وهل شوي وي؛ او مُحْرِمه ښځه دي نه نقاب اغوندي او نه لاس پوښي (دست کشي).

د بخاري بل روایت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ فَقَالَ "لاَ يَلْبَسِ الْقَمِيصَ وَلاَ الْعِمَامَةَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ

الْوَرْسُ أَوِ الزَّعْفَرَانُ، فَإِنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ ". (بخاري: ١٣٤)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وکړه چي مُحرِم (چا چي احرام تړلی وي) به څه اغوندي؟ وئې فرمايل: نه به كميس اغوندي، نه پټکی، نه پرتوگ، نه چپنه او نه داسي جامه چي وَرْس (هغه بوټی چي جامې ته سور رنگ ورکوي) او زعفران (هغه بوټي چي جامې ته ژړ رنگ ورکوي او ښه بوی لري)؛ پرې وهل شوي وي؛ او که پڼې (څپلکي) ونه مومي نو موزې دي واغوندي؛ خو داسي دې پرې کړي چي تر ښنگريو (ښېڅيو) لاندي شي.)

دا روايتونه په بخاري کي لس ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٣٦٦، ١٥٤٢، ١٨٣٨، ١٨٤٢، ٥٧٩٤، ٥٨٠٣، ٥٨٠٥، ٥٨٠٦، ٥٨٤٧، ٥٨٥٢، په دوی کي دا توپيرونه تر سترگو کېږي: په ځينو کي د مفرد په صيغه راغلي لاَ يَلْبَسُ الْقَمِيصَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلاَ وَرْسٌ او په ځينو کي د جمع په صيغه لاَ يَلْبَسُ الْقُمُصَ وَلاَ الْعَمَائِمَ وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ وَلاَ الْبَرَانِسَ وَلاَ الْخِفَافَ، إِلاَّ أَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ په ځينو کي وَلاَ تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ أَوْ وَرْسٌ او په ځينو کي أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِوَرْسٍ أَوْ بِزَعْفَرَانٍ، په ځينو کي دا هم راغلي لاَ تَتَنَقَّبِ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ: ښځي دي نه پر مخ نقاب اچوي او نه دي لاس پوښي (دستكشي) په لاس کوي، په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ. د مفهوم او معنی له پلوه ټول سره ورته دي، خو ځيني ئې مختصر او ځيني ئې جامع دي. تر ټولو جامع ئې ١٨٣٨ روايت دئ چي په هغه کي د ښځو په اړه هم لارښوونه شوې.

له دې رواياتو هم په څرگنده معلومېږي چي مېرمني به په احرام کي نه نقاب پر مخ لري او نه به لاس پوښي اغوندي. احنافو همدغو رواياتو ته اعتناء

کړې. اما اهل حدیث د بخاري د ۱۸۳۸ او ۱۷۰۷روایاتو خلاف مېرمني پر دې گماري چي پر مخ نقاب او پر لاسونو لاس پوښي واغوندي!!

څو مضبوط او انکار نه منونکي دلائل ښيي چي د مېرمنو مخ او لاسونه په حجاب کي شامل نه دي:

۱- د النور سورې۳۰ آیت (قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ) : مؤمنانو ته ووایه چي د خپلو سترگو (کارول) راکم کړي؛ ځکه دا حکم په هغه صورت کي وارد دئ او مجال لري چي د ښځو مخ لوڅ وي.

۲- د النور سورې د ۳۱ آیت دا فقره (إلا ما ظهر منها) په اړه د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما رأی چي وايي: مراد ئې هغه گاڼه ده چي پر گوتو، غوږونو او پزي کارول کېږي؛ او دا ښيي چي د مېرمنو مخ او لاسونه به ښکارند وو.

۳- رسول الله صلی الله علیه و سلم دا حدیث: وَلَا تَنْتَقِبْ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسْ الْقُفَّازَيْنِ: او مُحْرِمه ښځه دي نه نقاب اغوندي او نه لاس پوښي (دست کشي. دا روایت دوه ځلي په بخاري کي راغلی او د حدیث نورو کتابونو هم رااخیستی.

د احرام په اړه په بخاري کي راغلی روایات په اصل کي یو روایت دئ، د راویانو سلسله ئې هم یوه ده، د حدیث په نورو کتابونو کي هم همدا روایت راغلی. بشپړ ئې هغه دئ چي د مېرمنو احرام هم په کي بیان شوی او ویل شوي چي: وَلَا تَنْتَقِبْ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسْ الْقُفَّازَيْنِ: او مُحْرِمه ښځه دي نه نقاب اغوندي او نه لاس پوښي (دست کشي).

د عائشې رضي الله عنها له دې روایت هم معلومېږي چي د حج په سفر کي به د دوی مخونه لوڅ وو؛ یوازي له نورو کاروانونو سره د مخامخ کېدو په وخت کي به ئې خپل مخونه پټول.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا، وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ، فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا، أَسْدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا، فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ» مسند احمد.

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وئې ويل: په داسې حال کې چې موږ د احرام حالت کې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وو؛ قافلې به زموږ خوا ته تېرېدلې؛ کله چې به زموږ څنګ ته ورسېدلې؛ نو زموږ هرې يوې به خپل جلباب له خپل سر پر خپل مخ راکوز کړ او کله چې به له موږ تېر شول؛ مخونه به مو لوڅ کړل.

د دې روايت له فحوى معلومېږي چې په خپلې قافلې کې ئې مخونه لوڅ ول؛ خو کله چې د پرديو قافلې د دوی خوا ته نږدې کېدلې؛ خپل مخونه ئې پټول؛ او په دې سره د هغو رواياتو تأييد کېږي چې د مخ لوڅوالى افاده کوي؛ دا ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم قافله د ټولو صحابه وو ګډه قافله وه؛ په هغې کې هم مَحرَم ول او هم نامحرم. څوك چې غواړي د دې روايت په استناد؛ په ځينو خاصو حالتونو کې د مخ پټول افضل ثابت کړي نو فقط دومره څه ويلى شي چې د سفر په دوران کې او له داسې خلکو سره د مخامخېدو په حالت کې چې پردي دي او معلومه نه ده د دښمنانو له ډلې دي که بې طرف او بې غرض خلك.

د فضل بن عباس له روايت هم معلومېږي چې د هغې مېرمنې مخ لوڅ وو.

عن ابْنَ عَبَّاسٍ: أَنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمَ اسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، وَالْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ رَدِيفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى الرَّاحِلَةِ، فَهَلْ يَقْضِي عَنْهُ أَنْ أَحُجَّ عَنْهُ؟ فَقَالَ لَهَا

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَعَمْ» ، فَأَخَذَ الْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ يَلْتَفِتُ إِلَيْهَا، وَكَانَتِ امْرَأَةً حَسْنَاءَ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفَضْلَ، فَحَوَّلَ وَجْهَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ مسند احمد

له ابن عباس روایت دئ چي د خَثْعَم د قبیلې یوې مېرمني له رسول الله صلی الله علیه و سلم په حجة الوداع کې په داسي حال کې وپوښتل چي فضل بن عباس ئې تر شا وو؛ او وئې ویل: یا رسول الله! د حج فریضه په داسي حال کې زما پلار وموند چي زیات زوړ شوی؛ نشي کولی پر سورلۍ سم سپور شي؛ آیا حج ئې کېږي چي زه ئې پر ځای حج وکړم؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم هغې ته وویل: هو؛ راوي وایي: فضل بن عباس هغې ته کتل؛ هغه ښایسته مېرمن وه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د فضل مخ بل لوري ته واړولو...

پورتنی روایت چي د مسند احمد، بخاري، مسلم، سنن أبي داؤد، سنن النسائي، سنن الترمذي، المعجم الکبیر للطَبَراني او سنن الدارمي؛ په څېر مهمو کتابونو راوړی ښيي چي که د مېرمنو مخ پټول ضروري وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د خلکو په وړاندي د دې مېرمني د لوڅ مخ په اړه سکوت نه کولو او حتماً به ئې هغه د مخ پر پټولو ګمارلې وه؛ او که ئې مخ پټ وو نو ابن عباس به نه وه پېژندلې چي دا ښایسته وه. دا د ابن حزم او د الباني په شمول د نورو محققینو استدلال دئ.

## انسان یوازینی بربنډ مخلوق

که تاسو د عالم ټولو ژوو ته ځېر شئ نو وبه ګورئ چي الله تعالی د زمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښایسته دئ، هم ئې په ځان

برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کې له يخني ساتي او هم په دوبي کې له تودوخي. د ځينو لباس خو دومره ښايسته دئ چي که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښايست او رنګ کې داسي لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کې يوازي انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، راشئ وګورو چي آيا قرآن دې ستر او مشهود حقيقت ته اشاره کړې که نه؟ د قرآن دې آيت ته ځير شئ:

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٧﴾

الاعراف: ۲۷

اې د آدم اولاده! پام چي شيطان تاسو ونه غولوي؛ همغسي لکه چي ستاسو مور پلار ئې له جنته وايستل، جامه ئې ترې ايستله چي بدن ئې وروښيي (بدن ئې ورته ښکاره او لوڅ کړي)، دی او قبيله ئې تاسو په داسي توګه ويني چي تاسو ئې نشئ ليدلی، موږ شيطانان د هغو دوستان ګرځولي چي ايمان نه راوړي.

په دې مبارك آيت کې څو اساسي خبري تر سترګو کېږي:

- انسانانو ته ويل شوي چي د شيطان وسوسو ته تسليم نشي.
- شيطان د دې باعث شو چي د انسانانو لومړني پلار مور له جنته ووځي.
- دوی ئې لومړی له جنته ايستلي بيا ئې جامه ترې ايستلې.
- دا جامه يو ځلي نه ده ترې ايستل شوې بلکي ورو ورو ترې ايستل شوې؛ د ينزع صيغه همدا مطلب افاده کوي.

• د شيطان هدف دا وو چې انسان لوڅ او بربنډ کړي؛ دی پوهېدو چې د دې کار پايلې انسان ته څومره خطرناکې دي؛ له ده سره د خپلو شيطاني منصوبو په عملي کولو کې څومره مرسته کوي، څومره فتنې وربانديې راولاړولی شي، د انسان د بې لارې کولو لپاره له دې څومره استفادې کولی شي!!

• هغه مو داسې خطرناك دښمن دئ چې په هر گام کې ئې تاسو ته کمين نيولی؛ تاسو ئې نه گورئ او هغه موويني.

• هغه کسان له شيطان سره دوستي کوي او د وسوسو تر اغېز لاندې ئې ځي چې ايمان نه راوړي؛ مؤمنان له شيطان سره دوستي نه پالي او نه غواړي د وسوسو تر اغېز لاندې ئې راشي.

د دې آيت د دغې فقرې (إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ) په اړه د محققو علماءو رأيه دا ده چې انسانان نشي کولی شيطان او د ده قبيله په خپلو سترگو وگوري؛ دوی هغه آراء او روايات ضعيف او بې اعتباره گڼي چې د شيطان په ليدل کېدو ترکيز کوي. د دې آيت الفاظ هومره صريح او واضح دي چې نه شك ته کوم مجال پرېږدي او نه بلې توجيه ته. په قاطع او پرېکنده توگه وايي چې تاسو شيطان او د ده قبيله نشئ ليدی.

دلته ويل شوي چې تاسو شيطان نشی کتلی په داسې حال کي چې هغه تاسو گوري، يعنې شيطان داسې دښمن دئ چې په کمين کي درته ناست دئ؛ ته ئې نه گورې خو هغه دې گوري؛ داسې دښمن ډېر خطرناک وي، شيطان همداسې خطرناک دښمن دئ؛ د قرآن دا وينا ډېره قاطع او صريح ده؛ له هر چا مو چې د دې قرآني لارښوونې خلاف څه واورېدل او ادعاء ئې کوله چې گواکې انسان کولی شي پېری وگوري؛ يا پېری کولی شي خپل شکل او جوړښت بدل کړي او په داسې بڼې کې راڅرگند شي چې انسان ئې وليدلی شي؛ دا خبره قطعاً مه منئ؛ ځکه چې د قرآن د صريحو آيتونو خلاف او بې بنسټه ادعاء ده.

د دې معنی دا ده چې انسان په لومړي سر کې داسي طبيعي جامه درلوده لکه ټول نور ژوي؛ دا جامه د ممنوعه ونې د مېوې د خوړلو په وجه ترې ایستل شوې؛ شیطان دا کار پرې کړی او د دې تر شا د شیطان یوه خطرناکه شیطاني منصوبه وه!! راشئ دغو مطالبو ته لږ په دقیق او علمي نظر ځیر شو:

د قرآن له وینا معلومېږي چې انسان په سر کې داسي نه وو؛ وروسته بربنډ شوی؛ له لوڅېدو مخکې ئې داسي جامه وه چې هیڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، لکه چې قرآن فرمايي:

فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰٓ ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا۟ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾ طه: ۱۱۷-۱۱۹

نو ومو ویل: اې آدمه! یقیناً چې دا (شیطان) ستا او ستا د مېرمني دښمن دئ؛ نو داسي نه چې له جنته مو وباسي که نه نو په مصیبت کې به پرېوځې. یقیناً چې په دې کې به تا ته دا درپه برخه وي چې نه به وږی کېږې او نه به بربنډ کېږي. او ته به نه په کې تږی کېږې او نه به دي ګرمي کېږي.

لکه چې ګورئ په ۱۱۸ او ۱۱۹ آیتونو کې ویل شوي: الله تعالی آدم علیه السلام ته ویلي چې په جنت کې به ستا حالت داسي وي چې نه به وږی کېږې، نه به بربنډ کېږي، نه به تږی کېږې او نه به دي ګرمي کېږي. یعني لوږه او تنده به نه ګالې، تل به دي پرېمانه خوراك څښاك په برخه وي، نه به له یخنۍ ځورېږي او نه له تودوخي؛ داسي جامي دي په برخه شوې چې هم دي له یخني ساتي او هم له تودوخي.

د یو سل اتلسم آیت له وروستۍ فقرې په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چې دا جامه کومه مصنوعي جامه نه وه؛ ځکه په مصنوعي جامه

کې انسان حتماً او په وار وار بربنډ کېږي، د غسل په وخت کې، د زېږښت په صورت، د شړېدو او شلېدو په نتیجه کې، په بلې د بدلولو په وخت کې، خو دا آیت وايي چې ته به په جنت کې هیڅکله نه بربنډ کېږي، نو د دې معنی یوازې دا کېدی شي چې دا جامه یوه داسې طبیعي جامه وه چې د دوی له بدن سره نښتې وه، همغسې لکه چې الله تعالی ټولو نورو ژوو ته ورکړې؛ دا جامه د ممنوعه مېوې د خوړلو په نتیجه کې ترې ایستل شوې؛ له همدې کبله اوس ګورو چې په ټولو ژوو کې یوازینی بربنډ مخلوق انسان دئ چې مصنوعي جامې ته ضرورت لري؛ په ژمي کې تودو جامو ته او په دوبي کې سړو ته. دې ته مو پام وي چې مصنوعي جامه انسان په خپل لاس جوړوي؛ کله د حیواناتو له پوستکي، کله د دوی له وړیو، کله له سونډو او ورېښمو او کله له نیلون؛ الله تعالی چې کومه جامه مخلوق ته ورکوي هغه مصنوعي نه بلکې طبیعي جامه وي؛ چې نه خیرنېږي، نه شړېږي، نه زړېږي او نه بدلولو ته ضرورت لري.

د قرآن د وینا له مخې انسان له دې جامې د یوې اشتباه په نتیجه کې محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وایستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نورې جامې، ځیني ئې یوازې د ځان پټولو لپاره، ځیني ئې د ښایست او سینګار لپاره او ځیني ئې د تقوی لباس، سنګین، باوقاره له ګناه مانع لباس.

آیا د قرآن دا وینا یو ستر علمي اعجاز نه دئ چې وايي: انسان له خپلې هغې فطري جامې د یوې ګناه له کبله محروم شوی چې نور ژوي ئې لري؛ او دې ته مجبور شوی چې ځانته مصنوعي جامه ولټوي؛ لومړې ئې د ونو له پاڼو ځانته جامه جوړه کړه؛ د قرآن همدا وینا؛ نن ساینس او انساني علمي تحقیقات تصدیقوي؛ او وايي: لومړی لباس چې انسان کارولی؛ د ونو پاڼې وې؛ د دې آثار او شواهد ئې موندلي او له مخې ئې همدا خبره کړې؛ د انسانانو داسې داسې

اجساد ئې مونډلي چې په پاڼو کې پوښل شوي وو؛ لکه اوس چې د افریقا په ځینو ځنګلونو کې داسې انسانان وینو له پاڼو پرته بله جامه نه لري.

له کومې ورځې چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو ترمنځ د تفریق، تبعیض او یو پر بل د لویي او تېري وسیله ګرځېدلې، نه ګورئ چې په دغه جامه کې څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پولیسي جامو کې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي، څومره شریف انسانان د خړو جامو په سبب تحقیر کېږي، څومره ذلیل انسانان په فاخره جامو کې تر نورو ځان لوړ ګڼي، نه ګورئ چې یوه له خپلې جامې د ګیدړې پوستکی جوړ کړی خلك پرې غولوي، بل له جامو د پسه په څېر بې آزاره بربښي خو په سینه کې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسې ښيي چې زمری دئ خو تر ګیدړ به زیات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چې ځان له تودوخې او یخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په دریو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښایست لباس او د تقوی لباس، خو انسان له خپلې جامې یا د غولولو وسیله جوړه کړې، یا د ظلم او تېري وسیله، یا یو پر بل د لویي او تکبر ذریعه!! دا همغه څه وو چې شیطان غوښتل، د شیطان د خطرناکې منصوبې اصلي موخه همدا وه.

بایبل هم د آدم علیه السلام او د ده د مېرمنې د بربنډېدو قصه کوي خو ډېره کچه، غیر علمي، د واقعیتونو خلاف او افسانې ته ورته، وايي: کله چې حواء او آدم د ممنوعه ونې مېوه وخوړه نو همدا وخت پوه شول چې دوی له وړاندې بربنډ ول خو خپل بربنډتوب ئې نه احساساوو، دا د معرفت مېوه وه، د دغې مېوې په خوړلو سره د دوی سترګې پرانیستل شوې، معرفت ئې په برخه شو او خپله بربنډتیا ئې احساس کړه!! خو هر عاقل انسان پوهېږي چې دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چې د دغې مېوې له خوړلو مخکې دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چې بربنډ دي!! او دا

ځکه چي مخکې بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګې پرانیستل شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقیقت د دې خبري کاملاً عکس او دا دئ چي: الله تعالی د زمکې په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښایسته دئ، هم ئې پر ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کې له یخنۍ ساتي او هم په دوبي کې له تودوخي. په ټولو ژوو کې یوازي انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وینا معلومېږي چي انسان په سر کې داسي نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکې ئې داسي جامه وه چي هیڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو د یوې اشتباه په نتیجه کې محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وایستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نوري جامې، ځیني ئې یوازي د ځان پټولو لپاره، ځیني ئې د ښایست او سینګار لپاره او ځیني ئې د تقوی لباس، سنګین، باوقاره له ګناه مانع لباس. د بایبل لیکونکې د آدم علیه السلام بربنډېدا هغسي توجیه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د میوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کې د بایبل تر اغېز لاندي راغلي خلك د آدم علیه السلام له لومړني لباس داسي تعبیر لري چي ګواکې دا به له وړیو، ورېښمو، سنډو او یا مالوچو اوبدل شوې کومه جامه وه، چي د ده په قد قامت برابره ګنډل شوي وه، حال دا چي اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چي کومه جامه ورکوي هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چي هره شبېه ئې په خپلو سترګو ګوري، یوې خوا ته په ملیونو هغه ژوي ګوري چي په ښایسته الهي جامو پټ دي او بلي خوا ته یوازي بني آدم چي له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چي له وړیو، ورېښمو، سنډو،

نيلون او يا مالوچو ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره يو ستر علمي حقيقت بيان کړی خو د اسرائيلي رواياتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې افسانه جوړه کړې.

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ٢٦ الاعراف: ۲۶

اې د آدم اولاده! يقيناً چې تاسو ته مي داسي لباس درولېږو چې بدن مو پټوي او د ښايست وسيله ده او غوره ئې د تقوی لباس دئ، دا الهي آيتونه دي، ښايي پند واخلي.

دلته د لباس په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

- پر انسانانو باندي د لباس د نزول معنی دا نه ده چې الله تعالی له آسمانه ورته لباس رالېږلی، بلکي معنی ئې دا ده چې د الله تعالی په حکم انسان ته د لباس انتظام شوی، د لباس توکي هم الله تعالی ورته پيدا کړي او له دغو توکو د لباس جوړولو هنر او استعداد هم الله تعالی ورکړی.
- د لباس يو ډول هغه دئ چې انسان پرې خپل ځان پټوي، له يخني او تودوخي ئې ژغوري، بل ډول ئې د سينګار او ښايست وسيله ده، خو دلته د يوه بل ډول لباس هم يادونه شوې او تر دغو دواړو غوره ګڼل شوی؛ د تقوی لباس، خو د دې معنی څه ده؟ آيا تقوی ته د لباس نوم ورکړی شوی او که ځيني لباس د تقوی د لباس په نامه ياد شوي؟ په الفاظو کې د دواړو تعبيرونو مجال شته، خو وروستۍ توجيه په دې دليل غوره ده چې د بحث موضوع لباس دئ، نه تقوی، په دې توجيه سره د انسان لباس درې ډوله کېدی شي: د ځان پټولو لباس، د سينګار او ښايست جامه او د تقوی لباس، دا ځکه چې عملاً ګورو ځيني لباس د ګناه وسيله وي او ځيني له ګناه د مخنيوي وسيله.

- که نورو ژوو ته ځیر شو نو ګورو چې د هغوی لباس هم د ځان پټولو او له تودوخې او یخنې د ځان ساتلو وسیله ده او هم د ښایست وسیله. دا ئې ځینې انځورونه:



زمری: دا زمری دئ؛ تل ئې همدا یو ډول جامه وي، مور ئې له همدې جامې پیژنو چې زمری دئ، نارینه ئې هم معلوم دئ او ښځینه ئې هم، د ښځې ئې بېل لباس او د نارینه ئې بېل لباس، د ښځې لباس ئې ډېر ساده او نارینه ئې ببر او له هیبت ډک، وېښتان ئې تر مېرمنې زیات؛ زمری دئ او په هر حالت کې زمری؛ نه خپله جامه بدلولی شي او نه په بدلې جامې بل غولولی شي.

## یږ (خرس):

دا هم یږ او پر شا ئې بچی؛ د پیدایښت په لومړیو کې داسې وي؛ د مور پر شا سپور؛ کولی شي ځان کلك ونیسي او د مور د زغاستې په وخت کې د هغې پر شا ځان تم کړي؛ له ښکلې او ګرمې جامې سره، په مور پسې زغلي؛ او ټوپکې وهي؛ خو د انسان ماشوم داسې وي چې لږ تر لږه تر دوو کلونو پورې؛ په هر څه کې د مور پالنې او ساتنې ته اړ وي؛ په اړخ اوښتی نشي، په خپلو پښو تلی نشي، تی په ژړا سره غواړي، په خپله ئې نشي موندلی؛ خو د یږ او نورو ژوو بچیان؛ د پیدایښت په لومړۍ ورځ کولی شي د مور تی پیدا کړي او وئې روي، ژر پر خپلو پښو ودرېږي او په خپلې مور پسې زغلي؛ جامه ئې داسې چې له مصنوعي جامې ئې بې نیازه کړی؛ په سختې یخنې او واورو کې ورته کفایت کوي.





## طاوس:

په مرغانو کي د نارينه او ښځينه تر منځ توپير ډېر زيات ښکاره وي، طاوس چي نارينه ئې ډېر ښايسته او رنګين دئ او ښځينه ئې ساده اما ښايسته؛ د دواړو ترمنځ تفاوت هم ډېر زيات ښکاره دئ.



**پړانګ**



**بيزو**



**هیلۍ**



**یو ډول مرغۍ**



**آس**





چرگ او چرگه: دا چي موږ ئې هره ورځ په کور کي وینو، د نارینه قد لوړ او ډېر زیات رنگین تر ښځي ډېر زیات ښایسته، توپیر ډېر زیات څرگند، ټول حیوانات همداسي دي.



یعني د فطرت تقاضا دا ده چي د ښځینه وو لباس سنگین او ساده وي او د نارینه لباس رنگین؛ په دي کي ستر الهي حکمت او د ژوو ستر مصلحت مضمر دئ، همدا د هغه فطري تعادل باعث کېږي چي د ژوو بقاء ئې ایجابوي. ولی الله تعالی ټول ژوي داسي پیدا کړي چي نارینه رنگین او ښځینه

سنگین او ساده وي؟ دلائل ئې زیات دي، ستر دلیل ئې دا دئ چې همدا هغه فطري قانون دئ چې د مخلوقاتو علیم او خبیر رب په کې ایښی؛ او مخالفت ئې د فطري قانون مخالفت دئ؛ نتیجه به ئې حتماً همغسې وي لکه له هر بل فطري قانون د مخالفت نتیجه؛ د تفصیلي ځواب په اړه ئې باید لومړی دې پوښتنې ته ځواب ووایو: د انسانانو مېرمنې ولې هغسې سینګار کوي چې نارینه ئې نه کوي؛ ولې دې ته ځان اړ ګڼي؟ وجه ئې دا ده چې هغه د نارینه په پرتله د داسې نقص احساس کوي چې غواړي په سینګار سره ئې جبران کړي، سینګار یعنې د ښایست له پلوه یوه تشه ډکول او تر طبیعي او عادي حالت ځان زیات ښایسته کول؛ نور ژوي دا کار نه کوي او نه ئې شي کولی؛ خو انسان ئې کولی شي؛ ځوك چې غواړي د کامرې مخې ته ودرېږي؛ نو حتماً پر خپل ځان او لباس لاس وهي؛ غواړي سم او منظم ئې کړی او د عیب ځای په کې پرېنږدي؛ ځینې له طبیعي او فطري پلوه د نقص او کمښت احساس کوي؛ غواړي دا نقص په سینګار سره رفع او نواقص پټ کړي؛ کومه مېرمن چې پر خپل طبیعي ښایست قانع نه وي او د نارینه په وړاندې د نقص احساس ئې دې ته هڅوي چې په سینګار سره ئې جبران کړي؛ همغسې چې قرآن د مېرمنو په اړه فرمایي: (... يُنَشَّأُ فِي الْحِلْيَةِ ... الزخرف ۱۸): په سینګار کې وده کوي؛ یعنې چې د مېرمنو لپاره سینګار یوه فطري او طبیعي اړتیا ده؛ د همدې لپاره الله تعالی هغې ته د سینګار کولو او ګاڼې کارولو اجازه ورکړې او د مېړه په وړاندې ئې دا سینګار د ثواب کار او د اجر مستحق ګڼلی. خو په بهر کې او د نامحرمو او پردیو په وړاندې ئې دا سینګار ځکه منع کړی چې له دې اخلاقي او اجتماعي فتنې او ستونزې راولاړېږي؛ هم په انساني ټولنې کې او هم په نورو ژوو کې د ډېری شخړو او جګړو یو ستر عامل؛ د هوس او شهوت بې مهاره کېدل او د قانون له محدودې وتل دي؛ کورنۍ چرګ به ګورې چې لس چرګې به ورسره وي؛ تر منځ به ئې شخړې او جګړې نه وي؛ خو کله چې بل چرګ راشي؛ د دوو چرګانو تر منځ به د خونړیو جګړو لړۍ پیل شي او هغه مخکینۍ

له جګړو فارغه ټولنه به ئې د پر له پسې جګړو په ډګر بدله شي؛ د انساني ټولني وضعیت دې ته ورته دئ؛ د جګړو یو ستر عامل ئې همدا دئ؛ که مېرمن له سینګار سره بهر ته ووتله؛ همدا جائز سینګار فتنې زېږوي او په جګړو منتج کېږي؛ د همدي لپاره الله تعالی هغوی ته ویلی چي حجاب مراعات کړئ؛ د فتنو د مخنیوی لاره همدا ده.

## د جنازې په لمانځه کي فاتحه لوستل!!

په مسلمانانو کي یوه بله اختلافي مسئله دا ده چي ځیني د جنازې په لمانځه کي د فاتحې لوستل؛ هغه هم په لوړ غږ سره؛ نه یوازي سنت ګڼي بلکي د فرض په سترګه ورته ګوري. که څوک ورسره مخالفت وکړي، نو وایي؛ چي ګواکي دی د سنت مخالف دی. دوی د بخاري پر دې حدیث استناد کوي:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ طَلْحَةَ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍرضى الله عنهما عَلَى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ قَالَ لِيَعْلَمُوا أَنَّهَا سُنَّةٌ. بخاري: ۱۳۳۵

له طلحه روایت دئ چي وایي: د ابن عباس رضي الله عنهما په اقتداء کي مي د یوې جنازې لمونځ وکړ چي فاتحه (الحمدلله) ئې پکي ولوستله؛ بیا ئې وویل: لدې امله مي فاتحه ولوستله چي خلک پوه شي دا یو سنت دئ.

د دې روایت په اړه باید څو خبري په پام کي ولرو :

دا روایت د سند له مخي تر مطلق غریب اوښتی، په څلورو طبقو کي یو

يو راوي لري، په صحابه وو کي ئې راوي عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما دئ، په تابعينو او تبع تابعينو کي هم يو راوي لري، روايت هم داسي دئ چي له الفاظو ئې معلومېږي؛ خلک ورسره ناآشنا وو، د همدې لپاره ئې له عبدالله بن عباس پوښتنه کړې چي ولې دي دا کار وکړ؟ نه يوازي په صحابه‌وو کي يو راوي لري؛ بلکي له دې راوي سره نور خلك إختلاف لري او نه ئې مني، يوازي له ده ئې دا کار ليدلی، له بل چا ئې نه دئ ليدلی. د متن له مخي له هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي د جنازې په لمانځه کي نه قرائت شته، نه رکوع او نه سجده.

له صحابه وو عمر بن الخطاب، علي بن أبي طالب، ابن عمر او أبو هريرة رضي الله عنهم او له تابعينو عطاء، طاؤس، سعيد بن المسيب، ابن سيرين، سعيد بن جبير، الشعبي او الحکم په جنازې کي قرائت مکروه گڼلو.

د بخاري په دې روايت کي دا نه دي ويل شوي چي قرائت په جهر سره وو که خفيه، لمونځ د شپې شوی که د ورځې، ځکه څوك چي په قرائت قائل دي هغوی هم وايي چي که د جنازې لمونځ په ورځ کي وشي بايد قرائت په جهر سره نه وي، داسي لکه د ماسپښين او مازديگر په لمونځونو کي چي قرائت په جهر سره نه وي.

د بخاري له دغه روايت هم معلومېږي چي ابن عباس رضي الله عنهما دا کار هسي د تعليم لپاره کړی، ښايي دا ئې لومړی ځل وو او نور خلك ترې خبر نه وو، معمول دا وو چي قرائت به نه کېدو، له دې هم د هغي وينا تأييد تر لاسه کېږي چي وايي په جنازه کي قرائت نشته. د جنازې په لمانځه کي نه قرائت شته، نه سجده شته، نه رکوع او نه هم ناسته، دا په اصل کي د مړي لپاره دعاء ده، د قرآن لارښوونه دا ده چي دعاء بايد په ټيټ ږغ او زاريو سره وشي، نه په لوړ غږ، د دعاء لپاره قرآن دوه شرائط وضع کوي: لومړی ټيټ غږ «دون الجهر» او دوهم تضرع او عاجزي، هغه دعاء چي د الله تعالی خوښېږي، د همدې دوه خصوصياتو لرونکې دعاء ده.

---

له دې روایت یوازې دا انتباه اخیستی شو چې کېدی شي فاتحه چا د دعاء په توګه لوستې وي، نه  د تلاوت په توګه. په لرې احتمال سره؛ کېدای شي همداسې شوي وي، خو دې ته په پام سره چې د فاتحې سوره داسې ده چې د جنازې په لمانځه کې ئې لوستل قطعاً مناسب نه برېښي. څوک چې د فاتحې الفاظو ته لږ ځېر شي او په دقت ئې ولولي، په دې پوهېږي چې د یوه مړي لپاره ئې د دعاء په توګه لوستل مناسب نه دي؛ ځکه چې فاتحه أصلاً د ژوندي دعاء او له خپل رب سره د بنده‌ګۍ تعهد دئ، د الله تعالی ستاینه ده او دا تعهد چې له تا پرته د بل چا عبادت نه‌کوو او یوازې له تا مرسته غواړو او دا چې موږ سمې لارې ته هدایت کړه، د هغو کسانو لار چې تا ورته هدایت کړی. دا الفاظ او دا مُحتویٰ قطعاً له داسې حالت سره نه ښایي چې ته خفه یې او د مړي لپاره دعاء کوې، ځکه په إبتداء کې ئې د شکر الفاظ دي او د مصیبت په وخت کې خو باید د صبر او زغم الفاظ وویل شي، نه داسې الفاظ چې د شکر مفهوم ترې إفاده شي، د شکر الفاظ یوازې د بریا او نعمت د حصول په وخت کې معمول دي.

یادونه: د روسانو په ضد د جهاد په دوران کې د یوه مجاهد د جنازې لمانځه د امامت لپاره یو افغان ملا چې نوی غیر مقلد شوی وو؛ مخکې شو؛ د سلفي کېدو لړۍ هم د افغان جهاد په وخت کې پیل شوه، څوک چې ئې تر شا وو هغه هم معلوم دي او چا چې دا مذهب راانتقال کړی؛ هغوی هم کاملاً څرګند دي. په لمانځه کې ئې نه یوازې په جهر سره د فاتحې لوستل پیل کړل بلکې ډېر نور داسې څه ئې وکړل چې په افغانانو کې تر هغې ورځې چا نه وو لیدلي، ځینو لمونځ پرېښود، ځینو زړه نا زړه لمونځ ته دوام ورکړ، په پای کې لویه لانجه رامنځته شوه، چې ډېرې ورځې ئې دوام وکړ!! نه پوهېږم هغه ولې دا کار وکړ، آیا د بخاري دا روایت ئې لوستلی وو او له دې مخکې ئې دا روایت نه وو لوستلی او هغه روایات هم چې وایي؛ د جنازې په لمانځه کې نه رکوع شته، نه سجده او نه هم قرائت؛ او ګمان ئې دا وو چې دا سنت دئ او غوښتل

---

ئې پر يوه سنت عمل وکړي او که غوښتل ئې عربي مرستندويه ټولنو ته وښيي چي دی يو زړه ور سلفي دئ!! دا دئ په يوه لويه غونډه کي ئې د أحنافو د مذهب خلاف د جنازې لمونځ وکړ او په هغه کي ئې په جهر سره فاتحه وويله، دا ئې هدف وو؟! خو دې ته ئې پام نه وو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په امت کي اختلاف راولاړول نه خوښوي، په ځانګړې توګه په فرعي مسائلو باندي، رسول الله صلی الله عليه و سلم خو په فرعي مسائلو د لانجو له راولاړولو حتیٰ په داسي امورو کي هم اجتناب وکړ چي د کعبې په څرنګوالي پوري تړلي دي، هغه غوښتل چي کعبه ونړوي او بېرته ئې په ابراهيمي اساس جوړه کړي خو دا کار ئې له دې امله ونه کړ چي خلك لا د دين په حقيقت سم نه دي پوه شوي او حساسيت به وښيي!! پيغمبر عليه السلام دا کار د إختلاف راولاړېدو له وېري ونه‌کړ، خو ځيني راولاړېږي او داسي کار په لمانځه کي کوي چي ډېرو ته ناآشنا دئ، حتیٰ صحابه‌وو ته هم ناآشنا ښکارېدو او پوښتنه ئې کړې وه چي ولي دي داسي وکړل؟ کوم روايتونه چي په دې اړه راغلي؛ له هغوی معلومېږي چي دا کار صحابه وو ته نا آشنا وو، د صحابه‌وو دور کي تابعينو ته هم ناآشنا وو، يعني هيڅا د جنازې دغسي لمونځ نه وو ليدلی چي په هغه کي فاتحه لوستل شوې وي او هغه هم په لوړ غږ، له همدې کبله ئې په وار وار پوښتنه کوله چي ولي دي د جنازې لمونځ دغسي وکړ.

هغه چي په داسي مسائلو إختلافات راولاړوي؛ هغه أصلاً د دين په حقيقت نه‌پوهېږي، دين چي کوم مسائل د أولويتونو پر مبناء درجه بندي کړي دي؛ پر هغوی ئې سر نه دئ خلاص، دين چي کوم مسائل د لومړۍ درجې ګڼلي؛ د داعي دنده دا ده چي تر نورو وړاندي پر هغوی ترکيز او تأکيد وکړي؛ فرعي مسائل بايد شا ته پرېښودل شي او دومره توجه ورته وشي چي دا مسائل ئې ايجابوي ورسره ښايي. يقيناً چي موږ نن له دغي فتنې سره مخ يو؛ يوازي افغانان نه؛ بلکي په مجموع کي ټول اسلامي امت؛ په ډېرو وړو وړو مسائلو

ترکیز او د همدې ترکیز له مخې څوک د إیمان خاوند ګڼي او څوک بیا له إیمان وتلی شمېري او تکفیروي ئې.

## د شهید جنازه

ځینو له دې هم په افغانانو کې د اختلاف راولاړولو وسیله جوړه کړې چې آیا پر شهیدانو د جنازې لمونځ جائز دئ که ناجائز، رسول الله صلی الله علیه و سلم د احد د شهیدانو لمونځ کړی که نه؟ دوی د بخاري پر دغه روایت استناد کوي او وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د احد د شهداوو د جنازې لمونځ نه دئ کړی:

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنهما قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ « أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ ». فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ « أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلاَءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِي دِمَائِهِمْ، وَلَمْ يُغَسَّلُوا وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِمْ. بخاری: ۱۳۴۳

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د احد شهیدان دوه، دوه په یوه جامه (کفن) کې پېچول، بیا به ئې فرمایل: د کوم یوه ئې قرآن ډېر زده وو؟ نو له دواړو چې هر یوه ته به ګوته ونیول شوه هغه به ئې په لحد کې وړاندې ایښودو او فرمایل به ئې: (زه به

د قیامت په ورځ د دوی شاهد یم). او امر ئې وکړ چي له وینو سره دي دفن شي، نه غسل ورکړل شو او نه ئې د جنازې لمونځ ورباندي وکړ.

دا روایت په بخاري کي اوه ځلي راغلی په دغو شمېرو: ۱۳٤٥، ۱۳٤٦، ۱۳٤۷، ۱۳٤۸، ۱۳٥۳، ٤۰۷۹ ټول د معنی او الفاظو له پلوه سره ورته دي، یوازي دومره توپیر سره لري چي په یوه کي فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ او په بل کي فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى رَجُلٍ قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ قَبْلَ صَاحِبِهِ راغلي.

دا روایت د سند له پلوه داسي دئ چي په څلورو طبقو کي یو یو راوي لري او د متن له پلوه داسي دئ چي دوه ستونزي لري: لومړی دا چي له یوې خوا وایي کفن نه دئ ورکړی شوی او په خپلو جامو کي دفن شوي خو له بلي خوا وایي چي دوه دوه په یوه جامه کي کفن شوي، له بلي خوا وایي چي په دوو کي به ئې هغه تر بل وړاندي لحد ته کوزولو چي قرآن به ئې تر بل زیات حفظ کړی وو!! په یوه کفن کي د دوو کسانو له منځه یو کس تر بل څنګه لحد ته وړاندي کوزېدی شي؟ که دواړه یوځای لحد ته کوز شوي وي، نو معنی ئې دا ده جامه یا کفن یې یو وو. ځینو له روایت د دفاع په موخه ویلي چي له یوې جامې مراد یو قبر دئ، چي دا په هیڅ توګه د منلو وړ توجیه نه ده!! دوهمه ستونزه ئې دا ده چي دا روایت له هغو روایاتو سره تعارض لري چي وایي: د احد د شهیدانو د جنازې لمونځ شوی. روایات دا دي :

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أُتِيَ بِهِمْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ، فَجَعَلَ يُصَلِّي عَلَى عَشَرَةٍ عَشَرَةٍ، وَحَمْزَةُ هُوَ كَمَا هُوَ، يُرْفَعُونَ وَهُوَ كَمَا هُوَ مَوْضُوعٌ سنن ابن ماجه

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي: د احد شهیدان د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخي ته راوړل شول، د لسو لسو د جنازې لمونځ ئې

کولو، د حمزه رضي الله عنه جنازه به همداسي پر خپل ځای پرته او نور به ترې پورته کېدل.

بل روایت وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت لږ مخکي یو ځل بیا د احد د شهیدانو جنازه کړې ده،

دا دوه روایته شول، یو هغه چي د احد په میدان کي د لسو لسو تنو ډلهایزه جنازه او بل ئې دا چي رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت لږ مخکي بیا د احد د شهیدانو جنازه کړې.

روایت دا دئ :

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ « إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا ». بخاري:۱۳٤٤

له عقبه بن عامر رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه ورځ ووت او د احد پر شهیدانو ئې د مړي د جنازې لمونځ ته ورته لمونځ وکړ، بیا منبر ته را تاو شو او وئې فرمایل: زه ستاسو لپاره مخکي تلونکی یم؛ او زه پر تاسو گواه یم؛ او والله چي زه همدا اوس خپل حوض «حوض کوثر» وینم؛ او ما ته د زمکي د خزانو کیلي گاني یا د زمکي کیلي گاني راکړی شوې؛ او والله چي زه له دې پر تاسو نه وېرېږم چي له ما وروسته به شرك وکړئ، خو له دې وېرېږم چي په دې (د دنیا مال متاع ) کي به تنافس او سیالي وکړئ.

دا روایت هم په بخاري کي پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی ،۳۵۹٦ :

٤٠٤٢، ٤٠٨٥، ٦٤٢٦، ٦٥٩٠

لکه چي گورئ بخاري د احد د شهيدانو د جنازې په اړه دوه متعارض او کاملاً د يو بل خلاف روايات راوړي، يو ئې اوه ځلي او بل ئې شپږ ځلي، يو روايت ئې دا انتباه انسان ته ورکوي چي شهيد به د جنازې له لمانځه پرته دفن کېږي او بل ئې وايي څو کاله وروسته هم پر شهيد د جنازې لمونځ کېدی شي، هغوی چي بخاري ئې يوازي د تبرک لپاره لوستی او حتیٰ پر لفظي معنیٰ ئې هم سم نه‌پوهېږي، هغوی به څنګه او پر کوم يوه عمل کوي؟! او هغه چي عوام دي؛ کوم يو به د دغو رواياتو له منځه انتخابوي؟! دا خو يو ستر فقيه او عالِم ته ضرورت لري چي له منځه ئې يو روايت د عمل لپاره غوره کړي، حتیّٰ که هغه هم په دې وتوانېدلی شي؛ لويه خبره به وي. بخاري دا نه دي ويلي چي په دغو متعارضو رواياتو کي کوم يو ئې صحيح او د عمل وړ دئ !!

دې ته مو پام وي چي په پورتني روايت کي له خزائن الارض مراد د حجاز، عراق، شام، روم، فارس او هند هغه خزائن دي چي د مسلمانانو په لاس کي پرېوتې، پيغمبر عليه السلام ته په رؤياء کي ښودل شوي وو چي دا به د مسلمانانو په لاس کي پرېوځي، دا يوه رؤيا وه، نه پر غيب پوهېدا؛ او دا رؤيا ترسره شوه او ټولي خزانې د مسلمانانو په لاس پرېوتې، د همدې لپاره ئې دوی ته وويل: له دې وېره نه لرم چي تاسو به بېرته مخکيني شرك ته واوړئ بلکي له دې وېرېږم چي دا خزائن ستاسو لاس ته درشي او بيا په خپلو کي د همدې شتمنيو پر سر تنافس وکړئ، يو له بل سره به رقابت او حسادت وکړئ او بالاخره دا رقابت به مو په شخړو او جګړو بدل شي؛ او يقيناً چي همغسي وشول چي پيغمبر عليه السلام ئې په اړه تشويش درلود؛ د همدغو خزانو پر سر د مسلمانانو تر منځ ډېري فتنې او جګړي راولاړي شوې او ډېريويني توی شوې؛ اکثراً داسي واقع کېږي چي ټولني او ډلي تر هغه چي د مبارزې په ډګر کي له ستونزو او کړاوونو سره مخ وي؛ نو متحد وي او په خپلو منځونو کي تنافس نه‌کوي، که رقابت هم کوي؛ نو د خير په کار کي مثبت رقابت کوي؛

خو کله چې اقتدار په لاس ورشي؛ بیا یو له بل سره د اقتدار پر سر شخړې کوي؛ دا د مسلمانانو په شمول د ټولو سیاسي ډلو په اړه صدق کوي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا وینا په غیب پوهېدا نه ده؛ د ایماني فراست نتیجه ده؛ هغه چې گمان کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیب پوهېدو؛ نه یوازي اشتباه کوي بلکې گمان ئې د قرآن له هغو گڼ شمېر آیتونو سره منافات او مغایرت لري چې وایي: نه رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیب پوهېدو او نه په زمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته بل څوک؛ نه پیغمبران، نه فرشتې او حتیٰ د عرش مقربې ملائکې؛ په دې اړه د قرآن وینا ډېره صریح، قاطع او مکرره ده؛ له دې حدیث داسې تعبیر درلودل چې گواکې رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیب پوهېدو؛ سخته اشتباه ده؛ دا وړاندوینه نه بلکې یوه رؤیا وه؛ نبي علیه السلام ته په خوب کې ویل شوي وو چې د زمکې خزانې به د مسلمانانو په لاس ورشي او همداسې وشول، ومو لیدل چې عیاش او ظالم اموي او عباسي واکمنان د دغو خزانو پر سر داسې په خپلو کې ونښتل چې د زرگونو مؤمنانو او د ډېرو صحابه وو او تابعینو وینې په کې توی شوې. دا خبره ځکه ضروري ده چې یوه خرافي او د شرك په ډنډ کې پرېوتې ډله وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د زمکې د هر څه واك ورکړی شوی، د الله تعالی د ټولو خزانو کلیاني ده ته ورکړی شوې، د وېش واك ئې د ده په لاس کې دئ او دا هغه څه دي چې د قرآن له گڼ شمېر آیتونو سره په بشپړه توگه تضاد او تعارض لري، له هغو آیتونو سره چې وایي: پیغمبر علیه السلام نه یوازي نورو ته د گټې او تاوان رسولو واك نه لري بلکې ځان ته د گټې رسولو او ضرر دفع کولو اختیار هم نه دئ ورکړی شوی. داسې روایت که مو مخ ته راغی چې په هغه کې له الله تعالی پرته بل چاته په غیب د پوهېدو نسبت شوی وو، دا روایت مه‌منئ او په درنښت ئې یوې خوا ته کښېږدئ او نورو ته ئې هم مه وایئ.

دغو روایاتو ته په پام سره ویلی شو د دې لپاره هیڅ نقلي او عقلي موجه

دلیل نه مومو چي پر شهید د جنازې لمونځ کول دي ناجائز وي، دا ډېره کمزورې خبره ده چي شهید یا لمانځه او دعاء ته ضرورت نه لري، بخښل شوی او د وینې د لومړي څاڅکي له تویېدو سره ئې ټول ګناهونه الله تعالی بخښلي، یا هغه ژوندی دئ او پر ژوندي د جنازې لمونځ صحیح نه دئ!! که پر پیغمبر علیه السلام چي د قرآن د وینا له مخې ئې مخکني او وروستني ټول ګناهونه بخښل شوي او معصوم دئ؛ او پر ماشومانو د جنازې لمونځ کېږي نو پر شهید به ولې نه کېږي!!؟

## د قبر عذاب

د مسلمانانو د مختلفو مذهبي فرقو تر منځ په دې اړه هم اختلاف دئ چي د قبر عذاب څنګه دئ؟ آیا مړی د برزخ د ژوند راحت او عذاب په قبر کې ګوري که په علیین او سِجّین کې؟ آیا له بدن د روح له وتلو وروسته د انسان بدن احساس لري او راحت او عذاب احساسوي؟ آیا روح له بدن بهر عذاب او راحت احساسولی شي؟ راشئ دا موضوع د قرآن او حدیث په رڼا کې وڅېړو.

لومړی باید دې پوښتني ته ځواب وویل شي چي آیا د برزخ ژوند شته؟ آیا په قرآن کې په دې اړه څه ویل شوي چي د انسان له مړیني وروسته او د قیامت تر بیا بعثت او ژوندون وړاندي کوم خاص ډول ژوندون شته؟ آیا په قرآن کې داسي څه مومو چي ښیي په مرګ سره انسان په بشپړه توګه له منځه نه ځي؛ جسم ئې مري او په خاورو کې تجزیه کېږي خو روح ئې نه مري او ژوندۍ پاته کېږي؟ که داسي وي نو بیا ویلی شو چي انسان کولی شي له مرګ وروسته هم څه درك او احساس کړي؛ ځکه انسان هر څه په خپلي روح سره احساسوي، روح د درك او احساس منشأ او وسیله ده. راشئ لومړی دغو پوښتنو ته ځواب ولټوو؛ قرآن د شهیدانو په اړه فرمایي:

وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًاۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ
﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم
مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ
ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ آل عمران: ۱۶۹ - ۱۷۱

**او هغه مړه مه ګڼئ چي د الله په لار کې شهیدان شوي؛ دوی ژوندي دي او د الله په خوا کې ورته روزي ورکول کېږي. الله چي له خپل فضل څه د دوی په برخه کړي؛ په هغه خوشحالي کوي او د هغو لپاره هم چي لا تر اوسه له دوی سره نه دي یو ځای شوي او د دوی تر شا دي؛ د دې لپاره خوشحالي کوي چي نه به پر دوی څه وېره وي او نه به غمجن شي. د الله په نعمتونو او فضل به خوشحالي کوي او په دې هم چي الله د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي.**

**د دې آیتونو اساسي مطالب دا دي:**

- **د الله د لاري شهیدان مړه مه ګڼئ.**
- **دوی ژوندي دي خو تاسو د دوی د ژوند په څرنګوالي نه پوهېږئ.**
- **دوی نه یوازي ژوندي دي بلکی الله ورته په خپلي خوا کې روزي هم ورکوي.**
- **دوی په خپل وضعیت او د الله جل شأنه په هغه فضل چي د دوی په برخه شوی؛ راضي او خوشحال دي.**
- **د خپلو هغو ملګرو د مستقبل په اړه هم خوشحالي کوي چي لا تر اوسه له دوی سره نه دي یو ځای شوي؛ د دې لپاره چي ګوري د ایمان په لار کې نه وېره شته او نه غمجن کېدل.**
- **د الله په نعمتونو، فضل او په دې چي الله د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي؛ خوشحالي کوي.**

همدا راز قرآن فرمايي:

وَلا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِنْ لا تَشْعُرُونَ
البقرة: ١٥٤

او هغو ته چي د الله په لار کي وژل کېږي؛ مړه مه واياست؛ بلکي ژوندي دي خو تاسو نه پوهېږئ.

يعني نه به شهيدان مړه گڼئ او نه به هغوی ته مړه واياست، نه به په ذهن کي دا خبره درگرځوئ چي هغوی مړه شوي او نه به په خوله دا خبره کوئ چي هغوی مړه شول، دوی ژوندي دي؛ تاسو د دوی د دې ژوندون په کيفيت نه پوهېږئ.

په بل آيت کي په دې اړه داسي راغلي:

أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّى يُحْيِي هَذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالَ بَلْ لَبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ إِلَى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ وَانْظُرْ إِلَى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِلنَّاسِ وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. البقرة: ٢٥٩

او يا لکه هغه چي په يوه داسي کلي تېر شو چي په خپلو بامونو راپرېوتی وو، وئې ويل: الله به دا له خپلي داسي مړيني وروسته څنگه بيا راژوندي کوي، نو الله هغه په سل کلن مرگ مړ کړ، بيا ئې بېرته راژوندی کړ، ورته وئې ويل: څومره وځنډېدې؟ وئې ويل: يوه ورځ ځنډېدلی يم او يا خو د يوې ورځي يوه برخه؛ وئې فرمايل: داسي نه ده؛ بلکي سل کاله ځنډېدلی يې، نو خوراك او څښاك ته دي وگوره چي نه دي گنده شوي او خره ته دي وگوره او دا د دې

لپاره چي تا د خلكو لپاره يوه نښه وګرځوو؛ او هډوكو ته ځير شه چي څنګه ئې خوځوو او بيا ئې په غوښې پټوو؛ نو كله چي ورته څرګنده شوه؛ وئې ويل: (اوس) ښه پوهېږم چي الله په هر څه ښه قادر دئ.

دا د الله يو مؤمن بنده وو (كه څه هم په يوه روايت كې عزير ګڼل شوى؛ هغه چي يهودانو د الله زوى ګڼلو)، په سفر روان وو، د خوراك او څښاك لپاره څه د سفر توښه ورسره، په يوه وران او نسكور شوي زاړه كلي تېرېدو، هري خوا ته ئې د كليوالو وراسته هډوكي تر سترګو شول، ناڅاپه ئې دا خبره په زړه كې راتېره شوه چي الله تعالى به دا وراسته هډوكي څنګه بيا راژوندي كوي؛ الله تعالى غوښتل هم د ده دا پوښتنه ځواب كړي او هم د ده په واسطه هغه خلك قانع كړي چي بياژوندون ئې نه منلو، د همدې لپاره ئې هغه په سل كلن مرګ محكوم كړ، سل كاله وروسته ئې بيا راژوندى كړ، پوښتنه ئې ترې وكړه؛ دلته څومره وځنډېدې؟ ځواب ئې وركړ: نه پوهېږم، ښايي يوه ورځ يا خو د يوې ورځي يوه برخه، الله تعالى ورته وفرمايل: نه؛ دلته سل كاله ځنډېدلى يې، د سورلۍ ورستو هډوكو ته وګوره، خو خوراك او څښاك ته دي سترګي واړوه چي روغ رمټ پاته دي، وګوره چي څنګه دا وراسته هډوكي خوځوم، غوښه پرې راټوكوم او بيا ئې راژوندى كوم، دغه مؤمن بنده د دې صحنې په ليدو سره د خپلې پوښتني ځواب تر لاسه كړ او وئې ويل: اوس ښه پوه شوم چي الله په هر څه قادر دئ.

په دې قصې كې د بياژوندون په اړه څو بنيادي او اساسي خبرو ته ځواب ويل شوى:

- يوه له هغو خبرو چي د بيا ژوندون په اړه د انسان ذهن تر خپل سيوري لاندي نيسي او باور كول ورته ګرانوي؛ د اوږدې زمانې تېرېدل دي، كه په يوه مړي يوه - دوه ورځي تېري شوې وي بياژوندى كېدل ئې ورته دومره ګران نه برېښي لكه د هغه چي اوږده موده پرې تېره شوې وي، د دغې قصې په ترڅ

کې ویل شوي چې زمانه نسبي امر دئ، له یوه تر بل او له یوه حالت تر بل ئې وضع بدلېږي، ویښ او ویده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته یو شان نه وي؛ هغه زمانه چې یوه ته په یوه حالت کې بې انتهاء برېښي بل ته د څو ثانیو او دقیقو وي، کومه فاصله چې مېږي ته بې انتهاء برېښي د یوې مرغۍ لپاره د څو ثانیو وي، که په یوه اطاق کې له یوه ویده او ویښ؛ چې ټوله شپه ئې په خوب او ویښه تېره کړې، پوښتنه وکړئ، ویښ به درته وایي: ډېره اوږده شپه وه، لټ په لټ اوښتم، سخته راباندې تېره شوه او ویده به درته وایي: زه نه یم پوهېدلی چې شپه څنګه تېره شوه او څومره خوب مي کړی، دې مؤمن بنده ته عملاً وښودی شو چې سل کاله ورته یوه ورځ او حتیٰ تر هغه هم کم؛ د یوې ورځې څو ساعتونه معلوم شول، قرآن همدغه حقیقت ته په څو نورو مواردو کې هم اشاره کړې او فرمایي: د الله لپاره یوه ورځ هومره ده لکه ستاسو پنځوس زره کاله، دا تاسو یئ چې کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سیوری پروت دئ چې په مړو باندې د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته به څنګه بیا راژوندی کېږي. د نسبیت په اړه د قرآن دغه خبره دولس پېړۍ وروسته؛ د المان یوه ساینس پوه انشټین؛ د ساینس په ژبه وکړه او په دې سره ئې د فزیك د پلار نوم وګاټو.

- دوهم څه چې په دې اړه د انسان ذهن ته راځي هغه دا دئ چې په مرګ سره د انسان ټول بدن په خاورو بدل شي، د اوږدې زمانې په تېرېدو سره ئې له غوښې او هډوکو هیڅ اثر پاته نشي، دا به څنګه بېرته راژوندی کېږي؟ په دې قصې کې هغه مؤمن بنده ته وښودی شو چې د انسان وجود دوه برخې لري: جسد او روح؛ په مرګ سره ئې یوه برخه له منځه ځي خو بله برخه ئې روغه پاته کېږي، دا داسې وګڼه لکه (د دغه صالح بنده سورلۍ) او (خوراك څښاك)، یو ختم شوی وو خو بل روغ رمټ پاته وو، ستا جسد د روح لپاره داسې دئ لکه ستا دغه سورلۍ او ستا روح داسې لکه دا خوراك څښاك او ستا د قوت او ځواك منبع، په مرګ سره ستا هر څه له منځه نه ځي، یوه برخه

روغه پاته کېږي، روح له منځه نه ځي، یوازې د روح سورلۍ او کالبوت خپل حالت بدل کړي، غوښه او هډوکي ئې په خاوره کې تجزیه شي، دا بیاژوندون داسي وګڼئ لکه چي په مني کي ټول نباتات ومري، وراسته او په خاوره بدل شي، په خاوره کي موږ ته د دوی هیڅ اثر په نظر نه راځي، ټول ژمی پرې تېر شي، خو په پسرلي کي په یوه باران سره له زمکي سر راپورته کړي.

که د ساینس په ژبه دا مطلب توضیح کړو نو ویلی شو چي د انسان بدن؛ کالبوت او غړي ئې داسي دي لکه د یوه کمپیوټر پرزې (Hardware) او روح ئې داسي ده لکه د کمپیوټر پروګرامونه او (Software)؛ او له خوراك څښاك چي کومه انرژي تر لاسه کوي؛ داسي ده لکه د کمپیوټر برق؛ له برق او سافټ وير پرته کمپیوټر داسي دئ لکه مړی؛ د کمپیوټر فزيکي توکي زړېږي او مري؛ خو سافټ وير ئې مرګ نه لري؛ د تل لپاره پاته وي. کله چي د کمپیوټر زړې او له کاره لوېدلي اجزاء تعويض شي؛ کولی شې مخکيني سافټ وير په کي نصب کړې؛ په دې سره مړ کمپیوټر بېرته راژوندی شي.

له مخکينيو آيتونو معلومه شوه چي د برزخ ژوند شته، روح ژوندۍ پاته کېږي او احساس لري.

په دې بل آيت کي به وګورئ چي د فرعون په اړه وايي: هغه به تر قيامت پوري په مکرره توګه د عذاب خوند څکي:

﴿ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۖ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ٤٦﴾ غافر: ٤٦

هغه اور چي سبا او ماښام به پرې وړاندي کېږي او د قيامت په ورځ به وويل شي: فرعونيان تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ.

دا آيت ښيي چي تر قيامت مخکي به فرعونيان په پر له پسې توګه له عذاب سره مخامخ کېږي.

د آیت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دلته دوه ډوله عذابونه په ګوته شوي: ۱- هر سبا او ماښام د اور عذاب ته د دوی وړاندي کېدل ۲- او د قیامت په ورځ شدید عذاب ته د دوی ننوتل. لومړی عذاب تر قیامت وړاندي او دوهم عذاب تر قیامت وروسته؛ د لومړي عذاب په اړه ویل شوي چي دوی به دغه عذاب ته عرضه کېږي او د دوهم عذاب په اړه ویل شوي چي دوی به ورننوځي، د دې معنی دا ده چي دوی به تر قیامت وړاندي په مسلسله توګه هر سبا او بیګا له عذاب سره مخامخ کېږي خو دا عذاب به په دوزخ کي له ننوتلو سره توپیر لري. او همدا هغه عذاب دئ چي په روایاتو کي د برزخ عذاب په نامه یاد شوی. د آیت له الفاظو دا هم معلومېږي چي د برزخ عذاب روحي عذاب دئ نه بدني، د دوزخ له شدید عذاب سره ئې توپیر په همدې کي دئ. همدا رأیه هم د قرآن له لارښوونو سره اړخ لګوي او هم له واقع سره، که د برزخ عذاب بدني عذاب وی نو نښي به ئې د معذب شوو پر بدن څرګندېدې. د مړي بدن بې حسه وي، نه څه ویني، نه څه اوري، وروست شي، تجزیه شي، حیوانات او مرغان ئې وخوري، هندوان ئې وسوزوي، په بحر او دریا کي ئې ماهیان وخوري، په وچه کي چنجي؛ نه چیغي وهي او نه خوځي؛ یعني چي هیڅ حس نه لري.

که څه هم بخاري دوه نور آیتونه هم په دې اړه ګنې خو له هغوی د قبر عذاب نه ثابتېږي؛ آیتونه دا دي:

... وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ ۝٩٣ الانعام: ۹۳

... او کاش ته دا ظالمان هغه مهال وګورې چي د مرګ په سکرات او سلګیو کي وي او فرشتو لاسونه وراوږده کړي (او ورته وايي:) خپله روح مو راوباسئ، نن به د هغه څه سزا درکول کېږي چي د الله په اړه مو په ناحقه ویل او د ده له

آيتونو به مو لويي او سرغړاوی کولو.

دا د روح قبضېدو حالت ته اشاره لري نه د قبر عذاب ته؛ د بحث موضوع د کافر د روح قبضېدا ده او که عذاب هم گوري نو د ده روح به ئې گوري؛ د آيت له هيڅ برخي د قبر عذاب نه ثابتېږي.

بل آيت ئې دا دئ:

وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ مَرَدُوا۟ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾ التوبه:۱۰۱

او ستاسو شاوخوا کې ځيني کوچيان منافقين دي او د مدينې ځيني اوسېدونكي هم؛ په نفاق کې ډېر ماهران شوي؛ نه ئې پېژنئ، موږ ئې پېژنو، ژر به ئې دوه ځلي تعذيب کړو، بيا به د ستر عذاب لوري ته وگرځول شي.

دا په دنيا کې د منافقينو مکرر عذاب او په آخرت کې د دوی ستر عذاب ته اشاره کوي نه د قبر عذاب ته.

د فرعونيانو د مکرر عذاب اړوند آيت؛ په لاندي روايت کې داسي راغلی:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». (بخارى:۹۰۳۷) مسند احمد: ٦٠٥٩ مسلم: ٦٥

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: "له تاسو چي څوک مړ شي هستوگنځی ئې سهار او ماښام ورښودل کېږي، که جنتي وي د جنتيانو ځای او که دوزخي وي د دوزخيانو

ځای او ورته ويل کېږي: دا ستا ځای دئ؛ تر هغه چي الله تعالی دي د قيامت په ورځ راژوندی کړي.

دا روايت په بشپړ وضاحت سره ښيي: ۱- د برزخ راحت او عذاب يو حقيقت دئ. ۲- دا راحت او عذاب ورښودل کېږي؛ نه دوزخ ته ننوځي او نه جنت ته. له لري ئې ګوري.

په دې اړه د محققينو تر منځ اختلاف شته چي له سبا او ماښام مراد زموږ د شپې ورځي سبا او ماښام دئ، که بل څه؟ مړو ته خپل هستوګنځی يو ځل ورښودل کېږي که مکرر؟ د مړي جسد ئې ګوري او که د ده روح؟؛ دلته څو خبري بايد په پام کي ولرو:

- د برزخ او قبر عذاب حق دئ؛ هم د قرآن له وينا معلومېږي او هم ګڼ شمېر روايات دا خبره کوي.

- دا خبره يقيني ده چي احساس د روح کار دئ نه د جسد، که په جسد کي روح نه وي د درد او عذاب احساس نشي کولی، حتیٰ هغه مهال هم درد نه احساسوي چي د بدن د دردمني برخي رابطه له دماغ سره قطع شي، نه يوازي په دې حالت کي هيڅ څه نشي درك کولی بلکي ګورئ چي د عصبي مزو په بې حسه کېدو سره درد نه احساسوي، پښه ترې اره کېږي خو دی پرې نه پوهېږي، نس ئې څيري کېږي د درد احساس هم نه کوي، د عملياتو په دوران کي نه پوهېږي چي جراح له ده سره څه کوي!!

- کله چي روح له کالبوت ووځي نو يا عليين ته وړل کېږي يا سجين ته، د مؤمن او جنتي روح او د عملونو کتاب ئې لوړ وړل کېږي او د دوزخي کوز سجين ته؛ د دواړو رابطه له قبر او د مړي له بدن سره تر قيامت پوري قطع کېږي.

- د روايت په پای کي ويل شوي: دا ستا ځای دئ؛ تر هغه چي الله تعالی دي د قيامت په ورځ راژوندی کړي. د دې معنی دا ده چي مړی به په خپل قبر

کې تر هغه مړ پروت وي او د روح رابطه به ئې له جسد سره قطع وي چې الله تعالی ئې د قیامت په ورځ بیا ( او دوهم ځل) راژوندی کړي.

● نو پوښتنه دا ده چې مړی د قبر راحت او عذاب څنګه احساسوي؟ آیا دا معامله د ده له روح سره کېږي که د ده له بدن سره که له دواړو سره؟ له دواړو سره خو یوازې په هغه صورت کې ممکنه ده چې د روح رابطه له بدن سره پاته وي، که د عصب د یوه مزي په قطع کېدو یا بې حسه کېدو سره زموږ روح د اړوند غړي درد او عذاب نشي احساسولی نو له ټول بدن د روح د وتلو په صورت کې به عذاب څنګه درك کوي؟

● اما روح له بدن پرته هم درد او خوشحالي احساسوي، د انسان خوب ئې یوه بېلګه ده، په خوب کې د انسان روح لرې لرې سفرونه کوي، له ښکلو منظرو خوند اخلي او له بدو ځورېږي، هیبتناکې او وېروونکې منظرې ئې دومره وارخطا کړي چې زړه ئې په چاودېدو شي؛ چیغې وهي او نور هم له خوب راویښ کړي او خوشحالوونکې منظرې ئې دومره ښاد کړي چې په جامو کې نه ځائېږي او زړه ئې غواړي والوزي؛ خو بدن ئې په خپلې خوا کې او د بړستنې څنګ ته ډېر جریانات نه احساسوي. د دې معنی دا ده چې روح له بدن لرې او بېل هم احساس لري؛ خو بدن له روح پرته له احساس محروم شي.

● د انسان بدن د روح لپاره فقط یو کالبوت دئ، له مرګ وروسته بدن وروست شي، په خاورو کې تجزیه شي، د بدن برخې ئې د نورو ژوو، حیواناتو او نباتاتو خوراك شي، خو روح ئې سالمه او روغه پاته وي، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي چې د شهید روح ته د شنو مرغانو په څېر کالبوت ورکړی شي، جنت ته درومي او مېوې ئې خوري؛ له دې معلومېږي چې د مؤمنانو او کافرانو روح ته هم داسې مناسب حالت او کیفیت ورکول کېږي چې د قبر راحت او عذاب احساس کړي.

• قرآن په دې اړه صراحت لري چې مرگ او ژوندون يوازي دوه ځله دئ. قرآن فرمايي:

قَالُوا رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَى خُرُوجٍ مِنْ سَبِيلٍ ﴿١١﴾ غافر: ۱۱

وايي به: اې زموږ ربه! دوه ځلي دي مړه کړو او دوه ځلي دي ژوندي کړو نو پر خپلو گناهونو مو اعتراف وکړ، نو آيا د وتلو لوري ته کومه لار شته،

دا آيت په څرگنده توگه ښيي چې په قبر کې دريېم ژوندون نشته؛ او د مړي وتلې روح به يوازي د حشر په ورځ کالبوت مومي او مړی به راژوندی کېږي. د مخکيني روايت وينا هم په صريح توگه ښيي چې مړی به يوازي د قيامت په ورځ بيا راژوندی کېږي.

دوه ځلي مړينه او دوه ځلي ژوند يعني دا چې مړه توکي وو تا ژوند راکړ، بيا ستا په حکم مړه شوو او د قيامت په ورځ دي بېرته راژوندي کړو، موږ په دنيا کې له دې دوهم ژوندون انکار کولو او هغه مو محال گڼلو، اوس مو په خپلو سترگو وليد، پر خپلې مخکينۍ غلطي اعتراف کوو، په دوهم ژوند عدم باور د گناهونو د ارتکاب جسارت راکړی وو، پر خپلو گناهونو معترف يو، آيا له دوزخ د وتلو کومه لار شته؟

د دې معنی دا ده چې دريېم ژوندون نشته؛ که په قبر کې ژوندون ومنو نو درې ژوندونه ترې جوړېږي. نو په يقين سره ويلی شو چې د برزخ راحت او عذاب يوازي روح احساسوي؛ نه روح او کالبوت په گډه.

د قرآن له دغو آيتونو په واضح توگه معلومېږي چې مړي نه څه اوري او نه کوم غږ لري:

(وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا) مريم ۹۸

او څومره پېرۍ پېرۍ (خلك) مو تر دوی وړاندي هلاك كړل، آيا د دوی د كوم يوه (څه نښه) احساسوې او كوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې؟

يعني مړي نه څه تحرك لري او نه كوم زګېروی؛ نه ئې څوك تحرك ليدی شي او نه ئې زګېروی اورېدی شي. ژوي حركت او غږ لري؛ اما مړی له دواړو محروم.

(فَإِنَّكَ لا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ) الروم ۵۲

يقيناً چي ته نه مړو ته اورول كولی شې او نه كڼو ته هغه مهال بلنه اورولی شې چي مخ واړوي؛ په داسي حال کي چي تر شا كېدونكي وي.

همدا آيت د النمل سوره کي بيا راغلی.

(إِنَّكَ لا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ) النمل ۸۰

په دې آيتونو کي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ته نه شې كولی مړو ته كومه خبره واوروې، همداراز هغو كڼو ته هم خپله بلنه نه شې اورولی چي تا ته شا كړي او درنه روان شي.

آيا ډېره عجيبه نه ده چي د داسي څرګندو آيتونو له ليدو سره سره څوك هغه رأی او روايت مني چي مړي ته اورېدا منسوبوي؟!! آيا ممكنه ده چي الله تعالی يو څه ويلي وي او پيغمبر ئې بل څه او د الله تعالی د وينا خلاف خبره؟!!

كه څه هم دلته له مړو، كڼو او ړندو هغه كافران مراد دي چي د تعقل، تدبر او تفكر استعدادونه ئې ځپل شوي او د ايمان راوړو له سعادت او توفيق محروم شوي؛ خو په ضمن کي دا مطلب موږ ته واضح كوي چي مړي څه نه اوري، نه يوازي دا چي څه نه اوري بلكي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په خبر يو پيغمبر هم نه شي كولی مړي ته كومه خبره واوروي، كوڼ او ړوند

ته هم څوك په خارق العاده توګه نه څه اوروڼی شي او نه ئې لارښوونه کولی شي. قرآن کافر له مړي سره تشبيه کړی؛ د صحنو له ليدلو پند او عبرت نه اخلي او په دې کي کاڼه او ړانده ته ورته دئ، يعني لکه چي مړی څه نه اوري او ته نشې کولی هغه ته څه واوروې؛ همداسي هغه کافر او مشرك ته هم څه اورولی نشې چي د اورېدو استعداد ئې د مړي په څېر ختم شوی. قرآن ايمان له ژوند سره تشبيه کړی او مؤمن ئې له ژوندي سره؛ يعني حواس او مشاعر ئې روغ او سالم دي، سترګي، غوږونه، زړه او دماغ ئې سم کار کوي او هر څه ئې روغ وي؛ اما کافر د مړو په څېر؛ احساسات، جذبات، عقل، فکر او شعور ئې ناروغ او ځپل شوي، لکه د مړي په څېر. دلته دا پوښتنه راولاړېږي چي د هغو رواياتو په اړه به څه کوو چي وينا ئې د دې صريح او څرګند آيت خلاف ده او د مړو د اورېدو خبره کوي؟! د دې پوښتني ځواب دا دئ: د يوه روايت د صحت لپاره تر ټولو مهم او لومړی شرط دا دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري، هغه روايت د اعتبار وړ نه دئ چي وينا ئې د قرآن خلاف وي، دا نه يوازي پر قرآن د ايمان تقاضا ده بلکي ټول محدثين، فقهاء او علماء پر دې خبري متفق دي. کوم روايات چي د دې آيت خلاف خبره کوي هغه نه د سند له پلوه د دې وړ دي چي اعتبار ورکړی شي او نه د متن له پلوه، د دغو رواياتو په مقابل کې ګڼ شمېر داسي روايات شته چي هم ئې وينا د دغه آيت مطابق ده او هم د دغو رواياتو ترديد کوي. عائشه رضی الله عنها د قرآن پر دغه او دې ته ورته آيتونو استناد کوي او د هغه چا وينا ردوي چي د مړو د اورېدو ادعاء کوي.

٤٨٦٤ - حَدَّثَنَا يَزِيدُ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَاطِبٍ، أَنَّهُ حَدَّثَهُمْ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ: وَقَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْقَلِيبِ يَوْمَ بَدْرٍ فَقَالَ: «يَا فُلَانُ يَا فُلَانُ، هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَكُمْ رَبُّكُمْ حَقًّا؟ أَمَا وَاللَّهِ إِنَّهُمُ الْآنَ لَيَسْمَعُونَ كَلَامِي»، قَالَ يَحْيَى:

فَقَالَتْ عَائِشَةُ: غَفَرَ اللَّهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّهُ وَهِلَ، إِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللَّهِ إِنَّهُمْ لَيَعْلَمُونَ الْآنَ أَنَّ الَّذِي كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ حَقًّا»، وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: {إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى} [النمل: ٨٠] و {وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ} [فاطر: ٢٢] " مسند احمد

له ابن عمر رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د بدر په ورځ د كندي خوا ته ودرېدو او وئې ويل: "اې فلانيه او اې فلانيه! آيا هغه څه مو حق او رښتيني وموندل چي ستاسو رب ئې وعده درسره كړې وه؟ اما پر الله قسم چي دوى اوس حتماً زما خبري اوري". يحيى وويل: نو عائشې رضي الله عنها وويل: الله تعالى دي ابو عبد الرحمن (عبد الله بن عمر) ته مغفرت وكړي؛ يقيناً چي دى خطأ شوى؛ له شك پرته چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل: "قسم پر الله چي دوى اوس ښه پوهېږي چي ما څه ورته ويل هغه حق دئ"، او يقيناً چي الله تعالى فرمايي: "إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى" : النمل: ٨٠؛ ته مړو ته څه اورولى نه شې. او فرمايي: "وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ" فاطر: ٢٢: او ته هغو ته اورونكى نه يې چي په قبرونو كې دي.

بخاري دا روايت داسي راوړى:

٣٩٧٨ - حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَفَعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ المَيِّتَ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ» فَقَالَتْ: وَهَلَ؟ إِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهُ لَيُعَذَّبُ بِخَطِيئَتِهِ وَذَنْبِهِ، وَإِنَّ أَهْلَهُ لَيَبْكُونَ عَلَيْهِ الآنَ»، قَالَتْ: وَذَاكَ مِثْلُ قَوْلِهِ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى القَلِيبِ وَفِيهِ قَتْلَى بَدْرٍ مِنَ المُشْرِكِينَ، فَقَالَ لَهُمْ مَا قَالَ: «إِنَّهُمْ

لَيَسْمَعُونَ مَا أَقُولُ» إِنَّمَا قَالَ: «إِنَّهُمُ الآنَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّ مَا كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ حَقٌّ»، ثُمَّ قَرَأَتْ {إِنَّكَ لاَ تُسْمِعُ المَوْتَى} [النمل: ٨٠]، {وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي القُبُورِ} [فاطر: ٢٢] البخاري

هشام له خپل پلار روايت کوي چي د عائشې رضي الله عنها په وړاندي يادونه وشوه چي ابن عمر؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا وينا منسوب کړې چي وئې ويل: "يقيناً چي مړی په خپل قبر کې د خپلوانو د ژړا له کبله تعذيب کېږي". هغې وويل: غلط شوی؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازي داسي ويلي: "يقيناً چي مړی د خپلو خطاءگانو او گناهونو له کبله تعذيب کېږي او خپلوان ئې همدا اوس پرې ژاړي" هغې بيا وويل: دا خبره ئې هغي ته ورته ده چي وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم د بدر په ورځ د هغي کندي خوا ته ودرېدو چي د بدر په جگړي کې د مشرکينو مړي په کې پراته وو او هغه څه ئې وويل چي وئې ويل: " دوی اوس حتماً زما خبري اوري". په داسي حال کې چي هغه وويل: دوی اوس ښه پوهېږي چي ما څه ورته ويل هغه حق دئ"، بيا ئې دا آيتونه تلاوت کړل: "إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى" : النمل: ٨٠؛ ته مړو ته څه اورولی نه شې. "وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ" فاطر: ٢٢: او ته هغو ته اوروونکی نه يې چي په قبرونو کې دي.

دا روايت له ځينو توپيرونو سره مسلم، نسائي او حُمَيدي هم راوړی.

خو بخاري تر دې عنوان لاندي (مړی د ژونديو د پښو څپا (ږغ) اوري)؛ د مخکينيو رواياتو خلاف دا روايت هم راوړی:

عن أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "الْعَبْدُ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ، وَتُوُلِّيَ وَذَهَبَ أَصْحَابُهُ حَتَّى إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ، أَتَاهُ مَلَكَانِ فَأَقْعَدَاهُ فَيَقُولاَنِ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه و سلم

فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ. فَيُقَالُ انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ، أَبْدَلَكَ الله بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ- قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا- وَأَمَّا الْكَافِرُ- أَوِ الْمُنَافِقُ- فَيَقُولُ لاَ أَدْرِى، كُنْتُ أَقُولُ مَا يَقُولُ النَّاسُ. فَيُقَالُ لاَ دَرَيْتَ وَلاَ تَلَيْتَ. ثُمَّ يُضْرَبُ بِمِطْرَقَةٍ مِنْ حَدِيدٍ ضَرْبَةً بَيْنَ أُذُنَيْهِ، فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ إِلاَّ الثَّقَلَيْنِ". (بخاري:۱۳۳۸)

له انس بن مالک رضی الله عنه روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: (کله چي بنده په قبر کي کښېښودی شي او ملگري ئې ترې ولاړ شي او په داسي حال کي چي د هغوی د کپيو رږغ (څپا) به اوري؛ دوې فرشتې ورته راشي او هغه راکښېنوي، بيا ورته وايي: ته د دې شخص يعنی محمد (صلی الله علیه و سلم) په اړه څه وايې؟ هغه به وايي: شاهدي وايم چي دی د الله تعالی بنده او رسول دئ. نو ورته وبه ويل شي: په دوزخ کي دي خپل ځای ته وگوره چي الله تعالی د جنت په هستوگنځي درته بدل کړی. نبي (صلی الله علیه و سلم) وفرمايل: دواړه به ويني. خو کافر يا منافق به وايي: نه پوهېږم؛ ما به هغه څه ويل چي نورو خلکو به ويل! نو ورته وبه ويل شي: ته نه پوه شوې او نه په نورو پسي ولاړې، بيا به ئې په اوسپنين څټک سره د غوږونو تر منځ ووهي او داسي چيغه به وکړي چي له انسان او پېرى پرته به ئې شا و خوا ټول شيان واوري).

دا روايت هم د قرآن له آيتونو سره تعارض لري او هم له مخکيني روايت سره چي د بخاري په شمول نورو کتابونو کي هم راغلی!! دا روايت وايي چي مړی حتیٰ د خپلوانو د کپيو څپا هم اوري؛ خو قرآن وايي: حتیٰ رسول الله صلی الله علیه و سلم نشي کولی مړو ته څه واوروي!!

دا روايت په بخاري کي يو ځل بيا په دې شمېرې ۱۳۷۴تکراراً راغلی خو له دغو توپيرونو سره: په يوه کي وَتُوُلِّيَ وَذَهَبَ أَصْحَابُهُ، په بل کي وَتَوَلَّى عَنْهُ

أَصْحَابُهُ، په یوه کې أَتَاهُ مَلَكَانِ فَأَقْعَدَاهُ، په بل کې أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ، په یوه کې مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ- صلى الله عليه وسلم، په بل کې مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم، په یوه کې فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ، په بل کې فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ، په یوه کې وَأَمَّا الْكَافِرُ- أَوِ الْمُنَافِقُ- فَيَقُولُ لاَ أَدْرِي، په بل کې وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ فَيَقُولُ لاَ أَدْرِي راغلي.

دا روایت د سند له مخې داسې دئ چې په صحابه وو او تابعینو کې یو یو راوي لري او په تبع تابعینو کې دوه، وروستي ټول راویان ئې د بصرې اوسېدونکي دي، د متن له پلوه داسې دئ چې یوه برخه ئې له قرآن سره تعارض لري؛ او هغه دا چې قرآن وایي: مړي خبري نه اوري، خو دا روایت وایي چې حتیٰ د ژوندیو د گامونو ږغ هم اوري!!

د قرآن آیتونه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وایي چې ته مړو او هغو ته چې په قبرونو کې دي خبره نشې اورولې، یعني نه یوازې دا چې مړي خبره نه اوري او داسې دي لکه کاڼه او گونگیان؛ بلکې که هڅه وکړې چې څه ورواوروې نو هڅه به دې څه نتیجه نه لري.

پوښتنه دا ده چې آیا یو غریب روایت چې نه یوازې په قرآن کې کوم شاهد ورته نه مومو بلکې د قرآن له څو څرگندو آیتونو سره تعارض لري او هغه خبره کوي چې د عائشې رضی الله عنها په څېر په قرآن او حدیث پوه شخصیت ئې ردوي؛ د اعتبار وړ گڼلی شو؟! پر قرآن د ایمان تقاضا دا ده چې داسې روایات په درناوي سره یوې خوا ته کښېږدو؛ نه پرې استناد وکړو او نه ئې بل ته ووایو.

تر دې وړاندې چې مخکې ولاړ شو؛ دا پوښتنه کوو: امام بخاري ولې دا دواړه متضاد روایات راوړي؟ ولې ئې نه دي ویلي چې په دوی کې کوم یو صحیح دئ او د قرآن مطابق؟ له دې چې کومه لانجه او نزاع راولاړېږي مسئولیت به ئې د چا پر غاړه وي؟ د بخاري د کتاب یو شاگرد او حتیٰ استاد

چي طالبانو ته د بخاري درس ورکوي له دغو دواړ متضادو روايتونو به کوم يو غوره کوي؟ آيا داسي څوك شته چي نن موږ ته د دې پوښتنو ځواب ووايي؟ آيا له دې پرته بله چاره لرو چي ووايو: د احاديثو ټول کتابونه بايد تنقيح او د متعارضو رواياتو ستونزه ئې حل شي او له ټولو يو متفق عليه کتاب جوړ شي؟ يقيناً چي بله چاره نه لرو. دې بل روايت ته هم ځير شئ:

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَرَكَ قَتْلَى بَدْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ حَتَّى جَيَّفُوا، ثُمَّ أَتَاهُمْ فَقَامَ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ: «يَا أُمَيَّةُ بْنَ خَلَفٍ، يَا أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ، يَا عُتْبَةُ بْنَ رَبِيعَةَ، يَا شَيْبَةُ بْنَ رَبِيعَةَ، هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَكُمْ رَبُّكُمْ حَقًّا؟ فَإِنِّي قَدْ وَجَدْتُ مَا وَعَدَنِي رَبِّي حَقًّا»، قَالَ: فَسَمِعَ عُمَرُ صَوْتَهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتُنَادِيهِمْ بَعْدَ ثَلَاثٍ، وَهَلْ يَسْمَعُونَ؟ يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: {إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى} [النمل: ٨٠]؟ فَقَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ أَنْ يُجِيبُوا» مسند احمد ١٤٠٦٤

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د بدر مړي درې ورځي د دې لپاره (پر زمکي پراته پرېښودل چي وراسته او گنده مړزگه شي، بيا ورته راغی او خوا ته ئې ودرېدو او وئې ويل: يَا أُمَيَّةُ بْنَ خَلَفٍ، اې ابو جهل بن هشام! يَا عُتْبَةُ بْنَ رَبِيعَةَ! يَا شَيْبَةُ بْنَ رَبِيعَةَ! آيا هغه څه مو رښتيني ومونډل چي ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه؟ ما خو هغه څه رښتيني ومونډل چي رب مې وعده راسره کړې وه؛ انس وويل: عمر ئې غږ واورېدو او وئې ويل: يا رسول الله! آيا له دريو ورځو وروسته ورته غږ کوې؟ آيا دوی غږ اوري؟ الله تعالی فرمايي: {إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى}! نو وئې فرمايل: پر هغه ذات قسم چي زما ساه ئې په واك كې ده؛ تاسو تر دوی ښه اورېدونكي نه يئ؛ خو دوی داسي دي چي نشي كولی ځواب ووايي.

د دې روايت په اړه څو خبري توجه غواړي:

● د قرآن له ګڼ شمېر آيتونو او هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: مړي څه نه اوري.

● د منلو نه ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د قريشو مړي د دې لپاره درې ورځي پر زمکه پرېښي وي چي ګنده شي. دا ځکه چي هغه د مړو له مثله کولو په کلکه ممانعت کړی.

● دغه روايت په تکراري مواردو کي په دې صيغه راغلی چي مسلمانانو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هغه خبره وکړه چي په دې روايت کي عمر رضي الله عنه ته منسوب شوې؛ د دې معنی دا ده چي ټولو مسلمانانو ته دا خبره عجيبه معلومه شوې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مړو ته خطاب کوي او هغه ئې د قرآن د صريح وينا مغاير موندلې.

● د قرآن د يوه آيت کومه برخه چي په دې روايت کي راوړل شوې؛ هغه داسي ده؛ (فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا) خو په روايت کي اشتباهاً داسي راغلې: هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَكُمْ رَبُّكُمْ حَقًّا؟ دا د اعراف سورې د يوه آيت فقره ده چي وايي: جنتيان به دوزخيانو ته ووايي: آيا هغه څه مو رښتيني وموندل چي ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه؟ يعني له دوزخيانو سره د دوزخ د عذابونو وعده او له جنتيانو سره د جنت د نعمتونو وعده؛ نه ئې له جنت او دوزخ مخکي پر هيڅ حالت اطلاق کېدی شي او نه پر ماتي او بريا.

● انس رضي الله عنه دا صحنه په خپلو سترګو نه ده ليدلې او د هغه چا نوم ئې هم نه دئ ياد کړی چي ده ترې دا روايت اورېدلی.

د دې روايت په اړه به همغه څه وايو چي عائشې رضي الله عنها د مخکيني روايت په ارتباط ويلي؛ او هغه دا چي راوي غلط شوی او اشتباه ئې کړې.

د قرآن په هغو آيتونو کي چي د مړو اورېدا په کي نفي شوې؛ ځينو داسي انګېرلې چي مراد ترې کافران او مشرکين دي!! او يقيناً چي دا يوه مغالطه او

اشتباه ده؛ حقیقت دا دئ چي:

۱- د دغو آیتونو دا برخه (وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ) دومره واضح ده چي له مړو پرته ئې په بل چا اطلاق نشي کېدی.

۲- په نورو کې کافر او مشرك د حق خبري په نه اورېدو کې له مړو سره تشبیه شوي؛ او معنی ئې دا ده چي دوی په نه اورېدو کې داسي دي لکه مړي.

۳- د الله تعالی کلام له دې عیب ډېر لوړ او منزه دئ چي شك زېږوونکی وي؛ داسي لکه چي وایي: ته مړو ته څه نشې اورولی؛ گواکې دا څرگند کلام د کافر په اړه صدق کوي خو د مړي په اړه صدق نه کوي!!! په داسي حال کې چي الله تعالی دلته کافر او مشرك په نه اورېدو کې له مړي سره تشبیه کړی.

٤- د اورېدا د نفي کولو معنی دا ده چي نور حواس ئې هم د غوږونو په څېر له کاره لوېږي؛ غوږ تر سترگو حساس دئ؛ د پردې له شا هم اوري او سترگي بیا له رڼا پرته هیڅ نشي لیدلی.

د مخکیني بحث یقیني نتیجه دا ده چي:

۱- د قرآن وینا د برزخ ژوند په اړه ډېره واضح او صریح ده چي وایي:

- داسي ژوند چي روح او جسد سره وصل وي؛ یوازي دوه ځلي دئ: ۱- د دنیا ژوند او ۲- د آخرت ژوند.

- کله چي روح له بدن ووځي نو فقط د قیامت په ورځ بېرته بدن ته ستنول کېږي.

- مړي نه خوځي، نه څه اوري او نه څه گوري؛ جسد ئې وروست او تجزیه شي؛ روح ئې سالمه پاته وي.

- د برزخ راحت او عذاب روحي دي نه جسدي؛ احساس د روح کار دئ؛ نه د بدن. تر هغه چي روح د بدن په قید او محدوده کې وي؛ نو د لیدو لپاره روغو سترگو ته، د اورېدو لپاره روغو غوږونو ته، د تگ لپاره روغو پښو ته او

همداسي نورو غړو ته ضرورت لري؛ که کوم غړی تخریب شي نو د روح په شتون کې هم د دې غړي اړوند کار نشي ترسره کولی. نه په ړندو سترګو لیدل کولی شي او نه په ګڼو غوږونو اورېدل. اما کله چې روح د کالبوت له قید ووځي یا په نسبي توګه آزاده شي؛ د زمان او مکان له قید هم د خپل لطافت په تناسب په نسبي توګه آزاده شي. په خوب کې روح له بدن داسي وځي چې رابطه ئې سره قطع نه وي؛ خو هم د ماضي له پېښو خبرېږي او هم د مستقبل له پېښو؛ په لنډ وخت کې لري مزلونه وهي او لرو لرو سیمو ته ځي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج ئې یوه بېلګه ده؛ په یوه شپه کې تر سدرة المنتهی پوري ورسېدو.

۲- صحیح او معتبر روایات همغه دي چې وینا ئې په بشپړه توګه د قرآن له وینا سره مطابقت ولري.

۳- هغه روایات هم د إسنادو له پلوه ستونزي لري او هم ئې په متن کې اضطرابات او ستونزي شته چې د برزخ په اړه داسي څه وایي چې هم له قرآن سره تعارض لري، هم د قرآن مطابق روایتونو سره او هم له عقل او واقعیتونو سره. مړو ته په قبر کې درېیم ژوند، د غږ اورېدا، د راحت او عذاب احساس منسوبوي؛ چې دا هم د قرآن د صریح وینا خلاف ده، هم د معتبرو روایاتو، هم د عقل او هم د فطرت او واقعیت خلاف. عائشه رضي الله عنها، عمر رضي الله عنه او د ځینو روایاتو له مخي ټول صحابه په همدې باور وو چې په قبرونو کې د مړو پراته جسدونه څه نه اوري.

اوس راځو د دې بحث پای او وروستۍ نتیجې ته:

تاسو د قرآن هغه آیت هم واورېدو چې وایي: فرعونیان به سبا او ماښام اور ته وړاندي کېږي او د قیامت په ورځ به وویل شي: فرعونیان تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ.

یعني چې فرعونیان به تر قیامت وړاندي او دوزخ ته تر داخلېدو مخکې

په پر له پسې توګه اور له لرې ګوري او په دې سره به ځورول کېږي. د دې آیت په شرح او تفسیر کې مو هغه روایت هم واورېدو چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت کړی او وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: "له تاسو چې څوک مړ شي هستوګنځی ئې سهار او ماښام ورښودل کېږي، که جنتي وي د جنتیانو ځای او که دوزخي وي د دوزخیانو ځای او ورته ویل کېږي: دا ستا ځای دئ؛ تر هغه چې الله تعالی دي د قیامت په ورځ راژوندی کړي. یعني چې مړی به تر قیامت پوري او تر هغه چې الله تعالی ئې د قیامت په ورځ بیا راژوندی کوي؛ همداسي له روح پرته مړ پروت وي. نو له روح پرته جسد به ئې نه خوځي، نه څه اوري، نه څه ویني او نه څه حس کولی شي؛ دا ځکه چې هر درك، احساس او خوځښت د روح کار دئ؛ جسد او ټول غړي ئې د روح لپاره فقط وسائل دي؛ سترګي ئې د لیدو لپاره، غوږ ئې د اورېدو لپاره او عصبي رشتې ئې د حس کولو لپاره. دا داسي وګڼئ لکه یو کمپیوټر چې کامره ئې لیدل کوي؛ عکس او ویډیو ثبتوي او د کمپیوټر حافظې ته ئې انتقالوي، سونډ کارډ ئې غږ اوري او د کمپیوټر حافظې ته ئې انتقالوي؛ خو که ستا کمپیوټر خاموش وي نو نه لیدل کولی شي او نه اورېدل؛ د کې بورډ پر بټنو د لاس وهلو په وړاندي هم هیڅ غبرګون نه ښيي. همداسي په بدن کې باید روح وي چې هر غړی خپل اړوند کار وکولی شي.

قرآن د فرعون د جسد په اړه فرمايي:

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ﴿٩٢﴾ یونس: ۹۲

نو نن به دې بدن وژغورو چې هغو کسانو ته (د عبرت) نښه وې چې له تا وروسته (راځي او پاته) دي او د خلکو ډېری زما له آیتونو غافل دي!!

فرعون د غرقېدا په وخت وویل: په دې ایمان راوړم چې له هغه معبود پرته بل معبود نشته چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړی، له سرغړاوي لاس اخلم

او خدای ته تسلیم یم!! په ځواب کې ورته ویل شوي: اوس! او په داسې حال کې چې مخکې دې سرکشي کوله او له مفسدینو وې؟!! نو نن به دې بدن وژغورو چې هم هغو ته د عبرت نښه وې چې له تا وروسته پاته کېږي او هم راتلونکو نسلونو ته.

د همدغه فرعون مومیايي شوی جسد تر اوسه روغ رمټ پاته دئ او دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، ډېرو د فرعون پر دې جسد تحقیقات کړي چې دا څنګه نږدې درې نیم زره کاله د ده پر جسد تېر شوي او روغ رمټ پاته شوی؟ په مومیايي کولو کې له کومو توکو استفاده شوې؟ او د ده د مرګ سبب څه وو؟ یو له دغو تحقیق کوونکو ډاکټر موریس بوکل وو چې په خپله مسیحي دئ، دی د فرعون په مومیايي شوي جسد له تحقیق وروسته پوه شو چې هغه په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی، کله چې نوموړي ډاکټر له مسلمانانو واورېدل چې په قرآن کې ویل شوي: فرعون په اوبو کې غرق شو او د ده جسد به د خلکو د عبرت لپاره خوندي وساتو؛ حیران شو، پرېکړه ئې وکړه چې قرآن مطالعه کړي، په پنځوس کلنۍ کې ئې عربي د دې لپاره زده کړه چې قرآن مطالعه کړي.

قرآن د فرعون د جسد روغ پاته کېدو په اړه په مخکیني آیت کې داسې وایي: "نو نن به دې بدن وژغورو چې هغو کسانو ته (د عبرت) نښه وې چې له تا وروسته (راځي او پاته) دي". یعني چې دا پېښه له څو اړخونو راتلونکو نسلونو ته د عبرت او پند باعث ده:

- د قرآن وینا د فرعون د غرقېدا په اړه رښتینې ثابته شوه.
- د مړي جسد د اوږدې مودې لپاره روغ ساتل کېدی شي.
- موږ د هغه پر جسد د تعذیب نښې نه ګورو؛ نه د اور داغونه، نه د مار او لړم چیچلو علائم او نښې، نه د اژدها له لوري د غوښو شکول او نه د لوی ګرز او مارتول د وارونو آثار. او دا ټول ښیي چې د برزخ عذاب روحي دئ نه

جسمي.

دا دئ درې زره کاله وروسته د فرعون روغ جسد زموږ مخې ته پروت دئ چې ښيي نه سوزول شوی، نه په ګُرز او ستر مارتول وهل شوی، نه د دوزخ مار او لړم چيچلی او نه اژدها غوښې ترې شکولې؛ د برزخ عذاب ئې روحي وو نه جسدي؛ او د دوزخ عذاب به ئې په ګډه جسدي او روحي وي.

دې ته مو هم پام وي چې د فرعون جسد د يوه انسان په لاس موميايي شوی او له شړېدو او ورستېدو ئې مخنيوی شوی او الله تعالی همدا د انسان کار ځان ته منسوب کړی؛ دا ځکه چې د عالم هر کار د الله تعالی په توفيق او إذن او د الهي سننو مطابق ترسره کېږي.

راشئ هغه روايات هم وګورو چې محققينو د إسنادو او متن له پلوه ضعيف ګڼلي؛ خو په مسلمانانو کې ډېر شهرت لري، هغه روايات چې وايي په قبرونو کې پراته مړي د پوښتنو لپاره موقتاً راژوندي کېږي او عذاب احساسوي. لومړی دا روايت چې ترمذي ئې ضعيف ګڼي:

٢٤٦٠ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ وَهُوَ ابْنُ مَدُّوَيْهِ قَالَ: حَدَّثَنَا القَاسِمُ بْنُ الحَكَمِ العُرَنِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ الوَلِيدِ الوَصَّافِيُّ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصَلَّاهُ فَرَأَى نَاسًا كَأَنَّهُمْ يَكْتَشِرُونَ قَالَ: " أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى، فَأَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ المَوْتِ، فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى القَبْرِ يَوْمٌ إِلَّا تَكَلَّمَ فِيهِ فَيَقُولُ: أَنَا بَيْتُ الغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الوَحْدَةِ، وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ، وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ، فَإِذَا دُفِنَ العَبْدُ المُؤْمِنُ قَالَ لَهُ القَبْرُ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ، فَإِذْ وُلِّيتُكَ اليَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ " قَالَ: " فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الجَنَّةِ. وَإِذَا دُفِنَ العَبْدُ

**الفَاجِرُ أَوِ الكَافِرُ قَالَ لَهُ القَبْرُ: لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ، فَإِذْ وُلِّيتُكَ اليَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ "قَالَ: «فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى تَلْتَقِيَ عَلَيْهِ وَتَخْتَلِفَ أَضْلَاعُهُ»، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِأَصَابِعِهِ، فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ قَالَ: «وَيُقَيِّضُ اللَّهُ لَهُ سَبْعِينَ تِنِّينًا لَوْ أَنْ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا فَيَنْهَشْنَهُ وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الحِسَابِ» قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا القَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ»: «هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ» الترمذى [قال الألبانى]: ضعيف جدا**

**له ابو سعيد خدري روایت دئ چي رسول الله صلى الله علیه و سلم خپل مسجد ته ننوت نو خلك ئې داسي ولیدل لکه چي خوشي خوشي خاندي؛ وئې فرمایل: خو که تاسو د لذتونو ورانوونکی (مرگ) ډېر یاد کړئ نو له هغه څه به مو مشغول کړي چي زه ئې گورم (ستاسو دا خنداگاني)؛ نو دا د لذتونو هدموونکی ډېر یاد کړئ؛ دا ځکه چي پر قبر هیڅ داسي ورځ نه راځي مگر دا چي وایي: زه د غربت کور یم، زه د یوازیتوب کور یم، زه د خاورو کور یم، زه د چینجو کور یم؛ نو کله چي یو مؤمن دفن شي؛ قبر ورته وایي: ښه راغلې، هر کله راشې، اما ته هغه څوك وې چي ما ته تر هر هغه چا ډېر محبوب وې چي زما پر شا گرځېدل؛ اوس چي ما ته سپارل شوی یې او ما ته راغلی یې؛ وبه گورې چي زه څه درسره کوم؛ وئې فرمایل: نو زمکه به د سترگو د لید په اندازه ورته پراخه شي؛ او د جنت په لوري به یوه دروازه ورته پرانیستل شي؛ او کله چي یو فاجر او کافر بنده دفن شي؛ نو زمکه به ورته ووایي: نه ښه راغلې او نه له هرکلي سره؛ اما ته هغه څوك وې چي ما ته تر هر هغه چا ډېر**

منفور او مبغوض وې چې زما پر شا ګرځېدل؛ اوس چې ما ته سپارل شوی یې او ما ته راغلی یې؛ وبه ګورې چې زه څه درسره کوم؛ وئې فرمایل: نو پرې راتنګه به شي؛ دومره چې پرې راغونډه به شي او پوښتۍ به ئې سره تېرې راتېرې شي؛ راوي وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپلو ګوتو سره داسي وښوده چې خپلې ګوتې ئې ځینې د ځینو په منځونو کې ننیستلې؛ وئې فرمایل: او اویا داسي اژدها به پرې مسلطي کړي چې که یوه ئې په زمکې کې پو کړي نو زمکه به د دنیا تر پایه څه راشنه نه کړي؛ نو غاښونه به پرې لګوي او غوښه به ترې شوکوي؛ تر هغه چې د حساب په لوري بېول شي. رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: "یقیناً چې قبر یا د جنت یو روضة (بڼګی) دئ او یا د دوزخ د اور یوه کنده"

ترمذي د دې روایت په اړه وایي: دا روایت غریب دئ؛ یوازي له همدې لوري ئې مومو. الباني د دې روایت په اړه وایي: ډېر زیات ضعیف دئ. او د روایت د متن ستونزي دا دي:

- قبر مؤمن ته وایي: اما ته هغه څوك وې چې ما ته تر هر هغه چا ډېر محبوب وې چې زما پر شا ګرځېدل؛ په دې کې مبالغه ده؛ دا خبره یوازي یو کس او تر ټولو غوره انسان ته کېدی شي؛ نه هر مؤمن ته.

- او کافر او فاجر ته وایي: اما ته هغه څوك وې چې ما ته تر هر هغه چا ډېر منفور او مبغوض وې؛ په دې کې هم مبالغه ده؛ دا خبره یوازي یو کس او تر ټولو بد انسان ته کېدی شي؛ نه هر کافر او فاجر ته.

- دا هم د واقع خلاف وینا ده چې زمکه به پرې راتنګه شي؛ دومره چې پرې راغونډه به شي او پوښتۍ به ئې سره تېرې راتېرې شي؛ نه قبر تنګېږي او د مړي پوښتۍ سره تېرې راتېرې کېږي؛ ډېر مړي له قبرونو راایستل شوي دا حالت نه دئ په کې لیدل شوی؛ د فرعون په جسد کې هم د عذاب هیڅ نښنه نه ده مشاهده شوې.

---

- دا هم د واقع خلاف وينا ده چي د پر مړي به اويا داسي اژدها مسلطي شي چي که يوه ئې په زمکي کي پو کړي نو زمکه به د دنيا تر پايه څه راشنه نه کړي؛ نو غاښونه به پرې لګوي او غوښه به ترې شوکوي؛ د هيڅ مړي په جسد کي د داسي تعذيب نښه نه ده ليدل شوې.

بل روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يُونُسَ بْنِ خَبَّابٍ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ زَاذَانَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جِنَازَةٍ، فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْقَبْرِ، وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ وَهُوَ يُلْحَدُ لَهُ، فَقَالَ: «أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ» ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ قَالَ: " إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِي إِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ، وَانْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا، تَنَزَّلَتْ إِلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ كَأَنَّ عَلَى وُجُوهِهِمُ الشَّمْسَ، مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ كَفَنٌ وَحَنُوطٌ، فَجَلَسُوا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ، حَتَّى إِذَا خَرَجَ رُوحُهُ، صَلَّى عَلَيْهِ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ، وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللَّهَ: أَنْ يُعْرَجَ بِرُوحِهِ مِنْ قِبَلِهِمْ، فَإِذَا عُرِجَ بِرُوحِهِ قَالُوا: رَبِّ عَبْدُكَ فُلَانٌ، فَيَقُولُ: أَرْجِعُوهُ، فَإِنِّي عَهِدْتُ إِلَيْهِمْ أَنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ، وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ، وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى " قَالَ: " فَإِنَّهُ يَسْمَعُ خَفْقَ نِعَالِ أَصْحَابِهِ، إِذَا وَلَّوْا عَنْهُ، فَيَأْتِيهِ آتٍ فَيَقُولُ: مَنْ رَبُّكَ؟ مَا دِينُكَ؟ مَنْ نَبِيُّكَ؟ فَيَقُولُ: رَبِّيَ اللَّهُ، وَدِينِيَ الْإِسْلَامُ، وَنَبِيِّي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَنْتَهِرُهُ فَيَقُولُ: مَنْ رَبُّكَ؟ مَا دِينُكَ؟ مَنْ نَبِيُّكَ؟ وَهِيَ آخِرُ فِتْنَةٍ تُعْرَضُ عَلَى الْمُؤْمِنِ، فَذَلِكَ حِينَ يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا

بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ} [إبراهيم: ٢٧] فَيَقُولُ: رَبِّيَ اللَّهُ، وَدِينِيَ الْإِسْلَامُ، وَنَبِيِّي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَقُولُ لَهُ: صَدَقْتَ، ثُمَّ يَأْتِيهِ آتٍ حَسَنُ الْوَجْهِ، طَيِّبُ الرِّيحِ، حَسَنُ الثِّيَابِ، فَيَقُولُ: أَبْشِرْ بِكَرَامَةٍ مِنَ اللَّهِ وَنَعِيمٍ مُقِيمٍ، فَيَقُولُ: وَأَنْتَ فَبَشَّرَكَ اللَّهُ بِخَيْرٍ، مَنْ أَنْتَ؟ فَيَقُولُ أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ، كُنْتَ وَاللَّهِ سَرِيعًا فِي طَاعَةِ اللَّهِ، بَطِيئًا عَنْ مَعْصِيَةِ اللَّهِ، فَجَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا، ثُمَّ يُفْتَحُ لَهُ بَابٌ مِنَ الْجَنَّةِ، وَبَابٌ مِنَ النَّارِ، فَيُقَالُ: هَذَا كَانَ مَنْزِلَكَ لَوْ عَصَيْتَ اللَّهَ، أَبْدَلَكَ اللَّهُ بِهِ هَذَا، فَإِذَا رَأَى مَا فِي الْجَنَّةِ قَالَ: رَبِّ عَجِّلْ قِيَامَ السَّاعَةِ كَيْمَا أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي وَمَالِي، فَيُقَالُ لَهُ: اسْكُنْ. وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا، وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ، نَزَلَتْ عَلَيْهِ مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ، فَانْتَزَعُوا رُوحَهُ، كَمَا يُنْتَزَعُ السَّفُّودُ الْكَثِيرُ الشِّعْبِ مِنَ الصُّوفِ الْمُبْتَلِّ، وَتُنْزَعُ نَفْسُهُ مَعَ الْعُرُوقِ، فَيَلْعَنُهُ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ، وَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ، إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللَّهَ: أَنْ لَا تَعْرُجَ رُوحُهُ مِنْ قِبَلِهِمْ، فَإِذَا عُرِجَ بِرُوحِهِ، قَالُوا: رَبِّ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ عَبْدُكَ، قَالَ: أَرْجِعُوهُ، فَإِنِّي عَهِدْتُ إِلَيْهِمْ أَنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ، وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ، وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى، قَالَ: فَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ خَفْقَ نِعَالِ أَصْحَابِهِ، إِذَا وَلَّوْا عَنْهُ، قَالَ: فَيَأْتِيهِ آتٍ فَيَقُولُ: مَنْ رَبُّكَ؟ مَا دِينُكَ؟ مَنْ نَبِيُّكَ؟ فَيَقُولُ: لَا أَدْرِي، فَيَقُولُ: لَا دَرَيْتَ وَلَا تَلَوْتَ، وَيَأْتِيهِ آتٍ قَبِيحُ الْوَجْهِ، قَبِيحُ الثِّيَابِ، مُنْتِنُ الرِّيحِ فَيَقُولُ: أَبْشِرْ بِهَوَانٍ مِنَ اللَّهِ، وَعَذَابٍ مُقِيمٍ، فَيَقُولُ: وَأَنْتَ، فَبَشَّرَكَ اللَّهُ بِالشَّرِّ مَنْ أَنْتَ؟ فَيَقُولُ: أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيثُ، كُنْتَ بَطِيئًا عَنْ

طَاعَةِ اللَّهِ، سَرِيعًا فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ، فَجَزَاكَ اللَّهُ شَرًّا، ثُمَّ يُقَيَّضُ لَهُ أَعْمَى أَصَمُّ أَبْكَمُ فِي يَدِهِ مِرْزَبَةٌ، لَوْ ضُرِبَ بِهَا جَبَلٌ كَانَ تُرَابًا، فَيَضْرِبُهُ ضَرْبَةً حَتَّى يَصِيرَ تُرَابًا، ثُمَّ يُعِيدُهُ اللَّهُ كَمَا كَانَ، فَيَضْرِبُهُ ضَرْبَةً أُخْرَى، فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا الثَّقَلَيْنِ ". قَالَ الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ: «ثُمَّ يُفْتَحُ لَهُ بَابٌ مِنَ النَّارِ وَيُمَهَّدُ مِنْ فُرُشِ النَّارِ»، قال الشيخ شعيب الأرناؤوط: إسناده ضعيف.

له براء بن عازب روایت دئ چي وئې ویل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د یوې جنازې لوري ته وخوځېدو، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د قبر پر غاړه کښېناست؛ موږ ئې چاپېر کښېناستو؛ داسي لکه چي پر سرونو مو مرغان ناست وي (نه خوځېدو)؛ او هغه (مړي) ته لحد کيندل کېدو؛ نو وئې فرمایل: کله چي مؤمن د آخرت په لوري او له دنیا د پرېکون په لوري مخه کړي؛ داسي ملائکي ورته راشي لکه چي پر مخونو ئې لمر ځلېږي؛ له هر یوه سره کفن او د عطر دودولو بوټي؛ نو د سترګو د لید تر حد پوري به د ده خوا ته کښېني؛ تر هغه چي کله ئې روح ووځي؛ د آسمان او زمکي تر منځ ټولي فرشتې پرې درودونه وایي؛ او د آسمان ټولي فرشتې؛ د آسمان دروازې به ورته پرانیستل شي، د دروازو هیڅ ساتونکی به داسي نه وي چي ده ته د الله تعالی په وړاندي دا دعاء نه کوي چي روح ئې د دوی مخي ته لوړه بېول شي؛ کله چي د ده روح لوړه بېول شي؛ نو وایي: یا رب! دا ستا فلان د فلان زوی بنده دئ؛ نو الله تعالی وفرمایي: بېرته ئې ستون کړئ؛ ما ورسره ژمنه کړې چي له همدې زمکي مي پیدا کړي، هغې ته به ئې ستنوم او له هغې به ئې بیا راباسم؛ رسول الله وفرمایل: دا مړی د خپلو یارانو او خپلوانو د کپیو غږ اوري کله چي ترې درومي؛ نو یو راتلونکی ورته راشي او ووایي: رب دي څوك دئ؟ دین دي څه دئ؟ پیغمبر دي څوك دئ؟ ووایي: رب مي الله دئ؛ دین می اسلام دئ، نبي مي محمد علیه السلام دئ؛ نو یو ځل بیا ئې په دغو پوښتنو وځوروي او

ووايي: رب دي څوك دئ؟ دين دي څه دئ؟ پيغمبر دي څوك دئ؟ او دا ئې وروستۍ آزموينه وي چې مؤمن ورسره مخامخ کېږي؛ او دا د الله تعالى هغه قول دئ چې وايي: "{يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ}" نو ووايي: رب مي الله دئ؛ دين مى اسلام دئ، نبي مي محمد عليه السلام دئ؛ نو ورته وويل شي: رښتيا دي ووېل: بيا د ښکلي مخ يو راتلونکی چې ښه بوی او ښکلې جامې ئې وي ورته راشي؛ او ورته ووايي: د الله له لوري په تکريم او عزت او دائمي نعمتونو خوښ اوسه؛ نو دی ورته ووايي: او تا ته دي هم الله تعالى د خير زېرى درکړي؛ ته څوك يې؟ هغه ووايي: زه ستا صالح عمل يم؛ پر الله قسم چې ته د الله تعالى په اطاعت کې سريع وې او له الله تعالى په سر غړاوي کې سست؛ نو الله تعالى دي تا ته غوره بدله درکړي؛ بيا د جنت يوه دروازه او د دوزخ يوه دروازه ورته پرانيستل شي؛ او ورته وويل شي: که دي عصيان کړی وی نو دا دي هستوګنځی وو؛ چې الله تعالى دا (بل د جنت هستوګنځی) په بدل کې درکړ. نو کله چې په جنت کې څه دي هغه وګوري؛ وبه وايي: زما ربه! قيامت ژر راوله چې زه خپل اهل او مال ته ستون شم؛ نو ده ته به وويل شي: تم او ساکن شه؛ او يقيناً کله چې کافر له دنيا پرېکون او د آخرت په لوري مخه کړي؛ داسي ملائکي به ورته راشي چې غليظي او شديدي به وي؛ روح به ئې داسي وباسي لکه له ځانګو ډك سيخ چې له لمدو وړيو ايستل کېږي؛ ساه به ئې له رګونو سره وباسي؛ نو د آسمان او زمکي تر منځ هره فرشته به ئې لعنت کوي او په آسمان کې ټولې فرشتې هم؛ د آسمان دروازې به وتړل شي؛ د آسمان هيڅ ساتونکی به نه وي مګر دا چې الله ته به دعاء کوي چې روح ئې د دوی وړاندي بر نه يووړل شي؛ کله چې بر بېول شي؛ وبه وايي: يا رب! ستا بنده فلان د فلان زوی؛ وبه فرمايي: بېرته ئې ستون کړئ؛ ځکه ما ورسره ژمنه کړې وه چې له همدې مي پيدا کړي، دې ته به ئې ستنوم او له همدې به ئې بيا راباسم؛ (رسول الله) وفرمايل: يقيناً چې دوی حتماً د خپلوانو د کپيو ځپا هم اوري؛ هغه مهال چې له ده په شا کېږي؛ وئې

---

ويل: نو يو راتلونکی ورته راشي او ووايي: رب دي څوك دئ؟ دين دي څه دئ؟ نبي دي څوك دئ؟ وبه وايي: نه پوهېږم؛ فرشته به ورته ووايي: نه دي له درايت کار اخيستی او نه دي په بل پسي اقتداء کړې؛ او يو بدرنگی، د بدو جامو خاوند او بد بوی به ورته راشي او وبه وايي: د الله له لوري سپکاوي او دائمي عذاب ته انتظار کوه؛ او هغه به ووايي: الله دي تا ته د شر زېرى درواوروي؛ ته څوك يې؟ هغه به ووايي: زه ستا خبيث عمل يم؛ ته د الله په اطاعت کې سست وې او د الله په معصيت کې تلواري او سريع؛ نو الله بده سزا درکړه؛ بيا به يو داسي ړوند، کوڼ او گونگی پرې مسلط شي چې په لاس کې به ئې داسي څټك (مارتول) وي چې که غر پرې ووهل شي نو خاوري به شي؛ نو داسي گوزار به ورکړي چې خاوري خاوري به شي؛ بيا به ئې الله همغسي حالت ته ستون کړي چې مخکې ئې وو؛ بيا به بل گوزار ورکړي؛ نو داسي چيغه به وکړي چې له انسان او پيريو پرته به ئې هر څه واوري". براء بن عازب وويل: "بيا به د اور يوه دروازه ورته پرانيستل شي او د اور فرش به ورته خور شي". د دې روايت په پاى کې الشيخ شعيب الأرناؤوط وايي: إسناد ئې ضعيف دي.

د دغه روايت د متن ستونزي دا دي:

- وايي: مؤمن چې کله خپل مقام په جنت کې وگوري نو دعاء به وکړي: زما ربه! قيامت ژر راوله چې زه خپل اهل او مال ته ستون شم؛ د دې دعاء معنی دا ده چې دی بېرته زمکې ته او خپل اهل او مال ته ستنېدل غواړي؛ په داسي حال کې چې د قيامت ژر راتگ غوښتنه خو به د دې لپاره کوي چې ژر جنت ته داخل شي؛ نه بېرته دنيا او خپل اهل او مال ته د ستنېدو لپاره. اهل او مال ته د ستنېدو معنی دا ده چې غواړي همغه د زمکې پر سر مخکيني حالت ته ستون شي.
- وايي: د آسمان دروازې به د کافر او فاجر د روح په وړاندي وتړل شي؛

خو متصل ئې وايي: د دوی روح به بر او د الله تعالی حضور ته وړاندي کړی شي. په داسي حال کي چي قرآن فرمايي: د کافر په وړاندي د آسمان دروازه هيڅکله نه پرانيستل کېږي:

إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ﴿٤٠﴾ الأعراف ٤٠

يقيناً هغه چي زما آيتونه ئې تکذيب کړل او لويي ئې ترې وکړه، نه به د آسمان دروازې ورته پرانيستل شي او نه به جنت ته ننوځي، تر هغه چي اوښ د ستني په سپم ننوځي! او همداسي مجرمينو ته سزا ورکوو.

يعني چي د هغه چا په وړاندي د آسمان دروازې تړل شوې دي، هيڅ څه ئې بر نشي تلی، نه ئې عملپاڼه، نه ئې وينا؛ نه ئې دعاء، نه ئې روح او نه به جنت ته د ننوتو شرف تر لاسه کړي چي د الله تعالی آيتونه ئې تکذيب کړي او د الله تعالی د احکامو په وړاندي ئې له اطاعت ځان لوړ ګڼلی او د تکبر او لويي په وجه ئې له ايمان او اطاعت ډډه کړې، جنت ته د دوی ننوتل داسي محال دي لکه د ستني په سپم چي د اوښ ننوتل محال دي.

- وايي: د کافر او مؤمن روح بېرته زمکي او مړي ته ستنول کېږي: حال دا چي قرآن او صحيح حديث وايي چي روح به ئې د قيامت د حشر په ورځ له جسد سره يو ځای کېږي.

- وايي: يقيناً چي مړی حتماً د خپلوانو د کپيو ښپا هم اوري؛ هغه مهال چي له ده په شا کېږي؛ او قرآن مکرر وايي چي مړي څه نه اوري.

- د دربيم او څلورم ځل ژوندون خبره ئې کړې؛ بل ځل دا چي د عذاب فرشته به داسي ګوزار ورکړي چي خاوري خاوري به شي؛ بيا به ئې الله همغسي حالت ته ستون کړي چي مخکي ئې وو؛ حال دا چي قرآن وايي: ژوندون يوازي

دوه ځلي دئ.

په پای کې باید عرض کړم: د برزخ او د قبر عذاب په اړه تاسو د قرآن صریح وینا هم واورېده؛ صحیح او ضعیف روایات مو هم واورېدل؛ نتیجه ئې هم ستاسو مخي ته کښېښودل شوه؛ په دې هم پوه شوئ چې د انسان ژوند او مرګ دوه ځلي وي نه درې ځلي. ښایي ځیني به اوس هم له ځینو ذهني لانجو سره مخ وي لکه دا چې وایي به: ما چې د قبر عذاب په اړه تر ننه ډېر څه اورېدلي؛ د ژمي په اوږدو شپو کې له خپلي انا او بابا هم، د منبر پر سر له خطیب هم؛ د شیخانو په مجلسونو کې هم؛ او حتیٰ په کتابونو کې هم؛ له دې سره به څه کوم؟ دوی ته په احترام سره وایم: الله تعالی به له تا دا پوښتنه نه کوي چې ولې دي دین او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب هغه وینا ونه منله چې د یوه یا څو کسانو له لوري پیغمبر علیه السلام او دین ته منسوب شوې؛ خو نه په قرآن کې شاهد ورته مومې، نه ئې راوي شاهد لري، نه ئې ستا عقل او فطرت مني، نه له واقعیتونو سره اړخ لګوي؛ تا مړی لیدلی چې د روح له وتلو سره سم سوړ شي، نه حرکت کولی شي، نه څه اوري، نه څه ګوري او نه څه ویلي شي؛ که ژر ښخ نشي نو وروست او ګنده شي، هندوان ئې سوزوي خو ته ئې ځګېروی هم نه اورې؛ د ده په اړه چې په ضعیفو روایاتو کې څه راغلي د یوه بېلګه او نښه هم عملاً نه مومې؛ نو که همدغو دلائلو ته په پام سره تا وویل: خدایه! د دې لپاره دا ادعاءګاني او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب ویناوي نه منم، نه ئې چا ته وایم او نه پرې استدلال کوم؛ چې غواړم له دروغو او غلطي عقیدې او ستا دین او پیغمبر ته د غلطي وینا له منسوبولو ځان وساتم؛ نو مطمئن اوسه چې په دې کار سره دي ګناه نه بلکې د ثواب کار کړی؛ حتیٰ که ستا دا باور ناسم هم وي الله تعالی دي نه پرې نیسي؛ دا ځکه چې ته پر څو امورو مکلف یې: د الله تعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سنت متابعت، خپل عقل کارول، له خپلو غوږونو، سترګو او حواسو استفاده، د حقائقو او واقعیتونو

منل. تا ته الله تعالی لارښوونه کړې چې د یوه چا ادعاء او وینا هغه مهال ومنه چې کافي امین او صادق شاهدان وړاندې کړي. د قبر د عذاب په ارتباط هغه روایات چې دوو وروستیو روایاتو ته ورته دي؛ یا ئې په متن کې کافي اضطراب شته او یا ئې إسناد ضعیف دي، نه په قرآن کې ورته شاهد مومو او نه له عقل سره اړخ لګوي.

اوس که څوك د قرآن او صحیح روایاتو لارښوونې او وینا له پامه غورځوي؛ او د مخکینیو ضعیفو روایاتو په څېر ویناوي او روایات مني او له کوم معقول دلیل پرته پرې ټینګار کوي؛ له داسي چا سره مخامخ شي چې د حق په لټه کې دئ، غواړي داسي دین او مذهب غوره کړي چې عقل ئې پرې قانع شي او تر نورو ئې وینا او لارښوونې رغنده او د علم او عقل مطابق ومومي؛ له ده داسي کوم ضعیف روایت او د عقل او علم مغایر ویناوي واوري او ورته ووایي: جنابه! اوس داسي وسائل جوړ شوي چې کولی شي په قبر کې د مړي ټول حالات په دقیقه توګه ثبت کړي؛ غږ، حرکت، تصویر؛ او هر څه چې په قبر کې تېرېږي؛ د قبر منځ به روښانه وي، تر کله چې وغواړو د قبر هر څه به څاري او ثبت کوي او هره شېبه به ئې زموږ مخي ته ږدي؛ د ستر ګرز هیبتناك غږ خو پرېږده د مېږي او واړه چینجي له خوځېدا او د سوکه حرکت له غږ به مو هم خبروي؛ که دا کار وکړو او د مړي تر بشپړ ورستېدو او شړېدو پوري نه کوم مار او لړم ومومو او نه هیبتناکه فرشته او نه د ګرز ګوزارونه ئې؛ که دا کار وشي او د ضعیفو روایاتو ټولي ادعاءګاني غلطي او غیر واقعي ثابتي شي؛ چې له شك پرته به همداسي وي؛ د فرعون روغ جسد ئې ښه بېلګه ده؛ نن ئې موږ د هر روغتون په سړو خونو کې شاهد یو؛ نو د هغي رأی او راویانو په اړه به څه وایو چې د مشهودو حقائقو خلاف خبره ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب کړې؟ او که څوك د داسي روایت په اورېدو سره د اسلام له منلو ډډه وکړي او زموږ ښکلی دین چې هره وینا ئې د عقل او علم مطابق ده؛ په خرافاتو تورن کړي؛ مسئولیت به ئې د چا پر غاړه وي؟ هغه دین به یو هوښیار

انسان څنګه ومني چې وينا ئې د عقل او مشهودو واقعيتونو خلاف وي؟!
زموږ مجبوريت څه دئ چې د قرآن صريح وينا او د رسول الله صلی الله عليه و سلم صحيح حديث پرېږدو او په داسي ضعيفو رواياتو پسي درومو او ټينګار پرې کوو چې نه ئې إسناد د اعتبار وړ دي او نه ئې متن د عقل، علم او واقعيتونو مطابق او نه د الله تعالی په سپېڅلي کتاب کې کوم شاهد ورته مومو؟!

## د قبرونو زيارت

د قبرونو د څرنګوالي او بيا د هغوی د زيارت په اړه هم په مسلمانانو کې د اختلاف شاهد يو، دا قضيه په مسلمانانو کې په يوې ستري لانجمني قضيې بدله شوې. په مخکينيو امتونو کې هم لومړی د شخصيتونو د مړو پر سر مزين او مجلل قبرونه جوړ شوي، بيا ئې مجسمې او په پای کې دغه مجسمې په داسي بتانو تبديل شوې چې په سر کې خلکو هغوی د خدای او بنده تر منځ وسيله ګڼلي، خپلي دعاءګاني ئې د دوی له لاري خدای ته رسولې خو ورو ورو له سترګو پټ خدای هېر شوی او دغو بتانو د خدای ځای نيولی. همدومره چې شخصيتونه ډېر وو او هري قبيلې ځان ته محبوب شخصيتونه درلودل؛ بتان او د بت په بنې کې خدايان هم ډېر شوي؛ او ولسونه د دغو جعلي خدايانو د شمېر په اندازه په متخاصمو ډلو وېشل شوي. هر پيغمبر چې مبعوث شوی او هر زړه سواند داعي چې د خلکو د هدايت او وحدت لپاره د دعوت او مبارزې ميدان ته راوتلی؛ نو په خپلي مخي کې او د دعوت په وړاندي ئې تر ټولو لوی خنډ او مانع همدا د قبرونو، مجسمو او بتانو لمانځل موندلي.

دا نن که تاسو له دې پلوه د مسلمانانو وضعيت ته په دقت سره ځير شئ نو وبه ګورئ چې په اسلامي هېوادونو کې په سلګونو داسي مجلل قبرونه او

زیارتونه جوړ شوي چي په امریکا او اروپا کي ستر ستر قصرونه ورسره سیالي نشي کولی، دروازې او پنجرې ئې د سرو زرو، زنځیرونه او کولپونه ئې د سرو زرو، ستري ستري گنبدي پرې ولاړي، پراخه زمکه ورته مختص شوې، د مجاورینو لپاره خوني او د زیارت کوونکو لپاره د دعاء او ناستي مجلل او پراخ ځایونه؛ هر څه ئې داسي چي د مراجعینو او هغو زیارت کوونکو او حاجتمنو توجه جلب کړي چي د خپلو حاجتونو ترسره کېدو لپاره دې درشل ته راغلي؛ داسي چي د زیارت هیبت او ابهت ئې پر زړه او دماغ سیوری وغوړوي، بیا بیا راتلو ته ئې وهڅوي او د مجاور په وړاندي د خپلو جیبونو تشولو ته ئې چمتو کړي. د دېرو مجللو زیارتونو تر شا همدا قصه پرته ده. ښه به وي چي په خپلو سترگو د یوه لیدلي زیارت قصه له تاسو سره شریکه کړم. په پېښور کي وم، ناگمان سیمي ته له څو ملگرو سره په موټر کي تلو، یوه ځای ته ورسېدو او چا وویل: دا جونگی بابا دئ؛ پوښتنه مي وکړه چي جونگی بابا څوك دئ؛ موږ خو د اوښ بچي ته جونگی وایو؟! په ملگرو کي یوه راته وویل: دا خپله قصه لري، څو کاله وړاندي؛ دلته یو کوچی له خپل جونگي سره راځي، څوك ئې همدلته وژني، جونگی ئې خوا ته گونډه کېږي، خلك راغونډېږي، غواړي جونگی لري کړي او مړی انتقال او دفن کړي؛ خو جونگی له خپل ځای نه خوځي، په همدې حالت کي یو ملنگ راشي او په یوې گوښه کي څادر وغوړوي او دا نعرې پیل کړي: واچوئ د جونگي بابا په نامه؛ خدای مو وبخښه د جونگی بابا په نامه واچوئ، همدې ملنگ همدلته د جونگي بابا په نامه زیارت او دېره جوړه او سیمه د جونگي بابا په نامه یاده شوه؛ اوس دې زیارت ته له لري لري ځایونو خلك راځي، څوك ترې د بېماریو شفاء، څوك ترې زوی او څوك د نورو حاجتونو تر سره کېدا غواړي!! او مجاور ملنگ له همدې لاري خپله روزي تر لاسه کوي.

بله قصه هم واورئ: په پېښور کي د بالا حصار په نامه ستره فوځي قلعه ده؛ پر یوې لوړې جوړه شوې، د انگرېزانو د ستري اډې مرکز وو؛ خوا ته ئې د

سړك ژۍ كې يو وړوكى زيارت وو؛ د دې قلعې له جوړېدو سره سم جوړ شوى؛ په قبر كې پروت بابا نه په تاريخ كې كوم نوم درلود او نه دسيمي خلكو پېژندو؛ بس په يوه نامه مشهور شوى وو؛ په اصل كې انګرېزانو د دې لپاره جوړ كړى وو چې جاسوسان به ئې همدلته د زيارت په نامه راتلل او خپل راپورونه به ئې ورانډې كول؛ همدا څو كاله وړاندې كله چې پېښور ته تللى وم؛ د دې قبر د ځاى له څنګه تېرېدم؛ زيارت مې ونه ليدو؛ پوښتنه مې وكړه چې پر زيارت څه راغلې؟ راته وويل شول: د سړك پراخېدو پرېكړه شوې وه؛ مريدانو او ملنګانو ئې مخه نيوله؛ په ډېر زحمت سره هغوى قانع كړى شو چې په بل ځاى كې به قبر او زيارت پرې جوړېږي؛ د ملنګانو په وړاندې كيندنه پيل شوه؛ قبر ئې تش وموندلو؛ حتىٰ وراسته هډوكي هم ونه موندل شول.

په مزار شريف كې د علي رضي الله عنه په نامه قبر او ستر مجلل زيارت هم د دې بله بېلګه ده. علي رضي الله عنه له شهادت وروسته د خپلو پلويانو له لوري په شپه كې او په نامعلوم ځاى كې دفن شو؛ د دې لپاره چې مخالفين ئې د قبر سپكاوى ونه كړي. نه هغه مهال د ده قبر چا ته معلوم شوى او نه وروسته؛ د هارون الرشيد په زمانه كې هغه غوښتل قبر ئې معلوم او ګنبده پرې جوړه كړي، هر څومره چې ئې پلټنه وكړه موفق نه شو؛ په پاى كې هغه وويل: په خوب كې راته وويل شو چې قبر په فلان ځاى كې دئ؛ نو د نجف په اوسنى موقعيت كې پر يوه قبر لومړى ګنبده او وروسته وروسته داسې ستر او مجلل زيارت پرې جوړ شو چې په اروپا كې د پاچايانو او جمهور رئيسانو مجلل قصرونه ورسره سيالي نشي كولى.

د قرآن له لارښوونو معلومېږي چې د اسلامي امت جد؛ ابراهيم عليه السلام؛ خپله مبارزه د بتانو له نفي او بيا نسكورولو پيل كړه او د كعبې په جوړولو ئې پاى ته ورسوله؛ د هغه وخت د واكمنۍ قصر له خاوند؛ نمرود ئې هم بغاوت وكړ او د خپل بت لمانځونكي او بت جوړوونكي پلار؛ آذر له شركي مذهب هم، د الله تعالى د كور؛ كعبې جوړولو فلسفه هم دا ده چې خلك

يوازې د الله تعالی د کور طواف وکړي؛ نه د قصرونو او نه د قبرونو؛ له الله تعالی پرته نه بل ته سر ټيټ کړي او نه د حاجت لاس اوږد کړي. همدا د موحدينو او د الله تعالی د لارې د مجاهدينو او دعوتگرانو تلپاته لار ده. په حجر اسود لاس ايښودل هم د بيعت او تعهد کولو په معنی ده، نو طواف ئې هم د همدې لپاره او پر حجر اسود لاس ايښودل ئې هم د همدې لپاره چې ربه! يوازې ستا بنده يم او له تا پرته د بل چا عبادت نه کوم. او دا همغه څه دي چې دين پرې مکلف کړي يو؛ هره ورځ به پنځه ځلې د کعبې طرف ته مخ کوو، لاس تړلي به د خدای په وړاندې ودرېږو، په هر رکعت کې به له خپل رب سره تعهد کوو چې إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ: يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو. څوک چې د دې ژمنې او وعدې په معنی پوه شي؛ آيا ممکنه ده چې هغه به د بل درشل ته ودرېږي او له بل چا به مرسته وغواړي. د خپل لمانځه د حرکاتو او الفاظو په مقصد او معنی به نه پوهېږي، په دې به نه پوهېږي چې د رکوع معنی څه ده؛ ځکه به له الله تعالی پرته بل ته سر ټيټوي او د احتياج لاس اوږدوي؟ د الله تعالی په وړاندې د سر ټيټولو او رکوع معنی دا ده چې موږ به له ده پرته د بل چا په وړاندې له رکوع او سر ټيټولو ډډه کوو؛ د الله تعالی په وړاندې زموږ رکوع د انسان له بندگۍ او غلامۍ د آزادۍ حرکت دئ، همدا رنگه سجده مو له دې منع کوي او مستغني کوي چې له الله تعالی پرته د نورو پښو ته ولوېږو.

رسول الله صلی الله عليه و سلم هم د الله تعالی لوري ته خپل دعوت د بتانو له نفي پيل کړ؛ نه يوازې د بتانو نفي؛ بلکې د قبرونو له زيارت ئې هم ممانعت کولو، خو وروسته او هغه مهال ئې د قبرونو ليدو ته د تگ اجازه ورکړه چې مسلمانان د توحيد په مدرسه کې ښه وروزل شول او دا انديښنه پای ته ورسېده چې دوی به له دې وروسته له الله تعالی پرته په بل درشل کې سر ټيټ او د دعاء لاسونه اوچت کړي او له بل به طمع يا وېره ولري.

ځيني وايي: دا چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په لومړي سر کې د

قبرونو له زیارت ممانعت کړی وو او وروسته ئې اجازه ورکړه، ګواکې لومړی حکم په دوهم حکم سره منسوخ شوی!! ځيني وايي نارينه وو ته اجازه شته او ښځو ته نه، ځيني د قبرونو زيارت شرك ګڼي خو د قصرونو عبادت او طواف ته نه د شرك خطاب کوي او نه ئې په اړه د څه ويلو جسارت کوي، مړه بُتان غندي خو د ژونديو بُتانو په ضد هيڅ نه وايي!! دا په داسي حال کې چي په ټول قرآن کې د قبرونو د زيارت او نه زيارت په اړه هيڅ نه دي ويل شوي خو طاغوت ته د تحاکم لپاره تګ او ظالمو حکامو ته خپلي شخړي او منازعات راجع کول؛ د ايمان منافي عمل ګڼل شوی او د داسي کس په اړه وايي چي نه يوازي ايمان ئې هيڅ اعتبار او وزن نه لري بلکي شيطان سخت بې لاري کړی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلالا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ النساء ٦٠

آيا هغه دي ونه ليدل چي ګمان کوي هم پر هغه څه ايمان لري چي پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چي تر تا د مخه نازل شوي؛ خو غواړي د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چي ورته امر شوی له هغه به انکار کوي؛ او شيطان غواړي چي په ژوري تېروتني سره ئې تېرباسي.

د دې آيت له مخي د هغه چا د ايمان دعوی د منلو نه ده چي طاغوت ته خپلي شخړي راجع کوي، څوك چي د طاغوت واکمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په اړه د هغه پرېکړي مني، هغه سخت تېروتی، شيطان دوکه کړی، د ايمان دعوی ئې د اعتبار وړ نه ده، حتیٰ که پر خپل ځان ئې دا ګمان هم وي چي هم پر قرآن ايمان لري او هم پر مخکينيو کتابونو؛ تر هغه چي ته له طاغوت انکار ونکړي؛ الله تعالی ستا ايمان نه قبلوي.

ځيني داسي هم شته چي وايي: ښځي د دې لپاره هدېرو ته له تلو منع

شوې چې د مړو سترګې ډېرې تېزې وي او د جامو تر شا د انسان بدن هم ګوري!! او د دې معنی دا ده چې نارينه کولی شي هدېرو ته ولاړ شي که څه هم مړي د جامو تر شا د دوی هر څه ګوري!! حال دا چې قرآن پيغمبر عليه السلام ته فرمايي چې ته مړو ته هيڅ څه اورولی نشې، دا څکه چې مړي څه نه اوري!! د مړو هم غوږونه وراسته او له منځه تللي وي او هم ئې سترګې او ټول بدن. دې ته مو هم پام وي چې غوږونه تر سترګو ډېر حساس دي؛ د پردې او دېوال له شا هم غږ اوري؛ خو سترګې د نرۍ پردې له شا څه نهويني. که مړی په قبر کې غږ نشي اورېدلی نو ليدل خو ورته محال محال دي.

که داسې وی نو نارينه هم بايد هدېرو ته له تلو ډډه وکړي څکه مړي د هغوی عورت هم ګوري؛ مګر د عورت او ستر په ارتباط ئې د نارينه او ښځو تر منځ کوم توپير شته؟! دواړه يو شان مکلف دي چې غليظه عورت له نامحرم پټ وساتي.

راشئ وګورو چې په دې اړه صحيح عقيده کومه يوه ده؟ بخاري په دې روايت استناد کوي او وايي قبر ته تګ نه د ښځو لپاره څه مانع لري او نه د نارينه وو لپاره:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ "اتَّقِى اللَّهَ وَاصْبِرِى". قَالَتْ إِلَيْكَ عَنِّى، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِى، وَلَمْ تَعْرِفْهُ. فَقِيلَ لَهَا إِنَّهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم. فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ فَقَالَتْ لَمْ أَعْرِفْكَ. فَقَالَ « إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى ». (بخارى:۱۲۸۳)

له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه ښځه وليده چې په يوه قبر باندې ژاړي؛ نو وئې فرمايل: له الله تعالی ووېرېږه او صبر کوه، هغې ښځې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم

ئې نه پېژاندو وويل: له ما درتم شه (پرې مي ږده)، ته زما په مصيبت نه يې اخته شوی، ورته وويل شول چي دا خو نبي صلی الله عليه و سلم وو، نو د رسول الله صلی الله عليه و سلم دروازې ته راغله او هلته ئې محافظين او ساتونکي ونه ليدل، وئې ويل: ما ونه پېژندې، وئې فرمايل: صبر هغه دئ چي د مصيبت په لومړي سر کي وي.

دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۱۲۵۲، ۱۳۰۲، ۷۱۵٤؛ مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم يوې ښځي ته چي د قبر خوا ته ئې ژړل وفرمايل: له الله تعالی ووېرېږه او صبر کوه، هغې نه پېژندو او ورته وئې ويل: ته له هغه مصيبته فارغ يې چي زما په برخه شوی، پيغمبر عليه السلام ترې ولاړ او چا دې ښځي ته وويل چي دا خو رسول الله صلی الله عليه و سلم وو، نو دا ئې کور ته ورغله او وئې ليدل چي د کور په دروازه کي ئې ساتونکي نشته، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې وويل چي ما ونه پېژندې، رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته وفرمايل: صبر هغه دئ چي د مصيبت په لومړي سر کي وي. وروسته خو غم په خپله ورو ورو هېر شي، د صبر ثواب هغه مهال د انسان په برخه کېږي چي د مصيبت په پيل کي له بې صبرۍ ځان وساتي.

د دې روايت په اړه څو خبرو ته پام کوئ:

- بخاري دا روايت د دې لپاره راوړی چي وښيي د قبر ليدو ته د ښځو ورتګ جائز دئ؛ ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغي ښځي په دې کار اعتراض ونکړ؛ اعتراض ئې يوازي د قبر خوا ته د هغې د ژړا او ناصبري په ارتباط وو. که قبر ته تګ منع وی نو دې مېرمني به ترې ډډه کوله.
- رسول الله صلی الله عليه و سلم د دعوت په لومړيو کي د قبرونو له زيارت مسلمانان منع کړي وو، د رسالت په وروستيو کلونو کي ئې اجازه ورکړه، هغه چي وروستی حکم د لومړي حکم ناسخ ګڼي؛ اشتباه ئې کړې؛ حقيقت دا دئ

چي لومړی حکم په يوې مرحلې پوري تړلی دئ او دوهم حکم په بلې مرحلې پوري؛ هغه مهال چي پر قبرونو گنبدي ولاړي وې، مجاورين ئې درلودل، خلك به د خپلو حاجتونو لپاره قبرونو ته تلل، شرك او خرافاتو پر ټولني تور وزر خور کړی وو؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم قبرونو ته له تلو نهي او ممانعت وکړ؛ خو هغه مهال چي دا حالت ختم شو، نه نور پر قبرونو گنبدي وې، نه زيارتونه، نه ئې خوا ته مجاورين، د شرك او خرافاتو ټغر ټول شوی وو، اسلامي نظام حاکم وو، خلك د توحيد په مدرسه کې ښه روزل شوي وو، نو قبرونو ته په دې موخه د ورتلو اجازه ورکړی شوه چي مرگ ورپه ياد کړي، پند ترې واخلي او مړو ته د مغفرت او بخښني دعاء وکړي. قبرونو ته يوازي په دې موخه تگ جائز دئ چي: ۱- مړو ته دعاء وشي چي الله تعالی ئې گناهونه ورته وبخښي او درجې ئې لوړي کړي. ۲- د پند او عبرت لپاره ورشي او خپل وروستی ځای او آخرت ورپه ياد کړي؛ له دې پرته د بل هيڅ غرض لپاره د هيچا قبر ته تگ جائز نه دئ.

د اسلامي امت اوسنی حالت داسي دئ لکه د رسالت د لومړيو کلونو حالت، ځينو پر قبرونو زيارتونه جوړ کړي؛ له دې زيارتونو ئې د شکرانو تر لاسه کولو وسيله جوړه کړي، مجاورين ئې ساده او له دين بې خبر عوام غولوي، د دعاءگانو له منونکي رب ئې مخ هغه چا ته اړوي چي په خپله د نورو دعاء ته اړ دئ، نه څه اوري، نه څهويني، نه له ځان ضرر دفع کولی شي او نه کومه گټه رسولی شي، له مرگ وروسته نورو وينځلی، نورو کفن وراغوستی، نورو تر قبر پر اوږو وړی، په قبر کې ئې ايښی، خاوري ئې پرې اړولې، بدن ئې شړېدلی او هډوکي ئې وراسته شوي؛ په دې هم نه پوهېږي چي پر الله تعالی د إيمان لومړی او تر ټولو ستره غوښتنه دا ده چي نه له الله تعالی پرته د بل چا عبادت وشي او نه له بل چا مرسته وغوښتی شي؛ هغه څه چي يو مسلمان ئې بايد د ورځي نږدې ۳۲ ځلي وکړي او په خپلو لمونځونو کې په وار وار له الله تعالی سره په دې الفاظو ژمنه وکړي: يوازي ستا عبادت کوو

او یوازي له تا مرسته غواړو.

اوس باید هر مفتي او عالم خلکو ته همغه څه ووایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د رسالت په لومړیو کلونو کې ویلي وو، زیارت ته له تلو هم نارینه منع کړي او هم ښځي، یوازي هغه مهال اجازه ورکړي چي ډاډه وي د قبر خوا ته د گناه او شرك ارتکاب نه کوي. عجیبه ده چي ځیني جومات ته د ښځو تگ حرام گڼي خو زیارتونو، مېلو، ودونو او بازارونو ته ئې پر تگ اعتراض نه لري او پر داسي روایاتو استناد کوي او وایي چي د نه تگ مخکینی حکم منسوخ شوی!!!

د مکې مشرکینو د صفا او مروه پر غونډیو دوه بتان نصب کړي وو؛ صفا او مروه د دوو ښځو نومونه وو؛ کله چي قرآن د حج د مناسکو په اړه لارښوونه کوله نو د همدې غونډیو نومونه ئې یاد کړل خو په داسي الفاظو چي ښیي مسلمانانو به د همدې نومونو له کبله د دوی دواړو تر منځ سعي ته د شك په سترگه کتل او الله تعالی وفرمایل چي په دې سعي سره کومه گناه نه کوئ؛ إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ فَمَنۡ حَجَّ ٱلۡبَيۡتَ أَوِ ٱعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾ البقره: ۱۵۸

یقیناً چي صفا او مروه له الهي شعائرو او نښو دي، نو څوك چي د بیت (الله) حج وکړي او یا عمره ترسره کړي نو څه گناه پرې نشته چي د دوی طواف وکړي او چا چي په خپله خوښه د خیر کوم کار وکړ نو الله ښه پوه شاکر دئ.

په دې سره د مسلمانانو دا تشویش رفع کړی شو چي د دغو غونډیو طواف ئې له دې کبله د گناه کار گڼلو چي مشرکینو پرې بتان درولي وو. الله تعالی ورته وفرمایل چي د دوی په طواف سره د گناه احساس مه کوئ.

او دا ښیي چي مسلمانان په دې اړه څومره حساس ول.

## د کفارو اطفال دوزخ ته ځي که جنت ته؟

په مسلمانانو کې یوه بله اختلافي مسئله دا ده چې د مؤمنانو او کافرانو ماشومان به جنت ته ورومي که دوزخ ته، دا نه یوازې یوه اعتقادي مسئله ده او له هر مسلمان د واضح عقیدې او باور درلودل ایجابوي؛ بلکې له دې پلوه هم مهمه قضیه ده چې مجاهدین به د جهاد په دوران کې د محاربو کافرانو د ماشومانو په اړه څه سلوك او تګلاره غوره کوي؛ د مشرکینو او کفارو په څېر به ئې ګڼي او وژل به ئې جائز بولي، که به هغوی بې ګناه ګڼي، د خپلو پلرونو په ګناه به ئې نه نیسي او وژل به ئې جائز نه ګڼي. د دې موضوع څېړل له دې کبله هم ضروري دي چې نن په مسلمانانو کې داسې تکفیري ډله راڅرګندې له خپلې ډلې پرته هر څوك تکفیروي او مشرك ئې ګڼي او د هغوی ماشومان هم د وژلو وړ او مباح الدم بولي. د همدې ناسم باور له کبله په جوماتونو، بازارونو، د ګڼې ګوڼې ځایونو، د جنازې لمونځونو او هر ځای کې چاودني کوي؛ د دې پروا نه لري چې دلته به بې ګناه خلك، ماشومان او ښځې وژل کېږي.

پوښتنه دا ده چې د مسلمان او کافر ماشومان به ولې مکافات او مجازات کېږي؟ دوی خو نه ښه عمل کړی او نه بد او نه په ایمان مکلف شوي، له بلوغ مخکې د مړینې په حالت کې به ولې دوی مکافات یا مجازات کېږي؟! ولې به د خپلو پلرونو په ګناه نیول کېږي؟ د مؤمنانو د ماشومانو په اړه خو زیات اختلاف نشته؛ خو په دې اړه اختلاف زیات دئ چې د کافرانو ماشومان به دوزخ ته ورومي که جنت ته او که د جنت او دوزخ تر منځ دریېم ځای ته؟! چې ځینې ئې اعراف ګڼي؛ د مؤمنانو د ماشومانو په اړه روایات صراحت لري

چي نه یوازي جنت ته به ځي بلکي جنت ته د خپلي مور د تگ وسیله به شي. لکه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

۱۱۸۷۶ - حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَصْفَهَانِيِّ، قَالَ: أَتَانِي صَالِحٌ يُعَزِّينِي عَنِ ابْنٍ لِي، فَأَخَذَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ قُلْنَ لَهُ النِّسَاءُ اجْعَلْ لَنَا يَوْمًا كَمَا جَعَلْتُهُ لِلرِّجَالِ قَالَ: فَجَاءَ إِلَى النِّسَاءِ، فَوَعَظَهُنَّ، وَعَلَّمَهُنَّ، وَأَمَرَهُنَّ وَقَالَ لَهُنَّ: «مَا مِنِ امْرَأَةٍ تَدْفِنُ ثَلَاثَةَ فَرَطٍ إِلَّا كَانُوا لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ» قَالَ: فَقَالَتِ امْرَأَةٌ: قَدَّمْتُ اثْنَيْنِ لَا ثَلَاثَةً قَالَ: «وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ» قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: مَنْ لَمْ يَبْلُغِ الْحِنْثَ. مسند ابن ابی شیبه

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مېرمنو وویل: موږ ته یوه ورځ وټاکه همداسي لکه چي د نارینه وو لپاره دي ټاکلې؛ نو مېرمنو ته راغی او هغوی ته ئې وعظ وکړ، ښوونه ئې ورته وکړه او امرونه؛ او دوی ته ئې وویل: هیڅ مېرمن داسي نه ده چي درې واړه ماشومان دي دفن کړي؛ مگر دا چي هغوی به د دوزخ اور په وړاندي ورته حجاب وي. یوې مېرمني وویل: ما دوه وړاندي کړي نه درې؛ وئې فرمایل: "او دوه او دوه" ابوهریره وایي: له هغو ماشومانو چي لا د گناه حد ته نه وي رسېدلي.

د ابوهریره رضي الله عنه له دې وینا (مَنْ لَمْ يَبْلُغِ الْحِنْثَ: هغه چي لا د گناه حد ته نه وي رسېدلي: یعني چي لا بالغ شوی نه وي)؛ له دې وینا معلومېږي چي ماشوم له بلوغ وروسته د گناه حد ته رسېږي؛ تر دې وړاندي ئې هیڅ کار گناه نه شمېرل کېږي.

په بل روایت کي داسي مومو:

۷۳۵۱ - حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: جَاءَ نِسْوَةٌ إِلَى رَسُولِ الله -صلى الله عليه وسلم- فَقُلْنَ: يَا رَسُولَ الله، مَا نَقْدِرُ عَلَيْكَ فِي مَجْلِسِكَ مِنَ الرِّجَالِ، فَوَاعِدْنَا مِنْكَ يَوْماً نَأْتِيكَ فِيهِ، قَالَ: "مَوْعِدُكُنَّ بَيْتُ فُلاَنٍ، وَأَتَاهُنَّ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ، وَلِذَلِكَ الْمَوْعِدِ، قَالَ: فَكَانَ مِمَّا قَالَ لَهُنَّ، يَعْنِي: "مَا مِنِ امْرَأَةٍ تُقَدِّمُ ثَلاَثاً مِنَ الْوَلَدِ تَحْتَسِبُهُنَّ إِلاَّ دَخَلْتِ الْجَنَّةَ". فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: أَوِ اثْنَانِ؟ قَالَ: "أَوِ اثْنَانِ". مسند احمد

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ځيني مېرمني راغلې او وئې ويل: يا رسول الله! د نارينه وو له کبله ستا په مجلس نشو مشرف کېدی؛ نو له خپل لوري موږ ته يوه ورځ وټاکه چي درته راشو؛ وئې فرمايل: د ملاقات موعد مو د فلان کور دئ"، نو په همدې ورځ او همغه وخت ورته راغلې. ابوهريره وويل: نو په هغه څه کې چي دوی ته ئې وويل دا هم وو: "هيڅ مېرمن داسي نه ده چي درې واړه اولاد وړاندي او صبر پرې وکړي؛ مگر دا چي جنت ته به داخل شي" نو د دوی له ډلي يوې مېرمني وويل: او دوه ئې؟ وئې فرمايل: "او دوه هم"

راشئ په دې اړه هغو رواياتو ته هم ځير شو چي د کافرانو او مشرکينو د اولادونو په اړه راغلي او وگورو چي سمه او د قرآن او حديث مطابق عقيده کومه يوه ده. د بخاري دې روايت ته ځير شئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم عَنْ أَوْلاَدِ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ « اللَّهُ إِذْ خَلَقَهُمْ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ ». (بخاری:۱۳۸۳)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم د مشرکينو د اولاد په اړه پوښتنه وشوه؛ نو وئې فرمايل: (کله چي

الله تعالی هغوی پیدا کول په هغه څه ښه پوه وو چي دوی به ئې کوونکي وي).

دا روایت چي په بخاري کي له ځينو توپیرونو سره دوه ځلي راغلی؛ د سند له مخي داسي دئ چي په دریو طبقو کي یو یو راوي لري، د متن له پلوه له هغو روایاتو سره توپیر لري چي په همدې اړه راغلي. له ابو هریره رضي الله عنه هم دې ته ورته روایت راغلی، ځيني روایات وایي چي د مشرکينو اولاد به له دوی سره په دوزخ کي وي، ځيني وايي چي الله تعالی ښه پوهېږي چي دوی به د ژوندي پاته کېدو په صورت کي څه کول او ګواکي د همدې الهي علم مطابق به له دوی سره معامله کېږي؛ د جنت وړ به ئې جنت ته ځي او د دوزخ وړ دوزخ ته؛ داسي روایات هم شته چي وايي دوی به د جنتیانو خادمان وي او ځيني روایات داسي دي چي وايي دوی به د نورو جنتیانو په څېر په جنت کي وي. هغه محققين چي دغو وروستیو روایاتو ته ترجیح ورکوي؛ د پورتني روایت په اړه وايي چي له (اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ) دا نه معلومېږي چي دوی به دوزخ ته ځي؛ بلکي هدف ئې دا دئ چي د مشرکينو او کافرانو ماشومان له دې کبله د وژلو وړ مه ګڼئ چي که ستر شي نو د خپلو پلرونو په څېر به کافر او مشرك ترې جوړ شي؛ دوی د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر هغي وینا استناد کوي چي په همدې ارتباط او د دغي رأی د تردید لپاره ئې ویلي: مګر دا ستاسو د سترو سترو مؤمنو شخصیتونو پلرونه مشرکان نه ول؟!! دا محققين د مقابل لوري په ځواب کي څو دلائل وړاندي کوي:

- د دې مطلب لپاره چي د مشرکينو اولاد به دوزخ ته ځي نه یوازي په قرآن کي کوم شاهد نشو موندلی بلکي د قرآن له ډېرو صریحو لارښوونو سره تعارض لري. په هیڅ آیت کي نه دي راغلي چي د مشرکانو کمعمره اولاد به دوزخ ته ځي. قرآن وايي چي هر چا ته به د هغه عمل له مخي بدله ورکول کېږي چي پرې مکلف شوی دئ؛ د شریعت له مخي د ماشوم د مکلفیت دوره تر بلوغ

وروسته پيل کېږي؛ نو ماشوم که ئې والدين مؤمن وي يا کافر؛ داسي عمل ئې نه وي کړی چي د عذاب مستحق وګڼل شي، نو ولي به دوزخ ته ځي؟!

- قرآن فرمايي: د هر انسان مجازات د ده د عمل له مخي وي؛

أَلا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴿٣٨﴾ وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الأَوْفَى﴿٤١﴾ النجم: ٣٨- ٤١ :

دا چي هيڅوك به د بل (د ګناه) پېټی پر اوږو نه وړي؛ او دا چي انسان ته له خپلي هڅي پرته بل څه نه ورپه برخه کېږي؛ او دا چي هڅي به ئې حتماً وکتل شي او بيا به په بشپړي بدلې سره بدله ورکړی شي.

په دې مبارکو آيتونو کې د ټولو الهي کتابونو څو اساسي خبري موږ ته ښودل شوې: ۱- هيڅوك به د بل د ګناه پېټی پر اوږو نه وړي، ۲- انسان ته له خپلي هڅي پرته بل څه نه ورپه برخه کېږي، ۳- د هر چا هڅي او کړني حتماً کتل کېږي، ٤- هر چا ته د خپلو کړنو بشپړه بدله ورکول کېږي.

او د دې معنی دا ده چي هيڅ انسان به نه د خپل پلار او مور پر ګناه نيول کېږي او نه د خپل اولاد؛ د مشرکانو ماشومان د خپلو پلرونو د شرك او کفر له کبله نه مجازات کېږي.

په دې لارښوونو کې لومړی ئې دا ده چي د هر چا د ښه او بد عمل پايله په خپله ده ته ورګرځي، که په سمه لار ولاړ ګټه ئې ده ته رسي او که له سمي لاري منحرف شو تاوان ئې ده ته رسي، الله تعالی يو د بل په ګناه نه نيسي، هر څوك به د قيامت په ورځ د خپلو کړنو پېټی پر شا وړي، نه پلار د زوی پېټی سپکولی شي او نه زوی د پلار پېټی، نه نسبي اړيکي څوك ژغورلی شي او نه د چا سپارښتنه او لاس نيوی.

په دې مبارك آيت کې چي د مجازات په اړه کومه عادلانه ضابطه او پر حق او عدالت ولاړ قانون تر سترګو کېږي چي وايي (جرم يو داسي شخصي عمل دئ چي له مجرم پرته هيڅوك نشي پرې مؤاخذه کېدی)؛ دا هغه څه دي

چي نړۍ وال اوس د هغه په اهميت پوه شوي او نن د نړۍ په ټولو مدني او اساسي قوانينو کې د هغه يادونه کېږي!!!

- همدا راز قرآن فرمايي چي د هر بني آدم (که کافر وي که مسلمان) اولاد له داسي فطري جوړښت سره پيدا کېږي چي پر الله تعالی ايمان ئې په ختمه کې ايښودل شوی وي، له دې پلوه د مؤمن او کافر اولاد سره ورته دي، ولې به د مؤمن اولاد جنت ته درومي او د مشرك اولاد دوزخ ته؟! قرآن فرمايي:

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِىٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ ۛ شَهِدْنَآ ۛ أَن تَقُولُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَـٰذَا غَـٰفِلِينَ ﴿١٧٢﴾ أَوْ تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أَشْرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنۢ بَعْدِهِمْ ۖ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿١٧٣﴾ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٧٤﴾ الاعراف: ۱۷۲-۱۷٤

او کله چي ستا رب د بني آدمو له ملاگانو د دوی اولاد واخيست او دوی ئې پر خپل ځان شاهد وگرځول (او ورته وئې ويل) آيا زه مو رب نه يم؟ وئې ويل: هو؛ شهادت ورکوو، دا د دې لپاره چي د قيامت په ورځ ونه وايئ: موږ له دې غافل وو؛ او يا ونه وايئ: دا خو زموږ مخکيني پلرونه ول چي شرك ئې وکړ او موږ ئې وروستني اولاد وو، آيا د هغه څه په سبب مو هلاکوې چي باطلپالو کړي؛ همداسي آيتونه په تفصيل سره بيانوو په دې موخه چي بېرته راوگرځي.

په دې مبارکو آيتونو کې څو اساسي خبري تر سترگو کېږي:

- دلته ويل شوي چي د هر انسان له صلب د ده اولاد په داسي توگه اخيستل شوي چي الله تعالی په دغي خبري شاهد گرځولي: آيا زه مو رب نه يم؟ او هغوی ويلي هو؛ په دې خبري شهادت ورکوو.

● آيا د دې خبرې معنی دا ده چې په جسمي توګه د دوی نطفې د آدم عليه السلام له شا رايستل شوې او همغه مهال دا پوښتنه ترې شوې او دوی هم شهادت ورکړی؟ او که په دې وينا سره د بني آدمو هغه فطرت معرفي شوی چې د الله تعالی پر ربوبيت باندې اعتراف او شهادت ئې ده ته ورپه برخه کړی؟ درې دلائل داسې دي چې د دوهمې رأيې ارجحيت ثابتوي: ۱- په آيت کې ويل شوي (وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡ: او کله چې ستا رب د بني آدمو له ملاګانو د دوی اولاد واخيست) او دا د ټولو انسانانو اولاد ته اشاره کوي، نه د آدم عليه السلام له ملا د ده د اولاد د نطفو اخيستلو ته. دې ته مو هم بايد پام وي چې دلته د استخراج او رايستلو لفظ نه دئ راغلی بلکې د أخذ يعني اخيستلو لفظ راغلی. ۲- هيڅ انسان ته داسې کومه صحنه په ياد نه ورځي چې تر خپل پيدايښت مخکې بل ځل هم پيدا شوی او هغه مهال الله تعالی ترې پوښتنه کړې او ده د الله تعالی په ربوبيت اعتراف کړی، نه نن دا خبره کولی شي او نه د قيامت په ورځ، داسې شهادت خو يوازې په هغه صورت کې ارزښت او اهميت لري چې د انسان په ياد وي او صحنه ئې په خپلو سترګو ليدلې وي. ۳- که دا خبره ومنو نو بيا خو بايد ووايو چې انسان دوه ځلې پيدا شوی خو دا خبره له قرآن سره اړخ نه لګوي.

د دې آيت دقيقه توجيه همدا ده چې الله تعالی هر انسان او بني آدم داسې پيدا کوي چې ايمان بالله ئې په خټه کې اېښودل شوی، داسې فطرت ئې ورکړی چې د الله تعالی پر ربوبيت اعتراف کوي. د قرآن ګڼ شمېر آيتونه په همدې دلالت کوي چې پر الله تعالی ايمان د انسان د فطرت غوښتنه ده، پر خدای باور د ده د فطرت جزء دئ، تر سخت هم سخت کافر او تر بد هم بد ملحد په ځانګړو حالاتو کې خدای ته مخه کوي، په ځانګړې توګه هغه مهال چې له ستونزو او کړاوونو سره مخ شي. قران همدې ته په عجيب او اغېزمنو الفاظو سره اشاره کوي؛ او وايي: کله چې تاسو په کشتۍ کې سپاره يئ او د

طوفانونو څپې مو محاصره کړي؛ هري خوا ته چي سترګي اړوئ داسي څوک نه ګورئ چي لاس وراوږد کړئ او مرسته ترې وغواړئ؛ د مرستي هيڅ مرجع په نظر نه درځي، له هر لوري مايوس شوي ياستئ، په دغه مهال يوازي خدای ته رجوع کوئ او بيا خپل دين هم خالص کړئ، يعني د دين خالص والي معنی همدا ده چي انسان له هر لوري خپله طمعه قطع کړي؛ يوازي او يوازي خدای ته طمع ولري، هماغه حالت چي په کښتۍ کي سپور يې؛ امواجو او نهنګانو په بحر کي محاصره کړی يې، په دغه حالت کي چي يوازي الله ته مخه کوې او له بل هر چا او هر څه دي طمع او هيله قطع کړې وي؛ همدغه حالت ته قرآن په دين کي اخلاص وايي. اورېدلي مي دي چي لينن هم هغه مهال چي د جرمنيانو په وړاندي ئې ماته وخوړه نو کليسا ته ولاړ او د کليسا له رب د مرستي په موخه ئې د کليسا زنګ ووهلو، يعني په فطرت کي ئې داسي څه وو، که هر څومره ئې غوښتل چي له دي انکار وکړي، اما دغه فطري جوړښت او تقاضا ئې په خاصو حالاتو کي سر رااوچت کړ او د الله په وړاندي ئې دعاء ته تيار کړ. په سختو حالاتو کي پر هر انسان همداسي حالات راځي؛ خدای ته مخه کوي او يوازي له هغه مرسته غواړي، الله تعالی د پيدايښت په همغه سر کي انسان ته د ډېرو نورو خبرو تر څنګ دا هم ښودلي چي رب ئې څوك دئ، ضمير او فطرت ئې په دې شهادت ورکوي چي پيدا کوونکی ئې الله دئ، د همدغي فطري لارښووني په سبب ده چي هر انسان خدای مني، د انسانانو له پيدايښت تر نن پوري ډېر لږ کسان داسي ليدل شوي چي خدای نه مني، دا نه مننه ئې هم د انکار په توګه وي نه دا چي له زړه پرې قانع وي او د خپل انکار لپاره دليل ولري. دا چي قرآن په مکرره توګه وايي چي که له کافرانو پوښتنه وکړې چي آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي، شپه او ورځ څوك راولي؛ او ... او ... دوی به حتماً وايي چي الله؛ همدغي خبري ته اشاره کوي. د قيامت په ورځ به دغه د کافر او منکر انسان په ضد حجت وي. پيغمبر عليه السلام دغه مطلب ته داسي اشاره کړې:

۱۸۳۸۰ - أخبرَنا أبو عبدِ اللهِ الحافظُ، حَدَّثَنَا أبو العباسِ محمدُ بنُ يَعقوبَ، حَدَّثَنَا محمدُ بنُ عُبَيدِ اللهِ ابنُ المُنادِى، حَدَّثَنَا يونُسُ بنُ محمدٍ المُؤَذِّبُ، حَدَّثَنَا أبانُ بنُ يَزيدَ، عن قَتادَةَ، عن الحَسَنِ، عن الأسوَدِ بنِ سَريعٍ، أن رسولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعَثَ سَريةً يَومَ حُنَينٍ فقاتَلوا المُشرِكينَ، فأَفضَى بهِمُ القَتلُ إلَى الذُّرِّيَّةِ، فلَمّا جاءوا قال النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "ما حَمَلَكُم على قَتلِ الذُّرِّيَّةِ؟ ". قالوا: يا رسولَ اللهِ، إنَّما كانوا أولادَ المُشرِكينَ. قال: "وهَل خيارُكُم إلَّا أولادُ المُشرِكينَ؟ والَّذِى نَفسُ محمدٍ بيَدِهِ ما مِن نَسَمَةٍ تولَدُ إلَّا على الفِطرَةِ حَتَّى يُعرِبَ عَنها لِسانُها" السنن الكبرى للبيهقى

له أسود بن سريع روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د حنين په ورځ يو ټولى ولېږو چي له مشركينو سره وجنگېدل؛ دوى ئې د ماشومانو تر وژلو پوري ورسول؛ نو كله چي راغلل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښتل: "څه شي د ماشومانو وژلو ته اړ كړئ؟" وئې ويل: يا رسول الله! دوى خو د مشركانو اولاد ول؛ وئې فرمايل: "آيا ستاسو غوره شخصيتونه د مشركانو اولاد نه دي؟ پر هغه ذات قسم چي د محمد (عليه السلام) ساه ئې په واك كي ده؛ هيڅ انسان داسي نه دئ چي وزېږي مگر له فطرت سره سم؛ تر هغه چي د ده ژبه په فصاحت سره دى تمثيل كړى شي.

يعني تر هغه چي انسان بلوغ او رشد ته رسي او كولى شي خپل عزائم، افكار او عقائد په خپله ژبه بيان كړي؛ د هغه الهي فطرت خاوند گڼل كېږي چي الله تعالى پرې پيدا كړى؛ له دې وروسته به كتل كېږي چي پلار مور ئې يهودي ترې جوړوي كه مسيحي او مجوسي.

دا روايت په الجامع الصحيح كي په دې صيغه راغلى:

وَعَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ سَرِيعٍ - رضى الله عنه - قَالَ: (بَعَثَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله

عليه وسلم - سَرِيَّةً يَوْمَ حُنَيْنٍ , فَقَاتَلُوا الْمُشْرِكِينَ، فَأَفْضَى بِهِمُ الْقَتْلُ إِلَى الذُّرِّيَّةِ , فَلَمَّا جَاؤُوا قَالَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: " مَا حَمَلَكُمْ عَلَى قَتْلِ الذُّرِّيَّةِ؟ " , قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا كَانُوا أَوْلَادَ الْمُشْرِكِينَ)؛ (فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: " إِنَّ خِيَارَكُمْ أَبْنَاءُ الْمُشْرِكِينَ، ثُمَّ قَالَ: أَلَا لَا تَقْتُلُوا ذُرِّيَّةً، أَلَا لَا تَقْتُلُوا ذُرِّيَّةً، كُلُّ نَسَمَةٍ تُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ حَتَّى يُعْرِبَ عَنْهَا لِسَانُهَا، فَأَبَوَاهَا يُهَوِّدَانِهَا وَيُنَصِّرَانِهَا ") الجامع الصحيح

له أسود بن سريع روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د حنين په ورځ يو ټولى ولېږو چي له مشركينو سره وجنګېدل؛ دوى ئې د ماشومانو تر وژلو پوري ورسول؛ نو كله چي راغلل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښتل: "څه شي د ماشومانو وژلو ته اړ كړئ؟" وئې ويل: يا رسول الله! دوى خو د مشركانو اولاد ول؛ وئې فرمايل: "يقيناً چي ستاسو غوره شخصيتونه د مشركانو اولاد دي؟ بيا ئې وفرمايل: پام چي ماشومان ونه وژنئ؛ پام چي ماشومان ونه وژنئ؛ هر انسان له فطرت سره سم زېږي؛ تر هغه چي د ده ژبه په فصاحت سره دى ته تمثيل كړى شي او بيا ئې مور پلار يهودي او نصراني كوي".

١٥٩٩٢ - حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ: حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، قَالَ: حَدَّثَنِي الْمُرَقِّعُ بْنُ صَيْفِيٍّ، عَنْ جَدِّهِ رَبَاحِ بْنِ الرَّبِيعِ، أَخِي حَنْظَلَةَ الْكَاتِبِ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ: أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا، وَعَلَى مُقَدِّمَتِهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَمَرَّ رَبَاحٌ وَأَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مَقْتُولَةٍ، مِمَّا أَصَابَتِ الْمُقَدِّمَةُ، فَوَقَفُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهَا، وَيَتَعَجَّبُونَ مِنْ خَلْقِهَا، حَتَّى لَحِقَهُمْ رَسُولُ

اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ، فَانْفَرَجُوا عَنْهَا، فَوَقَفَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ» فَقَالَ لِأَحَدِهِمْ: " الْحَقْ خَالِدًا فَقُلْ لَهُ: لَا تَقْتُلُوا ذُرِّيَّةً، وَلَا عَسِيفًا "

له رَبَاحِ بْنِ الرَّبِيعِ روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يوې غزوې کې وتلی وو؛ د لښکر په مقدمه کې خالد بن وليد وو؛ نو رباح او د رسول الله صلى الله عليه و سلم ځيني ياران په يوې وژل شوې مېرمني تېر شول چي مخکيني ټولي وژلې وه؛ ودرېدل او ورته کتل ئې او خلقت ته ئې په حيرت کې ول؛ تر هغه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم پر خپلي اوښي ورسره يو ځای شو؛ دوی لار ورکړه او سره بېل شول؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ودرېدو او وئې فرمايل: دا د جنگېدو وړ نه وه؛ نو د دوی يوه تن ته ئې وفرمايل: خالد ته ځان ورسوه او ورته ووايه: مه ماشومان وژنه او مه خوارکی اجير.

له دې روايت؛ نه يوازي د مېرمنو، ماشومانو او هغو اجيرانو د وژلو ممانعت معلومېږي چي په زور او د اجير په توگه جنگ ته راوستل شوي وي؛ بلکي دا هم معلومېږي چي داسي قتلونه د هغو له لوري شوي چي نوي مسلمان شوي وو او له اسلامي لارښوونو په سمه توگه واقف نه وو؛ دلته د مېرمني وژنه د خالد بن وليد رضي الله عنه د ډلې غلطي وه؛ دده د مکې له فتح وروسته إيمان راوړی.

د ماشومانو په اړه بل روايت دا دئ:

١٣٨٥ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَثَلِ البَهِيمَةِ تُنْتَجُ البَهِيمَةَ هَلْ تَرَى فِيهَا جَدْعَاءَ» رواه البخارى

ابوهريره رضي الله عنه وايي: پيغمبر عليه السلام وفرمايل: هر مولود له روغ

او سالم فطرت سره دنيا ته راځي، د ده مور او پلار ئې يهودي، نصراني او مجوسي کړي، لکه څنګه چي له څاروي څاروی پيدا کېږي؛ آيا تاسو په دوی کې غوږ پرې شوی ګورئ، (بلکې تاسو ئې غوږ ورپرې کوئ).

د بني آدميانو د توحيدي فطرت په اړه په دې بل روايت کې مزيد وضاحت شوی:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « يُقَالُ لِلرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَىْءٍ أَكُنْتَ مُفْتَدِياً بِهِ قَالَ فَيَقُولُ نَعَمْ. قَالَ فَيَقُولُ قَدْ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ ذَلِكَ قَدْ أَخَذْتُ عَلَيْكَ فِى ظَهْرِ آدَمَ أَنْ لاَ تُشْرِكَ بِى شَيْئاً فَأَبَيْتَ إِلاَّ أَنْ تُشْرِكَ بِى». رواه الصحيحين

له انس بن مالك روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د قيامت په ورځ به له دوزخيانو يوه چا ته وويل شي: آيا پوهېږې چي که د زمکې د سر هر څه ستا وی آيا (اوس به دي له عذاب د نجات لپاره) په فديه کې نه وو ورکړي؟ وبه وايي: هو؛ نو الله تعالى به ورته ووايي: تر دې آسان مي درنه غوښتي وو، د آدم په شا کې مي دا عهد درنه اخيستی وو چي له ما سره هيڅ څه مه شريکوه، خو تا دډه وکړه مګر له دې چي زما په اړه شرك وکړې.

پوښتنه دا ده: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چي هر ماشوم له روغ فطرت سره دنيا ته راځي، وروسته ئې والدين بې لاري کړي او دا بې لاريتوب هغه مهال محاسبه کېږي او مجازات پرې مرتب کېږي چي انسان بلوغ ته ورسېږي او په خبرو پوه شي؛ نو د روغ فطرت خاوند ماشوم به ولې دوزخ ته ځي؟!

عن الزُّبَيدِيِّ، عن الزُّهرِيِّ، عن سعيدِ بنِ المُسَيِّبِ قال: كان أبو هريرةَ يُحَدِّثُ أن رسولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قال: "ما مِن مَولود فى بَنِي آدَمَ إِلَّا

يولَدُ على الفِطرَةِ، حَتَّى يَكونَ أَبَواه يُهَوِّدانِه أو يُنَصِّرانِه أو يُمَجِّسانِه، كما تُنتَجُ البَهيمَةُ بَهيمَةً جَمعاءَ، هَل تُحِسُّونَ فيها مِن جَدعاءَ؟ ". ثُمَّ يقولُ أبو هريرةَ: واقرَءوا إن شِئتُم ﴿فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الروم: ٣٠]. رَواه مسلمٌ

ابوهريره رضي الله عنه به ويل: پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د بني آدم هيڅ زوی داسي نه دئ چي له روغ فطرت سره دي ونه زیږي، تر هغه چي مور او پلار ئې يهودي، نصراني او مجوسي کړي، لکه څنگه چي څاروی روغ څاروی پيدا کوي؛ آيا تاسو په دوی کې کوم غوږ پرې شوی گورئ، (بلکي تاسو ئې غوږ ورپرې کوئ). بيا ابوهريره وويل: که غواړئ نو دا آيت ولولئ: د الله تعالى هغه فطرت چي خلك ئې پرې پيدا کړي؛ د الله په پيدايښت کې هيڅ بدلون نشته؛ همدا استوار دين دئ خو ډېری خلك نه پوهېږي.

حدثنا عبدُ الرَّزّاقِ، أخبرَنا مَعمَرٌ، عن هَمّامِ بنِ مُنَبِّهٍ قال: هذا ما حَدَّثَنَا أبو هريرةَ قال: وقال رسولُ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَن يولَدُ يولَدُ على هذه الفِطرَةِ، فأبَواه يُهَوِّدانِه ويُنَصِّرانِه كما تُنتِجونَ البَهيمَةَ، فهَل تَجِدونَ فيها مِن جَدعاءَ حَتّى تَكونوا أنتُم تَجدَعونَها؟ ". قالوا: يا رسولَ اللَّهِ، أفَرأيتَ مَن يَموتُ وهو صَغيرٌ؟ قال: "اللَّهُ أعلمُ بما كانوا عامِلينَ". رَواه البخاريُّ

ابوهريره رضي الله عنه به ويل: پيغمبر عليه السلام وفرمايل: څوك چي زیږي نو په همدې فطرت زیږي؛ خو مور او پلار ئې يهودي او نصراني کړي، لکه څنگه چي څاروی روغ پيدا کیږي؛ آيا تاسو په دوی کې کوم غوږ پرې شوی گورئ، تر هغه چي تاسو ئې غوږ ورپرې کوئ. اورېدونکو وويل: يا رسول الله! نو د هغه په اړه څه فکر کوئ چي صغير ومري؟ وئې فرمايل: الله پر هغه څه ښه پوهېږي چي دوی به ئې کوونکي وي.

همدا راز په بل روايت کې راغلي:

۲۰۵۸۵ - حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ يَعْنِي الْأَزْرَقَ، أَخْبَرَنَا عَوْفٌ، حَدَّثَتْنِي حَسْنَاءُ ابْنَةُ مُعَاوِيَةَ الصُّرَيْمِيَّةُ، عَنْ عَمِّهَا، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَنْ فِي الْجَنَّةِ؟ قَالَ النَّبِيُّ فِي الْجَنَّةِ، وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْمَوْءُودَةُ فِي الْجَنَّةِ " رواه احمد

حسناء بنت معاويه له خپل تره روايت کوي چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته مې وويل: يا رسول الله! څوک به په جنت کې وي؟ وئې فرمايل: نبي به په جنت کې وي، شهيد به په جنت کې وي، ماشوم به په جنت کې وي، ژوندۍ ښخه شوې ماشومه به په جنت کې وي.

پورتنی مطلب په بل روايت کې داسې راغلی:

۳۰٦۳ - حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ: سَمِعْتُ الْحَسَنَ قَالَ: قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ: مَنْ فِي الْجَنَّةِ؟ قَالَ: «النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ، وَالصِّدِّيقُ فِي الْجَنَّةِ، وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْءُودَةُ فِي الْجَنَّةِ» مسند احمد

له يزيد بن ابراهيم روايت دئ چې وايي: له حسن مې واورېدل چې وئې ويل: له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه وشوه چې څوك به په جنت کې وي؟ وئې فرمايل: نبي به په جنت کې وي، صديق به په جنت کې وي، شهيد به په جنت کې وي، ماشوم به په جنت کې وي، ژوندۍ ښخه شوې به په جنت کې وي.

بل روايت وايي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَأَلْتُ رَبِّي اللَّاهِينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ الْبَشَرِ أَلَّا يُعَذِّبَهُمْ، فَأَعْطَانِيهِمْ» رواه أبو يعلى

له انس رضی الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: له خپل رب مي وغوښتل چي د بشر ماشومان تعذیب نه کړي؛ نو دا ئې راپه برخه کړل (زما دا دعاء ئې قبوله کړه).

د یوه بل روایت په ترڅ کي داسي راغلي:

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ... فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ قَتْلِ الْأَطْفَالِ، ثُمَّ قَالَ: «اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ» معجم الاوسط للطَّبَرَانِي

او له ابن عباس روایت دئ چي.... نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د ماشومانو له وژلو ممانعت وکړ او وئې فرمایل: الله تعالی په هغه ښه پوهېږي چي دوی به ئې کوي.

ډېرې روایات چي په دې اړه له ابوهریره، ابن عباس او نورو راویانو راغلي؛ همدا برخه په کي لیدل کېږي: اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ او دا د هغو په ځواب کي ویل شوي چي د مشرکینو د اولاد په اړه ئې پوښتلي وو: آیا اولاد ئې ووژنو؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ؛ او د دې معنی دا ده چي د مشرکینو ماشومان له دې امله مه وژنئ چي ګواکي دوی به د خپلو پلرونو په څېر مشرك ستر شي، الله تعالی ښه پوهېږي چي دوی به څه کوي. له دې معلومېږي چي د دې وینا موخه د دوی نه وژل دي. رسول الله صلی الله علیه و سلم په بل حدیث کي د دې مزید وضاحت کړی او داسي ئې فرمایلي: مګر ستاسو غوره شخصیتونه د مشرکینو زامن نه ول؟ یعني که څه هم له مشرك پلار مور پیدا شوي خو ستر مؤمن شخصیتونه ترې جوړ شوي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم به کله چي کومه ډله د جهاد لپاره لېږله نو د نورو سپارښتنو په ضمن کي به ئې هغوی ته ویل: ماشومان مه وژنئ.

١٨١٤٣ - عن ابنِ عُمَرَ -رضى الله عنهما- قال: وُجِدَتِ امرأةٌ مَقتولَةٌ فى بَعضِ تِلكَ المَغازِى، فنَهَى رسولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- عن قَتلِ النِّساءِ

والصِّبيانِ. رَواه مسلمٌ

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وئې ويل: په کومي غزا کې يوه وژل شوې مېرمن وليدى شوه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د ښځو او ماشومانو له وژلو ممانعت وکړ.

دا روايت أحمد بن حنبل، طحاوي، طبراني، أبو داود، بيهقي، نسائي، ابن حبان، ترمذي، ابن أبي شيبة او دارمي هم راوړى.

دغو رواياتو او آثارو ته په پام سره په قاطع توګه ويلى شو چي ټول ماشومان به جنت ته ځي.

## تراويح اته رکعته دي که شل؟

دا هم يوه اختلافي قضيه ده چي تراويح به شل رکعته کوو که اته، د احنافو رأيه صحيح او د سنت مطابق ده که د سلفيانو او غير مقلدينو؟

څو مطالب په پام کې ولرئ:

- د روژې مياشت؛ يوه مهمه او روزونکې تربيتي دوره ده؛ له قرآن سره ئې خاص تعلق دئ، قرآن په همدي مياشت کي نازل شوی؛ څوک چي غواړي د قرآن حامل شي؛ په قرآن عمل وکړي او قرآن د خپل ژوند او ټولني پر ټولو برخو او اړخونو حاکم کړي؛ هغه داسي يوې مياشتنۍ تربيتي دوري ته ضرورت لري؛ چي په دې کي د خپل هوس، نفس او نس کنټرولولو عملي ممارست، مشق او تمرين وکړي؛ خپله اراده مزيد مضبوطه او تقويه کړي، بريکونه ئې مضبوط شي، لکه څنګه چي موټر مضبوط بريک ته ضرورت لري؛ انسان هم دغسي بريکونو ته ضرورت لري؛ کله چي ئې هوس يا شيطان د ګناه لوري ته وهڅوي؛ نو بايد داسي قوي بريکونه ولري چي ځان پرې راتم او اداره کړی

شي؛ که ئې بریکونه سولېدلي، کمزوري او ضعیف وي نو بیا ځان نه شي اداره کولی؛ روژه د یو مؤمن اراده قوي او مضبوطوي، د خپل هوس اداره کولو ځواك ورپه برخه کوي؛ پوره یوه میاشت له ډېرو حلالو شیانو ډډه کوي، هره شېبه چي ئې کوم څه ته زړه وشي؛ روژه ورپه یاد شي او ترې ډډه وکړي؛ دا یوه میاشتنی تمرین او ممارست د دې باعث شي چي اراده ئې مضبوطه او ځواکمنه شي؛ د قرآن حامل او عامل دغه د ځان اداره کولو صفت ته ضرورت لري؛ داسي چي د لوږي او تندي په وړاندي هم مقاومت وکړی شي، د هوس او نفس غوښتنو په وړاندي هم؛ هغه د الله د مجاهد دئ؛ په سنګرونو کي به پاته کېږي، د شر او فساد ځواکونو مقابله به کوي؛ د باطل خلاف به جهاد کوي؛ دا جهاد له ده مضبوطه اراده غواړي، صبر، ثبات او استقامت غواړي، که لوږه او تنده پرې راشي صبر وکړی شي، که په میاشتو میاشتو له خپل کور او کورنۍ لري وي؛ صبر وکړی شي؛ لکه څنګه چي یو کوماندو همدغسي روزني ته ضرورت لري؛ د الله تعالی د لاري مؤمن مجاهد چي په قرآن باور لري او غواړي چي قرآن د ده په ژوند او ټولني حاکم وي؛ دا مجاهد همدغسي روزني ته اړتیا لري، روژه د مؤمن او مجاهد انسان په روزلو کي ژوره او پراخه ونډه لري. د روژې میاشتي  تراویح لمونځ که څه هم سنت دئ؛ خو له معنوي پلوه ئې ارزښت او اهمیت دومره دئ چي کولی شو ووایو؛ د دې تربیتې دورې یو مهم جزء دئ. د همدې تراویح لپاره هره شپه دومره زیات لمونځ کوونکي په جوماتونو کي راغونډېږي چي د کال په نورو میاشتو کي د دوی له راغونډېو سره نشي مقایسه کېدی؛ د دې لمانځه مهمه برخه په ټولي روژې کي د ټول قرآن تلاوت دئ؛ اصولاً داسي چي امام به هره شپه د قرآن یو جزء تلاوت کوي او لمونځ کوونکي به ئې غور او دقت سره اوري؛ البته اغېز ئې په هغه صورت ډېر پراخ او ژور دئ چي لمونځ کوونکي د قرآن په معنی پوه شي؛ قرآن د لمانځه په حالت کي او له داسي چا اورېدل چي په قرآن پوه وي؛ هم ئې په تأني او اغېزمن

غږ سره وايي او هم تقوی لري او د اجورې په مقابل کې نه؛ بلکې د يوه هدفمن داعي په توګه امامت کوي؛ د دې لمانځه اغېز څو برابره زياتوي.

- بايد متوجه وو چې د لمانځه په امامت، د قرآن په تلاوت او د أذان په بدل کې معاوضه او اجوره اخيستل جواز نه لري. داسي کېدی شي چې مؤذن د جومات خدماتي کارونه ترسره کوي او په مقابل کې ئې معاش ولري او أذان ئې له معاوضې پرته وي؛ همدا راز امام د نورو لمونځ کوونکو په څېر د معاش خپل پتمن مدرك ولري؛ خو امامت ئې له مالي معاوضې پرته وي.

- شل رکعته تراويح په تېرو نږدې ۱۴ پېړيو کې په ټولو مسلمانانو او د ټولو مذاهبو پلويانو کې عموميت درلود، د صحابه وو له دور بيا تر نن پوري، خو په وروستيو څو لسيزو کې يوه داسي ډله راپيدا شوه چې وايي: تراويح اته رکعته دي او پيغمبر عليه السلام يوازي اته رکعته کړي!!

دوی غالباً په دريو رواياتو استناد کوي:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَيْلَةً فِي رَمَضَانَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُونَ يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: وَاللهِ إِنِّي لَأَرَى لَوْ جَمَعْتُ هَؤُلَاءِ عَلَى قَارِئٍ وَاحِدٍ لَكَانَ أَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهُمْ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ لَيْلَةً أُخْرَى وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ فَقَالَ عُمَرُ: نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هَذِهِ وَالَّتِي يَنَامُونَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِي يَقُومُونَ يُرِيدُ آخِرَ اللَّيْلِ وَكَانَ النَّاسُ يَقُومُونَ أَوَّلَهُ. السنن الكبرى للبيهقى

دا روايت چې په بخاري کې هم راغلی؛ وايي:

له عبد الرحمن رضي الله عنه روايت دئ چې: د عمر رضي الله عنه په خلافت کې زه د روژې په شپو کې يوه شپه له عمر رضي الله عنه سره مسجد ته لاړم،

خلک ډلي ډلي بېل بېل ولاړ وو، يوه کس يوازي لمونځ کولو، بل کس به بل ځای بېل ولاړ وو او د خلکو يو ټولي به هم لمونځ ورپسي کولو، عمر رضي الله عنه وفرمايل: زه وايم چي دا خلک که په يوه قاري يو ځایِ را ټول کړم، نو ډېر ښه کار به وشي، بيا ئې کلک عزم وکړ او ټول خلک ئې په اُبیْ بن کعب پسي راټول کړل، بيا زه بله شپه هم مسجد ته ورسره راغلم، ټولو خلکو په خپل قاري (امام) پسي لمونځ کولو، عمر رضي الله عنه چي ټول خلک په يوه امام پسي وليدل نو وئې فرمايل: دا ډېر ښه نوی کار (بدعت) دئ. او هغه چي د (تراويح له دې لمانځه د شپې په پيل کې ويده کيږي او تر سحر وړاندي د تهجد لمونځ کوي) دا ډله تر هغي غوره ده چي دلته ولاړ دي او لمونځ کوي، يعني د شپې آخري برخه، خلک د شپې په اوله برخه کي ودرېدل لمونځ يې کولو) بخاري.

دا روايت يوازي يو او غير معروف راوي لري، د تبع تابعينو له متوسطي طبقې دئ؛ هم د سند له پلوه کمزوری دئ او هم د محتوی له پلوه، ممکنه نه ده چي عمر رضي الله عنه به داسي کار کړی وي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم نه دئ کړی.

عمر رضي الله عنه يوازي دومره کار کړی چي انفرادي تراويح ئې په جماعت بدلي کړې. تر دې وړاندي صحابه وو د رسول الله صلی الله عليه و سلم په سنت عمل کولو، چا شل رکعته يوازي يوازي کولو او چا په جمع.

د عمر رضي الله عنه د دې وينا چي وَالَّتِي يَنَامُونَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِي يَقُومُونَ: او هغه ډله چي د (تراويح له دې لمانځه د شپې په پيل کې ويده کيږي) دا تر هغي ډلي غوره ده چي دلته ولاړ دي او لمونځ کوي؛ مقصد ئې دا دئ چي که څوك د ماخستن پر ځای د شپې په پای کي تر سحر وړاندي؛ تراويح او يا د تهجد لمونځ کوي؛ دا لمونځ افضل او اجر ئې زيات دئ. نو که رسول الله صلی الله عليه و سلم په دوه يا درې ورځو هغي تراويح اکتفاء کړې چي په جومات کي ئې د صحابه وو امامت وکړ؛ وجه او دليل ئې د دې وخت فضيلت دئ؛ نه بل څه.

دوهم روایت ئې دا دئ:

**٢- أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كَيْفَ كَانَتْ صَلاَةُ رَسُولِ اللهِ فِي رَمَضَانَ فَقَالَتْ: مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلاَ فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي ثَلاَثًا.**

له عائشې رضي اللهُ عَنْهَا ئې وپوښتل: په روژه کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم عمل څنگه وو؟ وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي نه وو چي په رمضان يا غير رمضان کي ئې تر يوولس رکعته زيات لمونځ کاوو؛ څلور رکعته يو ځل داسي چي د اوږدوالي او غوره والي په اړه ئې مه پوښته، بيا څلور رکعته؛ داسي چي د اوږدوالي او غوره والي په اړه ئې مه پوښته او بيا ئې درې رکعته (وتر) کول.

دا روايت د تراويح په اړه نه بلکي د تهجد په اړه دئ. په حقيقت کي پوښتنه د قيام الليل په اړه ده او ځواب ئې هم دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تل يولس رکعته کول؛ څلور څلور رکعته د تهجد لمونځ او درې رکعته وتر.

بايد متوجه وو چي غير مقلدين د وتر په اړه هم د خپل دغه روايت خلاف عمل کوي او وتر يوازي يو رکعت گڼي!!

دريېم روايت ئې دا دئ:

**٣- يَعْقُوبُ الْقُمِّيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ جَارِيَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ وَأَوْتَرَ فَلَمَّا كَانَتِ الْقَابِلَةُ اجْتَمَعْنَا فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا أَنْ يَخْرُجَ إِلَيْنَا فَلَمْ نَزَلْ فِيهِ حَتَّى أَصْبَحْنَا ثُمَّ دَخَلْنَا فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ اجْتَمَعْنَا فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا أَنْ**

تُصَلِّيَ بِنَا فَقَالَ: «إِنِّي خَشِيتُ أَوْ كَرِهْتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمُ الْوِتْرُ (الإحسان فی تقریب صحیح ابن حبان.

یعقوب قُمی له عیسی بن جاریه او هغه له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روایت کوي چې موږ (زه او دوه درې نور یوه شپه) اته رکعت لمونځ او وتر مو په رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې وکړل، بله شپه چې راغله؛ نو موږ بیا په جومات کې راغونډ شوو په دې هیله چې رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مسجد ته راشي او موږ به لمونځ پسې وکړو؛ خو هغه نه راغی، سبا ئې موږ ته وویل: ووېرېدم یا مي خوښه نه شوه چې وتر درباندي فرض شي!

غیر مقلدین پر همدې غیر معتبر روایت استناد کوي او تراویح اته رکعته گڼي!!

دا روایت د سند له مخي ضعیف دئ، د عیسی بن جاریه په اړه محدثینو او محققینو ویلي چې متروك او ضعیف دئ، همدا راز یعقوب قُمی د اعتبار وړ نه گڼي.

دا روایت نه یوازي د سند له مخي ضعیف او غیر معتبر دئ بلکي په متن کې ئې هم رکاکتونه او ناموزون ترکیبونه او الفاظ تر سترگو کېږي، د خَشِيتُ او كَرِهتُ له الفاظو هم معلومېږي چې راوي ئې زړه نازړه دئ، په یقین سره نه وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کوم الفاظ ویلي.

ولي به رسول الله صلی الله علیه و سلم اندېښنه درلوده، آیا که ئې بیا هم په جمع تراویح کړې وی نو پر مسلمانانو به فرض شوې وې؟!! فرض خو هغه څه ته وایي چې الله تعالی په خپل کتاب کې د هغه د کولو امر او حکم کړی او نه کول ئې د سزا موجب وي.

په مقابل کې دا درې روایتونه وگورئ چې دوه له ابن عباس او یو له جابر بن عبد الله روایت شوي:

له جابر بن عبد الله رضي الله د مخکیني روایت خلاف بل روایت داسي

دئ:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ فَصَلَّى النَّاسَ أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ رَكْعَةً وَأَوْتَرَ بِثَلاثَةٍ. (تاريخ جرجان للمحدث الإمام فى الجرح والتعديل ألسَّهمى: والمشيخة البغدادية لأبى طاهر السلفى)

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روژې میاشت کي یوه شپه جومات ته راغی او خلکو ته ئې څلور رکعته (فرض)، شل رکعته (تراویح) او درې رکعته وتر لمونځ ئې اداء کړ.

د جابر له لومړي روایت (که احیاناً سم وي) داسي معلومېږي چي دی او ملګري ئې تر نورو ناوخته جومات ته راغلي او یوازي اته رکعته تراویح او وتر ئې په رسول الله صلی الله علیه و سلم پسي کړي، خو دوهم روایت ئې صریح او واضح دئ چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلکو ته شل رکعته تراویح لمونځ اداء کړ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ»

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول ﷲ صلی الله علیه وسلم به په رمضان المبارک کي شل رکعته (ترواېح) او درې وتر کول ـ (د امام بخاري د استاد کتاب؛ مصنف ابن ابی شیبه ج ۲ ص۲۸٦ ) (صفحة ۱۹۱۳).

بل روایت ئې:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ»

یعني وتر همغه درې رکعته دي چي په مخکیني روایت کي ئې یادونه

شوې.

د تلخيص الحُبَير له کتاب دا روايت هم مخي ته راځي:

٥٤ - حَدِيثُ أَنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِالنَّاسِ عِشْرِينَ رَكْعَةً لَيْلَتَيْنِ فَلَمَّا كَانَ فِي اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ اجْتَمَعَ النَّاسُ فَلَمْ يَخْرُجْ إلَيْهِمْ ثُمَّ قَالَ مِنْ الْغَدِ خَشِيت أَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ فَلَا تُطِيقُوهَا. مُتَّفَقٌ عَلَى صِحَّتِهِ مِنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ دُونَ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا "خَشِيت أَنْ تُفْتَرَضَ عَلَيْكُمْ صَلَاةُ اللَّيْلِ فَتَعْجِزُوا" عَنْهَا زَادَ الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ. التخليص الحُبَير

وَأَمَّا الْعَدَدُ فَرَوَى ابْنُ حِبَّانَ فِي صَحِيحِهِ مِنْ حَدِيثِ جَابِرٍ أَنَّهُ صَلَّى بهم ثمان رَكَعَاتٍ ثُمَّ أَوْتَرَ فَهَذَا مُبَايِنٌ لِمَا ذَكَرَ الْمُصَنِّفُ نَعَمْ ذِكْرُ الْعِشْرِينَ وَرَدَ فى حديث آخر رواه الْبَيْهَقِيُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فِي غَيْرِ جَمَاعَةٍ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ زَادَ سُلَيْمٌ الرَّازِيّ فِي كِتَابِ التَّرْغِيبِ لَهُ وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ.

نبي صلی الله علیه وسلم اصحابو ته شل رکعته تراويح دوه شپې ورکړې، کله چي دربیمه شپه شوه، نو اصحاب کرام جمع شول، نبي صلی الله علیه وسلم بهر رانغی او په سبا ئې وفرمايل چي له دې وډار شوم چي هسي نه پر تاسو دا تراويح لمونځ فرض شي او بيا ئې طاقت ونه لرئ.

عن أبى الحَسناءِ أنَّ عَلِيَّ بنَ أبى طالِبٍ رضى الله عنه أمَرَ رجلًا أن يُصَلِّىَ بالنّاسِ خَمسَ تَرويحاتٍ عِشرينَ رَكعَةً. سنن الكبرى للبيهقى

له ابي الحسناء روايت دئ چي علي رضي الله عنه يو کس وګمارو چي خلکو

ته په پنځو ترویحاتو کې د شل رکعته لمونځ امامت وکړي.

سنن الترمذي کې لولو:

وَأَكْثَرُ أَهْلِ العِلْمِ عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ وَابْنِ المُبَارَكِ وَالشَّافِعِيِّ "وقَالَ الشَّافِعِيُّ: "وَهَكَذَا أَدْرَكْتُ بِبَلَدِنَا بِمَكَّةَ يُصَلُّونَ عِشْرِينَ رَكْعَةً" الترمذى

ډېری اهل علم په هغه رأی دي چي له عمر، علي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له نورو صحابه وو روایت شوې؛ چي تراویح شل رکعته دي؛ او دا د ثَوری، ابن المبارك او شافعي وینا ده. او شافعي ویلي: "او ما په خپل ښار مکه کې خلك همداسي وموندل چي شل رکعته به ئې کول".

امام شافعي رحمه الله وايي:

وَأَحَبُّ إِلَيَّ إِذَا كَانُوا جَمَاعَةً أَنْ يُصَلُّوا عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَيُوتِرُونَ بِثَلَاثٍ.

او ما ته دا غوره برېښي چي که خلك يو جماعت وي نو شل رکعته تراویح وکړي او درې رکعته وتر.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» المعجم الكبير للطبرانى

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به په رمضان کې شل رکعته تراویح لمونځ کولو او درې د وتر لمونځ.

د سنن الکبری للبیهقي مخکینی روایت په مصنف ابن ابي شیبه کې هم راغلی:

عَنِ ابْنِ أَبِي الْحَسْنَاءِ «أَنَّ عَلِيًّا أَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِهِمْ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ

رَكْعَةً» مصنف ابن ابی شیبه

له ابي الحَسْنَاء روايت دئ چي علي رضي الله عنه يو كس وگمارو چي خلكو ته په پنځو ترويحاتو كې د شل ركعته لمونځ امامت وكړي.

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ «أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِينَ رَكْعَةً» مصنف ابن ابی شیبه

له يحيى بن سعيد روايت دئ چي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يوه سړي ته امر وكړ چي دوی ته د شل ركعت لمونځ امامت وكړي.

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ: «كَانَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فِي رَمَضَانَ بِالْمَدِينَةِ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» مصنف ابن ابی شیبه

له عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ روايت دئ چي وايي: أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ به په مدينه كې د رمضان مياشت كې خلكو ته د شل ركعت تراويح لمونځ او درې ركعت وتر امامت كولو.

دې ته مو بايد پام وي چي دا لمونځ د تراويح په نامه ياد شوی؛ چي د ترويح جمع ده، ترويح دمي او راحت ته وايي؛ له څلورو ركعتونو وروسته دمه ترې مراد ده؛ او دا ښيي چي دا ترويحات تر دوو زيات دي؛ كه لمونځ اته ركعته وی نو ترويح به ئې د تثنيه په صيغه (ترويحتين) راتله نه د جمعي په صيغه (تراويح) او ترويحات؛ په پورتنيو رواياتو كې هم خمس ترويحات راغلي.

د شل ركعت تراويح په اړه روايات دومره زيات دي چي تواتر ته رسي؛ عملاً خو د صحابه وو له دوران تر ننه؛ په تواتر سره؛ له يوه نسل بل ته انتقال او عمل پرې شوی. عجيبه ده چي څوك دا ټول روايات، د ائمه وو اقوال، په مكه (مسجد الحرام) كې، د اسلامي نړۍ په لكونو جوماتونو كې د ملياردونو مسلمانانو څرگند او مكرر عمل؛ له پامه غورځوي؛ او حتیٰ په دې اړه د صحابه وو اجماع هم نه مني، په يوه كمزوري او غريب روايت له دې كبله إصرار

لري چي په بخاري کې راغلی، په داسي حال کې چي له دې روایت سره نه د امام بخاري استادان موافق دي او نه هغه جلیل القدر ائمه چي یا تابعین دي او یا تبع تابعین او صحابه وو ته تر امام بخاري ډېر نږدې؛ امام بخاري له څلورم او پنځم نسل روایات تر لاسه کړي او هغوی له لومړي او دوهم نسل! دا هم عجیبه ده چي دا ښاغلي ځان ته اهل حدیث وایي! په داسي حال کې چي دوی اهل حدیث نه بلکې اهل بخاري دي، له بخاري پرته د حدیث ټول کتابونه له پام غورځوي؛ د نورو کتابونو متواتر، مشهور او عزیز روایات نه مني؛ د همداسي روایاتو په مقابل کې د بخاري هغه روایات هم مني چي هم غریب دي؛ هم د بخاري له نورو روایاتو سره تعارض لري او هم د نورو کتابونو له صحیح روایاتو سره؛ د تروایح په اړه د دوی ضعیف او ناسم دریځ؛ یوه روښانه بېلګه ده.

٦٥٣ - حَدَّثَنِي أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو شَيْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» مسند عبد بن حميد

١٢١٠٢ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ، ثنا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ، ثنا أَبُو شَيْبَةَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ» المعجم الكبير للطبراني

٧٧٦٢- حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلٍ : أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ. مصنف ابن ابی شیبه

٧٧٦٤- حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَمَرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِينَ رَكْعَةً. مصنف ابن ابی شیبه

٢٥٤٩٦ - حَدَّثَنَا يَزِيدُ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ يَعْنِي ابْنَ حُسَيْنٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ، وَصَلَّى خَلْفَهُ نَاسٌ بِصَلَاتِهِ، ثُمَّ نَزَلَ اللَّيْلَةَ الثَّانِيَةَ، فَكَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، ثُمَّ كَثُرُوا فِي اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ، فَلَمَّا كَانَتِ اللَّيْلَةُ الرَّابِعَةُ، غَصَّ الْمَسْجِدُ بِأَهْلِهِ، فَلَمْ يَنْزِلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا فِي ذَلِكَ: مَا شَأْنُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْزِلْ؟ فَسَمِعَ مَقَالَتَهُمْ، فَلَمَّا أَصْبَحَ، قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ مَقَالَتَكُمْ، وَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَنْزِلَ إِلَيْكُمْ إِلَّا مَخَافَةَ أَنْ يُفْتَرَضَ عَلَيْكُمْ قِيَامُ هَذَا الشَّهْرِ» مسند احمد

په دې روايت کې ويل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم درې شپې د تراويح لمانځه امامت وکړ؛ په څلورمه شپه دومره خلك جومات ته راغلل چې نه په کې ځايېدل؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم جومات ته رانغی، سبا ئې خلکو ته وويل: له دې کبله راونه وتلم چې داسي نه دا لمونځ درباندي فرض شي؛ که څه هم په دې روايت کې د شل رکعته تراويح يادونه نه ده شوې خو محققين وايي: له نورو رواياتو معلومېږي چې شل رکعته د تراويح لمونځ او درې رکعته وتر ئې کړی.

دلته څو نور روايات ستاسو مخي ته ږدو چې د شل رکعتونو لمانځه يادونه په کې شوې:

وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ الْقُرَظِيُّ: «كَانَ النَّاسُ يُصَلُّونَ فِي زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً يُطِيلُونَ فِيهَا الْقِرَاءَةَ وَيُوتِرُونَ بِثَلَاثٍ». مختصر قيام الليل

قَالَ الْأَعْمَشُ: «كَانَ يُصَلِّي عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» وَقَالَ عَطَاءٌ: «أَدْرَكْتُهُمْ يُصَلُّونَ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً , وَالْوِتْرُ ثَلَاثُ رَكَعَاتٍ» عَبْدُ اللَّهِ بْنُ قَيْسٍ عَنْ شُتَيْرٍ: وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ عَبْدِ اللَّهِ الْمَعْدُودِينَ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي بِهِمْ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ . مختصر قيام الليل

۱۳۷۳ - حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ الْوَلِيدِ الْمَدِينِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى، بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، عِشْرِينَ رَكْعَةً بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ» سنن ابن ماجه

په دې روايت کې د ماښام او ماخستن تر منځ د شل رکعته لمونځ بدله په جنت کې يو کور ګڼل شوی؛ که څه هم دلته د تراويح يادونه نه ده شوې خو له فحوی ئې معلومېږي چې اشاره شل رکعته تراويح ته ده.

## د روژې د پیل او پای او اخترونو اړوند اختلاف

رسول الله صلی الله علیه و سلم د قمري میاشتي د عمر په اړه څوارلس پېړۍ وړاندي فرمایلي چي قمري میاشت ۲۹ ورځي ده؛ په داسي حال کې چي هغه مهال عام ذهنیت دا وو چي قمري میاشت دېرش ورځي ده!! دا هغه دقیقه او علمي وینا ده چي انسانان ئې اوس په حقیقت پوه شوي؛ ساینس پوهان وایي چي قمري میاشت ۲۹ ورځي ۱۲ساعتونه ٤٤ دقیقې او ۳ ثانیې ده؛ راشئ دې روایاتو ته لږ ځیر شئ:

عن بن عُمَرَ قال: قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: "الشَّهرُ تِسعٌ وعِشرونَ لَيلَةً لا تَصوموا حَتَّى تَرَوه ولا تُفطِروا حَتَّى تَرَوه إلَّا أن يُغَمَّ عَلَيكُم فإن غُمَّ عَلَيكُم فاقدُروا له" السنن الكبرى للبيهقى

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: میاشت نه ویشت ورځي ده؛ نو تر هغه روژه مه نیسئ چي وئې گورئ او مه ئې ماتوئ تر هغه چي وئې گورئ او که درباندي وپوښل شوه نو (خپلې ټاکلې مودې ته یې ورسوئ (دېرش ورځې پوره کړئ) ورته پیاوړي شئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: ذَكَرْنَا لَيْلَةَ الْقَدْرِ عِنْدَ رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: "كَمْ مَضَى مِنَ الشَّهْرِ " فَقُلْنَا: مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي ثَمَانٍ فَقَالَ: "لا" بَلْ مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي سَبْعٌ؛ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ يَوْماً فَالْتَمِسُوهَا اللَّيْلَةَ" رواه ابن حبان

له ابو هریره روایت دئ چي وئې ویل: د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا

ته مو د قدر شپې يادونه وکړه نو وئې فرمايل: د مياشتي څومره تېره شوې؟ ومو ويل: دوه ويشت ورځي تېري شوې او اته پاته دي. نو وئې فرمايل: نه؛ بلکي دوه ويشت ورځي تېري شوې او اوه پاته دي؛ مياشت نه ويشت ورځي ده؛ نو له مخي ئې دا شپه ولټوئ.

دې ته ورته روايات زيات دي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په مختلفو مواردو کي ويلي چي مياشت ۲۹ ورځي ده؛ همدا بايد د روژې د مياشتي د روژو اصلي شمېر ونيسو او دېرشمه به ئي يوازي هغه مهال نيسو چي د سپوږمۍ ليدل تثبيت نشي؛ د ليدني لپاره ئې هم د دوو مسلمانو شاهدانو شهادت کافي دئ؛ دې روايت ته ځير شئ:

عن ابى هريرةَ: قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: "صوموا لِرُؤيَتِه وأَفطِروا لِرُؤيَتِه فإِن غُمَّ عَلَيكُمُ الشّهرُ فعُدّوا ثَلاثينَ". رَواه مسلمٌ وَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ مُسْلِمَانِ [ذَوَا عَدْلٍ] فَصُومُوا وَأَفْطِرُوا "

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل: په ليدو سره ئې روژه ونيسئ او په ليدو سره ئې ماته کړئ. او که مياشت دربانديِ شکمنه شوه نو دېرش ئې وګڼئ او که دوه عادل مسلمانان ئې د ليدو شهادت ورکړي نو روژه شئ او إفطار ئې کړئ.

راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه لارښوونه لري؛ قرآن فرمايي:

... شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ....

... د روژې مياشت هغه ده چي په هغې کي قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لارښود، د هدايت څرګندي نښي او فرقان (د حق او باطل د تفکيك او بېلولو لپاره معيار او ملاك)؛ نو چي څوك دا مياشت مومي هغه دي روژه ونيسي...

په دې مبارك آيت کي څو اساسي لارښووني مومو:

---

- د دې میاشتې روژه د دې لپاره فرض کړی شوې چې په دې کې قرآن نازل شوی، دا د خلکو لپاره لارښود کتاب، دا د څرګندو لارښوونو او د حق او باطل تر منځ د فرق کولو لپاره روڼ څراغ په کې نازل شوی، د دې ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره باید روژه ونیسئ.
- په دې روژې سره به تاسو د الله په لویي او عظمت اعتراف کړی وي او د همدې روژې او د قرآن د درناوي له کبله به مو هدایت په برخه شي.
- له دې آیت دا هم په څرګنده توګه معلومیږي چې د روژې میاشتې په داخلیدو سره د نړۍ پر ټولو مسلمانانو روژه نیول فرض کیږي او د روژې میاشت هغه وخت پیل کیږي چې د دې میاشت سپوږمۍ له محاق ووځي او د نړۍ په کوم ځای کې ولیدل شي، له محاق وتل او چیري د هغې څرګندېدلو معنی دا ده چې نوې میاشت پیل شوې او په ټولو روژه نیول لازم شوي، د دې آیت له مخې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، داسې نه ده چې میاشتې په هر هېواد کې بېل بېل پیل او پای لري. د نړۍ په هر ځای کې چې د نوې میاشت سپوږمۍ ولیدل شي؛ نو نوې میاشت پیل شوې؛ د لیدو لپاره ئې د دوو عادل شاهدانو ګواهي کافي ده؛ د نړۍ پر ټولو مسلمانانو ئې روژه نیول فرض کیږي.

په آیت کې ویل شوي: (فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ: نو چې څوك دا میاشت بیامومي هغه دي روژه ونیسي)؛ داسې نه دي ویل شوي (فمن رأی منکم القمر: څوك چې له تاسو سپوږمۍ وګوري)؛ یعني د روژې نیول د روژې میاشتې په پیل پوري مربوطه ده؛ هر څوك چې دې میاشت ته ننوځي؛ نو روژه نیول پرې فرض شوه. البته د روژې میاشتې پیل او پای د سپوږمۍ له مخې ټاکلی شو.

د میاشتو لپاره دوه معروف تقویمونه لرو؛ یو ئې د لمر پر محور د ځمکې په حرکت پوري او بل ئې د ځمکې پر محور د سپوږمۍ په حرکت پوري مربوط

دئ، زمکه په درې سوه پنځه شپېته ورځو او څه د پاسه شپږو ساعتونو کې یو ځل د لمر پر محور څرخي، دې ته ځینو د یوه کال نوم ورکړی، هغه ئې په دولسو میاشتو وېشلی، ځیني ئې دېرش او ځیني ئې یو دېرش ورځي دي. او سپوږمۍ په (۲۹ ورځو ۱۲ساعتونو ٤٤ دقیقو او ۳ ثانیو) کي د رؤیت پړاو بشپړوي؛ دا موده ثابته ده، که څوك علمي محاسبې ته ارزښت ورکړي نو د بشپړ کال ټولي قمري میاشتي داسي ټاکل کېدی شي چي کمی او زیاتی به په کي نه راځي، د محاسبې له مخي دا معلومېدی شي چي سپوږمۍ کله خپل میاشتنی مدار بشپړوي، په کوم ځای کي، په کوم ساعت، دقیقه او ثانیه له سترګو پټېږي او چېري، په کوم ساعت، دقیقه او ثانیه راڅرګندېږي او د نوې میاشتي مدار پیلوي. دا چي اسلام د میاشتي د پیل او پای لپاره رؤیت ته اعتبار ورکړی دا ډېره دقیقه او علمي وینا ده، ځکه د سپوږمۍ په لیدو سره ثابته کېږي چي هغه د نوې میاشتي مدار ته داخله شوې. څوك چي رؤیت ته اعتبار نه ورکوي او د هري سیمي لپاره د مستقل او بېل رؤیت خبره کوي ډېر کم عقله او له دین او علم بې خبر دئ. اوس او د مخکي تللو وسائلو په مرسته؛ هغه ثانیه او سیمه هم په دقیقه توګه معلومولی شو چي سپوږمۍ له محاق وځي، د مخکینۍ میاشتي مدار ئې بشپړ کېږي او د نوې میاشتي مدار پیلوي. دا هم ډېره علمي خبره ده چي د رؤیت لپاره د دوه متقي انسانانو شهادت کافي ګڼل شوی. ناپوهان او هغه ټګماران چي د دښمن له لوري ګمارل شوي چي په امت کي اختلافات راولاړ کړي؛ له دې موضوع هم د اختلاف وسیله جوړوي، شیعه او بریلویان له سعودي او سلفیانو سره د سیاسي او مذهبي اختلاف له کبله روژه او اختر یوه او حتیّٰ دوه ورځي وروسته اعلانوي!! احناف د سپوږمۍ د مطالع (راڅرګندېدو) اختلاف د اعتبار وړ نه ګڼي؛ د قرآن، حدیث او علم وینا همدا ده.

راشئ دا موضوع په دې توګه ستاسو مخي ته کښېږدم: تاسو کولی شئ په خپل کمپیوټر کي داسي سافټ ویر (پروګرام) نصب کړئ چي د میاشتي په پیل

کې د سپوږمۍ د راڅرګندېدو او په پای کې له سترګو پټېدو او په نوې میاشت کې د بیا راڅرګندېدو دقیقه نېټه، وخت، ساعت، دقیقه او ثانیه، هره ورځ د سپوږمۍ د طلوع او غروب وخت دروښیي؛ داسي لکه چي د لمر د طلوع او غروب وخت درښیي او همغسي لکه چي ستاسو ساعت د لمر طلوع، غروب او د لمانځه وختونه درښیي. اوس که تاسو د روژې په نه ویشتمه او د ماښام په ٦ بجو؛ چي همدا ستاسو په ځای کې د ماښام د أذان وخت دئ؛ له خپل کمپیوټر وپوښتئ چي سپوږمۍ به کله او چېري راڅرګندېږي؛ او تاسو ته ووایي: د راڅرګندېدو لپاره ئې لا دوه ساعته او دېرش دقیقې پاته دي؛ د دې معنی دا ده چي سپوږمۍ به په هغه هېواد کې لیدل کېږي چي ستاسو د اوسني موقعیت په غرب کې او له تاسو دومره لري پروت دئ چي د وخت توپیر ئې ستاسو له موقعیت سره دوه نیم ساعته دئ؛ یعني چي سپوږمۍ به په مصر او د مصر په غرب کې هېوادونو لکه لیبیا او المغرب کې لیدل کېږي؛ که تاسو د سعودي د مفتي په فتوی عمل کوئ او منتظر یئ چي په سعودي کې د تلسکوپ شا ته ناست مفتي به د سپوږمۍ په اړه تاسو ته دقیق او صحیح معلومات درکړی شي؛ نو یقیناً چي اشتباه مو کړې؛ او که مو له مصر، لیبیا او مراکش واورېدل چي سپوږمۍ ولیدل شوه نو پر تاسو لازمه ده چي د هغوی په فتوی همداسي عمل وکړئ لکه چي په خپل هېواد یا په سعودي کې د یوه مفتي په فتوی روژه نیسئ او اختر کوئ؛ آیا د دې لپاره کومه عقلي او شرعي توجیه موندلی شو چي د سعودي په فتوی عمل کولی شو خو د نورو هېوادو د مسلمانو مفتیانو او شاهدانو په وینا عمل نشو کولی؟! آیا دا صحیح ده چي د لمانځه د وختونو په ارتباط پر ساعت باور او عمل کولی شو خو د هلال په ارتباط په خپل کمپیوټر باور او عمل نه شو کولی؟ پیشلمی او روژه ماتی یا د ساعت له مخي کوو یا د هغه مؤذن په أذان چي د یوه داسي جدول له مخي آذان کوي چي د ساعت په مرسته جوړ شوی؛ او د سپوږمۍ د مطالع او د میاشتي د پیل او پای په اړه د ساعت او کمپیوټر دقیق او علمي معلومات د

---

اعتبار وړ نه ګڼو؟!!

زه همدا اوس چي دغه مطلب تاسو ته وايم او د خپل کمپیوټر مخي ته ناست يم؛ که وغواړم ځان ته معلومه کړم چي دغه شپه سپوږمۍ چېري ده او په کومه ورځ به له سترګو غائبېږي او کله به بېرته راښکاره کېږي؛ نو په څو ثانيو کي به زما کمپیوټر دا ټول معلومات زما مخي ته کښېږدي، د سپوږمۍ د غائبېدو حالت به هم راته جوت کړي، نېټه ئې هم او سيمه هم؛ او د ښکاره کېدو حالت او نېټه او سيمه هم. لکه څنګه چي موږ پر خپلي ګړۍ اعتماد کولی شو او له مخي ئې د لمانځه، پېشلمي او روژه ماتي وختونه ټاکلی شو همداسي د کمپیوټر پر محاسباتو او معلوماتو اعتماد کولی شو.

راشئ دا هم وګورو چي قرآن خپل مخاطب ته د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه څه لارښووني لري؛ قرآن د روژې د بحث په لړ کي د سپوږمۍ د ورو ورو سترېدو په اړه فرمايي:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَـٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ البقره: ۱۸۹

د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه تا پوښتي، ورته ووايه: دا د خلکو لپاره د وختونو او د حج د تعيين وسيله ده او ښېګڼه دا نه ده چي کورونو ته له شا راشئ، بلکي ښېګڼه دا ده چي څوك ځان وساتي؛ او کورونو ته له دروازو ننوځئ او له الله ووېرېږئ چي بريالي شئ.

خلکو به له پيغمبر عليه السلام راز راز پوښتني کولې او دا انتظار ئې درلود چي د دوی د هري پوښتني ځواب به ورکوي، د سپوږمۍ په اړه ئې هم ترې پوښتنه کوله چي دا څنګه راڅرګنده شي، وړه وي، ورو ورو لويه شي، بېرته وړه شي او د مياشتي په پای کي له سترګو غائبه شي؟

دلته د دوی په ځواب کې دوه خبرې شوې:

- دا الله تعالی د وخت د تعیین لپاره په دې بڼه کې پیدا کړې، د وخت د تعیین لپاره داسې وسیله ده چې هر څوك، لوستی او نالوستی، هم د ساعتونو تعیین پرې کولی شي، هم د میاشتو او هم د کلونو، که ئې کوم کال د دوبي په لومړۍ میاشت کې روژه نیولې وه او سږ کال بیا په همدې میاشت کې روژه نیسي، ډېر ژر کولی شي پوه شي چې په ده باندې شپږ دېرش کاله تېر شوي، د وخت دا محاسبه له بلې لارې ډېره ګرانه ده.

- خو دا چې د میاشتې حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي، قرآن هغوی ته وایي: اوس په دې پوهېدل تاسو ته ګران کار دي، په یوه څه پوهېدل ځانته وخت او ځانته خاصه لار لري، په خپل وخت او له خپلې لارې ئې د پوهېدو لپاره صبر وکړئ، لکه چې کورونو ته باید له خپلې دروازې ننوځئ نه له شا ئې، همدا راز په دې پوهېدل چې د سپوږمۍ حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي، دا هم خاص وخت او داسې خاصې پوهې ته ضرورت لري چې اوس ئې تاسو نه لرئ، تر هغه صبر وکړئ چې په دې پوهېدل درته ممکن شي. احیاناً له خپل وخت مخکې د یوه څه په اړه پوښتنې د دې پر ځای چې ګټه وکړي انسان ته ستونزې راولاړوي، قرآن دغه مطلب ته په دې آیت کې داسې اشاره کوي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَسۡـَٔلُواْ عَنۡ أَشۡيَآءَ إِن تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ وَإِن تَسۡـَٔلُواْ عَنۡهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلۡقُرۡءَانُ تُبۡدَ لَكُمۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ المائدة:۱۰۱

اې مؤمنانو! د هغو شیانو په اړه پوښتنې مه کوئ چې که درته څرګند شي نو خفه به مو کړي او که په اړه ئې هغه وخت پوښتنه وکړئ چې قرآن نازلېږي نو درته څرګند به شي، الله دې د دې عفو وکړي او الله حلیم بخښونکی دئ.

په تفاسیرو کې دا هم راغلي چې ځیني عرب به له حج وروسته خپلو

کورونو ته د دروازې له لارې نه ننوتل، یا به ئې د شا له دېواله کور ته دانګل، یا به ئې نوې دروازه پرانیسته او کور ته به داخل شول. دا ئې د تقوی نښه ګڼله، داسې به ئې انګېرله چې په حج سره بدل شوي او اوس باید له زړې دروازې نه؛ بلکې له نوې دروازې کور ته ننوځي!! په دې آیت کې له یوې خوا مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې هر کار له خپلې طبیعي لارې ترسره کړئ، عجله مه کوئ، په یوه څه د پوهېدو لپاره له دروازې داخل شئ مه له شا او غیر طبیعي لارې. له بلې خوا د سعادت او فلاح د عواملو په اړه د یوه جاهل قوم انګېرنه او تصور معرفي شوی، دوی په داسې منحطو شکلیاتو کې دین راخلاصه کړې، دې ته د تقوی نوم ورکړې او په دې سره دنیوي سعادت او اخروي فلاح تر لاسه کول غواړي، د دین له روح غافل شي، د دین اساسي خبرې شا ته وغورځوي، الله هېر کړي، د شرك مرتکب شي، منافقت او خیانت کوي، یو د بل وینې تویوي خو همدا دوی به له خپلو ټولو سترو سترو انحرافاتو سره سره په فروعي مسائلو سخت نښتي وي او دا به د خپلې تقوی نښې ګڼي!!

په دې سورې کې د دې بد خصلت څو بېلګې وړاندې شوې، د غوا د رنګ، عمر او کار په اړه د بني اسرائیلو مکرر پوښتنې، د قبلې په اړه د دوی اعتراضات او دا دئ د مدینې د خلکو دا تصور چې له حج وروسته د دروازې له لارې کور ته ننوتل ئې د تقوی خلاف کار ګڼلو، دوی ته ویل شوي چې بِر او ښېګڼه دا نه ده، ښېګڼه له الله وېرېدل او له حرامو ځان ساتل دي.

## عاشوراء

عاشوراء هم يوه له هغو مسائلو ده چي په اړه ئې په امت کې د شديد اختلاف شاهد يو، دا اختلافات يا سياسي جرړې لري او يا له متضادو رواياتو راولاړ شوي. تر دې د مخه چي وګورو د عاشوراء اړوند روايات څه وايي، کوم يو ئې صحيح او د اعتبار وړ دئ، کوم ئې جعلي، موضوعي، ضعيف او بې اعتباره دئ، د قرآن او سنت په رڼا کې د عاشوراء په اړه څه ويلی شو او په دې ورځ څه کول جائز او څه ناجائز ګڼلی شو، بايد هغو کړکجنو او د اسلام د بنسټيزو اصولو خلاف او د اسلام د روح او مزاج ضد اعمالو ته اشاره وکړو چي ځيني خلك ئې د مذهب تر نامه لاندې په دې ورځ ترسره کوي او هغه د ثواب کار او جنت ته د رسېدو وسيله بولي؛ داسي اعمال چي نه په قرآن کې ورته جواز موندلی شو، نه په سنت کې او نه د صحابه وو په منهج کې، نه له عقل سره اړخ لګوي او نه د يوه سليم الفطرت انسان له مذهبي احساس سره.

ځيني په دې ورځ د ماتم غونډې جوړوي، وير کوي، کوڅو او بازارونو ته راوځي، د خلکو په وړاندې ځان په زنځيرونو وهي، توري جامې اغوندي، خپلي سينې په څپېړو وهي، ځيني ئې له نامه پورته ځانونه لوڅ کړي او خپلي شاګاني په زنځيرونو وهي، ځيني د سرود په بڼې کې يا حسين يا حسين او يا علي مدد وايي او څڼې اچوي، حرکات ئې منظم او د يوه مذهبي رقص په څېر او له ډول او سرود سره توأم، د جلوس په سر کې د ذوالجناح په نامه زين شوی او سينګار شوی آس روان، بيرغونه ئې تور او د لرګي پر سر ئې د رغوي او پنځو ګوتو نښان (چي دوی ئې د پنج تن پاك نښه ګڼي)، رنګ رنګ ټوټې او دسمالونه پرې راځوړند، دا کار په داسي حال کې کوي چي عملاً د طاغوت تر

سلطې لاندي ژوند کوي، د ظالمانو ملګرتيا کوي، مرسته ترې غواړي خو په خوله ئې د يا علي مدد دعاء وي،... دې ته وايي له امام حسين رضي الله عنه سره محبت او د هغه د شهادت په نامه ماتم!! دا حرکات نه يوازې کرکجن، د دين او عقل خلاف دي او هيڅ الهي دين او هيڅ صحيح مذهب ئې جائز نه ګڼي، بلکې داسي خرافات دي چې هر عقلمن انسان ترې کرکه لري او الهي اديان د دې لپاره راغلي چې د دغو شرك لړلو دودونو او خرافاتو ټغر ټول کړي.
دوی دا مراسم په داسي حال کې لمانځي، پر يزيد او يزيديانو لعنت وايي چې تر يزيد د لازياتو ظالمانو اطاعت او ملګرتيا کوي!! امام حسين د يزيد له بيعت ډډه وکړه او په دې لار کې ئې شهادت قبول کړ خو دوی په افغانستان او عراق کې د امريکايانو تر سلطې لاندي ژوند کوي، نه يوازې مخالفت ئې نه کوي او ساکت، راضي او تسليم دي بلکې د امريکايانو تر قومندې لاندي د سنيانو په ضد جنګېږي، په عراق کې د دوی ستر مذهبي مشر د امريکايانو د يرغل ملګرتيا وکړه، د نجف کلياني ئې امريکايانو ته وسپارلې، خپلو پلويانو ته ئې له امريکايانو سره د ملګرتيا او د دوی تر قومندې لاندي جنګېدا فتوی ورکړه، د محرم د لسمي مراسم ئې په داسي حال کې لمانځل چې امنيت ئې د انګرېزانو او امريکايانو له خوا تأمين شوی وو. په پاکستان کې د پرويز مشرف خوا ته ودرېدل، امريکايانو له دوی داسي ټولګي جوړ کړل چې د سنيانو په ضد ئې وجنګوي. په افغانستان، عراق او پاکستان کې په جوماتونو، مدرسو، مکتبونو، ښارونو، زيارتونو او د خلکو د تجمع په ځايونو کې چاودني د دوی په لاس او د امريکايانو په وينا تر سره کېږي.

د دوی دا جلوسونه کټ مټ همغسي دي لکه چې يهودانو به کول او په محرف بايبل کې ئې يادونه شوې، همغسي په کوڅو کې مذهبي رقص، سرود، نڅا او څڼې غورځول او ځانونه زخمي کول، يقيناً چې د ځينو اکثر مذهبي عقائد او مراسم له يهودانو کاپي شوي، نه ئې په قرآن کې شاهد مومو او نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم په سنت کې او نه د صحابه وو په منهج کې،

له دوی پوښتنه کوو: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپل ګران تره حمزه رضي الله عنه د شهادت له کبله داسي ماتم کړی چي تاسو ئې کوئ؟ مګر د حمزه رضي الله عنه قرابت رسول الله صلی الله علیه و سلم ته تر علي ورنږدې نه وو؟ مګر د هغه مقام تر علي رضي الله عنه او د ده تر اولاد لوړ نه وو؟ مګر له اسلام د دفاع په چارو کي د هغه ونډه تر دوی زیاته نه وه؟ آیا هغه د بدر او احد د سترو جنګونو دوهم قائد نه وو؟ آیا د هغه شهادت د دوی تر شهادت زیات دردوونکی نه وو؟ آیا هغه د دښمنانو په لاس مُثله نه شو؟ ولي رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه لپاره ماتم ونه کړ؟ ولي تاسو د هغه لپاره ماتم نه کوئ؟ آیا صحابه وو د عمر رضي الله عنه، عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه د شهادتونو له کبله ماتم کړی؟ آیا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د علي رضي الله عنه د تره زوی؛ د ده او حسین رضي الله عنه او د ده د کورنۍ د غړو د شهادت له کبله ماتم کړی؟ موږ ته د صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو او ټول سلف په تاریخ کي د داسي ماتم یوه بېلګه راوښیئ؟ که ماتم جائز وی نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د وفات ورځ د غم او ماتم هغه ستره ورځ ده چي په ټول انساني تاریخ کي ئې نظیر نشته، ولي په دې ورځ ماتم نه کوئ؟! ولي صحابه وو د علي، حسن او حسین رضي الله عنهم په شمول ماتم ونه کړ؟!! یقیناً چي تاسو د دې وینا مصداق یئ: و قالت الیهود عزیر بن الله و قالت النصاری المسیح بن الله و قالت الشیعه علی بن الله: یهودانو وویل عزیر د خدای زوی دئ، نصرانیانو وویل مسیح د خدای زوی دئ، شیعه وو وویل علي د خدای زوی دئ!! او د ده د اولاد دولس تنه پر زمکه د خدای ځای ناستي، همغسي لکه چي مسیحیانو عیسی علیه السلام ته دولس حواریون وټاکل او هغوی ئې د خدای او د خدای د زوی ځای ناستي وګڼل!! دوی موهومي امام زمان چي وایي د یوې چینې خوا ته په پنځه کلنۍ کي ورك شوی په آسمانونو کي لټوي او د ژر بېرته راتلو لپاره ئې وایي: عجل الله فرجه الشریف: خدای دي د ده شرافتمن

خلاصون رانږدې کړي!!! يعني په کوهي کې لوېدلی، خدای دي هغه راوباسي چي راشي او د دوی دښمنان ورته ذبح کړي او د شيعه وو پاچايي رامنځته کړي او دا همغه څه دي چي يهودانو د عزير عليه السلام په اړه ويل چي د يوه نهر خوا ته له خپل ملګري بېل شو او د آسمان په لوري وخوت!! يهودان هم د يوه داسي مسيح راتلو ته منتظر دي چي له آسمان به راکوزېږي او د يهودانو ټول دښمنان به له تېغه تېروي او د زمکي پر سر به د دوی ستره پاچايي جوړوي!!!

اکثر جاهلي مذاهب په غائب ناجي باور لري او راتلو ته ئې انتظار کوي، په دې اړه بوديايان، د متراس پلويان، مسيحيان، يهودان او شيعه سره ورته دي، توپير ئې په دې کي دئ چي د ځينو منتَظَر ناجي اول دنيا ته راغلی، ستر ستر کارونه ئې کړي، مړ شوی، بېرته ژوندی شوی، آسمان ته ختلی، بيا به راځي، د يهودانو منتَظَر ناجي لا نه دئ پيدا شوی، په مناسب وخت کي به پيدا شي او يهودانو ته به ستر ستر کارونه وکړي، د شيعه وو منتَظَر ناجي پنځه کلن وو چي غائب شو، تر اوسه ژوندی دئ، خدای د ټول عالم چاري ورسپارلې دي، د شيعه وو دعاءګاني د ده له لاري او د ده په شفاعت او وساطت قبلوي، په مناسب وخت کي به راشي او د شيعه وو ټول دښمنان به ووژني!! دا داسي ناجي ګڼي چي پلار، نيکه، جد او ټول سلف ئې وفات شوي خو دئ څوارلس پېړۍ تېرېږي چي لا ژوندی دئ او د قيامت تر ورځي به ژوندی وي!! اوس نو تاسو قضاوت وکړئ چي په دغو ډلو کي د کومي ډلي عقيده تر ټولو زياته د عقل خلاف او په خرافاتو ولاړه ده؟!! آيا د دې جاهلانو پر عقل ژړا نه ده په کار؟!!

د مړو لپاره داسي ماتمونه نه يوازي جائز نه دي بلکي د اسلام له سترو سترو اساساتو سره تصادم کوي، له دې سره چي د مرګ او ژوند پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، دا چي د مرګ نېټه له وړاندي ټاکل شوې، دا چي مرګ د نوي ژوند پيل دئ، دا چي شهيد ژوندی دئ، دا چي په مرګ سره موږ د خپل رب

په لوري درومو، دا چي د الله په لار کې شهادت ستره بريا او فوز عظيم دئ، آيا دا عقيده چا ته اجازه ورکوي چي په شهيدانو ماتم وکړي؟!! قرآن مؤمنان داسي معرفي کوي چي کله کوم مصيبت وروررسېږي وايي: إنا لله و إنا إليه راجعون: موږ د الله يو او د هغه لوري ته ورګرځېدونکي، دا خو د رضايت او قناعت شعار دئ نه د شکايت، وير او ماتم چيغه!! قرآن موږ ته د مصيبتونو په وړاندي د صبر سپارښتنه کوي او ماتم د صبر خلاف عمل دئ، کوم کار چي پيغمبر عليه السلام نه دئ کړی، صحابه وو نه دئ کړی، ائمه وو نه دئ کړی ته څنګه د دې کرکجن بدعت مرتکب کېږي او داسي څه ته مذهبي رنګ ورکوې چي د دين او مذهب له اساساتو سره تصادم کوي؟!!

ځيني د تاريخ ستري پېښي دې ورځي ته منسوبوي او وايي: آدم عليه السلام په دغه ورځ پيدا شوی، له جنت له راکوزېدا وروسته دی او مېرمن ئې په دغه ورځ سره يو ځای شوي، نوح عليه السلام په دغه ورځ ژغورل شوی، فرعون په دغه ورځ غرق شوی او موسی عليه السلام له بحر روغ تېر شوی، يونس عليه السلام په دغه ورځ د کب له ګېډې سالم وتلی، ابراهيم عليه السلام په دغه ورځ له اوره روغ وتلی!!! او دا ټول د دې لپاره يادوي چي وښيي د کربلا او د حسين رضي الله عنه د شهادت پېښه په دغي ستري تاريخي ورځي رامنځته شوې!! دې ته هم پام نه کوي چي د هغو سترو سترو پېښو د کربلا له پېښي سره هيڅ مناسبت او مماثلت نشته، په هغوی کې الله تعالی ظالمان او د دين دښمنان هلاك کړي او پيغمبرانو عليهم السلام ته ئې بريا ورپه برخه کړې او له کړاوونو ئې ژغورلي، حال دا چي په کربلا کې د دغو ټولو تاريخي پېښو خلاف د حسين رضي الله عنه په شمول د ده د کورنۍ او پلويانو نږدې اويا غړي په شهادت رسېدلي!! دې ته نه ګوري چي د عاشوراء د ورځي د سترو سترو تاريخي پېښو اړوند روايات ټول اسرائيلي روايات دي چي هيڅ وزن او ارزښت نه لري.

ځيني دې ورځي ته د يوم من ايام الله نوم ورکوي!! چي دا نُومَونه په

---

بشپړه توګه غلطه ده، قرآن هغو سترو ورځو ته د ایام الله نوم ورکړی چي د شر، فساد، کفر او شرك ستر ستر ځواکونه په سخت الهي عذاب اخته شوي او حقپالو ته ستره او تاریخي بریا ورپه برخه شوې.

ځیني د محرم الحرام ټوله میاشت دومره سپېڅلې میاشت بولي چي له روژې پرته تر ټولو میاشتو ئې افضل ګڼي، دا په داسي حال کي چي نه په قرآن کي د دې میاشتي د ځانګړي فضیلت په اړه څه ویل شوي او نه په کوم صحیح حدیث کي، د اسلام له نظره ټولي ورځي او میاشتي یو برابر دي، د اوقاتو فضیلت ذاتي نه دئ، د هغه ځانګړي عمل له مخي یو وخت پر بل فضیلت مومي چي په هغه کي ترسره شوی. د روژې میاشت د دې لپاره افضل ګڼل شوې چي په دې کي قرآن نازل شوی، د قدر شپه له دې امله په دې نامه یاده شوې او تر زرو میاشتو غوره ګڼل شوې چي په همدې شپه پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن نزول پیل شوی، څلور حرام میاشتي، رجب، ذي القعده، ذي الحجه، محرم او رجب له دې امله د اشهرالحرام په نامه یادي شوې چي په دې که به د حج او عمرې مراسم ترسره کېدل.

د عاشوراء د ورځي دا ماتمونه سیاسي خلفیه لري، ایراني واکمنو او مذهبي آخوندانو ئې د عاشوراء له ورځي او پېښي د عربو او ټول اسلامي امت په ضد د یوې حربې او وسیلې په توګه کار اخیستی، دوی یزید سنیانو ته منسوبوي او حسین رضي الله عنه د شیعه وو امام ګڼي، سنیان د جابر او قاتل ملګري بولي او شیعه د اهل بیت پلویان او محبان، دوی علي رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم یوازینی حقیقي ځای ناستی ګڼي او د علي رضي الله عنه هغه اولاد چي له فاطمې رضي الله عنها پیدا شوي؛ د امامت منصوصي وارثان بولي، ټولو هغو صحابه وو ته د منافق خطاب کوي چي له علي رضي الله عنه پرته ئې له بل چا سره بیعت کړی، ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم د امارت غاصبان بولي؛ او دا ټولي خبري هم د قرآن خلاف دي او هم د عقل او منطق خلاف!! دا خبري یوازي هغه تورزړی او بدضمیره انسان کولی

شي چي له اسلام او مسلمانانو سره ئې کلکه کينه او دښمني په زړه کې وي، ځوك چي پر قرآن باور لري هغه پوهېږي چي په اسلام کې نه د موروثي امارت تصور شته او نه د منصوصي امامت، قرآن امارت او امامت د خلکو امانت ګڼي او د امير او امام انتخاب د مسلمانانو وجيبه او حق بولي، مسلمانانو ته امر کوي چي دا امانت هغه چا ته وسپارئ چي اهل وي!! په ټول قرآن کې د علي رضي الله عنه په اړه نه صراحتاً څه مومو او نه اشارتاً، که امامت موروثي وی نو په قرآن کې به د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ځای ناستي نوم په واضح توګه اخيستل شوی وو، همغسي لکه د هارون علیه السلام نوم چي اخيستل شوی، که داسي وی نو الله تعالی به تر قيامت پوري د ټولو هغو امراءو نومونه په قرآن کې ياد کړي وو چي الله تعالی ورته ټاکلي!! له دې پرته خو منصوصي امارت هيڅ معنی نه لري!! د صحابه وو له لوري يو په بل پسي د څلورو خلفاوو انتخاب ښيي چي اسلام په موروثي امارتونو باور نه لري، د موروثي امارت تصور د دين، عقل او عدل خلاف تصور دئ. دا هغه تصور دئ چي پاچايان ئې خوښوي، ځوك چي له دې پرته بله خبره کوي يا جاهل دئ يا په غرض او مرض مبتلا، موږ ته ووايئ: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لاس روزل شوي صحابه په دين ښه پوهېدل که نن زمانې هغه آخوندان چي قرآن د کتاب له مخي هم سم نشي لوستلی؟!! آيا تر دې د لوی ظلم تصور کېدی شي چي ځوك صحابه وو ته بد رد وايي، هغه صحابه چي په سلو کې تر نوي زيات ئې د الله تعالی په لار کې شهيدان شوي او ډېری ئې له مدينې بهر او د جهاد په سنګرونو کې!! حقيقت دا دئ چي د روافضو د مذهب بنسټ د اسلام د کينه کښو دښمنانو په لاس ايښودل شوی. د فارس هغو سياسي او مذهبي واکمنو کورنيو چي د ساسانيانو د اقتدار په دوران کې ئې پر ايران او ايرانيانو حکومت کولو او اقتدار ئې د عربو مسلمانو په لاس نسکور شو، د غچ اخيستو لپاره د علي رضي الله عنه هغو لمسيانو ته پناه ورکړه چي د امويانو د اقتدار په دوران کې هجرت ته مجبور شوي وو، هغوی دغه سياسي اقدام ته

---

مذهبي رنګ ورکړ، همدلته د یوه نوي مذهب بنسټ کېښودی شو چې له علي رضي الله عنه او د هغه له اولاد سره د محبت اظهار او سنیانو سره دښمني ئې ستره او اساسي ښکارندویه وه، که څه هم د دې مذهب لړۍ له هغه مهاله پیل شوې وه چې یهودي عبدالله بن سبا د عثمان رضي الله عنه د شهادت توطئه جوړه او پلې کړه، چې په همدې سره په اسلامي امت کې د خونړیو فتنو هغه دردناکه سلسله پیل شوه چې د اسلامي امت په ټوټې ټوټې کېدو او د اسلامي خلافت په زوال منتج شوه. دا مفتن ابن سبا او د ده ملګري ول چې د عثمان رضي الله عنه له شهادت وروسته ئې د علي رضي الله عنه د پلویانو په لیکو کې ځان ته مورچلي جوړي کړې، علي رضي الله عنه ئې دې ته اړ کړ چې دارالخلافه له مدینې کوفې ته انتقال کړي، دا دوی ول چې د کورنیو جګړو اور ئې بل کړ، د عثمان رضي الله عنه د قاتلانو د محاکمې مخه ئې ونیوله، د علي رضي الله عنه او هغو صحابه وو تر منځ ئې د هري موافقې او روغي جوړي مخنیوي وکړ چې د عثمان رضي الله عنه د قاتلانو د محاکمې غوښتنه ئې کوله. همدا دوی ول چې لومړی د علي رضي الله عنه او بیا د امام حسین رضي الله عنه د شهادت باعث شول. له مدینې کوفې ته د دارالخلافه انتقال هغه ستره المیه او فاجعه وه چې جبران ئې ممکن نه وو، په امت کې د ډېرو سترو فتنو پیلامه شوه، د ابن سبا ملګرو د همدې لپاره ټینګار کولو چې علي رضي الله عنه دې کار ته اړ کړي، مدینه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لاس جوړه شوې وه، له کفر، شرك، نفاق او منافقینو تصفیه شوې وه، ولس ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لاس روزل شوی وو، منافقینو هلته د پښو ځای نه موندو، دیني، فکري، اخلاقي او معنوي فضاء ئې داسي جوړه شوې وه چې هیڅوك نشو توانېدی په څرګنده توګه د اسلام او ایمان منافي عمل جسارت وکړي، که چا به غلط ګام اخیستو نو له هر لوري به له مخالفت سره مخامخېدو، په ټول یقین سره ویلی شو چې که دارالخلافه کوفې ته نه وی انتقال شوې نو شام به هم په دارالخلافه نه بدلېدو، نو یزید

به هم امارت ته نه وو رسېدلی، د مدينې فضاء چا ته اجازه نه ورکوله چې قصرونه جوړ کړي او امارت ميراثي کړي. د مدينې اهميت دومره وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د مکې له فتحي وروسته نه يوازي مدينې ته راستون شو او دا ډاډمن سنگر ئې پرې نښود، بلکي هيڅ مهاجر ته ئې اجازه ورنه کړه چې په مکې کې په خپل مخکيني کور او کلي کې پاته شي!!

د علي رضي الله عنه له شهادت نږدې څلور سوه کاله وروسته يو څوك راولاړ شو، کتاب ئې وليکو، ده ته ئې منسوب کړ او ډېر داسي څه ئې په کې وليکل چې د ده له شأن او مقام ډېر ډېر لري او د قرآن او عقل خلاف وو، خو همدا کتاب د يوې مذهبي فرقې د رامنځته کېدو باعث شو، داسي کتاب هم وليکل شو چې په هغه کې له خره او چنگښې هم احاديث روايت شوي!! ښايي بې مناسبته به نه وي که دې مطلب ته اشاره وکړم چې يوه ورځ مي د ايران په ټلويزيون کې يو آخوند تر سترگو شو چې ويل ئې: کله چې د آدم عليه السلام په کالبوت کې روح پو شوه او راژوندی شو نو لومړۍ خبره ئې دا وه: يا علي! کله چې نوح عليه السلام په کښتۍ کې سپرېدو وئې ويل: يا علي! کله چې ابراهيم عليه السلام اور ته لوېدو وئې ويل يا علي!! او... او... او کله چې پيغمبر عليه السلام د معراج په شپه له اوم آسمانه تېر او عرش ته نږدې ورسېد يو غږ ئې واورېدو او وئې ويل: يا الله دا ته يې که دا علي؟ له هغې خوا ورته وويل شو: دا زه يم خو ما د زمکي پر سر تر علي غوره انسان پيدا نه کړ چې د هغه په غږ له تا سره خبري وکړم!!!! دا نن چې تاسو ايران ته ولاړ شئ نو وبه گورئ چې څوك کومي خوني ته ننوځي نو وايي: يا علي! چې له ځای پاڅېږي وايي: يا علي!! له علي رضي الله عنه مرسته غواړي، له هغه چا چې جومات ته په داسي حال کې روان وو چې يو قسي القلب دښمن ورته په کمين کې ناست وو، دی ترې خبر نه وو، تر بريد لاندي راغی، په زهرجني توري زخمي شو او په شهادت ورسېدو، زوی او لمسيان ئې په کربلا کې د يزيد د بې رحمه لښکر په لاس شهيدان شول، نه هغوی ځان وژغورلی شو او نه علي رضي الله عنه د

دوی مرسته وکړی شوه!! څوك چي په خپل ژوند کي د ځان مرسته ونه کړی شي له مرگ وروسته به څنگه د بل مرسته وکړی شي!! په خدای قسم چي که د علي رضي الله عنه په وړاندي چا دا خبري کړې وی چي شيعه گان ئې کوي يا ئې ده ته منسوبوي؛ نو په خپلي توري به ئې د هغه سر ترې غوڅاوو!! که داسي کتاب ئې ليدلی وی نو تنور ته به ئې غورځاوو، ده ته منسوب دروغجني او جعلي خبري خو پرېږده د خپلو اصلي خبرو په اړه به ئې ويل: دا زه څوك يم چي د قرآن په شتون کي او د پيغمبر عليه السلام د احاديثو په موجوديت کي زما اقوال راغونډوئ، په هغه استدلال کوئ او هغه د خپل مذهب بنسټ گرځوئ، ما له قرآن پرته او د پيغمبر عليه السلام له قول پرته بله خبره نه ده کړې!! ما له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره صادقانه بيعت کړی، تل مي په دوی پسي لمونځ کاوو او په صداقت سره مي د دوی اطاعت کړی!! ما هيڅکله نه دي ويلي چي د مخکينيو خلفاوو په ټاکني خفه وم، ما نه دي ويلي چي (تقيه) مي کوله، په ستوني کي مي هډوکی نښتی وو، څه مي نه شو ويلی او خپلي خبري مي په زړه کي ساتلې، ما منافقت نه دئ کړی، ما ځان ته امارت نه دئ غوښتی، زه د عثمان رضي الله عنه په شهادت د خپل زوی تر شهادت زيات خفه شوی يم، زه د مسلمانانو وحدت غواړم، څوك چي زما په نامه د مسلمانانو تر منځ د اختلاف او تفرقې باعث کېږي، هم زما دښمن دئ او هم د اسلام دښمن، زه د الله تعالی په وړاندي له هغه چا خپل برائت اعلانوم چي زما او زما د اولاد په قبرونو قصرونه جوړوي، له هغوی مرستي غواړي، د دعاءگانو د اجابت وسيله ئې گڼي، له دې قبرونو ئې د جاهلو خلکو د غولولو دام جوړ کړی، امامت زما د اولاد منصوصي حق گڼي او په دې سره په اسلامي امت کي اختلاف راولاړوي!! خو ما ليدل چي د دغه جاهل آخوند همدغو مسخره خبرو ته ځينو جاهلو او غولېدلو اوښکي تويولې!!

آيا دې ته مو توجه کړې چي څنگه نن د هري کليسا په هر دېوال د عيسی عليه السلام هغه مجسمه تر سترگو کېږي چي په صليب ئې ځوړند ښيي، په

لاسونو او پښو ئې مېخونه ټك وهل شوي، وجود ئې تغمې تغمې، زخمي زخمي او په وينو سور؟ له مجاور ئې پوښتنه وکړه چي دا څوك دئ؟ ولې په داسي دردوونكي حالت كې ښودل شوى؟ ځواب ئې دا دئ: دا مسيح، د خداى زوى او په خپله خداى دئ، زمكي ته راغلى وو، د خپلو بندگانو د ژغورني لپاره!! پوښتنه وکړه: مگر څوك كولى شي چي خداى په دار كړي، په لاسونو ئې مېخونه ټك وهي، په درو ئې ووهي؟ ځواب ئې دا دئ: هيڅكله نه، ده په خپله ځان قربانۍ ته وړاندي كړ، چي زموږ د گناهونو فديه وركړي او د قيامت په ورځ د ده ټول منونكي له مؤاخذې او مجازات پرته مخامخ جنت ته ولاړ شي!!

او دا همغه څه دي چي تاسو به ئې د هر شيعه په كور كې، د دوى په تكيه خانو كې او د دوى په مذهبي غونډو او جلسو كې وگورئ او د دوى له جاهلو آخوندانو به ئې واورئ، توپير ئې فقط دا دئ چي د مسيح پر ځاى به د امام حسين نوم واورئ!! په هر كور كې به د ذوالجناح (د حسين رضي الله عنه آس) عكس په وينو سور ځوړند وي، په خپلو جلوسونو كې همداسي آس د ټولو وړاندي روانوي؛ يقيناً چي دا جاهلانه دود ئې له مشركو مسيحيانو تقليد كړى.

حسين رضي الله عنه د ظالم او مفسد يزيد په ضد غږ اوچت كړ، د كوفې خلكو د ملگرتيا ډاډ وركړ، خو دى ئې د كربلا په ميدان كې يوازي پرېښود، زړه ئې له ده سره خو توري ئې له يزيد سره شوې، د خپلي كورنۍ له اوياوو كسانو سره په شهادت ورسېد، خو كله چي د يزيد واكمني پاى ته ورسېده، اقتدار د ده د كورنۍ د مخالفينو په لاس كې پرېوت، نو حسين رضي الله عنه نه يوازي په خپله له شهادت وروسته امام حسين شو، بلكي امارت د ده د اولادې الهي مسلم حق، نه يوازي د ده په قبر زيارت جوړ شو، بلكي د ده د پلار علي رضي الله عنه لپاره هم په دغه وخت كې قبر په گوته شو او د وخت حاكم زيارت ورباندي جوړ كړ، قبر ئې هم د وخت حاكم د يوه (خوب او رؤيا) په ترڅ كې وموندو، تر دې وخته ئې قبر هيچا ته نه وو معلوم، له دې نېټې وروسته نه

يوازې په نجف کې بلکې په ډېرو نورو ځايونو کې هم د ده په نامه زيارتونه جوړ شول، په مزار شريف او د کابل په کارته سخي کې هم!! چا چې يزيد ته د امام حسين رضي الله عنه د وژلو فتوی ورکوله د يزيد له تلو وروسته د دې زيارتونو مجاور شو، د چا چې توري له يزيد سره وې اوس د کربلا د پيښې په ياد خپلې سينې په زنځيرونو وهي، توري جامې اغوندي او وير کوي!! همدا کسان د ده اولاد يوازيني حقيقي امامان ګڼي او يو پنځه کلن ماشوم ته ئې داسي امام زمان ګڼي چې خدای ته په خپلو دعاګانو کې وايي: خدايه! امام زمان له موږ راضي کړه، خدايه! د قيامت په ورځ مو د امام زمان په وړاندې شرمنده نه کړې، خدايه! زموږ دعاګاني امام زمان ته ورسوه!! اوس نو خدای د امام زمان قاصد شو، خدای د امام زمان په دربار کې يو شفيع شو، له هغه دا غواړي چې د امام زمان په وړاندې د دوی شفاعت وکړي!! دا امام زمان پنځه کلن ماشوم وو چې له خپل کور غائب شو، نه ئې تر دې وخته د شهادت کلمه زده وه، نه ئې يو رکعت لمونځ کړی، نه ئې روژه نيولې، نه په قرآن پوهېدو،... خو سره له دې د خلکو لارښود او امام شو!! چا امام کړ؟ خدای، چا درته وويل چې خدای د خلکو لپاره يو پنځه کلن ماشوم امام ټاکلی؟ فوراً درته وايي: داسي خبري مه کوه چې کافر کېږې!! امام او لارښود خو هغه چا ته وايي چې د خلکو مخې ته روان، په لمانځه کې ورته مخکې او په ژوند کې ئې لارښود وي، غائب کس ته د امام لقب کارول يوه مغالطه ده، الله تعالی به څنګه د خلکو لپاره غائب امام ټاکې؟!!

چا چې له قصرونو او د قصرونو له واکمنانو کرکه لرله، هر قصر ئې د ظلم نښه ګڼله او ويل ئې "ما هيڅ قصر ونه ليد مګر د هغه خوا کې مې د چا تلف شوی حق وليد"!! په همدې جرم له مخالفتونو سره مخامخ کېدو او چا چې هر جګ قبر ړنګاوو، اوس د دوی له قبرونو داسي قصرونه جوړ شوي چې نه فرعون په خپل ژوند کې درلود، نه نمرود او نه يزيد. عجيبه ده، عجيبه؛ د ژوندي لپاره قصر حرام دئ او د مړي لپاره جائز او د ثواب کار!! ستاسو دا د

قبرونو پر سر ستر قصرونه په جګ غږ شهادت ورکوي چې ستاسو مذهب په ظلم، جهل او خرافاتو ولاړ دئ!! آیا دا ستر ظلم نه دئ چې له بې وزلو، غم ځپلو، حاجتمنو خو ساده لوح او دوکه شوو دیندارانو شکرانې او نذرانې تر لاسه کوئ، لویه برخه ئې ستاسو د آخوندانو په جیبونو کې لوېږي، بله برخه پر دغو قصرونو او د دې لپاره لګول کېږي چې هیبت ئې زیات شي او دا ساده لوحان لازیات پرې وغولول شي، یقیناً چې دا دواړه قصرونه (هم د واکمنانو قصرونه او هم د قبر پر سر قصرونه) په همدې موخه جوړېږي، چې د خاوند او مجاور هیبت او کرامت ستر او لوړ ثابت کړي او جالب دام ترې جوړ شي!!

هو؛ په کربلا کې ستر جنایت وشو، دردوونکی او نه هېرېدونکی، خو کاش تا د کربلا د دردوونکې پېښې ترڅنګ هغه توره ورځ هم غندلی چې کربلا او نجف صلیبي ځواکونو اشغال کړل او په لسګونو زره مظلوم عراقیان، د امام حسین د جد امتیان، په خپلو وینو کې ورغړېدل، خو دا دئ برعکس ګورو چې د نجف مجاور (آیت الله العظمی سیستاني!!!) په لندن کې معالجه کېږي او عراق ته له راستنېدو وروسته د نجف او کربلا کنجیانې امریکایانو ته سپاري!! موږ ته ووایئ: دا د آیت الله کار دئ که د آیت الشیطان؟!! موږ ته ووایئ: داسي له مبالغو ډك القاب کارول جائز دي؟ د قرآن آیت ته یوازې آیت ویل او یوه سفیه آخوند ته د آیت الله العظمی لقب ورکول؛ څنګه توجیه کوئ؟ اسلام خو د شخصیت پالنې ټغر ټولوي او د داسې القابو له کارولو په کلکه ممانعت کوي، قرآن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د عبد الله نوم غوره کوي، د مخکینیو سترو سترو شخصیتونو په اړه، د ابراهیم علیه السلام په شمول، وایي:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾ البقرة: ١٣٤

دا یوه ډله وه چې تېره شوه، دوی ته خپلې لاس ته راوړنې دي او تاسو ته

خپلي (دوی به د خپلو کړو وړو بدله تر لاسه کوي او تاسو د خپلو کړو وړو)، له تاسو دا پوښتنه نه کېږي چې هغوی څه کول؟!!

يعني هر څوك به د خپلو عملونو په اړه پوښتل کېږي، نه يو د بل ځواب ورکوونکی شي او نه يو د بل د کړو وړو له کبله مکافات او مجازات کېږي!! او دا د ټولو هغو خلکو په خولې ستر او سخت گوزار دئ چې په نسلي امتيازاتو باور لري او گمان کوي چې معنوي او مذهبي مقام او منزلت يو داسې موروثي توکی دئ چې له پلاره اولاد ته انتقالېږي، د اسلام دغو لارښوونو ته په پام سره صحابه وو به يو بل فقط په خپلې کنيې ياداوو، عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، امير المؤمنين، خليفة المسلمين په څېر نومونه ئې کارول، چا ته ئې د شهنشاه، ملك، قاضي القضات، حضرت آيت الله العظمی، حجة الاسلام و المسلمين؛ او دې ته ورته له مبالغو ډك القاب ونه کارول، په داسې القابو د چا ستاينه ئې حرام گڼله. دغه مبالغې دي چې په شرك منتهي کېږي، نن ئې څوك د تملق او غوړه مالۍ په توگه وکاروي، سبا جاهلان پرې دوکه شي او د شرك په ډنډ کې پرېوځي.

مسيحي د عيسی عليه السلام مذهب هېر کړ او د ده د مجسمې لمانځل ئې مذهب شو او ده د امام حسين د جد دين ته شا کړه، د امام حسين د قبر لمانځل ئې مذهب شو. گورئ چې مسيحي د صليب طوق په غاړه گرځوي او دا د کربلا له خاوري د جوړ شوي مهر ټاپې په خپل تندي!!

سياست کله له پيغمبر د مذهب باغي جوړ کړي او کله له باغي ديندار خدای!! که د ټگمارو مذهبي مشرانو او د مکارو سياستمدارانو مکرونه عجيب دي، نو تر دې د هغه چا سفاهت د لازيات حيرت او تعجب وړ دئ چې د دوی د مکر په دام کې پرېوځي او (دروغ) د (مذهب) په نامه مني!! خو نه؛ تر هغه چې دنيا وي، ساده لوح او سفيه انسانان به هم وي او د ټگمارو په دام کې به د دوی پرېوتل هم!! که سامري له سخوندر معبود جوړولی شي او هندو له غوا، که د يهودو ملايان د يوه واکمن په دربار کې مريم په زنا متهموي

او زوی ئې ساحر ګڼي، خو د بل واکمن په دربار کې ئې د خدای (مسیح) مور ګڼي او زوی ئې د خدای زوی!! نو له پنځه کلن غائب ماشوم امام زمان جوړول او خدای د ده قاصد ګڼل هم ډېره نادره خبره نه ده!! نو په دې هم ډېر تعجب مه کوئ چي څنګه یوه داسي کس ته له مرګ وروسته د امام لقب ورکوي (امام رضاء ئې بولي) چي له بل سره ئې بیعت کړی او د هغه تر امامت لاندي ئې په دولت کې کار کړی، وايي: دا د دې لپاره چي هغه (تقیه) کوله، (تقیه) خو د ثواب ستر کار دئ، هومره چي تر شهادت ئې هم اجر زیات دئ!! تقیه یعني (مذهبي خدعه) نه یوازي جائزه ده بلکي د ثواب موجب!! په دې هم حیرت مه کوه چي ولي به هغه څوك په خپله د زهرو جام څښي چي په غیب پوهېږي، همغه کار چي وايي امام کاظم وکړ!! او عالم الغیب به ولي په داسي خلکو اعتبار کوي چي د اعتبار وړ نه دي او دی به په میدان کې یوازي پرېږدي او ولي به هغه څوك له خپل ملك شړل کېږي چي (متصرف الامور) ئې ګڼي او د (حاجتونو د ترسره کېدو مرجع) ئې بولي، څوك چي په خپل ژوند کې نه خپل مشکلات حل کولی شي او نه د خپلو ملګرو، نو له مرګ وروسته به څنګه د ژوندیو ستونزي حل کړي؟

مسیحیان د عیسی علیه السلام بیا راتلو ته منتظر دي، خو که هغه راغی نو تر هر چا د مخه به دوی د ده مخالفت کوي، د خپلو پلرونو په څېر به د هغه د وژلو لپاره ملا تړي، پلرونو ئې له دې کبله د ده د وژلو هوډ وکړ چي دی یو انسان دئ، نه له ځانه دفاع کولی شي او نه له خپلو ملګرو، د خدای پیغمبر خو باید داسي نه وي، باید فرشته وي او د سترګي په یوه رپ او د ګوتي په یوې اشارې سره باید زمکه او آسمان وخوځولی شي او د دوی اوسني زامن به ئې هم دروغجن ګڼي ورته وايي به: ته هغه عیسی نه یې چي موږ ورته منتظر وو، ته یو عادي انسان یې، عیسی خو د خدای زوی دئ او په مټو کې ئې د خدای زور. یهودان مسیح ته منتظر وو خو چي مسیح راغی منتَظَر مسیح ئې ونه ګاڼو او ایمان ئې پرې رانه ووړ!!

که دا نن هغه امام زمان راشي چي ځيني ورته منتظر دي او ووايي: د زمانې د فرعون او د وخت د يزيد په خلاف قيام وکړئ، له اسلام دفاع ته چمتو شئ، خپل هېواد د صليبي ځواکونو له سلطې آزاد کړئ، نو وبه ګورئ چي تر هر چا د مخه ئې هغه څوك مخالفت وکړي چي نن وايي: عجل الله فرجه الشريف: خدای دي د ده راوتل رانږدې کړي!! دغه خلك به ورته وايي: ته خو هغه امام زمان نه يې چي موږ ئې په انتظار کې وو، ته خو له موږ مرسته غواړې او له هغه خو به موږ مرسته غوښته!! ته موږ قيام او جهاد ته رابلې، حال دا چي امام زمان خو د يوې ګوتې په خوځولو سره زمکه او آسمان خوځولی شي!!

بايبل د يهودانو د ستر او فاتح پاچا او په ټولي نړۍ د اسرائيليانو د غلبې او برلاسي خبري کوي او وايي: په دې وخت کې به د داؤد د کورنۍ او د اورشليم د خلکو لپاره داسي چينه وبهېږي چي دوی به له ټولو ناپاکيو او ګناهونو پاك کړي!!! د بتانو عبادت به پای ته ورسېږي، زمکه به له دروغجنو انبياءو او فال نيوونکو پاکه شي، انبياء به له نبوت (د جذبې نڅا) شرمېږي (بايبل انبياء داسي معرفي کوي لکه زموږ اوسني ملنګان چي د قوالي سندرو ته څنې غورځوي هغوی به دغسي د جذبې نڅا کوله او همدغه نڅا به ئې د نبوت په نامه يادوله) او د خلکو د غولولو لپاره به د انبياءو جامه نه اغوندي!! هر يو به وايي: زه نبي نه يم، بزګر يم، له ځوانۍ تر اوسه مي دنده بزګري ده!! او که پوښتنه ترې وکړې چي دا د بدن زخمونه دي څه وايي؟ ځواب به ورکړي: له دوستانو سره په نښتي کې زخمي شوم!!! (د بايبل په حاشيه کې د دې زخمونو په اړه راغلي: دروغجنو انبياءو به خپل بدن زخمي کاوو، د تفصيل لپاره ئې د لومړيو پاچايانو کتاب ته مراجعه وکړئ!!) او دا همغه کار دئ چي شيعه ئې د عاشوراء په ورځ کوي!!!

دا عجيب اعتراف دئ، د بايبل د دروغجنو انبياءو حقيقت ئې په ډېره دقيقه توګه انځور کړی او ښيي چي دوی په خپلو جامو خلك غولوي، جذبه

کېدل، نڅا او حتیٰ ځان زخمي کول به ئې د اخلاص او خدای ته د قرب نښه گڼله!! ډېر شرکي مذاهب په دې بیمارۍ اخته دي، شیعه وو هم د کربلا د پېښې په یاد ځان په زنځیرونو وهل او خپل سره پرهرونه خلکو ته ښودل له دوی زده کړي، د بایبل دا خبره صحیح ده چې د حق او الهي دین د غلبې په وخت کې د دغو دروغجنو انبیاءو ټغر ټولېږي، خلك ئې په ماهیت پوهېږي، نور نه شي کولی په خپلې سپېڅلې جامې!! او خپلو دروغجنو وړاندوینو خلك وغولوي، نور به (د جذبې نڅا، مذهبي رقصونه)، د خدای د ذکر په نامه مستي کول، ساز سرود غړول، رقص او نڅا کول او دې ته د عبادت نوم ورکول نه وي، نه به د هندوانو ریاضتونه وي، نه د مسیح د زخمونو په نامه ځان زخمي کول او نه د کربلا په نامه ځان په زنځیرونو وهل، چا چې دا غلطي کړې وه ځان به تبرئه کوي!!

ما ته په بایبل کې له تحقیق وروسته دا معلومه شوه چې ځینو د خپل مذهب هغه عقائد او مراسم له کوم ځای او کوم مذهب اقتباس کړي چې په قرآن او حدیث کې د هغه لپاره هیڅ مدرك او سند نشته، ما ته اوس څرگنده شوې چې دوی له بایبل لاندې شیان اقتباس کړي:

۱. په غائب او منتَظَر امام باور او دا گمان کول چې هغه به راځي، اقتدار به شیعه وو ته سپاري او د دوی ټول دښمنان به له منځه وړي!! همغسې لکه یهودان او مسیحیان چې خپل خپل مسیح ته منتظر دي.

۲. امام زمان د خدای نائب او په کون او عالم کې متصرف گڼل او دا عقیده درلودل چې امامان په خپل ژوند کې هم او له مرگه وروسته هم د خدای او بندگانو تر منځ واسطه دي، د دوی له لارې خدای ته د انسان دعاءگانې رسي او خدای د دوی په شفاعت دعاءگانې او عبادتونه قبلوي. دوی خبره هغه حد ته رسولې چې د خپلو مړو امامانو د قبرونو خوا ته خپلې لیکلې عریضې غورځوي او ځواب ته ئې انتظار کوي!! د ایران پخواني جمهور رئیس رفسنجاني د منبر پر سر او د جمعې د ورځې په خطبې کې وویل: موږ له امام زمان سره

خطي رابطه لرو!!

۳. امامت موروثي ګڼل.

٤. په دولسو امامانو عقیده درلودل، همغسي لکه مسیحیان چي د عیسی علیه السلام په دولسو حواریونو باور لري او یهودان دولس قبیلې لري.

٥. خپل امامان عالِم الغیب بلل او ډېري وړاندویني هغوی ته منسوبول.

٦. سادات د لاویانو په څېر خاصه مذهبي طبقه او مذهبي مشري د دوی دنده ګڼل، خمس او صدقات د دوی حق شمېرل. دوی او نورو مذهبي مشرانو ته د لاویانو په څېر خاصه مذهبي جامه ټاکل.

٧. د کربلا په یاد ویر کول او ځان په زنځیرونو زخمي کول، هغه هم د نورو په مخکي او د یوه مذهبي رقص په بڼي کي!!

٨. په فال نیولو باور ساتل، خبره ئې دې حد ته رسولې چي قرآن ئې په ځانګړې بڼي کي داسي چاپ کړی چي د یوې پاڼي په سر ئې لیکلي: خوب (ښه) او په بلې (بد)، په پټو سترګو ئې د فال لپاره پرانیزي، که د (خوب) پاڼه راووتله بختور دئ او کار ئې سم، باید ډاډه وي چي ترسره کېږي او که د (بد) پاڼه ئې مخي ته راغله نو بخت ورسره یاري نه کوي، له خپل هوډ دې لاس په سر شي!! حتیٰ د حافظ شیرازي په کتاب همداسي فال نیسي!! دا په داسي حال کي چي پیغمبر علیه السلام فرمایي: چا چي د عراف، منجم او فال نیوونکي په وینا باور وکړ؛ هغه قرآن ئې تکذیب کړی چي پر محمد صلی الله علیه و سلم نازل شوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَتَى عَرَّافًا أَوْ كَاهِنًا، فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»

دا هم باید وضح کړو چي امام حسین رضي الله عنه کله په شهادت

رسېدلی؟ آیا صحیح ده چي دی د محرم په لسمه شهید شوی؟ په داسي حال کي چي دی له دې نېټې نږدې یوه میاشت وړاندي او د ذوالحجې تر لسم پوري په مکه کي او د حج مراسمو په اداء کولو مصروف وو؟ آیا دا ممکنه ده چي څوك د مکې او کوفې تر منځ تر ۱۰۰۰ کیلومتر زیاته فاصله په پلي مزل سره په یوه میاشت کي ووهي؟ د کوفې او مکې تر منځ په سیده او مستقیمه کرښه شاوخوا زر کیلومتر فاصله ده؛ د لاري لوړي ژور او کږلېچونه دا واټن تر ۱۲۰۰ کیلومتر زیاتوي؛ د داسي کاروان لپاره چي مېرمني او ماشومان هم ورسره وي دا واټن په دوو میاشتو کي هم نشي پلي کولی. نو آیا دا ادعاء د سالم عقل خاوند منلی شي چي امام حسین رضي الله عنه له خپلي کورنۍ او ماشومانو سره توانېدلی تر یوې میاشتي کمي مودې که له مکې کوفې ته ورسېږي؟!!

په ټول یقین سره ویلی شو چي دا ادعاء نه یوازي هیڅ حقیقت نه لري بلکي هغو له ځانه جوړه کړې چي غوښتلي ئې دي د اما حسین د شهادت ورځ له هغي ورځي سره برابره کړي چي د بایبل له نظره سپېڅلي ورځ ده؛ بایبل همدا د نوي کال د لومړۍ میاشتي لسمه ورځ ګڼي او د فصح عید په نامه ئې یادوي او لیکي:

## "د فصح عید"

بایبل تر دې عنوان لاندي داسي کاږي: "خدای موسی او هارون ته وویل: له دې وروسته به ستاسو لپاره دا میاشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه میاشت وي... هر کال به د دې میاشتي په لسمه هره کورنۍ یو وری تیاروي، که د کورنۍ شمېر کم وي؛ نو په خپل ګاونډ کي له بلي وړې کورنۍ سره دي ګډ شي، دا وری یا سېرلی به نر، بې عیبه او یو کلن وي، د همدې میاشتي د څوارلسمي په مازدیګر دي ټول اسرائیلیان دا وري قرباني کړي او د هغویویني دي د دروازو د ولاړو تیرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشیندي

چې د ورې غوښه په کې خوړل کېږي... په همدې شپه دې دا غوښه وریته کړي او له پټيري ډوډۍ او ترخو سابه سره دې وخوري، غوښه به اومه او په اوبو کې پخه شوې نه خوري، بلکې ټوله به د سر، پښو، زړه او ینې په شمول وریته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره خوري، که څه پاته شوه هغه به سوزوي (د دې لپاره چې غیر یهودي ته ئې تر پاته کېدو سوزول غوره دي)، د ورې له خوړلو مخکې به خپلې څپلۍ په پښو کوئ، خپله عصا به په لاس کې نیسئ او د سفر لپاره به تیارېږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه يادېږي، دا ځکه چې زه خدای یم او نن شپه به د مصر له سیمې تېرېږم او د مصریانو ټول مشران زامن او د دوی د څارویو لومړي پیدا شوي بچیان به وژنم او د دوی خدایانو ته به سزا ورکوم، کومې وینې چې تاسو د دروازو پر تیرانو شیندلې دا به د دې نښه وي چې دا کورونه ستاسي دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او یوازې مصریان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځې په یاد جشن نیسئ، په دې جشن کې چې اوه ورځې به وي یوازې پټیره ډوډۍ خورئ، په لومړۍ ورځ به خمیره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوك په دغو ورځو کې د خمیره شوو وړو ډوډۍ وخوري له اسرائیلیانو به شړل کېږي، په لومړۍ او اومه ورځ به ټول په ګډه د خدای عبادت کوئ، په دغو دوو ورځو کې به د خوراك له برابرولو پرته بل هیڅ کار نه کوئ!! بایبل دلته دا خبره درې ځلې تکراروي چې په دغو اوه ورځو کې به یوازې پټیره ډوډۍ خورئ، په کور کې به خمیره نه ساتئ، چا چې خمیره ډوډۍ وخوړله له اسرائیلیانو به طرد کېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چې په دغې ورځې ما له مصر وژغورلئ!!! "

## عاشوراء په روایاتو کي

راشئ وګورو چي په روایاتو کې د عاشوراء په ارتباط څه راغلي. په دې اړه د بخاري یو روایت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ المَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ» فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الْفَرِيضَةَ وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ. بخارى

له عائشې (رضي الله عنها) روایت دئ چي وایي: قریشو به د جاهلیت په زمانه کي د عاشوراء په ورځ روژه نیوله او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به هم په دې ورځ روژه نیوله او کله چي ئې مدینې ته هجرت وکړ نو بیا ئې هم دا ورځ روژه نیوله او نورو ته ئې د روژې نیولو امر وکړ خو کله چي د رمضان روژه فرض شوه نو د عاشوراء د ورځي روژه ئې پرېښوده بیا د هر چا خپله خوښه وه چي په دې ورځ ئې روژه نیوله او که نه.

دا روایت په بخاري کې شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٥٩٢، ١٨٩٣، ٢٠٠١، ٢٠٠٢، ٣٨٣١، ٤٥٠٢، د دغو روایاتو تر منځ جدي او ژور توپیرونه او تعارضات تر سترګو کېږي، دومره چي یو په هغه صورت کې ترې غوره کولی شې چي نور ټول رد کړې، په ځینو کې ویل شوي كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ

صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ په بل كې كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، په بل كې صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ، په بل كې أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِصِيَامِهِ حَتَّى فُرِضَ رَمَضَانُ په بل كې كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَمَرَ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ. په بل كې كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ. په بل كې كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لاَ يَصُومُهُ په بل كې كَانَ عَاشُورَاءُ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ » په بل كې كَانَ عَاشُورَاءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ » په بل كې قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، فَرَأَى الْيَهُودَ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ « مَا هَذَا ». قَالُوا هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللهُ بَنِى إِسْرَائِيلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ، فَصَامَهُ مُوسَى. قَالَ «فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل كې قَالَ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ » په بل كې لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَجَدَهُمْ يَصُومُونَ يَوْمًا، يَعْنِى عَاشُورَاءَ، فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ، وَهْوَ يَوْمٌ نَجَّى اللهُ فِيهِ مُوسَى، وَأَغْرَقَ آلَ فِرْعَوْنَ، فَصَامَ مُوسَى شُكْرًا لِلَّهِ. فَقَالَ « أَنَا أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل كې أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِى فِي النَّاسِ، يَوْمَ عَاشُورَاءَ « أَنْ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ، وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلاَ يَأْكُلْ په بل كې أَرْسَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ « مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ ». قَالَتْ فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ، وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا، وَنَجْعَلُ لَهُمُ

اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ، حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ. په بل کي قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ عَاشُورَاءَ « إِنْ شَاءَ صَامَ » په بل کي أَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم رَجُلاً مِنْ أَسْلَمَ أَنْ أَذِّنْ فِي النَّاسِ « أَنَّ مَنْ كَانَ أَكَلَ فَلْيَصُمْ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ، فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ » په بل کي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ « أَذِّنْ فِي قَوْمِكَ أَوْ فِي النَّاسِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ أَنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ » په ځينو کي ويل شوي: مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ، إِلاَّ هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ. يَعْنِي شَهْرَ رَمَضَانَ !! په ځينو کي قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَإِذَا أُنَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ يُعَظِّمُونَ عَاشُورَاءَ وَيَصُومُونَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَحَقُّ بِصَوْمِهِ ». فَأَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کي قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ، فَسُئِلُوا عَنْ ذَلِكَ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى أَظْفَرَ اللهُ فِيهِ مُوسَى وَبَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى فِرْعَوْنَ، وَنَحْنُ نَصُومُهُ تَعْظِيمًا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ ». ثُمَّ أَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کي قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لأَصْحَابِهِ « أَنْتُمْ أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْهُمْ، فَصُومُوا ». په بل کي لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ، فَسَأَلَهُمْ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصُومُوهُ » په بل کي قَالَ صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ. وَكَانَ عَبْدُ اللهِ لاَ يَصُومُهُ، إِلاَّ أَنْ يُوَافِقَ صَوْمَهُ. په بل کي د دې خلاف ويل شوي: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ » يعني يهودانو دا ورځ د عيد په توګه لمانځله او رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغوی سره د مخالفت ښودلو په توګه وويل چي تاسو روژه ونيسئ؛ او دا د ټولو نورو

رواياتو خلاف دئ.

د دغو متعارضو رواياتو تر منځ تعارضات او توپيرونه دا دي:

ځيني ئې وايي چې د عاشوراء روژه قريشو هم نيوله او رسول الله صلى الله عليه و سلم هم له همغه مهاله نيوله او ګواکې قريشو به په دغي ورځ پر كعبې نوى غلاف غوړاوو!! ځيني ئې وايي كله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينې ته راغى يهودان ئې وليدل چې په دې ورځ روژه نيسي وئې پوښتل چې ولې په دې ورځ روژه نيسئ؟ هغوى وويل: دا يوه ستره ورځ ده، فرعون په كې غرق شوى او موسى عليه السلام ته برى وروپه برخه شوى، موږ د دغي ورځې د درناوي لپاره روژه نيسو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل چې موږ تر يهودانو زيات د دې وړ يو چې د دې ورځې درناوى وكړو، نو په خپله ئې هم د روژې نيول پيل كړل او نورو ته ئې هم امر وكړ، ځيني ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم تر رحلت لږ وړاندي د دې روژې نيول پيل كړل، چا ورته وويل: دا خو له يهودانو سره شباهت راځي، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د شباهت ختمولو لپاره به راتلونكى كال يوه ورځ مخكې هم روژه نيسم، خو هغه د دغي ورځې تر بيا رارسېدو وړاندي رحلت وكړ!! ځيني ئې وايي: يهودانو به دغه ورځ د عيد او خوشحالۍ د ورځې په توګه لمانځله، رسول الله صلى الله عليه و سلم له يهودو سره د مخالفت په موخه وفرمايل: چې تاسو په دې ورځ روژه ونيسئ!! ځيني ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د عاشوراء د ورځې سحر مهال اعلان وكړ او كليو ته ئې څوك ولېږل چې خلك خبر كړي او ورته ووايي: چا چې څه نه وي خوړلي روژې ته دي دوام وركړي او چا چې څه خوړلي وي تر ماښامه دي څه نه خوري!! ځيني ئې وايي چې د روژې تر فرضېدو پوري دا روژه نيول كېده خو د روژې له فرضېدو وروسته پرېښودل شوه او ځيني ئې د دې خبري تر څنګ دا هم علاوه كوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د هر چا خپله خوښه چې په دې ورځ روژه نيسي كه نه!! په يوه كې دا هم ويل شوي

چي قريشو به په دغي ورځ د روژې تر څنګ د کعبې غلاف هم بدلولو!!

د دغو متعارضو رواياتو له منځه د يوه انتخاب محال او ناممکن دئ، امام بخاري هم نه دي ويلي چي په دغو متعارضو او متضادو رواياتو کې کوم يو ئې د متن، محتوى او اسنادو له پلوه صحيح او تر نورو غوره دئ؛ او په کوم دليل، د بخاري هيڅ شارح هم نه ويلي او نه ويلی شي چي کوم روايت تر نورو غوره دئ!! دا د يوه اصل په توګه په پام کې ولرئ چي کله د يوې موضوع په اړه متعارض روايات مومو داسي چي تر منځ ئې نه تلفيق ممکن وي او نه داسي دليل موندلی شو چي يوه ته پر بل ترجيح ورکړو، په قرآن کې کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو رواياتو کې هم د ترجيح وجه پيدا نه کړو نو په کار دا ده چي ټول يوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئې نورو ته ووايو او نه کوم يو د خپلي سليقې له مخي غوره کړو.

زه دې نتيجې ته رسېدلی يم چي په دې ورځ نه په خپله روژه نيسم او نه بل ته د روژې نيولو مشوره ورکوم، دا راته غوره برېښي چي نفلي روژې يوازي په دې توګه وي: د عرفې ورځ، د شوال شپږ ورځي، ايام بيض (د هري مياشتي ديارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه)، هره دوشنبه او پنجشنبه او يوه ورځ تر منځ. خو دې ته مو پام وي چي د دې ورځو هره روژه په ثواب کې يوه مسکين ته د يوې ورځي خوراك ورکولو حد ته نه رسېږي، د هغو واعظانو له مبالغو ډکو ويناوو ته ارزښت مه ورکوئ چي داسي روژې د جنت کلي ګڼي او له ټولو مخکينيو او وروستنيو ګناهونو د پاکېدو وسيله!! او مقام ئې دومره لوړ ښيي چي نه په جهاد سره تر لاسه کېدی شي، نه په شهادت سره او نه په زکات او نورو فرائضو سره.

په دې ورځ خيراتونه مه کوئ، دا ځکه چي نه رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي خيراتونه کړي او نه صحابه وو، داسي روايت نه مومو چي کوم صحابي دي د مړو لپاره خيرات کړی وي، د شيعه وو د ماتم غونډو او جلسو ته مه ورځئ، که ورځئ نو بايد خپل شرعي مسئوليت اداء کړئ او د ټولو هغو

شرکي ويناوو او حرکاتو په اړه خلکو ته حق وينا وکړئ چي هلته ئې اورئ او گورئ، لکه يا علي مدد، يا حسين، ځانونه په زنځيرونو وهل، ماتم کول، مذهبي رقصونه او نور خرافات او د دين، مذهب او عقل ضد حرکات. که داسي ونه کړئ نو له دوی سره به په گناه کي شريك وئ. د داسي جلسو په ضد له مسلحانه اقداماتو ډډه وکړئ ځکه نه رسول الله صلی الله عليه و سلم د کومي مذهبي ډلي په خلاف داسي کار کړی او نه صحابه وو، هغه واکمنان له اسلام او اسلامي امت سره ستر ظلم کوي چي دغسي جلسو او جلوسونو ته اجازه ورکوي او تسهيلات ورته برابروي، هغه حکام دا کار کوي چي پردي پال دي او دنده ئې په اسلامي امت کي د اختلافاتو اور ته لمن وهل دي، مگر نه گورئ چي په افغانستان او عراق کي دغو غونډو او مظاهرو هغه مهال زور واخيست چي صليبي ځواکونو اشغال کړل، همدا ځواکونه شيعه آخوندان هڅوي او تسهيلات ورته برابروي چي په دې ورځ کوڅو ته راووځي او د دين او عقل ضد حرکاتو مظاهره وکړي او داسي څه ووايي چي سنيان غبرگون ته اړ کړي.

## عائشه رضي الله عنها د نکاح په مهال څو کلنه وه؟

د مسلمانانو تر منځ يوه بلوه اختلافي مسئله دا ده چي د عائشې رضي الله عنها نکاح په کوم عمر کي شوې؛ او دا چي آيا تر بلوغ وړاندي د ماشوم نکاح جائز ده که نه؛ هغه رأی او روايات چي د عائشې نکاح تر پېغلتوب وړاندي گڼي؛ د اسلام دښمنانو؛ د اسلام په ضد د پراخو خصمانه تبليغاتو وسيله ترې دوړه کړې.

تېر کال؛ په همدې ارتباط؛ په هند کي د رسول الله صلی الله عليه و سلم سپکاوی وشو؛ د هند مسلمانانو عکس العمل فوري، پراخ او جدي وو؛ مليوني تظاهرات ئې درلودل؛ په ټولي اسلامي نړۍ او په ډېرو غربي هېوادو کي پراخ

تظاهرات وشول؛ ډېرو هېوادو د هند سفیران احضار کړل او خپل اعتراض او خفګان ئې څرګند او ډهلي ته ولېږو؛ د هند حکومت هم د واکمن ګوند د هغو غړو په ارتباط فوري غبرګون وښود چې دا لانجه ئې راولاړه کړه او هغوی ئې له خپلو دندو منفك کړل.

دغو دوو معترضینو او اهانت کوونکو؛ د نورو خبرو تر څنګ؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه دا اهانت کړی وو چې ولي ئې په ۵۳ کلنۍ کې له ٦ کلني یا ۹ کلني نجلۍ سره نکاح کړې؛ د دې په وړاندي د مسلمانانو عکس العمل څو ډوله وو: تظاهرات، د هند بیرغونه سوزول، سفیران ئې احضارول او خپل خفګان او اعتراض وراورول؛ او ځینو د داسي نکاح عقلي او نقلي دلائل وړاندي کول....

راشئ په دغي موضوع لږ بحث ولرو او وګورو چې د نابالغو نکاح جائزه ده که نه؟ په دې اړه قرآن څه وايي؟ په روایاتو کې څه راغلي؟ حقیقت څه دئ؟ عقل او علم څه وايي؟

لومړۍ پوښتنه دا ده: آیا په قرآن کې د نکاح د مناسب وخت؛ او د نکاح د دواړو لوریو د عمر په اړه څه ویل شوي؟ آیا د نکاح د موخي او هدف په ارتباط په قرآن کې داسي لارښووني مومو چې باید په پام کې ونیول شي؟

مختصر او مجمل ځواب دا دئ: هو؛ قرآن د دواړو پوښتنو دقیق او واضح ځواب ویلی. دې آیت ته ځیر شئ:

وَابْتَلُوا الْيَتَامَى حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ... ﴿٦﴾ النساء ٦

او تر هغه یتیمان وآزمویئ چې د نکاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو که د دوی هوښیاري مو احساس کړه؛ نو مالونه ئې وروسپارئ؛...

دلته د یتیم هغو اولیاءو او پالونکو ته څو لارښووني شوې چې د یتیمانو

**کفالت کوي او مال ئې ورته ساتي:**

د يتيمانو د روزنې په دوران کې دوی پر له پسې امتحانوئ؛ کله يو کار ورته وسپارئ او کله بل؛ د وړو وړو شيانو په پېرلو او پلورلو ئې وګمارئ؛ په دې سره به د هغوی ښه روزنه وشي؛ د نکاح پړاو ته له رسېدو وروسته به د خپل مال د ښه پاللو لپاره ذهناً او عملاً تيار وي او کافي تجربه به ئې ترلاسه کړې وي.

دا کار به تر هغه کوئ چې يتيمان تر نکاح پورې ورسېږي، خو که دې مرحلې ته ورسېدل او تاسو په دوی کې کافي هوښياري احساس کړه؛ نو مالونه ئې ورسپارئ. د آيت له الفاظو معلومېږي چې د يتيم اولياء به بلوغ ته د يتيم د رسېدو په وخت کې هم دا خبره په پام کې ساتي چې آيا هغه د دې وړتيا لري چې مال ئې ورسپاري او که نه؛ يوازې بلوغ معيار ونه ګڼي؛ بلکې د بلوغ تر څنګ د ده هوښيارتيا هم په پام کې ولري.

له دې آيت معلومېږي چې نکاح يوه خاصه مرحله او وخت لري؛ دا وخت يوازې بلوغ (ځواني او پېغلتوب) نه دئ؛ بلکې د نکاح وړتيا؛ د کورنۍ جوړولو استعداد او توانمني؛ او د قرآن په اصطلاح رشد؛ شرط دئ.

دا هم يوه اساسي او مهمه پوښتنه ده چې ځوان هلك او پېغلې نجلۍ ته د خپل ځان او ازدواج په اړه د پرېکړې واك ورکړی شوی که نه، که ورکړی شوی له دې واك کله استفاده کولی شي؛ تر بلوغ وړاندې که وروسته، بلوغ شرط دئ که رشد؟ له مخکني آيت په څرګنده توګه معلومېږي چې د نکاح لپاره بلوغ او رشد شرط دئ؛ که يتيم ته د ده خپل مال سپارلو په اړه د قرآن لارښوونه دا وي او هغه د يتيم په بلوغ او رشد پورې مشروطوي؛ نو د ازدواج په اړه به ئې لارښوونه او غوښتنه څه وي او الله تعالی به په څه راضي کېږي؟ يقيناً چې د ازدواج موضوع تر دې ډېر ډېر ارزښت او اهميت لري چې د هغوی مال کله او په کوم عمر کې ورسپارل شي؛ په دې کې هيڅ شك نشته چې د نکاح لپاره لومړی شرط بلوغ دئ او دوهم ئې رشد او له آيت په واضح

توګه همدا معلومېږي.

قرآن موږ ته وايي چې د نکاح موخه د نسل دوام او د اولاد درلودل دي؛ نه فقط د جنسي غريزې اشباع؛ نو له هغي ماشومي سره جنسي نږدېکت د دين او فطرت خلاف کار دئ چې بلوغ ته نه وي رسېدلې؛ اسلام چې د نکاح په اړه کومې لارښوونې لري؛ مهمې برخې ئې دا دي:

- له بلوغ وروسته؛ د دواړو په موافقه او هغه مهال ترسره شي چې دواړه د رشد پړاو ته رسېدلي وي او د سمې پرېکړې او صحيح انتخاب جوګه وي.
- يو د بل کفو او سيال وي او اجتماعي حالت ئې سره ورته وي.
- د يوې کورنۍ جوړولو او اولاد پاللو په موخه وي؛ نه د جنسي غريزې د اشباع په موخه او موقته اړيکه.
- د دواړو تر منځ توافق ئې اصلي شرط او د کورنيو توافق ئې مفيد او غوره ګڼلی.
- مناسب مهر ټاکل؛ هومره چې د مېرمنې مستقبل تضمين کړي او هغه پرې راضي شي.
- لږ تر لږه دوه شاهدان په منځ کې وي.
- ښکاره وي او پټه پاته نه شي.

لکه چې ګورئ قرآن د نکاح لپاره خاص پړاو ټاکلی؛ دا ټاکلی پړاو يوازې بلوغ (ځواني او پېلغتوب) نه دئ، بلکې د آيت له لارښوونې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د بلوغ ترڅنګ بايد رشد او د عقل پوخوالی هم په پام کې وي.

دې ته مو بايد پام وي چې قرآن ځوانۍ ته رسېدا په دې صيغه يادوي: وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ او کله چې ستاسو ماشومان حلم (ځوانۍ او پېغلتوب) ته ورسېږي. او هغه چې لا بالغ شوي نه دي په دې صيغه ئې

يادوي: وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ: او هغه چي لا حلم (ځوانۍ) ته نه دي رسېدلي. له دې معلومېږي چي د نکاح او واده حد ته رسېدا؛ له هغه عمر سره توپير لري چي ماشوم ځوانۍ ته رسېږي؛ د نکاح لپاره د ځوانۍ او بلوغ تر څنګ؛ رشد او د کورنۍ جوړولو او پاللو وړتيا هم ضروري ګڼل شوې.

د دې قرآني لارښوونو په رڼا کي په آسانۍ سره کولی شو د هغو رواياتو د صحت او عدم صحت په اړه قضاوت وکړو چي د نکاح د طرفينو د عمر په اړه راغلي؛ له دغو رواياتو يو ئې هغه دئ چي په بخاري کي راغلی او وايي؛ د عائشې رضي الله عنها نکاح په شپږ کلنۍ کي او واده ئې په نه کلنۍ کي شوی؛ او له همدې روايت د اسلام دښمنانو د پراخو تبليغاتو وسيله جوړه کړې؛ دا د بشري حقوقو ضد عمل ګڼي او د ماشومانو پر حق جدي تېری. راشئ وګورو چي حقيقت څه دئ او دا روايات د اعتبار وړ دي که نه؛ او دا چي د عائشې رضي الله عنها نکاح په څو کلنۍ کي شوې؟

د عائشې رضي الله عنها د عمر په اړه د سيرت، تاريخ، تفسير او احاديثو کتابونو کي پراخ تناقضات او تعارضات مومو؛ داسي چي عقد ئې له ٦ تر ١٦ کلنۍ پوري او نکاح ئې له ٩ تر ١٩ کلنۍ پوري ښودل شوي!!

په دې اړه ٢١ روايات راغلي؛ ١٤ ئې له هشام بن عروه روايت شوي؛ او نور ئې له أبو عبيده، أبو سلمه او أسود. عجيبه لا دا ده چي دا مهمه قضيه؛ له مشرانو صحابه وو هيچا په تاريخ او سيرت کي نه ده روايت کړې. رسول الله صلی الله عليه و سلم هم نه دي ويلي چي عائشه ئې په نه کلنۍ کي واده کړې!! په قرآن کي هم په دې ارتباط هيڅ څه اشارتاً او صراحتاً نه مومو!

که هغه روايات چي وايي د عقد په وخت کي د عائشې رضي الله عنها عمر شپږ کاله او د نکاح په وخت کي نه کاله وو؛ وڅېړو؛ نو وبه ګورو چي نه رواياتاً معتبر دي او نه درايتاً؛ تر ټولو لويه ستونزه ئې دا ده چي د قرآن له څرګندي لارښووني سره جدي او ژور تعارض لري؛ قرآن د نکاح او د مال تصرف لپاره پر بلوغ علاوه؛ رشد او درايت ضروري ګڼي او وايي:

**وَابْتَلُوا الْيَتَامَى حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ ... النساء ٦**

او تر هغه يتيمان وآزمويئ چي د نكاح پړاو (عمر) ته ورسېږي؛ نو كه تاسو په هغوى كي رشد او عقلمني وموميئ؛ مال ئې وروسپارئ.

له دې آيت او قرآني لارښوونې په څرګنده توګه معلومېږي چي يتيم ته د مال سپارلو لپاره يوازې بلوغ شرط نه دئ؛ بلكي رشد او د عقل پوخوالى هم شرط دئ؛ د نكاح اهميت او حساسيت؛ تر مال ډېر زيات دئ؛ لا زيات رشد او د عقل پوخوالى ايجابوي؛ دواړه بايد د دې وړتيا ولري چي نوې موفقه كورنۍ جوړه كړى شي او د اولاد د ښې روزنې اهليت ولري؛ نه پوهېږو څنګه څوك د دې جرأت كوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي كار منسوبوي چي د قرآن له دې څرګند آيت سره منافات لري؟!!

د عائشې رضي الله عنها خور أسماء ۲۷ كلنه وه چي مدينې ته ئې هجرت وكړ؛ هغه تر عائشې لس كاله مشره وه، او دا ښيي چي أسماء د رسول الله صلى الله عليه و سلم له بعثت ۱٤ كاله وړاندې پيدا شوې او عائشه څلور كاله وړاندې. أسماء په سل كلنۍ كي او د خپل زوى؛ عبد الله بن زبير له شهادت لنډه موده وروسته؛ په ۷۳ هجري كال كي او په داسي حال كي وفات شوه چي سترګي ئې ړندې شوې وې؛ دا ارقام هم ښيي چي د هجرت په لومړي كال؛ أسماء ۲۷ كلنه او عائشه ۱۷ كلنه وه؛ يعني د عائشې نكاح د بدر له جګړې وروسته په دوهم هجري كال او په ۱۹ كلنۍ كي تر سره شوې.

دا هغه څه دي چي په دغو مصادرو كي راغلي: " حلية الأولياء " (٥٦/٢) ، " معجم الصحابة " لأبي نعيم الأصبهاني، "الاستيعاب" لابن عبد البر (١٧٨٣/٤)، "تاريخ دمشق" لابن عساكر (٨/٦٩)، " أسد الغابة "لابن الأثير (١٢/٧)، "الإصابة" لابن حجر (٤٨٧/٧) او "تهذيب الكمال" (١٢٥/٣٥)

د عائشې رضي الله عنها د نكاح په اړه د بخاري رواياتو كي تناقض دئ؛

يو ئې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د خديجې رضي الله عنها له وفات درې کاله وروسته عائشه په نکاح کړه؛ په بل کې وايي: خديجه رضي الله عنها له هجرت درې کاله وړاندي وفات شوه؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم نږدې دوه کاله نور انتظار وکړ او بيا ئې عائشه په نکاح کړه؛ د دواړو رواياتو تر منځ پوره دوه کاله توپير مومو؛ په دغو متعارضو رواياتو کې کوم يو ئې صحيح دئ؟

هغه روايات او آراء او آثار چي ښيي عائشه رضي الله عنها هغه مهال په نکاح شوې چي عمر ئې شاوخوا ۱۹ کاله وو؛ ځيني ئې دادي:

۱- مشره خور ئې اسماء؛ تر دې لس کاله مشره وه؛ کله چي له کورنۍ سره يو ځای مدينې ته رامهاجر شول ۲۷ کلنه وه؛ نږدې سل کلنه وه چي وفات شوه؛ د وفات کال ئې ۷۳ هجري کال وو؛ او همدا ښيي چي د هجرت په کال ۲۷ کلنه وه؛ ځکه ۷۳+۲۷= ۱۰۰ او له دې معلومېږي چي عائشه دا مهال ۱۷ کلنه وه؛ په دوهم هجري کال او د بدر له جګړې وروسته په ۱۹ کلنۍ کې واده شوې. دا هغه څه دي چي ابن حَجَر عسقلاني له أبي نُعَيم الأصبهاني؛ په دې صيغه نقل کړي:

أن أبی نُعَيم الأصبهانی قال بأن أسماء بنت أبی بكر وُلدت قبل الهجرة بسبع وعشرين سنة،

۲- روايات وايي: له خديجې رضي الله عنها وروسته بله مېرمن چي ايمان ئې راوړی؛ د عباس رضي الله عنه مېرمن ام الفضل وه؛ او بيا د ابوبکر رضي الله عنه دوو لوڼو اسماء او عائشې ايمان راوړی؛ او د دې معنی دا ده چي عائشه رضي الله عنها تر بعثت مخکې پيدا شوې او د ايمان راوړلو په وخت کې ئې عمر دومره وو چي د عقل او فهم له مخي د ايمان راوړلو جوګه وه.

۳- له عائشې روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به نږدې هره ورځ زموږ کور ته سبا يا ماښام راتلو؛ او دا هغه مهال وو چي خپل رسالت ئې

نه وو علني کړی؛ يعني د بعثت په لومړيو څلورو کلنو کې عائشه د دومره عمر وه چې دې خبرو ته ئې پام وو. دا روايات له هغه سره بشپړ مغايرت لري چې وايي دا مهال عائشه رضي الله عنها لا پیدا شوې نه وه.

٤- د خديجې رضي الله عنها له وفات وروسته او تر هجرت دوه کاله وړاندې؛ او په داسي حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته؛ له څلورو لوڼو؛ دوه وړې په کور کې پاته وې؛ ام کلثوم او فاطمه رضي الله عنهما؛ دوه نوري واده شوې وې؛ د کور ساتني او د لوڼو د پالني لپاره ئې واده ته ضرورت وو؛ خوله بنت حکیم په وار وار ده ته د واده سپارښتنه کوله؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وويل: له چا سره؟ هغې وويل: که پېغله غواړې نو عائشه او که کونډه غواړې نو سودة بنت زَمْعَة؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وويل: زما په اړه دواړو ته يادونه وکړه؛ هدف ئې دا وو چې که يوه موافقه ونه کړي نو بلې ته يادونه وکړي؛ خوله لومړی د عائشې ناسکه مور ام رومان بنت عامر ته ورغله؛ خبره ئې ورته یاده کړه؛ هغې وويل: صبر وکړه ابوبکر راځي؛ مُطْعِم بن عَدِي د خپل زوی جُبَير لپاره د عائشې په اړه غوښتنه کړې؛ ابوبکر رضي الله عنه ئې غوښتني ته ځکه منفي ځواب ورکړ چې ښايي د ده لور به خپل غلط دين ته واړوي.

ابوبکر رضي الله عنه خوله ته وويل: محمد علیه السلام ته ووايه چې راشي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د خِطبې لپاره ورغلی او موافقه شوې؛ اما واده ئې درې کاله وروسته تر سره شوی.

له دې په څرګنده توګه معلومېږي چې عائشه رضي الله عنها لا له وړاندي پېغلتوب ته رسېدلې وه او مُطْعِم بن عدي خپل زوی ته غوښتې وه.

د قريشو عام دود دا وو چې خپلي لوڼي به ئې تر پېغلتوب وړاندې نه ودولې؛ دا ئې د پېغور کار ګڼلو چې په ماشومتوب کې خپله لور واده او له کور رخصت کړي؛ دا چې ګورو؛ د عائشې رضي الله عنها د عقد او نکاح په اړه د قريشو هیچا؛ نه دوست او نه دښمن؛ هيڅ اعتراض او نيوکه نه ده کړې؛

دا ښيي چي دا نکاح په پاخه عمر کې او د قريشو له عام دود سره سم تر سره شوې.

دا هم بايد په پام کې ولرو چي خوله د دې لپاره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د واده سپارښتنه کوله چي د ده د دوو وړو لوڼو پالنه وکړي؛ څنګه ومنو چي همدا خوله به يوه بله وړه نجلۍ د رسول الله صلى الله عليه و سلم لپاره غوره کوي؟!!

له روايت معلومېږي چي خوله له سودې بنت زمعه سره هم خبره کړې وه او هغې موافقه کړې وه؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم څکه له هغې سره واده کړی چي مشره کونډه وه او د ده لوڼي ئې پاللی شوی؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم له سوده سره درې کاله يوازي او له بل واده پرته تېر کړي؛ يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم تر نږدې ٥٥ کلنۍ پوري؛ ٢٥ کلونه له خديجې رضي الله عنها سره او درې کلونه له سوده رضي الله عنها سره يوازي تېر کړي؛ او د خپل مبارك عمر په پاته اته کلونو کې ئې تر يوې زياتې مېرمني درلودې؛ په دوی کې يوازي عائشه ئې پيغله وه؛ نوري ټولې کونډې او څيني ئې عمر خوړلې او د اولاد خاوندي؛ د دې معنى دا ده چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تعدد ازواج فلسفه او موخه اجتماعي مصلحتونه او حکمتونه وو؛ نه جنسي عوامل؛ د ام سلمه رضي الله عنها نکاح ئې يو مثال دئ:

ام سلمه رضى الله عنها چي ٦ اولادونه ئې درلودل، مېړه ئې د احد په جګړي کې زخمي شو، د بلي جګړي په دوران کې د ده زوړ پرهر وشلېدو او له همدې وفات شو، پيغمبر عليه السلام د ده په مړيني هومره خواشينی شو چي اوښکي ئې توی شوې، د ده له مړيني څه باندي ٤ مياشتي وروسته ئې؛ ام سلمې ته څوك د خطبې لپاره ولېږو، هغې خپل عذر داسي وړاندي کړ: زه عمر خوړلې يم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذيت باعث شم. خو پيغمبر عليه السلام غوښتل په دې نکاح سره مسلمانانو ته د خپلو ديني ورونو په

نسبت د وفا او د کونډو او یتیمانو د پالني او روزني؛ نه هېرېدونکې اسوه وړاندي کړي. ام سلمې ته ئې قناعت ورکړ او دا نکاح ترسره شوه.

## د عائشې رضي الله عنها لوړ شخصیت

په حقیقت کې د عائشې رضي الله عنها لوړ شخصیت او د دعوت په چارو کې د هغې ځلانده او بې ساري ونډه؛ د دې باعث شوې چې تر نن پوري کوړني او بهرني دښمنان د هغې په ضد زهرجن او دروغجن تبلیغات وکړي.

له عائشې رضي الله عنها تر ۲۲۱۰ زیات حدیثونه روایت شوي؛ چې ۳۱٦ ئې په بخاري او مسلم کې راغلي؛ د بخاري د ټولو اصلي روایاتو شمېر هم نږدې ۲۲۲۵ دئ. ونډه ئې د دیني احکامو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د احادیثو په انتقال او تبلیغ کې دومره ستره وه چې حاکم په خپل کتاب المستدرك کې ویلي:«إِنَّ رُبْعَ أَحْكَامَ الشَّرِيعَةِ نُقِلَت عَن السَّيِّدَة عَائِشَة: د شرعي احکامو څلورمه برخه له عائشې نقل شوې»؛ مشرانو صحابه وو به د هغو قضایاوو په اړه له دې پوښتنه کوله چې له مشکل سره به مخامخ شول؛ أبو موسی أشعري وایي: «مَا أُشكلَ عَلَيْنَا أَصْحَاب رَسُوْلِ الله صلی الله علیه و سلم حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ؛ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا: پر موږ اصحابو؛ د هیڅ حدیث فهم ستونزمن شوی نه دئ؛ چې له کبله مو له عائشې پوښتنه کړې او له دې سره مو د هغه علم موندلی». او د فصاحت او بلاغت له پلوه داسي وه چې أحنف بن قیس وایي:

«سَمِعْتُ خُطْبَةَ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ ، وَعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ، وَعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ، وَعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضی الله عنهم وَالْخُلَفَاءِ هَلُمَّ جَرًّا إِلَى يَوْمِى هَذَا ، فَمَا سَمِعْتُ الْكَلَامَ مِنْ فَمِ مَخْلُوقٍ، أَفْخَمَ، وَلا أَحْسَنَ مِنْهُ مِنْ فِي عَائِشَةَ رضی الله عنها:

د ابوبکر صدیق، عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، عَلِيّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي

الله عنهم او تر نن پورې مې د نورو خُلَفَاءو ويناوې اورېدلې؛ نو د هيڅ مخلوق له خولې مې د عائشې تر وينا زياته درنه او غوره وينا نه ده اورېدلې».
احنف بن قيس د درايت او فهم له پلوه دومره ستر تابعي وو چې په خپل دور کې نوميالی او مثالي شخصيت ګڼل کېدو.

دې ته بايد متوجه وو چې فصاحت او بلاغت هغه الهي نعمت دئ چې الله تعالی ئې له علم، درايت، فِراست، اخلاص او صدق سره يو ځای؛ خپل بنده ته ورپه برخه کوي.

له عائشې سره د دښمنۍ؛ د هغې په ضد تورونه او ناروا تبليغات؛ د دې د ستر مقام او منزلت له کبله وو. دښمنان؛ که کوړني وو او که بهرني؛ پوهېدل چې که دا ستر او لوړ ځلی وران کړي نو د اسلام کلا پرې ورانېږي.

که څه هم د بخاري يو روايت چې اوه ځلي ئې تکراري راوړی، غريب دئ او په دوو طبقو کې يوازې يو يو راوي لري، وايي چې د عائشې رضی الله عنها نکاح په نه کلنۍ کې تر سره شوې، او همدا خبره په مسلمانانو کې مشهوره شوې، ځيني د دغه روايت د توجيه لپاره وايي چې د تودو سيمو نجلۍ او هلکان د سړو سيمو په پرتله ژر بلوغ ته رسېږي، دوی هم بلوغ شرط ګڼي، او رأيه ئې دا ده چې کېدی شي يوه نجلۍ په نه کلنۍ کې پېغلتوب ته ورسېږي.

روايت داسي دئ:

۳۸۹٦ - حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: «تُوُفِّيَتْ خَدِيجَةُ قَبْلَ مَخْرَجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى المَدِينَةِ بِثَلاَثِ سِنِينَ، فَلَبِثَ سَنَتَيْنِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ، وَنَكَحَ عَائِشَةَ وَهِيَ بِنْتُ سِتِّ سِنِينَ، ثُمَّ بَنَى بِهَا وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ» بخاری

هشام له خپل پلار روايت کوي چې وئې ويل: خديجه مدينې ته د رسول الله صلی الله عليه و سلم له تلو درې کاله وړاندې وفات شوه؛ نو دوه کاله يا دې

ته نږدې همداسي پاته شو؛ بيا ئې عائشه په نکاح کړه په داسي حال کې چي هغه شپږ کلنه نجلۍ وه؛ او بيا ئې هغه مهال واده کړه چي نه کلنه وه.

د محققينو له نظره؛ دا روايت؛ نه روايتاً صحيح دئ او نه درايتاً؛ ستري ستونزي ئې دا دي:

۱- د قرآن له څرګندي لارښووني سره مغايرت لري؛ ځکه قرآن د نکاح لپاره بلوغ او رشد شرط ګڼي؛ او دا د شپږ کلني نجلي نکاح جائز ګڼي! او بالتبع تر شپږ کلنۍ وړه هم!!

۲- دا د انساني فطرت خلاف ده؛ په داسي حال کې چي د مخلوقاتو رب؛ د جنسي نږدېکت وړتيا؛ د دې لپاره په هغوی کې ايښې چي همدا ئې د نسل د بقاء او دوام يوازينۍ وسيله او فطري طريقه ده. په حيواناتو او مرغانو کې هم؛ جنسي يو ځای کېدا له بلوغ وروسته او د اولاد په موخه وي؛ تر دې وړاندي د جنسي نږدېکت ضرورت نه احساسوي. مرغان چي کله ئې بچي ستر او د الوتو شي او وګوري چي نور ځان ساتلی شي؛ له خپلي ځالي ئې وشړي؛ دوه سره يو ځای شي او ځان ته بېله ځاله جوړه کړي؛ او د اولاد په زېږولو او پاللو بوخت وي.

۳- دا روايت له ډېرو هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: عائشه رضي الله عنها د هجرت په وخت کې ۱۷ او د واده په وخت کې نږدې ۱۹ کلنه وه.

متأسفانه په بخاري کې د عائشې رضي الله عنها د نکاح په اړه متناقض روايات راغلي؛ يو روايت وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د خديجې رضي الله عنها له وفات درې کاله وروسته هغه په نکاح کړه؛ په بل روايت کې راغلي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په دوهم هجري کال؛ او د بدر له جګړي وروسته؛ يعني د خديجې رضي الله عنها له وفات پنځه کاله وروسته؛ عائشه په نکاح کړې.

٤- دا روايت د إسنادو له پلوه غريب دئ، په اوله او دوهمه طبقه کې ئې راويان يو يو تن؛ پلار او زوی؛ هشام او عروه دي. له هشام دا روايت په ۱۸۵

هـ کال او هغه هم په کوفه کې روايت شوی؛ تر دې وړاندې او په مدينه کې هيچا؛ حتی د ده شاګرد؛ امام مالك؛ په خپل مشهور کتاب موطأ کې دا روايت نه دئ راوړی؛ له همدې کبله دا شك رامنځته کېږي چې د دې روايت تر شا به هغه اختلافات خپل اغېز لري چې د علي رضي الله عنه په شهادت منتج شو؛ د عائشې رضي الله عنها د شخصيت او حيثيت راکمولو لپاره دا روايت جوړ او خپور شوی؛ کوفه ئې يوازينی محل وو؛ دا ځکه چې هلته د عائشې کافي مخالفين وو؛ که له هشام سره په رښتيا دا روايت وو او دا خبره ئې کړې وي؛ نو په مدينه کې به چا ترې اورېدلې وه؛ امام مالك به ترې اورېدلې وه؛ ولې نږدې دوه پېړۍ وروسته دا روايت راڅرګندېږي او هغه هم په کوفه کې؟!!

۵- که څه هم هشام لوی شخصيت او معتبر راوي دئ؛ خو د ده په اړه علماء رجال وايي: د عمر په پای کې ئې حافظه ضعيفه شوې وه او مطالب ترې خلط او ګډ وډ کېدل.

٦- د مهمو قضاياوو؛ مخصوصاً د احکامو او حلال او حرام په ارتباط؛ په داسي غريب روايت إستناد نشي کېدی؛ چې نه يوازې په قرآن کې شاهد ونه لري؛ بلکې وينا ئې د قرآن خلاف وي؛ او اصلي راوي ئې د حافظې په ضعف تورن وي.

۷- اسلام د نکاح لپاره د ايجاب او قبول شرط ايښی؛ دا شرط بلوغ او رشد ايجابوي؛ تر بلوغ وړاندې؛ إيمان هم اعتبار نه لري؛ د کافر او مشرك اولاد هم جنت ته ځي؛ که د دوی ايمان او عدم ايمان مدار د اعتبار نه وي؛ نو د نکاح معاهده به ئې څنګه معتبره وي؟!

دعاء کوو چې الله تعالی هغه ورځ راولې چې اسلامي امت د رواياتو داسي واحد او متفق عليه کتاب ولري چې ټول روايات ئې هم د محتوی او متن له پلوه او هم د إسنادو له پلوه صحيح وي او د قرآن له لارښوونو سره موافق؛ همداسي لکه چې نن يو مصحف لري؛ په يوه لفظ کې ئې هم په خپلو کې اختلاف نه لري؛ خو دا کار يوازې هغه مهال ممکن دئ چې د امت قيادت د

مؤمن، اسلام ته ژمن، په دين پوه، صادق او مخلص زعيم لاس کې وي؛ يقيناً چي امت د عثمان رضي الله عنه په څېر زعيم ته ضرورت لري؛ چي د حديث په اړه همغه کار وکړي چي ده د مصحف په اړه وکړ. إن شاء الله هغه ورځ به راځي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## فهرست


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| د ناشر مختصر عرائض | ۱ |
| سریزه | ۲ |
| سلفي شم که مذهبي پاته شم؟ | ۱۱ |
| الله تعالی د خدای په نامه یادول | ۵۰ |
| آیا الله تعالی انسان ته ورته دئ؟ | ۵٦ |
| الله تعالی چېري دئ؛ پر عرش که په هر ځای کي له موږ سره؟ | ۷٦ |
| عرش او پر عرش استواء | ۸۵ |
| آیا الله تعالی د زمکي آسمان ته راکوزېږي؟ | ۱۲۲ |
| رفع الیدین | ۱۲۸ |
| په امام پسي د مقتدي قرائت | ۱٤۹ |
| آیا په لوړ ږغ آمین ویل جائز دي؟ | ۱٦۰ |
| له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته | ۱٦۷ |
| جمع صلاتین | ۱۷٦ |
| جومات ته د ښځو تګ | ۱۸۵ |
| حجاب او شرعي لباس | ۲۰٤ |
| انسان یوازینی بربنډ مخلوق | ۲۲۱ |

د جنازې په لمانځه کې فاتحه لوستل!!............................. ۲۳۳
د شهيد جنازه ..................................................... ۲۳۷
د قبر عذاب ....................................................... ۲٤۲
د قبرونو زيارت ................................................... ۲۷٦
د کفارو اطفال دوزخ ته ځي که جنت ته؟ ............................ ۲۸۵
تراويح اته رکعته دي که شل؟ ..................................... ۳۰۰
د روژې د پيل او پای او اخترونو اړوند اختلاف ..................... ۳۱۳
عاشوراء........................................................... ۳۲۱
"د فصح عيد" ...................................................... ۳۳۹
عاشوراء په رواياتو کې ............................................. ۳٤۱
عائشه رضي الله عنها د نکاح په مهال څو کلنه وه؟.................. ۳٤٦
د عائشې رضي الله عنها لوړ شخصيت ................................ ۳۵۵

## د کتاب عنوانونه

د ناشر مختصر عرائض
سریزه
سلفي شم که مذهبي پاته شم؟
الله تعالی د خدای په نامه یادول
آیا الله تعالی انسان ته ورته دئ؟
الله تعالی چېري دئ؛ پر عرش که په هر ځای کي؟
عرش او پر عرش استواء
آیا الله تعالی د زمکي آسمان ته راکوزېږي؟
رفع الیدین
په امام پسي د مقتدي قرائت
آیا په لوړ ږغ آمین ویل جائز دي؟
له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته
جمع صلاتین
جومات ته د ښځو تګ
حجاب او شرعي لباس
انسان یوازینی بربنډ مخلوق
د جنازې په لمانځه کي فاتحه لوستل!!
د شهید جنازه
د قبر عذاب
د قبرونو زیارت
د کفارو اطفال دوزخ ته ځي که جنت ته؟
تراویح اته رکعته دي که شل؟
د روژې د پیل او پای او اخترونو اړوند اختلاف
عاشوراء
"د فصح عید"
عاشوراء په روایاتو کي
عائشه رضي الله عنها د نکاح په مهال څو کلنه وه؟
د عائشې رضي الله عنها لوړ شخصیت


د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷